ناول: د دوزخ څخه یو سړی.

لیکوال: امیر عشیری.

نشرکونکي: خواجه زی خپروندویه اداره. https://t.me/pashtoonovels0

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

"بِسمِ اَللّهِ اَلرحمنْ اَلرحيم"

مخکې له دې چې د اترار د ښار دروازې بندې شې دوه ځوانان چې دواړه د اترار د امیر ځانګړې ساتونکي وه او سپاره وو، له ښاره ووتل او د شپې په تیاره کې یې د مغولستان پر لور په چټکۍ اسونه وځغلول. ډېر ژر یې د اترار ښار شاته پرېښود.

بالخاش، چې د هغه بل ساتونکي مشر و، وویل:
– ته فکر کوې چې موږ به د لمر ختو مخکې کاروان ته ورسېږو؟
احمد آق سو، چې د هغه تر څنګ اس ځغله وو، ځواب ورکړ:
– معلومه نه ده، ښاغلی! کاروان د ماښام نږدې وخت کې له ښاره ووت، هغوی له موږ څخه څو منزلونه مخکې دي.

بالخاش وخندل او ویې ویل:
– هغوی زموږ د حرکت چټکتیا نه لري.

احمد وویل:
– ښاغلی، موږ باید د خپلو اسونو فکر هم وکړو. که بې له وقفې وځغلو، کېدای شي دا بې ژبې حیوانات له پښو ولوېږي.
بالخاش په کلک لهجه وویل:
– خو زه غواړم په هر قیمت چې کېږي د لمر له راختو سره سم کاروان ته ورسېږم. هغوی له موږ ډېر لرې نه دي.

احمد وویل:
– زما په اند موږ باید بېړه ونه کړو، که د لمر ختو مخکې ونه رسېدو، خامخا تر نیمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځې به کاروان ته ورسېږو.

بالخاش وويل:
– ما تر اوسه داسې سست جنګيالی نه دی ليدلی! ته پخپله پوهېږې، که زما ملاتړ نه وای، غاير خان به ته له دندې ايستلی وای، هغه ستا پشان ټنبل سرتېري خپل په ځانګړي ساتونکو ډله کې نه خوښه وي.
بيا يې اس ته پښه ورکړه او ويې ويل:
– بيړه وکړه!

احمد هڅه کول چې بالخاش له دې تلوار څخه راوګرځوي، نو ځکه خپل ځان يې تر هغه ورسه وو او ويې ويل: ښاغلی هوا تياره ده او لاری خرابې.
بالخاش په ځنده لهجه وويل: فکر کوم که چوپ اوسيږی نو ښه به خپل لاری ته دوام ورکړو.
– تاسو حتا خپل د روغتيا په فکر کې هم نه ياست.
– نغوارم بيځايه خبری واورم.

احمد آق سو چې پوه شو "بالخاش" قانع کېدونکی نه دی، نو چوپ شو او خپل اس يې وريسې وځغلو.

د اسونو د ځغاستو غږونه د شپې په تياره کې د دښتي خاموشي ماته کړه. دوی د اترار د امير، غاير خان، له خوا مامور شوي وو چې د سوداګرو د هغه کاروان ساتنه وکړي، چې د ماښام مخکې د مغولستان پر لور روان شوی و.

بالخاش د يو څه مزل وروسته چوپتيا ماته کړه او ويې ويل:
– معلومه نه ده چې غاير خان ولې د کاروان د تګ وروسته دا ماموريت موږ ته راکړ؟

احمد آق سو ځواب ورکړ:
– بې شکه، هغه غواړي چې موږ له شالخوا د کاروان ساتنه وکړو ترڅو کوم خطر کاروان ته و نه رسيږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش وویل:
– که د سوداګرو سره کومه بده واقعه پېښه هم شي نو زموږ دوه نفرو له لاسه څه کېږي؟ حتا امکان لری تر اوسه د غلو لاس ته لوېدلي هم وي؟

بیا چوپتیا خپره شوه.

بالخاش یو قوي، منځنۍ ونه لرونکی ځوان و، چې د غایر خان په ځانګړي ساتونکي ګارد کې یې خدمت کاوه. تازه ورته د "ساتونکي ډلی قومندان" مقام ورکړل شوی و.

کله چې اس یې د شپې په تیاره کې روان و، فکرونه یې د "خان سلطان" پر شاوخوا راټول وو، هغې ښکلي تور سترګې نجلۍ، چې بالخاش پرې زړه بایللی و. خان سلطان د اترار له ښکلو نجونو څخه شمېرل کېده. همغه شپه، بالخاش له احمد آق سو سره د خان سلطان کور ته تللی و، ترڅو تر ماموریت مخکې ترې خدای پاماني واخلي. کله چې نجلۍ د بالخاش د ماموریت خبر واورېد، ژوره خپه شوه.

بالخاش هغه په خپلو قوي لاسونو کې کلکه ونیوله، په غومبرې ښکل کړل او داسې حال کې چې د هغې اوښکي خپل په ګوتو پاک کولې دلداري ورکول چې ډېر ژر به د ارزښتناکه ډالېو سره د مغولستان څخه راواپس کېږي او دا به خپل کور ته بیايي.
خان سلطان چې سر د هغه په سیني کیخودلې وو او ژړل یې  ناځاپه یې خپل ځان د بالخاش له غېږې ازاد کړ، بې له دې چې څه ووایي، تیزه بېرته کور ته ننوتله.

بالخاش همداسې ولاړ پاتې شو، او په تیاره کې یې د هغې د تلو لار ته کتل.
"ښاغلی بیره وکړئ، د ښار د دروازو بندېدو وخت رانږدې دی!"
دا د احمد آق سو غږ و، چې څو ګامه وړاندې ولاړ و او د دواړو د خدای پامانۍ صحنه یې کتل.

بالخاش داسي حال کې چې د خفګان څخه تندی تریو شوی و، د احمد پر لور لاړ، پر اس سپور شو د اس واګې لاس کې واخیست او بې له ځنډه د ښار د دروازې خوا ته روان شو، احمد هم ورپسې خپل اس ځغلولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش اوس که څه هم د دښتي په تپه تیاره کې روان و، خو فکر یې لا هم په اترار او د خپلې محبوبې کور کې و. د هغې د سترګو اوښکې، چې د څراغ په رڼا کې یې لیدلې وې، لا هم د ده په سترګو کې مجسمې وې. هغه احساس کاوه، چې له خان سلطان پرته ژوند نشي کولی، او روح یې د دوه تور سترګو جنۍ په جال کې ګیر پاتې.

بالخاش له مجبوریت څخه دا دنده په غاړه اخیستې وه، د غایر خان له ویرې، چې یو ظالم او بې رحمه سړی و، چې خپل له خبري څخه نه اوریدي. بالخاش اراده درلود چې په هر قیمت چې کېږي د لمر له راختو مخکې کاروان ته ورسېږي، نو بې له دې چې د احمد آق سو خبرو ته غوږ ونیسي، خپل اس یې یو نفس ځغلولو...

احمد خپل چوپتیا مات کړل او ویې ویل:
- قربان، که اجازه راکړئ، په راتلونکي منزل کې لږ استراحت وکړو. اسونه ستړي دي او ویره ده چې له پښو نه ولوېږي. زما اس ډېر ستړی شوی، له ډېره وخته په لاره یو. دوه منزلونه مو تر شا پرېښي دي.

بالخاش لږ سوچ وکړ، که اسونو ته دمه ورنه کړي، نو د هغوی د مړینې خطر حتمي دی. په دروند اواز یې وویل:
- زه نه پوهېږم ته ولې دومره ټېنګار کوې چې دمه وکړو؟ سمه ده، ځان تیار کړه، چې په راتلونکي منزل کې استراحت وکړو.

احمد، چې د بالخاش تر څنګ یې اس ځغلولو، وویل: د دې غونډۍ شاته، زموږ د لارې پر سر یوه کوچنۍ ښارګوټي دی، چې د سړک ښي اړخ ته موقعیت لري. هلته زموږ او د اسونو لپاره د استراحت لپاره مناسب ځای دی.

- د دې ښارګوټي نوم څه دی؟
- هرسبان ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش د ژبې لاندې دا نوم څان سره تکرار کړو: هرسبان...
بیا لږ تم شو، او ویې ویل:
- دا نوم راته آشنا ښکاري، او ما ته د تېر کال یوه خونړۍ پیښه رایاده وی، چې هلته شوې وه. هغه وخت شاوخوا زر باغیان د غایرخان د حکومت د نسکورولو په پار سره راټول شوی وه، موږ په همدې هرسبان کې د هغوي سره مخ شو. سخت جنګ وشو، ټول مو تیت و پرک کړل. په هغه جګړه کې زه یو عادي جنګیالی وم او سخت ټپي شوم.

احمد وویل: ښاغلی زه هم په هماغه جګړه کې وم، ما د ښي اړخ په لیکه کې جنګ کاوه.

بالخاش په حیرانتیا ورته وکتل او ویې ویل: خو ما ته یاد ته نه راځې.
- هو. ما هم هغه جګړه کې تاسو ونه لېدلې هغه وخت تاسو یو معمولي جنګیالی وې. خو اوس د غایرخان د ساتونکي ډلي قوماندان یاست!
- د ساتونکي ډلي قوماندان؟!
- لکه چې ستاسو فکر تراوسه هم اترار ښار کې پاتې؟
- هو، صحیح پوه شوې، زه د خان سلطان په اړه فکر کوم.

- تاسې حق لرئ. هغه یوه ډېره ښکلی نجلۍ ده. په اترار کې تر هغې بله ښکلې انجلې شتون نلرې.

بیا یې معنا داره خندا وکړل او ویې ویل: تاسو ډېر نیکمرغه سړی یاست چې تراوسه غایرخان د داسې ښکلې انجلۍ د شتون څخه بیخبره دی.
بالخاش په جدي لهجه وویل: خان سلطان زما ده، هر څوک چې د هغې د ترلاسه کولو خیال وکړي، زه به یې ژوندی پرېښږدم.

احمد وویل: تاسې یو زړور او بې‌باک سړی یاست.
- او ته یو وفادار جنګیالی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه غلي شول. لاره له يوې غونډۍ تېرېده. کله چې غونډۍ يې تر شا پرېښوده، احمد وويل:
- تر هرسبان ډېر لږ فاصله پاتې ده، که هوا روښانه وای، د ښار سيوری به مو ليدلی وای.

بالخاش وويل:
- د سړک د دواړو خواوو باغونه دا ښکاره کوي چې موږ د ښارګوټي څنډې ته رسېدلي يو.

لږ وروسته، هغوی ښار ته ننوتل، د اسونو سرعت يې کم کړ. احمد وويل:
- دلته يو شرابخانه ده، چې مسافرو ته د استوګنې ځای ورکوي، هلته ځو.
-بيړه وکړه.
- له دې لارې راځې.

هرسبان په تياره کې ډوب وو، د اسونو د پښو غړونو د ځمکي سره په لګيدو د هغه ځاې چوپتيا ماتول، د کوځې پای کې يو کوچنی ميدان و، چې شرابخانه د شمال لويديځ په څنډه کې وه. بالخاش وويل:
- ته له دې ځايه زما څخه زيات خبر يې، مخکې لاړ شه او مناسب ځای پيدا کړه.

احمد آق سو، خپل اس ته لغته ورکړه ترڅو ځان ژر شرابخانې ته ورسه وي. کله چې هلته ورسيده لا هم پر اس ناست ځان يې ورټيټ کړ، او د شرابخانې دروازه يې څو ځله په لاس ووهله،هېڅ غږ راونه وت. دا ځل له اس څخه راښکته شو او دروازه يې لا پسې کلک وټکول.

بالخاش هم هغه ته ورسيده او ويې ويل: بې‌فايدې ده، ګورې چې شرابخانه بنده ده. احمد وويل:
- قربان، د شرابخانې مالک همدلته اوسيږی.
بالخاش له اس ښکته شو. هماغه مهال، د دروازې له درز څخه کمزورې رڼا راووتله او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یو کس غږ راښکاره شو، چې له عمره لوی ښکارېده:
- څوک یې؟
احمد وویل: دروازه خلاصه کړه، آشنا یم!

هغه سړی وویل: نه شم خلاصولای، شرابخانه بنده ده.
احمد آق سو دا ځل په امر کونکي لهجې وویل: موږ د غایرخان سپاره یو، که دروازه خلاصه نه کړې، په زور به درننوځو!

کله چې د شرابخانې مالک د غایرخان نوم واورېد، ویره پرې خپره شوه او دروازه یې پرانیسته. هغه خپل د لاس څراغ پورته کړو، چې له شا یې دواړه سړي وکولای شي ووینې، او په لړزانه غږ یې وویل:
- ښاغلیو، زما کور ته ښه راغلاست!
بالخاش او احمد یو بل ته وکتل، احمد په کراره غږ بالخاش ته وویل: ښاغلی د غایرخان څواک وینې؟

بوډا سړي وپوښتل:
- څو کسان یاست؟
احمد بغیر له دې چې د هغه خبرو ته غوږ ونیسې شا ته یئ ټیل واهه،لاره یې بالخاش ته پرانیستل او ویې ویل:
- دننه راځې ښاغلی دا ځای د استراحت لپاره مناسب دی، ښه شراب هم لري!
بالخاش ګام د شرابخانې دننه کیخود بوډا ته یې وکتل، او ویې ویل:
- اسونه له موږ څخه زیات استراحت ته اړتیا لري.

احمد آق سو وویل:
- ښاغلی زه دلته پاتې کېږم، ترڅو دا بوډا تاسو ته یوه خونه درکړي، بیا به موږ دواړه اسونه طویلي ته بوځو.
بالخاش دننه شو او زوږ سړي ته یې وویل: ډېر وخت نه لرو، بیره وکړه، موږ دلته لږه موده پاتې کېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شرابخانې مالک، چې نوم يې "سايان" و، مخته لاړ او بالخاش يې دوهم پوړ ته بوت. کله چې د يوې خونې مخې ته ورسېدل، ويې ويل: اجازه راکړه چې خونه لږه سمبال کړم.
بيا دننه لاړ، لږ وروسته بېرته راووت او ويې ويل: دا زما د لور خونه ده، پرته له دې، بله مناسبه خونه چې ستاسو مناسب وی نه لرم. هغه اوس راوتونکې ده.

بالخاش خواشينی شو او ويې ويل: مهرباني وکړه خپل لور ته ووايه چې له خونې دې نه راوځي، موږ کولی شو د ننه په شرابخانه کې استراحت وکړو.

په همدې وخت کې د خونې دروازه خلاصه شوه، او يوه ځوانه، ښايسته نجلۍ، چې خپل اوږده ويښتان يې د يوه سپين ټيکری لاندې پټ کول د دروازې په چوکاټ کې راښکاره شوه.

بالخاش سر د هغې لور ته واړاوه، او د څو شيبو لپاره د دواړو سترګې سره ونښتې. نجلۍ لوړ قد، ښکلي سترګې، او زړه راښکونکې څېره درلوده. شرم د هغې پر مخ سوروالی راوستلی و، او د هغې له نظره داسې ښکاره کېده، لکه چې د بالخاش درناوی او يو ډول د ليدو شوق لری!

بالخاش، سترګې ترې واړولې او غوښتل يې سايان ته څه ووايي، خو زوړ سړی په همدې لنډو شيبو کې لا د هغه ځای څخه تللی و. بالخاش يو څه حيران و، خو انجلۍ تراوسه دوه سترګي هغه ته نيولې وه، بالاخره، نجلۍ چوپتيا ماته کړه او ويې ويل: زه فکر کوم چې ته يو اصيل جنګيالی يې.

بالخاش موسکی شو او ويې ويل: دا ستاسو نيک نظر دې اغلی.
نجلۍ وويل: مهرباني وکړئ، استراحت وکړئ.
بالخاش- ستاسې له دې ميلمه پالنې مننه.
نجلۍ- شراب خوښوئ؟
بالخاش- د دې ځای د شرابو ډېر تعريفونه مې اورېدلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نجلۍ- دا ځل باید خپله یې تعریف کړی.
بالخاش- ښښنه غواړم، ستا نوم څه دی؟

نجلۍ سر ټیټ کړ او په ورو اواز یې وویل: ایلي.
بالخاش وویل: ستا نوم هم ستا په څېر ښکلی دی.

بیا بالخاش د خونې دروازه پرانیسته او دننه لاړو پرده یې لږه پورته کړه، سترګې یې د نجلۍ پر بستر ولګېدې، چې لا هم ګډوډ و، د هغې د سر نښه لا پر بالښت وه.

ایلي، چې د بالخاش تر شا ولاړه وه، وویل: دننه لاړ شې سردار!
بالخاش وخندل او ویې ویل: ډېر وخت پاتې دی چې زه سردار شم، ښه به وي چې ما د بالخاش په نوم غږ کړې.
ایلي وویل: اجازه راکوی تاسو ته شراب راوړم؟
بالخاش- هو زړه مې غواړي د دې ځای شراب وڅښم.

ایلي په بیړه شرابخانې ته ولاړه...

بالخاش ورو ورو قدمونه واخستل، د تخت پر څنډه کېناست، دواړه لاسونه یې پر نالې کېښودل، او لږ شاته لاړ. نالې لا هم د ایلي د بدن تودوخه ساتلې وه، بالخاش دا تودوخه احساس کړه، او ناڅاپه پوه شو چې ستړی دی او استراحت ته اړتیا لري.
"خان سلطان" یې یاد ته راغلل، دا نوم ده تلل په مینه او شوق ځان سره تکراراوه. د هغې د ژړا ډکي سترګي د خدایي پاماني وخت کې د ده و ذهن ته راغلل او زړه یې اور واخیست.ده، خان سلطان، په خپل ذهن کې را ژوندۍ کړه او په زړه کې یې یوه هیله پیدا شوه...

چې ای کاش چې په هماغه شیبه کې خان سلطان هلته په هغه توده بستر کې ویده وای، او هغه په توده، جذباتي او مینه ناک انداز هغې ته ناز ورکړی واې او ښکل کړې وایې. په هماغه شیبه کې چې بالخاش په خپلو فکرونو کې ډوب و او د خان سلطان تجسم یې کاوه، ناڅاپه ایلي په بیړه کوټې ته داخل شوه او په داسې لهجه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اضطراب او ویره پکې احساسېده وویل: شراب مه څښې! غواړي چې تاسو ته زهر درکړي، ډېر وحشتانک دی.

بالخاش له خپل ځایه پورته شو، هک حیران یې د ایلي خبرو ته غوږ نیولې وو، نه پوهېدي چې اصل خبره څه ده؟
ویې پوښتل: "څوک غواړي ما ته زهر راکړي؟"
ایلي- ستاسو ملګري، هماغه کس چې اسونه یې طویلي ته بوځل.
بالخاش- ستا پلار هم پوهېږي؟
ایلي- نه، قربان!

بالخاش بیا پوښتنه وکړه: نو ته له کومه پوه شوې چې زما دوست غواړي ما ته زهر راکړي؟
ایلي په وېرې او ډار وویل: زه چې د شرابخانې دروازې ته ورسېدم، دروازه خلاصه وه. ما ستاسو ملګري ولید چې یو څه یې د شرابو لوښي ته تویول!
بالخاش پوښتنه وکړه: ستا پلار چېرته و هغه وخت؟ هغه دا کار ونه لید؟
ایلي- هغه هم په شرابخانه کې و، خو ستا ملګري شا ورته کړې وه او د دروازې سره نږدې ولاړ و. باور وکړه، ما په خپلو سترګو ولیدل.

بالخاش حیران و چې څه وکړي. د ایلي خبرې ورته د شک وړ ښکاره شوې. له ځانه یې وپوښتل:،"احمد ولې غواړي ما ته زهر راکړي؟" د دې پوښتنې ځواب ورته سخت و. حیران د کټ تر څنګ ولاړ و، د ایلي نظر د هغه خواته وو.بالخاش فکر وکړ چې "احمد آق سو" به لیونی شوی وي. څکه تر دې دمه یې هېڅ داسې حرکت نه و کړی چې د بالخاش شک را وپاروي.

ناڅاپه د کوټې د باندې د پښو غږ راغی. ایلي وویل: هغه راروان دی، داسې ښکاري چې پلار مې هم ورسره دی.
بالخاش په یوه شیبه کې پریکړه وکړل او ویې ویل: ته لاړه شه د هغه پردې تر شا پټه شه، هر کله مې چې غږ درکړ، را ووځه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ايلي په بيره د پردې شاته ولاړ. زړه يې په سينه کې درزا کوله. اصيل جنګيالي ته انديښمنه و، چې زهر و نڅکي. بالخاش د کټ پر غاړه کښيناست، خپلې سترګې يې د کوټې شاوخوا ته وګرځولې او هڅه يې کوله چې ځان آرام او بې پروا ښکاره کړي.

"احمد آق سو" د شرابخانې له مالک "سايان" سره کوټې ته داخل شو. د شرابو لوښی يې د دوو پيالو سره په ځمکه کېښود او په خندا يې وويل:
- قربان! نن شپه موږ د سايان ميلمنه يو، د هغه له بهترينو شرابو سره چې خپله يې جوړه وي!

په احمد کې داسې څه نه تر سترګو کېدل چې ښيي دی د بالخاش د وژلو نيت لري. د هغه آرامه څېره د بالخاش شک ته دوام ورکړ، حتی دا فکر يې وکړ چې د ايلي خبرې به شايد بې اساسه اوسيږي.
بالخاش پوښتنه وکړه: اسبونه دې طويلې ته بوتلل؟
احمد- هو، قربان، هغوی مصروف د واښو په خوړلو دي.
بالخاش- نو مخکې له لمر ختو کولای شو حرکت وکړو؟
احمد- هو، لږ وخت پاتې دی.

سايان وويل: قربان، د سهار ناري هم زما مېلمانه ياست.
بالخاش سايان ته وکتل او ويې ويل: ته د ډېر لوی زړه څښتن يې سايان! خو موږ بايد ژر تر ژره حرکت وکړو.

احمد يوه پياله د شرابو څخه ډکه کړه او د بالخاش مخې ته يې ونيوله او ويې ويل:
- دا د بهترينو زړو شرابو څخه دي، هم رنګ او هم خوند يې بې ساري دی.
بالخاش پياله واخيسته، دننه يې وکتل، او ويې ويل: ښکاري خو همداسې!
بيا يې سايان ته وکتل او ويې ويل: ستا سره نور کار نه لرم، ته تللی شې.

سايان له کوټې ووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ايلي چې د پردې شاته پټه وه، په ژور وحشت او وېرې کې وه. هغې ليدل چې بالخاش هغه اصيل جنګيالی، د هغې خبرو ته هېڅ توجه نه ده کړې او غواړي له هغه زهرجنو شرابو څخه وڅکي.

ايلي له ځانه سره وويل: "که جام يې شونډو ته نږدې کړ، زه به د پردې له شا راووځم او هغه جام به يې له لاسه واخلم، افسوس به وي چې داسې يو جنګيالي مړ شي!"

بالخاش احمد ته وکتل او ويې ويل: خپله هم يو جام ډک کړه!
بالخاش له ځانه سره فکر کاوه چې احمد که د رښتيا هم شرابو کې زهر اچولې وی نو ضرور به يوه پلمه پيدا کړي چې شراب و نه څکي، او هماغه به د ده د نيولو لپاره يو ښه فرصت وي.

احمد سر ښکته کړ او ويې ويل: قربان، زه دا جرات نه شم کولی چې د خپل قوماندان په وړاندې شراب وڅکم!
بالخاش په خندا وويل: خو زه دا اجازه درکوم! موږ په دنده کې يو، بايد سره ملګري واوسو!

احمد د شرابو لوښي ته لاړ، دويمه پياله يې ډکه کړه او ويې ويل: نو ښښه غواړم ښاغلی.

بالخاش خپله پياله پورته کړه او ويې ويل: د غاير خان، او د اترار د واکمن د سلامتۍ لپاره څکو!
هغه خپله پياله شونډو ته نږدې کړه، خو له احمد څخه يې سترګې نه وې اړولې، منتظر و چې وګوری ايا احمد شراب څښي او کنه؟

احمد د شرابو پياله خولې ته پورته کړل او تر وروستي څاڅکي پورې وڅښله او ويې ويل: دا زما د عمر تر ټولو بهترين شراب دي چې څښلي مې دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش شکمن و، نه پوهېده چې شراب وڅکي که نه؟ هغه لېدلې وه چې احمد هم له هماغه شرابو څخه څښلې وه،له ځانه سره يې وويل: "ايلي ضرور غلط شوي ده، او د هغې خبرې بې اساسه وی"

خو ايلي چې د پردې شاته وه، و پوهېده چې احمد ضرور يو چالاکي کړې ده. ځکه چې دې په خپلو سترګو ليدلي وو چې احمد يو څه د شرابو لوښي ته توی کړي وو...

احمد وويل: قربان، شراب مو وڅښې، بيحد خوارږه دی.
بالخاش نور ارتيا نه لرله چې شک وکړي. هغه ډاډه و چې احمد د ده د وژلو کوم نيت نه درلود. هغه جام پورته کړ چې و يې څښي. خو ناڅاپه ايلي د پردې له شا راووتله، او د بالخاش لاس يې ونيو او په اندېښمن غږ يې وويل: دا شراب زهرجن دی، مه يې څښه!

يو دروند او ناراحت کوونکي چوپتيا په کوټه کې خپره شوه. احمد وارخطا شو، بالخاش جام ښکته کړ، بيا شک پرې راغی. احمد په تنده لهجه ايلي ته وکتل او ويې ويل:
- ته څوک يې؟ او دلته څه کوې؟
او غوښتل يې چې د ايلي لور ته لاړ شي خو بالخاش يې مخ ونيو او ويې وويل: پريږده، دا د سايان لور ده. هغې ما ته خبر راکړی و چې تا په شرابو کې زهر اچولي.

د دې خبرې په اوريدو احمد د دروغو مسکل وکړل او ويې ويل:
- دا څنګه مسخره خبره ده! څوک دومره جرئت لري چې د خپل بادار د وژلو هڅه وکړي؟ زه دا نجلۍ نه ښنم، دا ما ته راوسپارئ!
بالخاش په ارامۍ وويل:
- آرام اوسه، احمد. که خبره يې دروغ وي، زه به پخپله سزا ورکړم.

بيا يې ايلي ته وکتل او ويې ويل:
- ته غلطه يې، احمد زما ملګري دی، او ده خپله له همدې شرابو څښلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایلي په ویره سره احمد ته وکتل، بیا یې بالخاش ته پام شو او ویې ویل:
- کېدای شي زهر یې مخکې ستا په جام کې اچولي وي. ازمایل یې اسانه دی، همدا جام ورکړه چې دی یې وڅښي.

بالخاش وخندل او ویې ویل:
- بد نظره نه دی، احمد، ته څه وایې؟
احمد آق سو رنګ و پرید خوله یې وچه شوه او ویې ویل:
- تاسو خپله ولیدل چې ما هم له همدې شرابو وڅښل.

بالخاش وویل:
- زه پوهیږم، خو زه غواړم دا جام هم وڅښې، تر څو ایلي پوه شي چې ته ماته د ضرر رسولو نیت نه لرې.

احمد آق سو ناڅاپه ساه بنده شوه، احساس یې وکړ چې مرګ ورته نږدې دی. د هغه د څهرې رنګ تغییر وکړو، بدن یې وریږدېد، او سترګې یې د شرابو جام ته خښې شوې. بالخاش احساس وکړ چې د جام دننه شراب له هغه بوتل سره فرق لري. احمد، چې پوه شو ژوند یې په خطر کې دی، جام یې په لرزیدلي لاس واخیست. څو شېبې یې فکر وکړ، ساید غوښتل یې یو نقشه وباسې ترڅو هم ځان د دې حالت څخه وژغوری او هم بالخاش لمینځه ویسي.

احمد ناڅاپه د شرابو ټول جام په تېز حرکت سره د بالخاش پر مخ وشینده،او شاته ولاړ، جام یې وغورځاوه، او خپل توره یې له تیکی څخه را وویست، او په غوسه یې وویل:
- زه به تاسو دواړه ووژنم! اصلاً مې نه غوښتل چې دا ځای ستا پر وینو سور کړم، خو اوس مجبور یم چې تا همدلته و وژنم!

ایلي د کوټې کونج ته نږدې شوه او ویې ویل:
- قربان، ما درته ونه ویل چې دا سړی غواړي تاسو ووژني؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش وویل:
- توره دې وغورځوه او حقیقت ووایه! چې چا ته راستولی یې ترڅو ما ووژنې؟

احمد آق سو وخندل او ویې ویل:
- زه به یې نوم د مرګ په شېبه کې درته ووایم، لا وختي دی!
بالخاش په جدي او کلک لهجه وویل:
- ما مه مجبوروه چې لاس و توري ته ویسم.
- د ځان څخه دې دفاع وکړه بیعقل، زه غواړم تا توره په لاس د ځان څخه د دفاع کولو حال کې مړ کړم.

بالخاش په ارامه لهجه وویل: لیونتوب مکوه، ته پخپله هم پوهیږې چې په توره وهنه کې زما حد ته نشې رارسیدلې، زه نغواړم تا مړ کړم، زه تاته قول درکوم که راته رښتیا ووایې آزاد کوم دې چې هر چیرته دې زړه غواړې لاړ شې.
ایلې په وېرې او ډار وویل:
- اجازه راکړې ترڅو زه خپل پلار ته غږ کړم.

احمد مردار وخندل او ویې ویل: هغه بوډا سړی خپل پر حال پریږدی، که هغه ووژل شې نور څوک به نه وې چې دا شریخانه وچلوي.

بالخاش تراوسه خپل لاس توري ته نه وو وړی، او کوښښ یې کاوه د خبرو له لارې احمد د هغه لیونتوب څخه منع کړې، هغه یوځل بیا احمد ته وویل:
- خپل توره دی لاندی ختا کړه، خپل ځان هسې مرګ ته مه ورکوه ته د بالخاش په وړاندې یې.
احمد کرار وخندل او په کرکجنه لهجه یې وویل: کله چې ته مې مړ کړې هغه وخت خپل توره ښکته کوم.
- د دې بیعقلې څخه لاس واخله.
- خپل د ځان څخه دفاع وکړه ډارن، مګر نه وایې چې په توره وهنه کې سیال نلری؟
- خو زه نغواړم تا مړ کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ته باید همغه د شرابو په واسطه وژل شوی واې، خو دې احمقې نجلۍ زما پلان خراب کړ. ستا د وژولو وروسته د هغې وار دی!

بالخاش وویل:
- دا جګړه چې تا پیل کړه، ضرور د یو نفر په وژل کېدو به پای ته رسیږي، خو ته ماته یو ژمنه راکړه که زه مړ شوم، ته به دا نجلۍ نه وژنې!
احمد پوزخند وواهه او ویې ویل:
- ته اوس، خپل د ځان فکر وکړه!

او ناڅاپه یې برید وکړ.

بالخاش په تېزۍ سره شاته ولاړ، او خپل توره یې راوویست، او د جګړې لپاره چمتو شو. ایلي د کوټې کونج ته نور هم نږدې شوه او په وېره یې دوي دواړو ته کتل.
احمد آق سو یو زړور جنګیالی و، خو د بالخاش پشان تجربه کاره مبارز مقابله یې نشو کولې، مګر دا چې یوه معجزه پېښه شوی وایې او هغه بالخاش ته ماته ورکړې وایې.له هماغه لومړیو شېبو، احمد احساس کړه چې د بالخاش له منځه وړلو هڅه یې بې ګټې ده او ډېر ژر به خپل ځان مرګ ته وسپاري.

ورو ورو غوسه او کینه د بالخاش وجود ونیوه، او توره یې د احمد آق سو د وژلو په پار واهه، بالخاش په زړه کې وویل: "باید هغه ووژنم!" احمد آق سو هڅه کوله چې د ناڅاپي بریدونو په مرسته بالخاش حیران کړي او مرګونی زخم ورکړي، خو بالخاش یو تکړه او چابک جنګیالی و، هغه د احمد پشان جنګیالیو ته په عمر کې ماته نخوړې.
هغه د پوره ډاډ او بې پروایۍ سره د احمد بریدونه شنډول، پرته له دې چې ډېر زحمت وباسي. هغه پوهېده چې د دې سختې او دښمنۍ ډکې مبارزې پای به د ده په ګټه وي، داسې ښکارېده لکه هغه چې احمد ته د لوبې په سترګه کتل.

د بالخاش د جګړې طریقه دا وه چې خپل سیال ستړی کړي او بیا په یو قوي برید سره یې له منځه یوسي. احمد غاښونه سره ټینګ کړل، دا د هغه د غوسې او کرکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه وه. بالخاش د وروستی ځل لپاره احمد ته وویل: لا هم ناوخته نه ده، ته کولی شې چې خپله توره وغورځوې!

احمد د کرکې څخه په ډک غږ وویل:
- کله چې زه تا ووژنم هغه وخت به د اترار خلک ووايي چې د اترار نامي توره وهوونکي او د غايرخان د ساتونکي ډلي مشر د احمد آق سو لخوا ووژل شو، هغه وخت به زه ستا ځای ونيسم!

هغه د دې خبرو وروسته د زيات سترپيا څخه په ستمي وهلو بوخت شو، په څېره کې يې ويره څرګنده وه، او له سترګو يې ښکاره وه چې وېرېدلی دی، خو نه يې غوښتل چې دا وښيي. هغه خپل وېره پټ ساتلی وه. چا هغه ګمارلې وو چې بالخاش ووژني؟ د دې پوښتني ځواب د راروان حالاتو ځواب ورکوه.
بالخاش وويل: ښه به وي چې د دې حماقت لاس واخلې او تسليم شې!
احمد په قهر وويل: خو زه ډاډه يم چې زه به تا ووژنم!
بالخاش وخندل او ويې ويل: ستا په شان ډېر کسان مې خاورو ته سپارلي دي!
احمد چيغې کړې او ويې ويل: خو دا ځل به زه تا خاورو ته سپارم.

ورو ورو دواړه يو بل ته نږدې شول، دواړو هڅه کوله چې يو بل شاتګ ته اړ کړي.
ناڅاپه، بالخاش د تورې لاستي په کلکه باندې د احمد پر مټ ووهله، او بيا يې د سر په ضربه د هغه پر مخ وواهه. احمد له دې دوو سختو ګوزارونو وروسته يو څه شاته لاړ، توره يې له لاسه ولوېده.

هغه پوه شو چې خطر ورته نږدې دی. بالخاش په خپل ځای ودرېد، احمد ته يې کتل.
احمد هڅه وکړه چې خپله توره بېرته راواخلي، خو مخکې له دې چې هغې ته ورسېږي، بالخاش پر هغې پښه کېښوده او په عين حال کې يې يو قوي لغت د احمد پر نس وواهه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد شاته لاړ، دیوال ته ولګېد او بیا د کوټې پر ځمکه ولوېد. بالخاش ورنژدې شو، د توري څوکه یې د احمد پر سینه کېښوده او ویې ویل:
- بالاخره ماتې دې وخوړه! زه یوازې د یوې شرط په منلو تا نه وژنم، او هغه دا چې ته ژمنه وکړې چې زما اطاعت به کوې او راته ووایې چې چا تا ته دنده درکړې وه ترڅو ما ووژنې؟

احمد چې بله لاره نه لرله، وروسته له یوې شېبې سکوت، وویل: زه ژمنه کوم!
بالخاش یو ګام شاته شو او ویې ویل: ته کولی شې پورته شې!
ایلي چې د کوټې کونج کې ولاړه وه، کله چې یې ولیدل چې بالخاش بریالی شو، له خوښۍ یې موسکا وکړه او ویې ویل: سردار، زه پوهېدم چې تاسو به بریالي کېږئ!
بالخاش وویل: احمد، زما ملګري دې ، زه باید پوه شم چې د هغه دا رقم د لیونتوب کار څه معنا لري؟

احمد ورو ورو له ځمکې پورته شو، او ناڅاپه یې خپل د ملا څخه خنجر راوکښ، پرته له دې چې د بالخاش موقعیت په پام کې ونیسي، بې‌عقلانه انداز باندې برید وکړ.بالخاش په چټکۍ سره یو ګام کیڼ خواته واخیست، او همدا چې احمد ورنژدې شو، بالخاش خپله توره د هغه په نس کې ننباسله.

احمد د درد نه چیغه کړه، خنجر یې له لاسه وغورځاوه، او دواړه لاسونه یې پر نس کېښودل، وینه یې د ګوتو له منځه بهېده. هڅه یې وکړه چې ودرېږي، خو ونه توانېد، پر ځمکه راولوېد.
ورو ورو یې وویل: زه... زه... ووژل شوم!

د وینې لیکې د کوټې پر فرش خورې شوې، د هغه لاسونه له نس نه لاندې ولوېدل، او ساه یې بنده شوه.ایلي ډارېدلې دې صحنې ته کتل. هغې څو شیبې مخکې فکر کاوه چې د دوو جنګیالیو دښمني ختمه شوې، خو احمد چې لا هم د بالخاش د وژلو اراده نه وه پرېښې، ناڅاپه وضعیت بدل کړ او خپل ځان یې وژلو ته وسپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش خپله توره پر ځمکه کېښوده، د احمد مړ جسد ته ورنژدې شو، ورو يې د هغه پر مخ لاس کېښود او غږ يې وکړ: احمد ...احمد ...
احمد خپلې سترګې لږ پرانيستې، شونډې يې په زحمت سره وخوځولې او ويې ويل:
- ته بريالى شوې...
او بيا يې بانه يو پر بل وولېدل او سترګي بندى شوى.
بالخاش وپوښتل: چا ته زما د وژلو لپاره ګمارلى وى؟ نوم يې څه دى؟ خبرې وکړه.

احمد خپلې لاسونه او پښې لږ وخوځولې، شونډې يې خلاصې کړې او بيحد ټيټ او کمزوري غږ چې په سخت اورېدل کېده وويل:
- هغه... هغه...

خو مخکې له دې چې د هغه شخص نوم واخلي، مرګ راورسېد او هغه يې له ځانه سره يووړ.بالخاش هڅه وکړه چې خبرې ته يې دوام ورکړي، خو احمد مړ شو.

ايلي، چې د هغه تر څنګ ولاړه وه، ورو وويل: هغه مړ دى.
بالخاش په خواشينۍ سره وويل: دا د هغه خپله ګناه وه، ما نه غوښتل چې هغه ووژنم.

بالخاش له ځايه پورته شو، ايلي ته يې وکتل او ويې ويل: ژر لاړه شه، خپل پلار ته خبر ورکړه چې دلته راشي.

ايلي په بيړه بهر ووتله.

بالخاش د احمد جامې ولټولې،چې شايد په جېبونو کې يې کوم ليک پيدا کړي چې د هغه د مأموريت راز افشا کړي، خو لټون يې بېنتيجه و.هغه خپله توره، چې د احمد په وينو سره شوې وه، پاکه کړه، بيرته يې په تيکې کې واچوله او په خپل کمربند يې وترله.ډېر وخت نه و تېر شوى چې سايان او د هغه لور ورخطا کوټې ته راننوتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سایان، چې د احمد پر وینو ککړ جسد ولید، وارخطا شو او ژر یې خپل نظر له جسد
څخه واړاوه، بیا یې د بالخاش پر لور وکتل او په اندېښمن غږ یې وویل:
- قربان، تاسو زما ژوند تباه کړ!
بالخاش وویل: ما نه غوښتل چې هغه ووژنم، خو بالاخره، زموږ له منځه یو باید وژل
شوی وای. ستا لور، ایلي، شاهده وه چې احمد غوښتل ما د زهري شرابو په واسطه
ووژني، او کله یې چې ولیدل چې پلان یې خراب شو، نو پر ما یې توره راویسته.
سایان وویل: هو، ایلي ما ته ټولې خبرې کړې دي، باور وکړئ، زه د احمد له نیت څخه
خبر نه وم.

بالخاش په آرامه او نرم غږ وویل: زه پوهېږم، دا مهال د دې خبرو وخت نه دی. ته
باید د جسد د ښخولو بندوبست وکړې. زموږ دریو پرته، بل هېڅوک له دې پېښې خبر
نه دی، چې ستا او ستا د لور لپاره کوم ستونزه جوړ کړې. مخکې له دې چې سهار
شي، جسد یو ځای ورک کړی، ژری کوی تر سهار زیات وخت نلرو.

سایان حیران و چې څه وکړي؟ مړی چېرته یوسي؟ هغه پوهېده که د دې قتل خبر
په ښار کې خپور شي، نو د غایر خان سرتیری به شرابخانه بنده کړي، او دی به
بندیخانې ته واچوي. که بندیخانې ته هم لاړ نه شي، نو د ده او د لور لپاره به یې په
هرسبان کې نور ځای د اوسیدو ونه اوسیږی.

ایلي لاس خپل د پلار پر اوږه کېښود او ویې ویل: پلار، زه به درسره مرسته وکړم.
بالخاش په خندا وویل: ما هم حساب کړئ. بیړه وکړئ، زه باید ژر تر ژر لاړ شم.

سایان سوچ ته تللی و، بله چاره نه وه. باید د احمد مړی یئ یو ځای ورک کړي واې.
ده بالخاش ته وکتل او ویې ویل: هغه به د شرابخانې لاندې څاه ته وغورځوو، بله
لاره مې ذهن ته نه راځي.
بالخاش تریخ خندا وکړه او ویې ویل: نو زړه دې غوښت چې هغه د ښار هدیرې ته
یوسې او ورته د جنازې مراسم هم ونیسي؟ دا راته ووایه دا څاه د څه لپاره ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سایان- د شرابو پاتې شوني پکې اچوو.
بالخاش- ښه نظر دی، باید ژر تر ژره کار خلاص کړو.

هغوی د احمد مړی په یوه کلک ټوکر کې تاو کړ. ایلي د څراغ رڼا واخیسته او مخکې لاړه. سایان او بالخاش مړی د شرابخانې لاندې زیرزمینې ته یووړ. سپین ږیری ستړي شوي وو او ستمي یې کاوه، د شرابو تېز بوی هوا لړلې وه. شاوخوا د شرابو جوړولو سامان الات کیخودل شوی وه، هغوی مړی د څاه څنګ ته کېښود.

سایان ژور ساه واخیسته او ویې ویل: ما په خپل ژوند کې داسې کار نه و کړی.
بالخاش- زه به هېڅکله ستا دا احسان هېر نکړم او خامخا به یې یوه ورځ جبران کړم.

هغه د څاه پوښ پورته کړ، د شراب تروش بوی پورته شو. بالخاش سر شاته کړو لږ وروسته، مړی یې له سر لخوا دننه وغورځاوه. مړی د څاه تل ته پرېوت. دریو واړو د مړي د لوېدو غږ واورېد.بالخاش د څاه پوښ بند کړ او ویې ویل: اوس پاتې کار د ایلي دی چې خپل د کوټې څخه هغه وینه پاکه کړي.
سایان وپوښتل: تاسو چېرته ځې، سردار؟
بالخاش موسکی شو او ویې ویل: ما ته زما پر نوم غږ وکړه، زه باید د سوداګرو کاروان سره یوځای شم.

ایلي- هغوی د لمر ختو نه مخکې د هرسبان څخه ولاړل، داسې ښکاریدل لکه چې د مغولو د خان سره د لیدو نیت یې درلود؟
بالخاش سر وخوځاوه او ویې ویل: هو، همداسې ده. اوس راځئ چې له دې ځایه لاړشو.

هغوي د شرابخاني د زیرزمیني څخه راووتل، سایان وویل: زه به تل د غایرخان نوکر او وفادار پاتې شم.
بالخاش نظر د ایلي خواته کړو او ویې ویل: زه خپل ژوند د ایلي پوره وړی یم، هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د حتمي مرګ څخه وژغورلم، کنه احمد آق سو يو بهترينه پلان زما د وژلو لپاره ترتيب کړی وو.

ايلې خپل سر ښکته واچو او ويې ويل: دا زما دنده او مسؤليت وو چې اجازه ورنکړم ستاسو پشان يو اصيل جنګيالي په داسي يو ناځوانه پلان ووژل شې.
سايان وپوښتل: تاسو کله حرکت کوې له دې ځايه؟
بالخاش بغير د کوم فکر کولو وويل: همدا اوس.
سايان- نو ستاسو آس آيا تيار کړم؟
بالخاش- ډېر به ممنووي اوسيږم، او هو د احمد آق سو اس يې هم ستاسو.

دوی د شرابخانې دروازې ته ورسېدل. سايان هغوی يوازې پرېښودل او د اسونو خواته لاړ. دواړه چپ ولاړ وو. څو شېبې وروسته، ايلي خاموشي ماته کړه او ويې ويل: ښه به وای که پوه شوي وای چې احمد ولې غوښتل تا ووژني؟
بالخاش اوږې پورته واچولې او ويې ويل: زه هم په همدې فکر کې يم، خو لا مې علت نه دی پيدا کړی.
ايلي وپوښتل: ايا مخکې له دی تاسو کوم وخت يو دبل سره کوم اختلاف درلود؟
بالخاش- نه، هېڅکله هم نه، او زه همدی خبري ته حيران يم!

ايلي- واقعاً هم چې حيرانوونکی ده.
بالخاش- زه بايد تل ستا ممنوی اوسيږم چې پر وخت دې د هغه له نقشې خبرداره کړم.

ايلي په اندېښنې وويل: ډېر وحشتناک و که هغه تاسو د زهرو په واسطه وژلي واي، ما خپله وليدل چې هغه په شرابو کې يو څه واچول. فکر کوم چې وروسته د دې پلان څخه په بدې شو! ځکه شايد ځان سره يې فکر کړې وی چې شايد دې هم مجبور شې د هغه شرابو څخه وڅښې، نو ځکه يې پلان بدل کړو او زهر يې په يوه جام کې يوازې تاسو ته واچول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش وخندل او ویې ویل: بالکل صحیح ده، ته ډېره یوه هوښیاره نجلۍ یې.
ایلي د بالخاش سترګو ته وکتل او ویې ویل: ما ډېره هیله درلوده چې یو ورځ نور هم پاتې شې.
بالخاش- په راتګ کې به همدا وکړم.
ایلي- یعني امید ستاسو د راتګ ولرم؟
بالخاش- هو، ضرور، زه باید هرومرو ستاسو مهرباني په یو ډول جبران کړم.

د خوشحالۍ څخه د ایلي سترګې وځلېدی. هغې زړه کې احساس وکړو چې دې اصیل جنګیالي ته څه ناڅه د زړه احساس او ناشنا شوق لری.
ایلي- هغه سوداګر ولې د مغولو د خان سره د لیدو لپاره تللي دی؟
بالخاش- دا یو دوستانه لیدنه ده، چې زموږ په اړیکو اغېزه لري.
ایلی- ما فکر کاوه چې خدای مه کړه، کوم اختلاف ستاسو په منځ کې پیدا شوی!
بالخاش- نه، هېڅکله هم نه، زموږ منځ کې هېڅ اختلاف شتون نلری.

ایلی- شکر دی چې موږ په سوله او آرامۍ کې یو، خو د مغلو د خان او د هغه د پرلپسو جګړو لخوا ډېر ډارونکي خبرونه راځي.
بالخاش په ویارِ سره وویل: که زموږ او د هغوی ترمنځ کومه ورځ جګړه هم وشي، نو بې شکه د مغلو خان به سخته ماته وخوري.

د شراب‌خانې د دروازې د پرانېستل کېدو غږ د دوی پام ځان ته واړاوه. سایان دروازه خلاصه کړه او په زوره یې وویل: قربان! ستاسو آس تیار دی.

ایلي او بالخاش یو بل ته وکتل. د ایلي له سترګو څرګندېده چې د بالخاش له تګ نه خفه ده. بالخاش ښه پوهېده چې دا ځوانه نجلۍ څه احساسات لري، خو داسې یې ښودله لکه چې د هغې احساسات عادی او نرمال ورته ښکاري.هغه د ایلي لاس په خپل لاس کې ونیوه، ټینګ یې کړ او په دوستانه انداز یې وویل: د بیا لیدو په هیله!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ایلي زړه د بالخاش د لاس د تودوخې له امله ولړزېد، مخ یې لږ سور شو، خو موسکۍ شوه او ویې ویل: د بیا لیدو په هیله.

بالخاش غوښتل خپل لاس ازاد کړي، خو ایلي د هغه لاس ونیو او ویې ویل: زه به تر دروازې درسره لاړه شم.
بالخاش چې د هغې د احساساتو په ژور والي پوهه شو د د دې لپاره چې هغه د ځان څخه لرې کړې په بې پروا انداز یې ورته وویل: موږ ډېر لږ وخت کېږي چې یو دبل سره اشنا شوي یو، نو لازمه نه بولم ته زما سره تر دروازې راشې!
ایلي- خو زه داسې احساس کوم لکه موږ چې کلونه کېږي یو بل پېژنو!

بالخاش هېڅ ونه ویل، ځکه هغه په داسې حالت کې و چې هېڅ تمه یې نه درلوده.
له شراب‌خانې چې ووتل، سایان وویل: قربان! هیله لرم چې سبا نارې دلته زموږ سره وخورئ.
بالخاش- مننه، خو زه باید ژر ترژره لاړ شم.
بیا یې ایلي ته وکتل او ویې ویل: خدای پامان اغلې.

ایلي د بالخاش لاس کلک لاس کې ونیو او پرته له دې چې پلار یې خبر شي، ورو یې ورته وویل: زه درسره مینه لرم.
بیا یې د بالخاش لاس خوشې کړ...

بالخاش خپله پښه پر اس واړول پر اس  سپور شو د آس واګې یې د سایان له لاسه واخیست، د دوی سره یې خدای پاماني وکړواو د سحر په روښانه فضاء کې، چې ورځ تازه پیل شوې وه، خپل آس یې په تېزۍ سره ودنګاوه او لاړ.ایلي تر ډېرې مودې پورې د بالخاش پر تللې لاره باندې سترګې خښې کړې وې، د آس د قدمونو غږ یې لا هم په غوږونو کې و. د هغه له تللو وروسته، فضا آرامه شوه، خو د آس د قدمونو اواز لا هم د ایلي په زړه کې انګازې کولې. هغې د اندېښنې سره شراب‌خانې ته ننوتله، دروازه یې ورو بنده کړه، څو شېبې ودرېده، بیا یې څراغ پورته کړ او خپل کوټې ته روانه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

نزدې د غرمې مهال، بالخاش یو کاروان ولید چې د مغلستان لوري ته روان وه. هغه د آس واګې کش کړې، خپل ځان یې لږ پر آس پورته کړ، لاس یې د سترګو پورته د سیوري جوړه ولو پشان ونیول او کاروان ته یې په ځیر ځیر وکتل.کله چې ډاډه شو چې دا کاروان د اترار د سوداګرانو دی موسکی شو، د تندي خوله یې پاکه کړه او له ځانه سره یې وویل: بالاخره، ما هغوی ومووندل!

هغه خپل آس ته لغته ورکړه او روان شو، آس چې له سهار راهیسې یې مزل کړی و ستړی و، خو بالخاش لا هم تېز روان و.د کاروان یو سپور چې د بالخاش د آس قدمونه یې واورېدل، شا ته وکتل او په زوره یې وویل: یو سپور زموږ لور ته را روان دی!

دا خبر ژر د سوداګرانو غوږ ته ورسېد، او کاروان ودرېده. بالخاش د کاروان له څنګ څخه په تېزی سره تېر شو، کله چې د کاروان مخې ته ورسیده نو د احمد خجندي مخې ته یې د آس واګې راکش کړل او ودرېد. ټول کسانو بالخاش ته ځیر وو، په هغه کاروان کې یوازې څو تنو بالخاش پېژنده، څو شېبې چوپتیا خپره شوه، تر دې چې احمد خجندي دا چوپتیا ماته کړه او په حیرانتیا یې پوښتنه وکړه: بالخاش! ته چېرته روان یې؟

بالخاش ژور سا واخیسته او ویې ویل: زه د غایر خان له خوا مامور یم چې ستاسو کاروان سره یو ځای شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"بالجیج" چې یو د همغه سوداګرانو له ډلي څخه وو وخندل او ویې ویل: زموږ کاروان ته پخېر راغلي بالخاش!
کاروان چې له دوه ویشتو سوداګرانو او د هغوی له نوکرانو او غلامانو څخه جوړه شوی وو، د بالخاش شاوخوا راټول شول.
احمد خجندي وویل: خامخا د اترار د امیر لخوا دې موږ ته کوم ضروري پیغام راوړې؟

بالخاش په هغه لمر وهلي مخ سره موسکی شو او ویې ویل: نه، زه در ته کوم خاص پیغام نه لرم، یوازې دا چې غایر خان ما ته د دې کاروان د ساتنې دنده سپارلې ده او بس.

بالخیج په سپکه لهجه وویل: که غله پر موږ برید هم وکړي ته چې یوازې یو ساتونکي یې څه کولای شې؟ پرته له دې چې خپل ځان وژلو ته ورکړې؟! بېشکه غایر خان ستا د راستولو کوم بل هدف لری!
بالخاش په ډاډمن اواز وویل: زما دنده همدا ده چې ما وویل، نور څه نه لرم.
خجندی خپلو ملګرو ته وکتل، هغوی ټول حیران وو. بیا یې په لوړ اواز وویل: په لومړي تم ځای کې، چې له دې ځایه ډېر لرې نه دی، موږ به تم شو.

یوه سواره په لوړ غږ فریاد وکړ: حرکت وکړی!

له لږ ځنډ وروسته، کاروان خپل سفر ته دوام ورکړ. بالخاش د دریو اتراري سوداګرو سره، چې د کاروان مشري یې کوله، روان و. د بالخاش دندې سوداګر حیران کړي وو. هغوی له ځانه څخه بار، بار پوښتل چې غایر خان اخر ولې دا سړی رالېږلی؟ ایا بالخاش بله کومه پټه دنده لري؟

له غرمې وروسته، کاروان یوه کاروانسرای ته ورسېد او هلته تم شو. هر یو سوداګر خپلې خونې ونیولې کوم چې یو دبل څنګ کې ویې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"احمد خجندی،عبدالله بن میر حسین جندی، او احمد بالجیج"، درې سوداګر چې د کاروان مشري يې کوله، په يوه حجره کې سره راټول شول.

جندی وويل: زما په اند، بالخاش بله دنده لري او موږ ته يې نه وايي.
بالجيج وويل: ممکن غاير خان هغه زموږ د جاسوسۍ لپاره را استولی وي؟
خجندی وويل: زما په نظر بايد خپله د بالخاش څخه وپوښتو چې ولې راغلې؟ او څه دنده لری؟
بالجيج په تندۍ وويل: زه به هغه خبرو کولو ته په زور اړباسم، بايد حقيقت ووايي.
د دې خبري سره سم هغه په تلوار له حجرې ووت او بالخاش ته يې پيغام ولېږه چې سمدلاسه دلته راشي.

کله چې بالخاش حجرې ته داخل شو، د سوداګرو د څېرو له مخې پوه شو چې وضعيت عادي نه دی.بالجيج، چې اوږد قد او قوي بدن درلود، دروازه بنده کړه او په غوسه يې وويل: موږ ته د خپلې اصلي دندې حقيقت ووايه!

بالخاش يوه يوه ته وکتل، بيا يې وويل: تاسو ما ښه پېژنئ. کلونه کېږي چې د امير اترار په ساتونکو کې يم،او تازه اوس د ساتونکي ډلي د مشري دنده راسپارل شوي زما دنده هماغه ده چې مخکې مې تاسو ته وويل.

خجندی وويل يوازې يو ساتونکي د کاروان ساتنه نشي کولای، نو ته جاسوس يې!
بالجيج نور هم مشکوک شو، مخامخ ودرېد او په قهر يې وويل: که ته موږ دوکه کوې، ژوندی به له دې ځايه ونه وځې!
بالخاش خطر احساس کړ. لږ يې فکر وکړ او بيا يې وويل: بايد ژمنه وکړئ چې دا خبره به پټه ساتئ، ځکه زه لا هم نه پوهېږم چې اصل کيسه څه ده؟

خجندی وويل: پر موږ باور وکړه.
بالخاش هغه پېښه ورته وکړه چې په "شرابخانه" کې ورسره شوې وه، او څنګه "احمد آق سو" وژل شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه زیاته کړه: ما غوښتل دا خبره تاسو ته وکړم، خو لا هم نه پوهېږم چې احمد ولې غوښتل ما ووژني؟ دا معما به زه د اترار تر ستنېدو وروسته حل کړم.

بالجیج وخندل او وویل: دا خبره باور کول سخت دي، ته دروغ وايې!
ناڅاپه یې په خپل سوک بالخاش پر سینه وواهه.

بالخاش څو ګام شاته لاړو وینه یې په جوش راغله، او له ځانه سره یې وویل:"دا یو باید خپل پر ځای کښېنوم."خپل توره یې له تېکې وایسته او ویې ویل: زه له مرګه ویره نه لرم، یا به هغه څه چې ما ویلې منئ، یا به تاسو درې واړه د تورې په زور دې ته مجبوره کړم چې ومنئ!!

سوداګر شاته لاړل، هغوي هېڅکله دا تصور نه کاوه چې بالخاش به پر هغوی توره وباسي.بالخاش په غوسه ناک غږ بالجیج ته مخ کړو او ویې ویل:
- له تا سره یم! ولې ولاړ یې؟ زه حتی تیار یم چې بې له تورې هم ستا سره لاس او ګریوان شم.
خجندي وویل: بالخاش، توره دې کېږده، دا ځای د داسې خبرو لپاره نه دی.
بالخاش په هماغه توند لهجه وویل: زه له بالجیج سره یم، باید هغه ته ثابته کړم چې زه، بالخاش! د غایرخان د ساتونکي ډلي قومندان، هېڅکله دروغ نه وایم.

خجندي وویل: موږ ستا خبرې ومنلې، موږ ستا ملګري یو.
بالخاش خپله توره تېکې ته کړه.
بالجیج وخندل او ویې ویل: ته یو جنګیالی او با ایمان سړی یې بالخاش!
خجندي وویل: په دې کې شک نشته چې د غایر خان په نظام کې دسیسه شتون لری،کله چې موږ اترار ته ستانه شو نو هغه ته به د دې موضوع په اړه خبرداې ورکړو.

بلخاش په ارامه غږ وویل: ملګرو که کوم دسیسه شتون هم ولري نو هغه به یوازې زما د ویجاړولو او وژلو لپاره وی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالجیج وپوښتل: په څه دلیل داسې وایي؟
بالخاش- همدا لامل به بس وي چې احمدآق سو غوښتل ما ووژني. په هغه شیبو کې چې هغه د مړینې په حال کې و، هغه ډیره هڅه وکړه چې د هغه چا نوم ووایی چې زما د وژلو پلان یې درلود، مګر مرګ هغه ته وخت ورنکړو.

بالخاش څو شیبې ودرید او بیا د دوي له حجرې څخه راووت. د هغه فکرونه ګډوډ وه. هغه په داسې حالت کې و چې نشوی کولې خپل فکرونه منظم کړي، هغه څه چې د ده ذهن بیحد ګډوډ کړي وو دا پوښتنه وه چې چا احمد ته د ده د وژلو امر ورکړی و؟ هغه د دې پوښتنې د ځواب موندلو ډېر کوښښ وکړو خو بې ځوابه پاتې شو.
هغه احساس کاوه چې تر اوسه پورې خطر له هغه څخه نه دی لرې شوي او امکان لري اترار ته د تګ په وخت کې بیا به د هغه ژوند په خطر کې اوسیږی. له ګډوډ فکرونو سره خپلې حجرې ته لاړ.

په همدی وخت کې سوداګرانو ته خبر راغلې چې دوه تنه د کاراون کسان په سخته تبه اخته شوی دې او نه شي تللای. خجندي د هغوي لېدو ته لاړ، هغه دواړه په تبه کې سوځېدل او د زیات تبي څخه یې اپلاتي ویل، د هغوي دواړو د حال په لېدو دوي پریکړه وکړه ترڅو یوه بل ورځ هم سفر و ځنډه وې چې شاید دا دواړه کسان د سفر کولو قابل شې.

ماښام وخت وو خجندي بلخاش د خپلې حجرې مخې ته ولید او هغه ته یې وویل: د احمد آق سو د مړینې په اړه له هیچا سره خبرې مه کوه.
بلخاش- زه په دې خبر پوهېږم.
خجندی- ته د دې موضوع په اړه څه فکر کوي؟
بالخاش- دا موضوع ماته یو راز او معما ګرځېدلې.
خجندی- اخر به پوهه شې، چې د دې موضوع شاته د چا لاس وو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځُجندي ورو ورو له هغه ځایه لرې شو، ورځ د پای ته رسېدو په حال کې وه، د لمر د لوېدو سره د اسمان سور رنګ خپل ځاې، ورو ورو د شپې تیاري ته ورکو. د شپې یوه برخه تېره شوې وه، چې یو ځوان سپور کاروانسرای ته داخل شو. او د کاروانسرای د مالک څخه یې د اترار د سوداګرو کاروان وپوښت. کله چې پوه شو چې هغوی چیرته تم شوي، هماغې خوا ته روان شو. هلته یې له یو سړي وپوښتل: بالخاش چیرې لیدلی شم؟

سړي لږ خپل سر پورته کړ او ویې ویل: د هغه حجره هلته ده،خو دا مهال د سوداګرو حجرې ته تللی. هلته کولی شې ووینې.

ځوان سپور د بالخاش حجرې ته ورنژدې شو، ورو یې دروازه خلاصه کړه، دننه لاړ، او د حجرې په یوې څنډې کې کېناست، او د بالخاش د راتلو په تمه شو.د شپې یوه بله برخه هم تېره وه، چې ناڅاپه سپور یو غږ واورېد، هغه له خپل ځایه پاڅېد او د دروازې شاته ودرېد. لږ وروسته دروازه خلاصه شوه، بالخاش دننه راغی، خو همدا چې د حجرې منځ ته ورسېد، نامعلوم سپور د هغه پر شا توره کیخوده او په یو دروند امرانه خو دروغجن غږ یې وویل: خپل ځای کې پاتې شه ښور ونخوری.

بالخاش بې اختیاره وخوځېد، په زړه کې یې وویل: بالاخره هغوی زما پل پیدا کړ. بې له دې چې حرکت وکړي، پوښتنه یې وکړه: ته څوک یې؟ څه غواړې؟
د نامعلوم سپور د خندا غږ په حجره کې خپور شو او ویې ویل: زه یم، ګرانه.
دهغه ناشنا خو په عین حال کې آشنا غږ په اورېدو سره، بالخاش حیران شو، مخ یې واړاوه، او د ایلي په لیدو یې حیرت وکړو.
له حیرانتیا سره یې وپوښتل: ایلي! ته دلته څه کوې؟ دا څه بڼه دې ځانته جوړه کړې؟

ایلي په داسې ډول لکه چې له کلونو راهیسې بالخاش پېژني وویل: دا وخت د خبرو نه دې، زه راغلې یم، چې تا له هغه لوي خطر څخه خبر کړم کوم چې ستا ژوند ګواښه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش داسې وانګېرله لکه غلط يې چې اورېدلي وي په ګنګس انداز يئ وپوښتل:
ستا مطلب څه دی؟ زما سر نشو خلاص ..!

ايلي د حجرې پر فرش کېناسته او ويې ويل: زه د يو نفس اخيستو پرته تر دې ځايه راغلې يم، زما هېڅ باور نه کېده چې تا به دلته پيدا کړم!
بالخاش وويل: خبرې وکړه! راته ووايه چې کوم خطر ما ته متوجه دې او ما ګواښه وې؟
ايلې- يو نامعلوم سپور ستا په لټه کې دی. ممکن دا مهال، چې مونږ خبرې کوو، هغه له دې ځايه ډېر ليرې نه وي. زه تر هغه مخکې راوتلی يم،ويني چې د نرانو کالې مې اچولې دی، دا جامې زما د ورور دې هغه د هرسبان په جنګ کې ووژل شو، ما دا واغوندل ترڅو لاره کې کوم څوک راته مزاحمت ونکړی.

بالاخش په خواشينې انداز وويل: دا خبری پريږده يو بل وخت ته، دا راته ووايه چې هغه کس د کوم خوا راغلې وو؟
ايلې يوه ژوره ساه واخيستل او ويې ويل: ولې ولاړ يې؟ راشه کينه.
بالخاش- زما کيسه کې مه اوسيږه، زما د پوښتنې ځواب راکړه.
ايلې- زما په خيال هغه کس د اترار څخه راغلې وو؟ ځکه کله چې هغه زمونږ شرابخونې ته راغی، نو زما له پلار څخه يې د احمد آق سو پوښتنه وکړه ...

بالخاش- ستا پلار څه ځواب ورکړو؟
ايلې- هېڅ، ورته ويې ويل چې په دی نوم نه کوم کس پېژني او نه يې هم لېدلې.
بالخاش- بل کومه پوښتنه يې ونکړه؟
ايلې داسې حال کې چې د بالخاش سترګو ته ځېروه وويل: هو يو بل پوښتنه يې هم وکړه! ويل يې ايا د پرون شپی راهسې کوم کس دلته نه دې راغلې؟ هغه سرې ستا په اره وپوښتل او ...
بالخاش د هغې خبره پرې کړل او ويې ويل: او تاسو ورته څه وويل زما په اره؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ايلې په بې پرواۍ ځواب ورکړو: پلار مې ورته وويل چې د بالخاش په نوم کوم کس نه پېژني.

بالخاش ژور فکرونو کې ډوب شو او له ځان سره يئ وويل: شک نشته چې دا سپور د هماغه چا له خوا راغلی، چې زما د وژلو پلان يې جوړ کړې وو.
ايلي وويل: زه فکر کوم، چې هغه راغلی وو ترڅو وګوري چې ايا احمد آق سو ته وژلی يې او که نه! زما پلار داسي احساس کړی وو نو ځکه د دې لپاره چې تا ته خبر درکړي، هغه سړی د شراب څښلو په پلمه تم کړو ترڅو زه وکولی شم ځان تا ته در ورسوم او خبر درکړم.

بالخاش وويل: ستا پلار سم اټکل کړی! هغه سړی د احمد آق سو سره ستاسو په شرابخانه کې د لېدو پلان درلود، البته زما د وژولو وروسته.
د لږې چوپتيا وروسته، بالخاش وويل: ته همدلته پاتې شه، زه بېرته راځم.
ايلي ناڅاپه له ځايه پاسيده او ويې ويل: ته چيرې ځې؟
بالخاش، چې خپله توره يې په ملا تړله، وويل: هغه سپور د لارې په سر دی، او نن شپه به دلته راورسيږی، زه بايد له دې ځايه دباندې هغه ته کمين ونيسم او راګير يې کړم.

ايلي- زه هم درسره ځم.
بالخاش- نه! ته همدلته پاتې شه!
ايلي ټينګار وکړ: خو ته هغه نه پېژنې، کېدای شي يو بې‌ګناه کس ووژنې!
بالخاش- زه د چا د وژلو نيت نه لرم، هغه بايد ژوندی دلته راولم.
ايلي- خو زه بايد درسره لاړ شم! هڅه مه کوه چې ما له ځان څخه لرې وساتې.
بالخاش چې وليدل ايلي نه غواړي پاتې شي ننو ويې ويل: ښه، ژر شه تلوار وکړه.

دواړه له حجرې ووتل، کاروانسرای په ژور چوپتيا کې ډوبه وه.
ايلي وويل: زما آس تيار دی.
بالخاش- موږ به پلي ځو، نه بايد بې احتياطي وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی دواړه جوړه له کاروانسرای څخه ووتل او په تیاره کې د هرسبان په لور روان شول، لږه فاصله یې چې وهلې بالخاش وویل:
- همدلته به منتظر پاتې شو.
یو څو شیبې چوپتیا خپره شوه. بالخاش خپل ټول پام هغه لارې ته ور اړولی و چې په تیاره کې ورکه شوې وه. هغه په پوره ډول پام د کوم آس د پښو غږ یا کوم کس د راتلو خواته وو، خو د ایلي پوره پام او توجه د بالخاش خواته وو، هغې دا ټول سفر یوازې د بالخاش لپاره کړی و. یو عجیب احساس یې درلود. هغه د یو فرصت په لټه کې وه ترڅو وکولای شي یو ځل بیا بالخاش ته ووایي چې هغه یې خوښیږي.

هغې کرار، کرار د بالخاش لاس په خپل لاس کې ونیوه او سر یې د هغه په اوږه کیښود او وویل: مینه درسره لرم.
بالخاش په نرمه لهجه ځواب ورکړ: دا دوهم ځل دی چې دا خبره کوې، ته .. ته ..
باید پوه شې چې زما زړه د بل چا دی. که څه هم هغه زما څخه په زرګونو متره لرې ده، خو زه تل احساس کوم چې هغه زما ترڅنګ ده.
ایلي یو اوږد آه وکړ او ویې ویل:ما ته دا مهمه نه ده چې ستا زړه د بل چا دی، زه یوازې غواړم ته پوهه شې چې زه درسره مینه لرم.

او خپل ځان یې نور هم بالخاش ته نږدې کړ. بالخاش احساساتي شو، هڅه یې وکړه چې له ایلي څخه ځان جلا کړي، خو نجلۍ یې لاس کلک نیولی و، هماغه وخت د آس د قدمونو غږ له لرې څخه واوریدل شو.

بالخاش په چټکۍ سره وویل: ایا تا دا غږ واوریدې؟ داسې ښکاري چې دیخوا راروان دی؟
ایلي ناځاپه د هغه حالت څخه راووته، ځکه پوهیده چې دلته د بالخاش د مرګ او ژوند موضوع ده، د هغه سړي د مرګ او د ژوند موضوع چې دا وربانديې مینه وه.
بالخاش وویل: دا ناپېژندل شوی سړی چې دې لور ته راځي، ډېر ورو حرکت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایلي وویل: شاید آس ډېر چټک راغلی او اوس ستړی شوی اوسیږي؟
دوی دواړه چوپ شول،د آس د قدمونو غږ د صحرا چوپتیا ماتول، د آس په نږدې راتلو بالخاش احساس وکړ چې شاید آس بې سوار اوسیږي؟ ځکه د آس د قدمونو غږ ډېر ازاد و. په شکمن ډول یې له ایلي وپوښتل:
- ته دا غږ څنګه اورې؟
ایلي چې ټول فکر یې د اس د پښو غږونو ته و وویل: سوار بیحد ورو روان دی.
بالخاش- خو زه فکر کوم آس باید بې سواري وي؟
ایلې- دا ناممکنه ده!

یو څو شیبې وروسته آس رانږدې شو، او دوی وکولای شول چې هغه وویني، او ناڅاپه حیران شول یو سړی د اس پر زین باندی سر کیخودلی پروت وو! بالخاش فکر وکړ چې هغه کس شاید غواړي دوی وغولوي او ناڅاپي برید پرې وکړي، نو ځکه یې ورو ایلي ته وویل:احتیاط وکړه شاید کوم پلان وی!

ایلي وویل: نه امکان نلرې چې دا دې کوم چل اوسیږي.
دواړه مخکې لاړل. همدا چې آس دوی ولید، ودرېد.بالخاش په لوړ غږ پر اس سپور کس ته وویل: ته څوک یې؟
هغه کس نه حرکت وکړ او نه یې ځواب ورکړ.بالخاش آس ته نږدې شو، خو کله یې چې ولید هغه سړی د رسیو په واسطه د اس پر زین تړل شوی نو حیرت یې وکړو.
ایلي، چې ناڅاپه شا ته شوی و، وویل: دی وژل شوی؟
بالخاش په حیرانتیا وویل: هو خو چا به دی وژلی وي؟
ایلي چې هڅه یې کوله مړی په تیاره کې وپیژني، وویل: دا هماغه سړی دی چې په شرابخانه کې د "احمد آق سو"پوښتنه کوله!

بالخاش وویل: باید دلته نږدې وژل شوی وي.
ایلي وویل: دا د غلو کار دی؟!
بالخاش په مسخره خندا وویل: غله؟ نه، غله هېڅکله دومره زحمت نه باسي چې یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مړی د زین سره وتړي او دې لور ته يې واستوي. ضرور يو بل څه بايد پيښ شوي اوسيږي. يقينا هغه کس چې دا سپور يې وژلې دی د هغه په پلان خبر و. ايا دا سپور يوازې و کله چې ستاسو شراب خانې ته راغی؟

ايلی پرته له ځنډه ځواب ورکړ: هو بل هيڅوک ورسره نه وو.

بالخاش- دا ډېره عجيبه ده!

ايلي- په هر حال قاتل د دې سپور په وژلو سره ته له ټاکلي مرګ څخه وژغورلي.

بلخاش په لنډه توګه وخندل او ويې ويل: هو دا خبره منم چې زما کار يئ اسانه کړ، خو زه باور لرم چې قاتل ما او دغه سپور دواړه پيژني او د احمد آق سو د وژنې په اړه هم پوهېږي.

ايلي- اخر به يې وپيژنو.

بلخاش- يا شايد هم هيڅکله ځان مونږ ته راڅرګند نه کړي.

ايلي- هغه بايد ستاسو د ملګرو څخه يو وي؟ څکه ستاسو سره مرسته کوی؟

بالخاش- لا معلومه نه ده.

ايلې- اوس څه کول غواړې؟

بلخاش- مونږ دواړه بايد کاروانسرای ته لاړشو.

ايلي- ايا جسد هم ځان سره وړو؟

بالخاش- نه، مونږ د اسونو او جسدونو سره هيڅ تړاو نلرو.

ايلي- ته له څه ډارېږې؟

بالخاش ايلي د لاس ونيو او همدا چې روان شول نو ورته ويې ويل: زه نه غواړم چې ځان ته دښمنان جوړ کړم، سوداګران پر ما بدګمان دي. زه فکر کوم چې دوی زما په خبرو باور نه درلود چې د احمد اق سو په اړه مې ورته وکړل! نو له همدې امله دوی بايد پوه نشي چې زه له کاروانسرای څخه ووتم او دا جسد مې وموند. آس دا جسد پرڅپل د کاروانسرای مخې ته وړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایلي د بلخاش په لاس تکیه وکړه. د هغه لاس یئ کلک ونیو او ویې ویل: نغوارم تا له لاسه ورکړم، مینه درسره لرم په دی خو پوهیږی؟

بالخاش د څو شېبو خاموشي وروسته وویل: زه هم درسره مینه لرم، خو نه هغه ډول چې ته فکر کوی! ما درته مخکې هم وویل چې ما خپل زړه یو بل چاته ورکړی او که څه هم هغه زما ښځه لری ده خو زه بیا هم ورباندی لیونی مین یم.

ایلي- هغه ډېره بختوره جنۍ ده، نوم یې څه دی؟

بالخاش- خان سلطان! د اترار تر ټولو ښکلی نجلۍ ده.

ایلي نور څه ونه ویل، احساس یې وکړ چې دا اتراری ځوان نهشي کولی د ځان خواته راکاږي، خو هغه ډېر لېواله شوی و او نشو کولی بالخاش هېر کړي، سره له دې چې بله نجلۍ یې خوښېده.

کله چې یو څه واټن یې ووهه، بالخاش وویل: خپل د ځان په اړه راته ووایه، زه لا هم ستا په اړه ډېر معلومات نه لرم، پرته له دې چې ستا نوم ایلي دی او پلار دې په هرسان کې شرابخانه لري.

لږ خاموش شو او بیا یې زیاته کړه: او هو، یو شی نور هم پوهیږم، ستا ورور په تېر کال کې د هرسبان په جګړه کې وژل شوی. اوس لیواله یم ترڅو تا ښه وپېژنم.

ایلي آه وکیښ او ویې ویل: زما ورور د غایر خان په زندان کې وژل شوی، هماغه کس چې ته ورته وفاداره یې.

بالخاش په حیرانۍ وپوښتل: ته څنګه پوهیږی د دې موضوع په اړه؟

ایلي ځواب ورکړ: ته به حتماً ووایې چې داسې نه ده.

بالخاش- بې له کوم شک، موږ عام ولس نه وژنو.

ایلي- خو زه ډاډه یم چې ورور مې د غایر خان د شکنجو او ظلم لاندې ساه ورکړه.

بالخاش- ګناه یې څه وه؟

ایلي په افسوس ناکه لهجه وویل: د غایر خان یو سرتیری وژلي وو.

بالخاش- اممم نو انتظار دې درلود چې د دې کار وروسته ورته جایزه ورکړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ايلي په غوسه وويل: ښه به دا وای چا تا پوښتلي وای چې ولې هغه عسکر ووژل شو؟ هغه عسکر زما د ورور د خوښې نجلۍ په زوره نيولې وه. جګړه يې د شرابخانې مخې ته وشوه. پلار مې ډېر هڅه وکړه چې ورور مې شخړې ته پرېنږدي، خو بې‌فايدې وه. کله چې عسکر يې وواژه، نو ويې نشو کولی وتښتي، ونيول شو او اترار ته يوووړل شو، ځو ورځې وروسته خبر راغی چې په زندان کې يې ساه ورکړې.

ايلي يو څه شېبه غلې شوه، بيا يې وويل: خو يوه ورځ به راشي چې د ورور د وينې انتقام به مې له غاير خان څخه واخلم. زه د هماغې ورځې انتظار کوم.

بالخاش د هغې لاس لږ کلک ونيوه او ويې ويل: ته ښه نه ښکارې. کاش له هرسبان څخه دلته نه وای راغلې.
ايلي وخندل خو خندا يې ترخه وه، ويې ويل: ته لا هم غاير خان ته وفادار يې؟
بالخاش- زه د هغه د ساتونکو ډلې قومندان يم او تل به هغه ته وفادار اوسېږم.

ايلي ځواب ورنه کړ...

بالخاش وويل: زه د ستا د ورور له وژل کېدو خواشينی يم. کله چې اترار ته لاړم، تحقيق به وکړم، کېدای شي لا هم ژوندی وي او په زندان کې اوسيږی؟
ايلي په مسخره خندا او په طعنه وويل: هو حتا کېدای شي د غاير خان د ساتونکو له ډلې وي! ضرور تحقيق وکړه، او بله خبره، زما د ورور پر مړينې مه خپه کېږه، خپګان دې هغه وخت ته وساته چې غاير خان ووژل شو.
بالخاش په حيرانتيا وويل: تا ته معلومه ده چې څه وايې؟
ايلي وويل: پوهېږم چې ته ورته وفاداره يې، او زه نه بايد دا خبرې وکړم.
بالخاش- ښه غوږ شه ايلي، نور نغوارم هېڅکله د غايرخان په اړه داسې خبري درڅخه واورم.

د بالخاش په خبره ايلي په ژړا پيل وکړو او ويې ويل: خو زه حق لرم داسې خبري وکړم هغه زما ورور دومره شکنجه کړ چې تر شکنجو لاندې مړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش احساس وکړ چې نجلۍ ډېر خواشينې ده، نو خپل لهجه يې نرمه کړل او ويې وويل: کېدای شي ته حق ولرې، خو ته بايد دا هر څه هېر کړې.

ايلي ورو ژړل،بالخاش غلی شو، نظر يې د کاروانسرای پر څراغ ثابت شو، چې له لرې ځايه يې کمزورې رڼا ورکوله.
بالخاش- موږ کاروانسرای ته نږدې يو.
ايلي- خو زه بايد بېرته هرسبان ته لاړه شم، پلار مې زما په تمه دی.
بالخاش- کله غواړې لاړه شې؟
ايلي- همدا نن شپه.

کله چې دوی کاروانسرای ته نږدې شول، د مخالف لوري څخه د راغلو دوو کسانو سيوری د بلخاش پام ځانته راواړوه. هغه غوښتل چې هلته ودرېږي، خو له ځان سره يې فکر وکړ چې دوی بايد مسافر وي. خو کله چې يې وليدل چې هغه دوه کسان د دوي په لور راځي، نو هغه اټکل وکړ چې دا دواړه بايد د سوداګرو د کاروان غړي وي. دوی د بلخاش او ايلي په لور يو څو ګامونه واخيستل او د هغوي مخامخ په يوڅه واټن کې ودرېدل. د کاروانسرای د کمزوري څراغ د رڼا لاندې، بالخاش د هغه دوو سړيو په ليدلو سره حيران شو او په کراره لهجه يې وويل:
- دوی دلته څه کوي؟

ايلي داسي حال کې چې هغه دوه سړيو خواته ځېر وه کرار يې وويل: دا مغولان دی!
بالخاش- زه هم پوهېږم چې مغولان دی،بايد وګورم چې دوی دلته څه کوي؟
ايلي- دوی بايد سوداګر وي؟
بلخاش د خپلې تورې لاستې په موټې کې ټينګ کړ او ويې ويل: ته هم دلته پاتې شه، ترڅو زه له هغوي وپوښتم دلته څه کوی؟

بالخاش لا ګام نه وو اخيستي چې هغه دوه کسان د دوي خواته راغله او د هغوي څخه يو کس چې لوړ قد خو ډنګر وو وويل: بالخاش د اترار جنګيالي، او ايلي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سایان د شرابخاني د مالک لورۍ! هغه د یوې شیبې لپاره ودرېد او بیا یې دوام ورکړ: مورږ ستاشو په تمه وو.

بالخاش په حیرانتیا سره وپوښتل: ته له کومه راغلې یې؟او دلته څه کوې؟
همغه ږنګر مغولي وویل: زه له ډېرې مودې راهیسې ستاسو په تمه وم، زه ډاډه وم چې څوک به تاسو ته مزاحمت ونکړي! ځکه هغه څوک چې ستا د وژلو هڅه یې کوله ووژل شو. زه د هماغه اترارۍ اس سواره په اړه خبرې کوم، کوم چې جسد یې د اس د زین سره تړلی و. تاسو باید د هغه په لیدلو حیران شوي یاست؟ او له ځان څخه مو به پوښتلي وي چې چا به دا کس وژلی وی؟

بالخاش ناڅاپه خپله توره راوویسته او د هغه پر سینه یې کیخودل او ویې ویل: نو تا هغه کس وژلي وو؟
مغولي وویل: همداسې ده. زمورږ مطلب دا و چې تا له مرګ څخه وژغورو.
بالخاش په تنده لهجه وویل: نو زه به تا، چې یو مغل یې، ووژنم.
ږنګر مغول په حیرانونکي سړه سینه او بې پروایۍ وویل: تل توره د بریا وسیله نه وي. هغه اترارۍ سپور هماغه دنده درلوده کوم چې احمد آق سو ترسره نشو کړې! اوس خپله توره ښکته کړه.

ایلي په یو ډارونکي چوپتیا کې سترګې د هغو دوو مغلو پر څېرو خښې کړې وي، په ظاهر آرام ښکارېده، خو وېرې زړه لړزاوه ورو یې بالخاش ته وویل: هر هغه څه وکړه چې هغه درته وایي، کنه، دواړه به مو ووژني.
د لومړۍ ځل لپاره دویم مغول چې منځنې قد لرونکي او لږ چاغ وو لنډه خندا وکړه او ویې ویل: ایلي سم وایي، هڅه مه کوه چې زمورږ ملګرتیا خرابه شي.

بالخاش په شک کې خپله توره ښکته کړه او ویې ویل: زه هېڅکله ستاسو ملګری نه یم، او که فرصت پیدا کړم، تاسو دواړه به ووژنم.
هغه سړي په ارامۍ سره وویل: که هوا روښانه وای، نو تا به لیدلې چې زما سرتیری دلته نږدې ولاړ دي او زما د امر په تمه دي، چې که اړتیا وي، تا او دا ښایسته نجلۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوټه ټوټه کړي. ته باید له موږ او دې نجلۍ څخه منندوی واوسې، ځکه چې موږ ته دوه ځله له حتمي مرګه ژغورلی. هغه اتراري سپور ته دنده ورکړل شوې وه چې همدلته په کاروانسرا کې تا ووژني.

مغولي سړي لنډ خندا وکړه او ویې ویل: هغه سپور له بله لارې غوښتل ستا مخه ونیسي،خو زما کسانو په وخت سره هغه ختم کړ.

بالخاش خپل شاوخوا وکتل، خو تیاره د دې سبب شوی وو چې و نه شې کړی مغولي کسان ووینې. حیران و چې څه وکړي. هغه ته دا هم عجیب ښکارېده چې دا دواړه مغول سړي نه یوازې دی او ایلي پېژني، بلکې د احمد آق سو د وژل کېدو کیسه هم ورته معلومه ده؟ هغه له ځانه وپوښتل:" دا څوک دي او له کومه ما پېژني؟
او بیا یې له ځانه سره وویل: شک نشته، دا د مغول خان جاسوسان دي، چې د جاسوسۍ لپاره زموږ خاورې ته راغلي."

څو شېبې چوپتیا وه، خو بالاخره بالخاش چوپتیا ماته کړه او وپوښتل: تاسو زموږ څخه څه غواړئ؟
هغه نسبتاً چاق سړي وویل: موږ له تا او ایلي سره کار نه لرو. دا نجلۍ باید بېرته هرسبان ته لاړه شي. زموږ یو سړی به دا تر هغه ځای ورسوي، او ته باید د بام له لارې کاروانسرا ته ننوځې.
بالخاش وویل: زه دا نجلۍ تاسو ته نه سپارم!
هغه سړي په سړه سینه وویل: د هغې څخه وپوښته چې هغه څه وایې؟

بالخاش د ایلي خواته وکتل چې هغې کرار وویل: پر دوي باور ولره، که دوی زموږ د وژلو نیت درلود، نو مخکې له دې چې موږ دلته راورسېږو، مړه کړې به وای.

هغه ډنګر مغول یو کرار شپیلي ووهل چې ناڅاپه، یو مغولي سپور له تیارې راښکاره شو، چې یو آس یې لځان سره نیولې وو هغه ایلي ته وکتل او ویې ویل: حرکت وکړئ! دا سپور به تاسو تر هرسبان ورسه وي، پرې باور وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ايلي بالخاش ته وکتل، د هغه لاس يې کلک ونيو، او په نرم غږ يې وويل: زه به ستا انتظار کوم، خپل خيال ساته!
بالخاش ورو خپل سر وخوځاوه او وويل: په اميد د بيا ليدو...

ايلي خپل پښه پر اس واړول ځان يې راپورته کړ، او پر زين کښېناست. د اس واګي يې ونيول او د مغولي سپور پسې روانه شوه، بالخاش تر هغه وخته هماغلته ولاړ و، تر څو چې د دوی د آسونو د پښو غږ اورېدل کېده. بيا يې هغه دوو مغولي سرېو ته وکتل او وپوښتل: زه له کومې خوا کاروانسرا ته داخل شم؟
ډنګر مغول وويل: له موږ سره راشه.

هغوی د کاروانسرا د ختيځ ديوال شاته لاړل.
چاق سړي وويل: اتراري سوداګر لا تر اوسه نه پوهېږي چې ته ورک يې، نو چې داخل شوې، بايد احتياط وکړې.
بالخاش وپوښتل: تاسو ولې زما سره مرسته کوئ؟ حتماً کوم دليل لرئ؟
هغه سړي وويل: ښه به دا وي چې ډېرې پوښتنې ونه کړې، تلوار وکړه!

بالخاش د بام څخه ښکته ځوړند رسۍ ونيو، او ورو ورو پورته وخوت. له بلې خوا رسۍ د کاروانسرا دننه ښکته شوی و. داسې ښکارېده چې کله چې بالخاش پورته کېده، يو چا د رسۍ بل سر کلک نيولی و.بالخاش ځان د رسۍ له لارې ښکته کړ، او کله يې چې پښه پر ځمکه کېښوده، تمه يې درلوده چې يو څوک ووينې، خو هېڅوک نه و. شاوخوا يې وکتل، هر ځای چوپه چوپتيا و، حجرې په تيارې کې پټې وې، يواځې د کاروانسرا د دروازې مخې ته د څراغ کمزورې رڼا ځلېده.

هغه خپل لاس پر توري کېښود او ورو د خپلې حجرې پر لور روان شو. کله چې خپل حجرې ته نږدې شو، ناڅاپه يو سړی د هغه د حجرې له مخې راښکاره شو، بالخاش په چټکۍ سره توره راويستله او وپوښتل: ته څوک يې؟
هغه سړي په ټيټ غږ وويل: زه اشنا يم، توري ته اړتيا نشته!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یې یو ګام وړاندې واخیست، او په ځانګړې لهجه یې وپوښتل: بالخاش، ته چېرې وې؟ حجرې کې نه وې، داسې ښکاري چې د کاروانسرا څخه بهر تللی وې؟

بالخاش ژر ځواب ورکړ: ته څوک یې، چې دا پوښتنه کوې؟
سرې- زه د کاروانسرای د کسانو څخه یم.
بالخاش- بهتره به وی چې لاړ شې خپل حجری ته.
سرې- خو ته باید ماته ځواب راکړې، چې چیرته وی؟
بالخاش- دا موضوع پر تا اړه نلری.
سرې پوزخند وواهه او ویې ویل: ته یوازې نه وې! هغه نجلۍ چې د نارینه وو جامې یې اغوستې وې، له تا سره وه. هغه څه شول؟
بالخاش- هیڅوک له ما سره نه و!

ناڅاپه، هغه سرې په بالخاش برید وکړ او د هغه ستونی یې ونیو! بالخاش هڅه وکړه چې د تورې په لاستي هغه لځان څخه لری کړی نو ځکه څو ضربې یې د هغه پر شا او اوږو ووهلې، خو دا بې ګټې وه. بالخاش چې ولیدل چې دا ګټه نه لري، نو توره یې وغورځوله او هڅه یې وکړه چې د هغه لاسونه له خپل ستوني لرې کړي. دواړه پر ځمکه وغورځېدل! هغه سړی ډېر زورور و، او بالخاش یې ناڅاپه ګیر کړی و.په همدې وخت کې، د یو بل سړي سیوری دوی ته نږدې شو. په لاس کې یې اوږد چاقو نیولې وه ...

هغه سړي لاس پورته کړ او په کلکه یې ښکته راووړ. د چاقو څوکه د ناڅرګند سړي په شا کې ځای پر ځای شوه. د هغه له ستوني نه یو لوړ آه ووت، او پر ځمکه راولوېد.بالخاش په وارخطایي سره له ځایه پاڅېد. د هغه سړي سیوری یې ولید چې په تېزۍ سره د تیښتې په حال کې و. غوښتل یې چې تعقیب یې کړي، خو ناڅاپه یې فکر ته راغی چې کېدای شي دا سړی د مغولو له ډلې وي. هملته ودرېد او نیمه مړه جسد ته یې وکتل. چاقو د سړي په شا کې ننوتی و، وینه شدیده روانه وه، د هغه غړ ورو ورو کمېده، او داسې ښکاره کېده چې ژوند یې ختمېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش د سرې پر جسد ټيټ شو، د چاقو لاستې يې ونيوله او ويې ايستله. او هلته څو شېبې ودرېد. کله چې پوه شو چې سرې وروستی سا ورکړې، نو چاقو يې پر ځمکه وغورځاوه او خپل کوټې ته لاړ.هغه په احتياط ګامونه پورته کول، د کوټې دروازه يې پرانستله، فکر يې وکړ چې ښايي څوک هلته پټ وي. توره يې له نيام را وايسته او ورو ورو دننه شو. د کوټې څراغ بل و، خو څوک هلته نه و. دروازه يې بنده کړه، څراغ يې مړ کړ، او د کوټې پر فرش يې خپلې جامې واچولې. دواړه لاسونه يې تر سر لاندې کېښودل، د نن شپې پېښې يې په ذهن کې راژوندۍ کړې، او له ځانه يې پوښتنه وکړه: مغولان ما له کومه پېژني؟ ولې دلته راغلي دي؟

بالخاش تقريباً باوري و چې دا کسان د مغولو د خان جاسوسان دي. هغه د چنګيز خان د جاسوسانو په اړه ډېر څه اورېدلي وو. شک يې نه درلود چې مغولان له پولو را اوښتي، تر څو د خپل خان لپاره معلومات راټول کړي. خو يو شی ورته د معما او راز په څېر و،"مغولانو ولې زما سره مرسته وکړه؟ دوی څه غواړي؟"

د دې دوه پوښتنو ځواب يې نه درلود، ګمان يې وکړو چې ښايي په اترار کې کومه پېښه شوې وي. فکر يې د محمد مهدي خواته لاړ، هغه کس چې پخوا د غاير خان د ساتونکي ډلي مشر و، او بالخاش اوس د هغه ځای ناستی و. فکر يې وکړو چې دا ټول به د هغه پلانونه وې ځکه ده د هغه ځای نيولي وو! بالخاش پريکړه وکړه چې د سهار له رڼا سره سم، د سوداګرو څخه اجازه واخلي او بېرته اترار ته لاړ شي، او غاير خان ته د احمد آق سو د قتل کيسه او د مغولو له جاسوسانو سره د مخامخ کېدل خبر ورسوي.

که څه هم چې مغولو د هغه ژوند ژغورلی و، خو بيا هم د هغوی پر وړاندې د کرکې احساس کاوه، او هغوی يې خپل دښمنان ګڼل.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهار رڼا شوي وه. د کوټې څخه بهر شور ماشور بالخاش له خوبه راویښ کړ. هغه په
.خپل بستر کې کیناسته، سترګې یې وموښلې، پاځېد او د کوټې دروازه یې پرانسته
د باندې خلکه د یو څه په شاوخوا راټول شوي وو. بالخاش له ځانه سره وویل:
"خامخا د هغه وژل شوي سړي جسد ته ګوري."

دی له کوټې راووت، د خلکو منځ ته ورننوت، او جسد ته نږدې شو. کله یې چې جسد
ولېد نو مقتول یې وپېژاند، پوه شو چې دا د کاروان یو غړی و. هر چا د سړي د مرګ
په اړه نظر ورکاوه.بالخاش، چې جسد ته یې کتل، وویل: دا زمونږ د کاروان کس چا
وژلی؟

دی پوهېده چې دا احمقانه پوښتنه ده، ځکه که قاتل کومه نښه پرېښې وای، نو اوس
به د وخت نیول شوی وای. خو بیا هم دا پوښتنه هسې له خولې ووتله.
شاته یو ځوان وویل: ښایي قاتل یو غل وي، چې د پیسو لپاره یې وژلی وی؟
بل وویل: کېدای شي په شخړه کې وژل شوی وي؟

بالخاش شاته وګرځېد او د جندی کوټې ته لاړ، هغه ناست و او تازه یې سبا ناری
کاوه، کله چې جندي بالخاش ولید، نو ویې ویل:
- د تېرې شپې مړ شوی کس زمونږ د کاروان یو غړی و.
بالخاش- زه هم راغلې و د همدی موضوع په اړه خبری وکړم.
جندی- داسې ښکاري چې حالات مخ پر خرابېدو دي؟
بالخاش- باید یو کار وکړو زه وېرېږم داسې پیښې زیاتې نشې!

جندی په پوسخند وویل: د کوم وخت څخه چې ته زمونږ د کاروان سره یوځای شوي
یې اوضاع مخ پر خراب کیدو ده، کاش غایر خان ته زمونږ د ساتنې لپاره نه وایې
راستولې.
بالخاش په خواشینۍ وویل: له هغه پیښې وروسته، چې په هرسیان کې وشوه، او
احمد آق سو ووژل شو، زه اوس دومره وېرېدلی یم، چې حتی د خپل سیوري څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم ډارېږم. داسې احساس کوم چې خطر لا هم زما شاوخوا دی؟
جندي- دا ټولې پېښې موږ ته هم یو راز ګرځېدلې دي.

بالخاش- که اجازه راکړئ، زه غواړم همدا اوس بېرته اترار ته ولاړ شم، او غایر خان ته د راپیښ شوی حالت خبر ورسوم. بی له شک هغه به دا حالت راکنټرول کړی.
جندي- خو ته باید زموږ سره مغولستان ته ولاړ شې!
بالخاش- زه ستاسو تر امر لاندې یم، امر ستاسو امر دی.
جندي- نو همدا اوس تحقیق وکړه، او معلومه کړه چې قاتل څوک دی؟

بالخاش- قاتل معلومول اسانه نه دي، داسې ښکاري چې مقتول تېره شپه له خپلې کوټې بهر وتلی و، او د یو نامعلوم دلیل له امله وژل شوی دی. باید معلومه کړو چې هغه ولې بهر وتلی و، او څه یې غوښتل؟ خو زه فکر نه کوم چې د هغه ملګري، چې ورسره په یوه کوټه کې وو، د دې قضیې په اړه څه ووایي؟
جندي لږ شېبه فکر وکړ، بیا یې وویل: باید همداسې وي. ته د اوس لپاره د مړي د ښخولو بندوبست وکړه او کاروان د حرکت لپاره چمتو کړه. موږ باید د قیچاق دښتې ته ورسېږو او د مغول خان حضور ته لاړ شو.

دوی باید اوږده لاره وهلې وای. بالخاش د حجرې څخه د وتلو لپاره روان شو. هماغه وخت خجندي او بالجیج راورسېدل. بالجیج وویل: حالت خراب شوی، زموږ یو کس وژل شوی دی.
جندي- باید ژر حرکت وکړو. قاتل یا دلته په کاروانسرای کې دی، یا تښتېدلی.
بیا یې بالخاش ته وویل: د مړي جېبونه وګوره، کېدای شي قاتل د پیسو لپاره وژلی وي؟
بالخاش- شونې ده.

هغه په بیړه له حجرې ووت. یوازې دی پوهېده چې هغه کس ولې وژل شوی وو؟ خو شرایط داسې ول چې نشوای کولای حقیقت څرګند کړي. هغه څو ځله اراده وکړه چې د تېرو شپو کیسه جندی ته وکړي، خو وېره یې درلوده چې سوداګر به پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکمن شي. هغه مغولي جاسوسان، بیا دا د کاروان سرای د غړی وژل کیدل، او هغه نامعلومه قاتل... دا ټول بالخاش ته حیرانونکي وو.

د قتل خبر ژر په کاروانسرای کې خپور شو، خلک په بېړه راغلل. د وژل شوي ملګري دوستان خفه وو، او د کاروانسرای خاوند خورا اندېښمن و. بالخاش پرېکړه وکړه چې ژر دا قضیه پای ته ورسوي. څو کسان یې راټول کړل، مړی یې له کاروانسرای بهر یووړ، او په شمالی خوا کې په یوه زوړ هدیره کې یې ښخ کړ.هغه ټول وخت په دې سوچ او په تمه وو ترڅو هغه مړ سپور او اس یې دیخوا راشي خو د هغه نه راتلل دې فکرمند کړه، خو بیا یې ځان سره فکر وکړه چې ښایي مغولي جاسوسانو آس او مړی له هغه ځایه وړی وي.

کله چې بالخاش بېرته سوداګرو کاروان ته ستون شو، جندي ترې وپوښتل: ایا زموږ شک صحیح و؟
بالخاش داسې وښوده لکه چې د هغه په پوښتني نه وې پوه شوی او ویې ویل: کوم شک؟
جندي- ایا تا د مړي جېبونه ونه کتل؟
بالخاش ځواب ورکړ: هو ما وکتل، خو پیسو ته یې لاس نه وو وهل شوی.
جندی- عجیب ده دا قتل یو راز وګرځیده!

بالخاش- زما په نظر دا سړی په یو شخړه او شخصي جنجال کی وژل شوی، نه د پیسو پر سرا!
جندی خپل سترګې بالخاش ته ونیول او وې وویل: زما وېره دا ده چې د قیچاق دښتې ته له رسېدو مخکې به زموږ له کاروان څخه یو کسان هم ژوندي پاتې نه وی، زه له مغولانو وېرېږم، هغوی هیڅکله زموږ دوستان نه شې کیدلی.
بالخاش- همداسی ده موږ باید ډېر احتیاط وکړو. زه به لاړ شم او کاروان به د حرکت لپاره تیار کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د دې خبرې سره سم له حجرې ووت...
لمر راختلی و، چې کاروان حرکت وکړ. سوداګر پر خپلو اوښانو سپاره شول، او ټولو د سفر لپاره چمتووالی نیولی و. بالخاش وروستی ځل کاروان وڅېړه، بیا یې د حرکت امر ورکړ.

***

دوه ورځې وروسته، د اترا د سوداګرو کاروان د قیچاق پراخې دښتې ته ورسیدل. دا د پسرلي پیل و، او چنګیز خان تازه د جنوبي سیمو د نیولو څخه فارغ شوی و. هغه د قیچاق دښتې هاخوا خپل د اوړي کمپ جوړ کړی و.

کله چې د سوداګرو کاروان د مغولو د خان سیمې ته داخل شو، هغوی ته تود هرکلی وویل شو. خو دا هرکلی نشوای کولای چې د سوداګرو وېره د چنګیز خان په مقابل کې له منځه یوسي. دوی د مغولو د جنګیالیو د ظلمونو کیسې اورېدلې وې، او پوهېدل چې له کوم ډول خلکو سره مخ دي. دوی د "شیطانانو" په خاوره کې روان وو، د دې لپاره چې له "لوی شیطان" چنګیز خان" سره وګوري.

کله چې چنګیز خان ته خبر ورکړل شو چې د خوارزم د سوداګرو کاروان د هغه لیدلو ته راځي، نو یې وخندل او خپلو کسانو ته یې وویل: هغوی زمونږ دوستان دي.
خو چنګیز خان د خپلو پراخو جاسوسي شبکو له لارې لا له وړاندې د کاروان له وضعیت څخه خبر و. هغه حتا دا معلومات لا درلود چې بالخاش ته په هرسبان او کاروانسرای کې څه پېښ شوي دی؟

د چنګیز خان د جاسوسۍ سیسټم، چې تر نن ورځې هم د تاریخ پوهانو پام ځان ته راړولي، هم د انفرادي جاسوسۍ او هم د ډلهییزې جاسوسۍ پر بنسټ ولاړ و. مغولو سوداګرو ته ورته کسان د کاروانونو په بڼه استول، څو د راتلونکو جګړو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

استخباراتي معلومات راټول کړي.دا جاسوسان ټاکلي سیمې ته تلل، نظامي او سیمه‌ییز معلومات یې راټولول، او بیا به یې هغه د چټکو قاصدانو له لارې چنګیز خان ته لېږل. چنګیز خان به د همدې معلوماتو پر بنسټ د خپلو راتلونکو یرغلونو پلان جوړاوه.

او بیا به یې د وینې ترږي پوځونه د دغو سیمو د نیولو لپاره حرکت ته چمتو کول، د چنګیز خان د استخباراتي سازمان دوه مشران، چې د دې کار لپاره ګومارل شوي وو او وروسته د قومندانۍ درجې ته ورسېدل او د نړۍ د جاسوسۍ په تاریخ کې مشهور شول «سوباتای» او «چپه نوان» وو. دا دواړه د چنګیز خان د استخباراتو د سیستم اصلي چلوونکي وو. په ټولو نظامي یرغلونو کې، چنګیز خان پر همدې دوه تکړه جاسوسانو تکیه کوله، چې تر ټولو کره معلومات به یې ورته برابرول. چنګیز خان، چې د داسې یو سازمان د جوړولو مفکوره یې خپله درلوده، تل بریالی و، پرته له دې چې د ماتې احساس وکړي.

حتی هغه څو مغولي سرې، چې د کاروانسرای مخې ته د «بالخاش» او «ایلي» سره مخامخ شول، د چنګیز خان جاسوسان وو. او دا چې ولې یې بالخاش د مرګ له منګولو وژغوره؟ راتلونکي پیښې به دې پوښتنې ته ځواب ورکړي.مازیګر و، چې د اترار سوداګرو کاروان د مغولو کمپ ته ورسېد. یو شمېر مغولي مشرانو یې تود هرکلی وکړ او هغه ځای یې ورکړ، چې د کاروان لپاره ځانګړی شوی و.

کله چې کاروان په خپل ځای کې مستقر شو، د چنګیز خان استازي، «محمود خوارزم»، د سوداګرو لیدو ته راغی. هغه د مغولو د خان له لوري دوی ته ښه راغلاست ووایه او د ملاقات لپاره یې یو وخت وټاکه، ترڅو سوداګر د چنګیز خان حضور ته ورشي.سوداګرو خپل مالونه محمود خوارزم ته وښودل. «احمد بالجیج» له محمود څخه وپوښتل:
- ته څه فکر کوې، خان به دا ډالۍ ومني؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمود سر وخوځاوه او په ارامۍ يې وويل:
- زه تاسو ته ډاډ درکوم، خان د خوارزم دوست دی او ستاسې له ډالېو به ډېر خوشحاله شي.

دوی تر ناوخته سره خبرې وکړې.

د هماغې شپې په نيمايي کې، محمود خوارزم د خوارزمي سوداګرو ليدو ته راغی او له دريو سوداګرو سره يو ځای، بالخاش يې هم د چنګيز خان حضور ته بوت. د هغوی د خبرو جزئيات زموږ له کيسې سره تړاو نه لري، زموږ اصلي خبره دا ده، چې وروسته پر بالخاش څه تېرېږي؟

د سوداګرو د دويمې شپې په ماښام، د چنګيز خان په کمپ کې د يو جشن و ميله جوړ شو. د مغولو خان، خپلو خوارزمي مېلمنو ته له هغه شرابه ورکړ، چې د ده په وطن کې جوړېده. شپه زياته تېره شوې وه، چې د مغولي خان له تللو سره مجلس پای ته ورسېد.

بالخاش، سره له دې چې د شرابو په څښلو کې يې زياتي نه و کړی خو بيا هم احساس يې کاوه چې پر خپلو پښو نشي ولاړېدی. هغه يوازې د خپل خېمې لوري ته روان شو، د جامو سره پر بستر پرېوت، او ژر ويده شو...

په همدې حال کې، دوه تنه چې ډېر په احتياط سره روان وو، د خېمو له منځه تېر شول او د بالخاش خېمې ته نژدې شول. يو تن سر دننه کړ، د څراغ رڼا ته يې بالخاش ته وکتل، او کله چې ډاډه شو، چې هغه بيده دی، خپل ملګري ته يې ورو وويل:

- ويده دی. زر شه...

دواړو دننه وخوت. يو تن بالخاش پر اوږه پورته کړ، بل د خېمې نه بهر ووت، شاوخوا يې وکتل، بيا يې لاس خېمې ته دننه کړ او خپل ملګري ته د تګ يې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل، هغوی ژر حرکت وکړ، خو هغه یې کوله چې احتیاط له لاسه ورنه کړي. له هغه لارې چې راغلي و، بېرته ووتل. څو شېبې وروسته، بالخاش، چې د شرابو له څښلو بېسده شوی و، په یوه لویه خیمه کې پر ځمکه کښېښودل شو.

هغه سړی، چې د هغه دوه نورو مشر و، یوه ملګري ته یې وویل: سوبوتای ته خبر ورکړئ.

هغه سړي په بیړه له خیمې ووت.

ډېر ژر، هغوی وکولی شول بالخاش بېرته له بېسدۍ راویښ کړي. بالخاش چې سترګې یې پرانیستلې او هغوی یې شاوخوا ولیدل، حرکت وکړ او پوښتنه یې وکړه: زه چیرته یم؟ دا ځای چېرته دی؟
یو تن ځواب ورکړ: آرام اوسه.

بالخاش وډار شو، راپورته شو او د بستر په منځ کې کښېناست. بالخاش هغوي ته او هغوي بالخاش ته ځیر وو، بالخاش احساس وکړ چې دا خیمه د ده نه ده. غوښتل یې پورته شي، خو هغه سړي وویل: ته ښه نه یې، بالخاش. استراحت وکړه.

بالخاش په غوصه وویل: تاسې څوک یئ؟
- موږ ستا ملګري یو.
- ولې مو زه دلته راوستم؟
- غوسه کېږه مه، صبر ولره.
بالخاش په قهر وویل: بد ذاتو! تاسې زما په شرابو کې د بېسدۍ دوا واچوله، چې ما دلته راوستلای شئ؟!

بالخاش هڅه وکړه چې له ځمکې پورته شي، خو ناڅاپه د یوه کس د تورې څوکه یې پر سینه ولګېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش په بیړه لاس خپل توره ته کړ، خو توره یې په غلاف کې نه وه. حیران شو، فکر یې وکړ چې هغوی غواړي دی ووژني. هغه هک حیران د هغه سړي لور ته کتل، چې د تورې څوکه یې د ده پر سینه ایښې وه...

مغولي جاسوس، چې ظاهراً سخت مزاجه ښکارېده وویل:موږ نه غواړو تا ووژنو!
بالخاش خپل د خولې لاړې تیرې کړې او ویې ویل: له ما څه غواړئ؟
- ژر به پوه شې!
بالخاش- تاسو لومړی میلمه پالنه کوی بیا د شالخوا په خنجر وهې؟
مغولې سرتیرې وخندل او ویې ویل: موږ ستا ملګري یو.

بالخاش، چې فکر یې ګډوډي وو نه پوهېده چې دوی ولې دی دلته راوړي؟ هغه د ځان سره وویل: دا دوه کسان ضرور باید د یو چا انتظار باسي؟ لږ شېبه وروسته یو لنډ قد لرونکی سړی خیمې ته داخل شو.هغه کس خپل توره د بالخاش له سینه لرې کړه.نوی راغلی کس بالخاش ته وکتل او ویې ویل: بخښنه غواړم چې ته مو دلته راوستی.

بالخاش د هغه سړي خبره ته ځیر شو.یو دم یې ذهن ته راغلل، دا سړی د هماغو دوو کسانو څخه و چې تېر ماښام یې د کاروانسرای مخې ته ورسره لیدلي و! سړی د بالخاش مخې ته پر ځمکه کښېناست، او خپل تنګې سترګې یې بالخاش ته ښخې کړې او ویې ویل: زه سوبوتای یم، هغه شپه د کاروانسرای مخې ته مناسب وخت نه وو چې خپل هویت درته ښکاره کړم.یقیناً یاد به دی وی هغه شپه یوه عجیب ماجرا وه، لومړی هغه وژل شوی سپور، بیا د کاروانسرای دننه، چې ستا یو خپل کس غوښتل تا ووژني!

بالخاش د هغه د خبرو په منځ کې ورننوت او ویې ویل: نو دا تاسې وئ چې له شا مو هغه کس وواژه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوبوتای چې د چنګیز خان د هغه دوه هوښیارترینو جاسوسانو د ډلې څخه یو وو، د بالخاش خبری ته یې معناداره خندا کړل او ویې ویل: کوم کس چې هغه سړی کاروانسرای کې وژلې وو همدلته دی.
بیا یې خپل و شاته یو کس ته اشاره وکړل او ویې ویل: دغه سرتیری ته له مرګه وژغورلې، وګوره په قد او قواره کمزوی او ډنګر دی خو خورا په ښه وخت یې ستا مرستې ته درودنګل او هغه سړی وواژه، که دې پر وخت نه وایې درغلې نو ته به اوس دلته نه وای.

بلخاش، چې په خپلو اعصابو څه ناڅه کنټرول ترلاسه کړی وه وویل: ته له ما څخه څه غواړې؟ ضرور باید یو دلیل وي چې تا زه له مرګه وژغورلم؟زه غواړم پوه شم چې دلیل یې څه دی؟
سوبوتای چی د یوه ارام سړي په څیر ښکاریده وویل: ته څنګه احساس کوی؟
بالخاش- زه غواړم چې تاسو ووایاست.
سوبوتای- دا ډېر ساده خبره ده، او په ورته وخت کې ډېر مهم.
بالخاش- څنګه خبره ده ووایه؟

سوبوتای- موږ په ډېر خبرو پوهېږو، حتی هغه کس پیژنو چې ستاسو د وژلو پلان یې درلود او لا یې هم ستا د وژلو څخه لاس نه دی اخیستی، ته شاید حیران شئ که موږ تا ته ووایو چې هغه کس چې ستا د وژلو امر یې کړې غایر خان وو! هغه غوښتل چې تا ووژني. هغه احمد اق سو ته دنده سپارلې وه چې په هر قیمت چې کېږي"بلخاش" یعنې تا له منځه یوسي، خو د هرسبان د شرابخانې د مالک لور، ایلي، په ناخاپي ډول د هغه پلان شنډ کړ.

د بلخاش خوله له حیرات خلاصه پاتی وه، هغه څو شیبې په همغه حیرت وهلې انداز سوبوتای ته وکتل، د څو شیبو چوپتیا وروسته سوبوتای وویل: لکه چې ته زما په خبرو باور نه لری؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش- دا ناشونې ده. زه د غایر خان د وفادارو خلکو څخه یم. هیڅ داسې دلیل نشته چې هغه وغواړي ما ووژني. ته دروغ وایې.

سوبوتای نرمه موسکا وکړه او په ارامه یې وویل: دا ډیره ساده ده، هر کله چې ته بیرته اترار ته ستون شې نو ته به پخپل پوه شئ چې د سوبوتای خبره رښتیا وه.

بالخاش احساس وکړ چې د دې خبرو له اورېدو وروسته یې ذهن ګډوډ شوی او فکر یې کار نه کوي. هغه "سوبوتای" ته وکتل او ویې ویل: کولی شم له تاسو دا هیله وکړم چې ما بېرته خپل خیمې ته ولېږي؟
سوبوتای وخندل او ویې ویل: البته، په خوشحالۍ! خو دا هم درته وایم چې زموږ خبرې لا پای ته نه دي رسېدلي.

بالخاش خپل لاس پر تندي کېښود او ویې ویل: یاد مې نه و چې تاسو زه د یو ځانګړي هدف لپاره دلته راوستی یم. زه غوارم تر دې چې خپلې خیمې ته لاړ شم، ستاسو هدف درک کړم.شاید تاسو غواړئ د "غایر خان" په اړه راته ووایئ، خو زه باور نه کوم. دا یوه کیسه ده چې تاسو جوړه کړې ده!
سوبوتای ورو خپل سر وخوځاوه او ویې ویل: ته همداسی فکر وکړه چې زه درته دروغ وایم، خو ژر به حقیقت درته روښانه شي.

بالخاش- همدا اوس راته ووایه، غایر خان ولې غوښتل چې ما د احمد آق سو په لاس ووژني؟
سوبوتای- ډېر تلوار لري ګران ملګریه!
بالخاش- خو زه باید پوهه شم.
سوبوتای- صبر ولره موږ دوه ځلې ته د حتمې مرګ څخه وژغورلې، باوه اوسیږه غایرخان هېڅ زیان تاته نشې در رسولې، زموږ ساتونکي ستا ساتنه کوي.
بالخاش په حیرانتیا وویل: نو ستاسو ساتونکي جاسوسان دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوبوتای په آرامه لهجه وویل: که داسې نه وای، ته به اوس ژوندی نه وې!
بالخاش ژر د موضوع اصلي مطلب درک کړ.هغه د سوبوتای سترګو ته وکتل او ویې
ویل: یقیناً تاسو زما څخه غواړئ چې تاسو ته جاسوسي وکړم!

د بالخاش په خبره سوباتای په پټ مسکا سره وویل: ستا دا زیرکتوب مې خوښېږي
خوشحاله یم چې زموږ هدف دې درک کړ. ما اټکل کاوه چې ته به ژر مطلب واخلې.
بالخاش- خو زما په اړه مو غلط فکر کړی، هسې خپل وخت ضایع کوی.
سوباتای په نرمه لهجه وویل: ارامه اوسیږه موږ لا ډېر وخت لرو.
بالخاش- ستاسو کوښښ بې فایدی دی، زه هېڅکله خپل وطن او خپل خلکو ته
خیانت نه کوم.
سوباتای- زه دا تمه نه لرم چې ته همدا نن شپه ماته مثبت ځواب راکړې، هرکله چې
خپله پوه شوې چې په څه خطرناکه حالت کې یې، بیا به زما وړاندیز ومنې.

بالخاش په غرور وویل: نه نن شپه، نه بله شپه، زه به هیڅکله تاسې ته هو ونه وایم!
تاسو غواړئ چې زه د مغولو لپاره جاسوسي وکړم، د خپل وطن نظامي او سیاسي
معلومات تاسو ته درکړم؟ دا هېڅکله نه شي کېدای! که غواړئ، همدا شپه مې ووژنئ،
زه به د مرګ هرکلی وکړم!

سوباتای چې ډېر هوښیار او زیرک انسان وو موسکی شو او ویې ویل: ته یو مغرور
او زړور ځوان یې، همدا وجه ده چې موږ ته انتخاب کړی یې، زه ډاډه یم چې هر کله
ته اترار ته ستون شې، نو زما وړاندیز به ومنې. هلته به زما سړي درسره تماس
ونیسي، زه همدا اوس تا نه مجبوره کوم چې ماته مثبت ځواب راکړې، هر کله چې ته
خپل پر رضا او خپل پر خوښه زما خواته راغلې هله به زه تا خپل په کسانو کې
وشمارم زه به ستا د مثبت ځواب په تمه اوسیږم، زه ډېر صبر کولی شم تاته بالخاش!
اوس ته کولی شې چې خپلې خیمې ته لاړ شې، خو یاد ساته، دا خبره له سوداګرو
سره مه شریکوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش- خو زه فکر کوم بهتره به وی چې زه هغوي ستاسو د دې میلمه پالني څخه خبر کړم.
سوباتاى خپل ظاهراً سخت دریغ غوره کړ او ویې ویل: نو هغه وخت به بیا زما سرتیری تا په بل ډول ونازوي، هیله لرم چې په دې اړه ضد ونه کړې.
بیا یې خپلو دوو ساتونکو ته مخ واړاوه او ویې ویل: تر خیمې یې یوسئ!
بالخاش د "سوباتاى" له سترګو نظر واړاوه او پرته له دې چې څه ووایي له خیمې ووت، د دوو مغولي ساتونکو سره خپل خیمې ته روان شو.

هغه شپه یې هیڅ خوب ونه شو کولاى، د چنګیز خان د لوی جاسوس، سوباتاى، خبرې یې په ذهن کې انکازې کولې. لڅان څخه یې بار، بار پوښتل: اخر په اترار کې څه پېښ شوي چې د چنګیز خان جاسوسان یې له هغه خبر دي؟ ولې غواړي چې زه د هغوي لپاره هلته جاسوسي وکړم؟ نه! زه به هیڅکله خپل وطن ته خیانت ونه کړم! دا ژیړ"سوباتاى" باید پوهه شي چې زما په اړه یې غلط ګمان کړې او زه هېڅکله خپل وطن ته خیانت نکوم، زه چې کله بېرته اترار ته لاړ شم نو دا خبره به غایر خان ته وکړم ترڅو پوه شي چې د مغولو جاسوسان حتی د ده په حکومت کې هم نفوذ کړی.

دا فکرونو د بالخاش ذهن بیحد ګډوډ کړې وو تر دې حد چې د هوا د روښانه کیدلو سره یې تازه سترګي پټې شول، خو خوب کې هم سوباتاى په کراره نه پریخود، د شونډې لاندی د خوب حال کېڅان سره ویل" نه... نه زه ستاسو جاسوسي نکوم، زه خپل وطن ته خیانت نکوم" ناڅاپه له خوب څخه پاسید خپل ځاې کښېناست او خپل شاوخوا ته په متو شو هېڅوک کوټه کې نه وه او دې یوازی وو، د غوسي څخه یې د ځان سره وویل: زه به دا دوزخي سړی خپل پر لاسونو وژنم.

هوا پوره روښانه شوې وه، د مغولو په کمپ کې شور ماشور پیل شوی و. خلک په تګ راتګ کې وه، بالخاش د سترې احساس کاوه، خو د ویده کېدو وخت نه و. د سوداګرو خیمې ته لاړ، چیرته چې ټول سوداګر راټول شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جندي چې د بالخاش سترې او اولوتې رنګ ولید، په حیرانتیا یې وپوښتل: څه دربانديږ شوي؟ داسې ښکاري لکه چې ټوله شپه دې په ویښه تېره کړې وی؟

بالجیج وویل: سترې ښکارې، د لارې سترېیا لا هم دربانديږ ده.
خجندي وویل: زما په نظر، بالخاش ډاکټر ته اړتیا لری؟
بالخاش وخندل او ویې ویل:نه، دوستانو، زه ښه یم، نه استراحت ته اړتیا لرم، نه هم ډاکټر ته. ما تیره شپه د کاروان د ساتنې لپاره په ویښه تیر کړه، تر سحره د خیمو په شاوخوا ګرځېدم.

سوداګرو یو بل ته وکتل.

جندي وویل: دا صحیح ده چې د کاروان ساتنه ستا مسؤلیت دی، خو موږ نه غواړو چې ته خپله روغتیا له لاسه ورکړې. دا د مغولو د خان کمپ دی، او موږ ټول دلته خوندي یو.

بالجیج او خجندي د خپل سوداګر ملګري خبره تأیید کړه.
بالخاش څو ځله فکر وکړ چې د تیرې شپې ماجرا او د "سوباتای" سره مخامخ کېدل خپلو ملګرو ته ووایي، خو بیا یې د سوباتای خبرې په یاد شوې:
"که دې چاته وویل، نو زما سرې به درسره بل چلند وکړي."

یو ډول ویره یې احساس کړه، خو هڅه یې وکړه چې پر ځان کنټرول وساتي. ځان ته یې قناعت ورکاوه چې دا موضوع سوداګرو ته هیڅ اړه نه لري، دا باید زه پخپله وپلټم.خو حقیقت دا و چې بالخاش پوهېده، که دا راز یې سوداګرو ته وویلو، نو دوی به دا خبره د مغولو خان ته ورسوي. بیا نو د خپل ژوند تضمین نشي کولی، ځکه چې د چنګیز خان جاسوسان ډېر خطرناک دي.بالخاش ته یاد شول چې د ده په شرابو کې یې د بې هوښۍ درمل اچولي وو، بیا یې له خپلې خیمې ایستلی و، یوې بلې خیمې ته یې بیولی و او هلته یې ورته ګواښونه کړي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش له ځانه سره ووېل: زما وژل هغوی ته ډېر اسانه دي. زه باید احتیاط له لاسه ور نه کړم. باید اترار ته لاړ شم، هلته زما وطن دی، هلته زه کولی شم د هغوی پر ضد جګړه وکړم. خو په حقیقت کې، هغه وېرېدلی و.
بالجیج- بالخاش! په څه فکر کوې؟ خپل ناری وخوره!
خجندی چې لا هم موسکی و، ووېل: زما په نظر، بالخاش باید ټوله ورځ استراحت وکړي، ځکه چې نن شپه د کاروان خیمو ته بیا د ساتني لپاره ځي؟

بالخاش، له کمزورې موسکا سره، ووېل: همداسې ده، دوستانو، خو زه استراحت ته اړتیا نه لرم.

څو شېبې وروسته، محمود خوارزمی د هغوی لیدو ته راغی او خبر یې ورکړ چې د مغولو خان هغوی ته بلنه ورکړې ترڅو د سرتېرو نمایش وګوري.
بالجیج ووېل: باید جالبه ننداره وي!
بالخاش، بې له دې چې پوه شي څه وایي، په تنده لهجه ووېل: د مغولو خان غواړي خپل پوځیان مورږ ته وښيي او مورږ و ډار کړي؟
محمود ورته وکتل او ویې ویل: نه داسې نه ده.
بالخاش- خو زه ډاډمن یم، د چنګیز خان هدف له دې پرته بل څه نه شي کېدای.

محمود چوپ شو جندی بالخاش ته ووېل: ته استراحت ته اړتیا لرې.

بالخاش، چې ډېر خفه و، له خیمې ووت، بېرته خپلې خیمې ته لاړ. د تېرې شپې پېښه یې ذهن ګډوډ کړی و.هغه هم غوښتل چوپ پاتې شي، او هم دا وسوسه ورسره وه چې باید چوپ پاتې نه شي.خپل تصمیم یې نه شو نیولی، یوازینۍ هیله یې دا وه چې اترار ته ستون شي، او هلته غایرخان ته خدمت وکړي، او هغه ته هر څه بیان کړي چې ورسره شوي و.

هغه ورځ بالخاش د مغول خان د سرتیرو په جشن کې ګډون ونه کړ. سترېیا یې پلمه کړه او له خپلې خیمې بهر ونه ووت. حتې تر دی چې د غرمې ډوډۍ راغله، او دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

زره نا زره د سوداګرو خواته ورغی. داسې ښکارېده چې هغه لږ استراحت ورته ګټه کړې وه نور يې د ستړيا احساس نه کوی.سوداګرو د نن ورځې د جشن په اړه څه ونه ويل، او بالخاش هم پوښتنه ونه کړه. کله چې غوښتل بېرته خپلې خيمې ته لاړ شي، جندی ورته وويل: زه ډاډه يم چې تاته کوم پيښه واقع شوي، ځکه ډېر نارامه ښکارې.

بالخاش چې ولاړ و، وويل:يوازينی شی چې زما ذهن بوخت کړی، هغه د هرسبان کيسه ده او بس.

بيا بې له ځنډه د سوداګرو له خيمې ووت، بې هدفه يې د کاروان د خيمو ترمنځ يو څه واټن وواهه، بيا بېرته خپلې خيمې ته لاړ، او په هماغو ګډوډو فکرونو کې ډوب، ويده شوو.

***

شپه نيمايي ته رسېدلې وه، د مغولو اردو خاموشه وه، هېچا جرأت نشو کولاې چې له خپلې خيمې ووځي.بالخاش په درانه خوب ويده و چې ناڅاپه يې احساس کړ چې څوک يې د راويښ کولو کوښښ کوی. سترګې يې چې خلاصې کړې، هماغه دوه مغولي جاسوسان يې وليدل. ژر راپاڅېد، په خپل بستر کې کښېناست او په تېزۍ يې وپوښتل: تاسو دلته څه کوئ؟
.له هغوی څخه يو يې وويل: سوباتای غواړي له تا سره خبرې وکړي
بالخاش په قهر وويل: سوباتای... سوباتای... هغه له ما څه غواړي؟

هغه سړي، چې دوه سترګې پر بالخاش ګنډلې وه او ورته کتل يې وويل: هغه درته منتظر دی.

بالخاش په ناخوښۍ، له ځايه پاڅېد، خپل جامې يې واغوستلې. او همدا چې غوښتل يې خپل توره واخلي، هغه سړي وويل: توره ته اړتيا نشته، دا يو دوستانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملاقات دی.

بالخاش له ځانه سره تکرار کړ: «دوستانه ملاقات دی...

او بیا له هغوی سره له خیمې بهر ووت.

یو مامور مخ ته روان و، بل د بالخاش شاته. دوی د سوداګرو د کاروان له خیمو تېر شول. د اردو بهر، درې اسونه د دوی انتظار ته ولاړ وو.

بالخاش له مغولو وپوښتل: سوباتای چیرته غواړي زما سره ووینې؟

له هغوی یوه وویل: د لیدو ځای ډېر لیرې نه دی، سپور شه!

بالخاش د اسونو له ډلې څخه په یو اس باندې سپور شو. هغوی هم بې له زینه د اسونو پر شا وختل او د شپې په تیاره کې هغه ځای ته روان شول چې سوباتای هلته منتظر و.بالخاش وارخطا شو، فکر یې وکړ چې دوی د ده د وژلو پلان جوړ کړی. ځکه که چیرې دا یوازې یو ملاقات وای، نو باید د مغولو د خان په کمپ کې ترسره شوی وای.

هغه فکر وکړ چې ناڅاپه به له هغوی ځان جدا کړي او په یوه بله خوا به وتښتي، بیا به بیرته کمپ ته ستون شي. خو هغه دواړو کسانو دی کلک څاره او تېښته ناممکنه وه، حتې د شپې په تیاره کې هم.

بالخاش له ځانه سره وویل:باید وګورم چې دا پیژندګلوي چې د سوباتای سره مې پیدا کړې، کومې خونړۍ کیسې ته به ما ورسوی؟ هغه باید پوه شي چې زه د مرګ څه ډاریدونکې سړی نه یم.

هغه ورو ورو خپل ځان آرام کړ، احساس یې وکړ چې کوم نوی کس ورڅخه جوړ شوی په مختلفو نظریاتو، کله چې له کمپ څخه یو څه لیرې شول، یوې کوچنۍ کمپ ته ورسېدل. د یوه غټ خیمې مخې ته، چې رڼا یې دننه وه، له اسونو ښکته شول. له هغو دوو سړو څخه یو دننه ولاړ، لږ وروسته بېرته راووته او بالخاش ته یې وویل: ننوتلای شې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش چې خیمې ته داخل شو، سوباتای یې ولید چې د خیمې په سر کې ناست و. هلته بل هېڅوک نه و.
سوباتای- راشه، کینه بالخاش!
بالخاش- له ما سره کوم کار لرئ؟
سوباتای- وینم چې ډېر نارامه او خفه ښکارې!
بالخاش- نه، پرون شپه زما په نظر زموږ خبرې خلاصې شوې؟

سوباتای له ځایه پاڅېد او په آرام او بې پروا انداز یې بالخاش ته وکتل او ویې ویل: ما ته دلته راوغوښتلې ترڅو خپل د اترار د یو پخواني ملګری سره وګورې چې زموږ سره دی! ظاهراً یو آرام او ښه دوست ښکاري، خو په حقیقت کې، هغه غوښتل چې تا وژني.

بالخاش، چې سترګې یې سوباتای ته نیولې وې، په حیرانتیا وپوښتل: دا سړی څوک دی؟!

سوباتای ځواب ورکړ:همدلته، په یوه خیمه کې ستا انتظار باسي، چې ویېویني نو و به یې پیژنی.

بالخاش شکمن شو او ویې ویل: دا هم ستا د چلونو څخه یو چل دی.
سوباتای موسکی شو او ویې ویل:نه زما ملګری، دا هیڅ چل نه دی. دا یوه ترخه حقیقت دی چې کېدای شي ته باور پرې ونه کړې.

بالخاش وپوښتل: د دې سړي نوم څه دی؟
سوباتای- باید خپله یې ووینې، راځه له ما سره!

دواړه له خیمې ووتل.

سوباتای په دوستانه انداز د بالخاش لاس ونیوه او لږ وړاندې چې لاړل نو یوې بلې خیمې ته ورسېدل. سوباتای دننه شو او ویې ویل: هغه سړی دلته دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش چې خیمې ته داخل شو، ناڅاپه یې "سایان"، د هرسبان د شراب‌خانې مالک، ولید چې شکنجه کېده. هغه حیران شو او په هماغه ځای کې ودرېد. داسې احساس یې کاوه لکه چې خوبویني. سترګې یې پټې کړې او بیا یې پرانستلې، خو سایان یې بیا هم ولید، چې د بدن بیلابیلو برخو باندی په اور سوځېدلی او داغ شوی و.

سوباتای وپوښتل: و دې پیژنده؟
بالخاش ورو سر وخوځاوه او ویې ویل: هو، خو هیڅ نه پوهېږم! دا دلته څه کوي؟ ولې مو شکنجه کړی؟ دا خو هغه سړی دی چې زه یې له مرګه وژغورلم!
سوباتای وخندل او ویې ویل: نه، هغه تا نه یې ژغورلی! ایلي ته وژغورلې، مګر دغه سړی؟ ده موږ ته خیانت کړی دی!
بالخاش حیران شو: خیانت؟

بالخاش د سایان په لېدو او د سوباتای په خبرو حیران وو او نه پوهیدو چې څه روان دی؟
سوباتای وویل: راشه، دلته نږدی راشه له خپله یې و پوښته!

بالخاش څو ګامه وړاندې لاړ او د سایان مخې ته ودرېد. سایان، چې ساه یې بنده بنده وه، مستقیم بالخاش ته وکتل، خو داسې ښکاریده لکه د زیات درد څخه ګنګس او بې هوښې حال کې وو او څوک یې نشو پېژندلې!
بالخاش د سوباتای خواته وکتل او ویې ویل: یقیناً چې ایلي هم په کومه بله خیمه کې شکنجه کېږي؟

سوباتای وویل:ایلي، د دې سړي لور نه ده. هغه اوس په هِرَسبان کې ده، موږ له هغې سره کار نه لرو. بلکې ورځخه منندوي هم یو! ځکه چې ته یې وژغورلې.

بالخاش پوه شو چې ایلي د مغولي خانانو جاسوسه ده، په ناباوره لهجه یې وپوښتل: نو ایلي هم ستاسو له جاسوسانو څخه ده؟
سوباتای وخندل او په شیطنت یې وویل: نه، هغه یوازې له تا سره مینه درلوده، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه يې ته وژغورلې. مگر سايان؟ هغه زموږ جاسوس و. هغه سړی چې تا يې مړی پر آس ليد، د سايان له لارې درپسې راغلی و چې تا ووژني. خو زموږ سرتېرو هغه پر وخت وواژه، او سايان يې دلته راوست. هغه له ډېرې مودې راهيسې د غاير خان لپاره جاسوسي کوله.

په دې وخت کې، سايان په خفه غږ سره ووېل: بالخاش، د دې شيطان سوباتای غولونکې خبرې مه منه!
سوباتای يوه سړي ته چې د سايان څنګ ته ولاړ و، ووېل: دا سړی چوپ کړئ!
سړي يوه رسۍ راښکته کړه او ناڅاپه، د سايان تر پښو لاندې يوه دروازه خلاصه شوه، او هغه په ژور څاه کې ولوېد. د هغه د ويرې نارې پورته شوې، خو ژر چوپې شوې. دروازه بنده شوه، او چوپتيا خوره شوه.

بالخاش، چې لاهم حيران و، څو شېبې يې څاه ته کتل. نه پوهېده څه ووايي.

سوباتای ووېل:اوس کولای شو بېرته زما خيمې ته لاړ شو.

بالخاش ووېل: ستاسې چلند له سايان سره ډېر ظالمانه و!

سوباتای وخندل او ويې ويل: اميد لرم هغه ورځ رانشي چې ستا سره هم داسي چلند وکړو.
بالخاش مخ د هغه خواته وگرځاوه او ويې ويل: زما سره؟
سوباتای- هو، له تا سره! مه هېروه چې ما تا ته يوه وړانديز درلود!

بالخاش-او ما هم درته ووېل چې زه دا وړانديز نه منم!
سوباتای موسکی شو او ويې ويل: زه ډاډه يم چې ډېر ژر به زموږ خوا ته راشې!
بالخاش- تاسو څنگه دومره ډاډه ياست؟"
سوباتای- دا ساده خبره ده خو تا ځانته پيچلې! هر کله چې ته اترار ته ستون شې نو هر څه به روښانه روښانه شي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش په قهر وویل: تاسو غوارئ ما وګواښه وي؟
سوباتای- نه، ګرانـــــه ملګـــري، دا هیڅ ګواښ نه دی!

بالخاش- نو بیا څه شی دی؟
سوباتای موسکی شو او ویې ویل: یوازې دومره درته وایم چې د تا د وژلو پلان لا هم ختم شوی نه دی!
بالخاش- زه ستاسو په خبرو هیڅ نه پوهېږم!
سوباتای- راځه، دا ځای پرېږدو. ته ستړی یې، استراحت ته اړتیا لرې!
بالخاش- نه، زه ستړی نه یم، زه غواړم نور هم واورم!

سوباتای د هغه لاس ونیو، له خیمې یې وایست، او ویې ویل: ما پرون شپه هر څه درته وویل، فکر نه کوم چې نور وضاحت ته اړتیا وي؟
دواړه د سوباتای خیمې ته لاړل.

بالخاش وپوښتل: تاسو زه دلته یوازې د دې لپاره راوستم ترڅو سایان را ته وښیې؟
سوباتای په مسکا وویل- همدا وو! او بل دا چې، دا زموږ وروستۍ لیدنه ده. څو ورځې وروسته، ستاسې کاروان اترار ته روانېږي. د چنګیز خان په امر، یو شمېر کسان به درسره وي، چې ستا ژوند خوندي وساتي. باډه اوسه، هغوی به اجازه ورنه کړي چې ته ووژل شې، البته ما ستاسو د میړانې او زړورتوب زیات کیسی اوریدلې باډمن یم زموږ د مرستي بغیر هم خپل د ځان ساتنه کولې شې!

بالخاش: دې بل خبری ته هم باډ وساتي، چې زه هېڅکله ستاسو جاسوسي نکوم او زما د بېرته راستنېدو انتظار بې ګټې دی.
سوباتای موسکی شو او ویې ویل: زه فکر نه کوم. اوس کولای شئ بېرته خپل خېمې ته لاړ شئ، زه مننه کوم چې تا د تېرې شپې کیسه خپلو سوداګرو ملګرو ته ونه‌ویل. تاسو وښوده چې یو باوري سړی یئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش، پرته له دې چې څه ووايي، د سوباتای له خېمې ووت. هغه دوه ساتونکي چې د ده لپاره ولاړ وو، ورسره يوځای شول، پر اس سپور شو او د کاروان لوري ته وخوځېد.کله چې بالخاش خپل خېمې ته داخل شو، سره له دې چې ډېر خپه او اندېښمن و، بيا هم يو څه ارام احسای يې وکړو، ځکه که د کاروان کوم غړی هغه په داسې کالو کې ليدلی وای، شک به يې پرې کړی وای او دا به يې ورته يوه ناوړه پېښه کړې وای. دا امکان هم و چې سوداګر يې ترې پوښتنې کړې وای.

هغه احساس وکړ چې بل کس شوی، له پخواني بالخاش سره يې ډېر توپير پيدا کړی وو. هغه پېښې چې ورسره شوې وې، پرې ژور اغېز کړی و، په ځانګړې توګه له سوباتای سره ليدنه، چې د چنګېز خان له سترو جاسوسانو څخه و او هغه ته يې د همکارۍ بلنه ورکړې وه. خو اوس به څه کېږي؟دا هغه پوښتنه وه چې بالخاش له ځانه کوله، خو هيڅ ځواب يې نه‌درلود.کله چې يې د سايان کمزورې بڼه د سترګو شاته تصور کړه، چې بدن يې سوځول شوی و، له وېرې وشورېده. بيا يې هغه لنډ او دردناک فرياد ياد شو، چې د سوباتای يو ساتونکي د شراب‌خانې خاوند د تل لپاره چوپ کړ.

ورپسې د سوباتای خبرې يې راپه زړه شوې: "سايان مورږ ته خيانت وکړ. هغه د ايلې پلار نه دي هغه غوښتل تا ووژني، خو مورږ پر وخت وپېژانده. بالخاش د خپل خېمې په يوه ګوټ کې ناست و، سر يې د لاسونو ترمنځ نيولی و، او د هغو پېښو په اړه يې فکر کاوه چې ورسره شوې وې. تر ټولو ډېر يې د سايان او ايلې په اړه سوچ کاوه. ايا دا ممکنه وه چې سايان د چنګېز خان جاسوس وي؟

هغه ورو ورو سر وخوځاوه او په زوره يې وويل: "زه سرګردان يم!"

په هماغه شپه، بالخاش پرېکړه وکړه، چې بايد ژر تر ژره له کاروان څخه بېل شي او ځان اترار ته ورسوي، تر څو غاير خان له دې پېښو خبر کړي. ځکه وضعه يې دومره پېچلې او خطرناکه شوې وه، چې نور يې زغملای نه‌شو. هغه بايد اترار ته تللی وای او د دې پېښو رېښې يې موندلې وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سوباتای نوم یې په ذهن کې ځای نیولی و. هغه له دې نومه وېره لرله. سوباتای، د چنګېز خان لوی جاسوس!

***

کله چې د اترار سوداګرو کاروان بېرته خپل هېواد ته د ستنېدو نیت درلود، چنګېز خان یو ځل بیا د هغوی سره لیدنه وکړل،هغه د سلطان محمد خوارزمشاه سره د دوستۍ اړیکو ته اشاره وکړه او ورته یې پیغام واستاوه، او د خوارزم پادشاه محمد ته یې خپل زوی خطاب وکړو! همداراز، څو سوداګر یې د کاروان سره یو ځای کړل، ترڅو سلطان ته ډالۍ ورسوي.

سپېده‌دم د تیارو له منځه راوتلې وه، د ورځې رڼا ورو ورو د شپې په تیارو غلبه کوله، چې د سوداګرو کاروان په خوځښت شوو، بالخاش چې د کاروان ساتنه یې پر غاړه وه، ټولې چارې یې تنظیم کړې. کله چې لمر راپورته شو، ټول د سفر لپاره چمتو شول. درې اتراري سوداګر پر خپلو اسونو سپاره شول، د چنګېز خان د حسن نیت او دوستي پیغام رسونکي استازي یې شاته وو، او بیا د حرکت امر وشو.مغولان، چې تازه له خوبه راپاڅېدلي وو، د اسورو د حرکت له غږ سره له خپلو خېمو راووتل او لاسونه یې وښکول.

بالخاش وروستی کس و، چې د کاروان شاته روان و. هغه په دې تمه و، چې"سوباتای به د لارې په اوږدو کې ووینې." خو د چنګېز خان له ستر جاسوس څخه هېڅ نښه نه وه.کله چې کاروان د مغولو له اډې ووته، بالخاش خپل اس د کاروان مخته کړ، او په پټه یې د چنګېز خان استازو ته وکتل. د دوی مرموزو څېرو یې شک زیات کړ، او ګمان یې ووهه چې دا باید د مغولو جاسوسان وي، چې د سوداګرو په بڼه د خوارزم له خاورو څخه معلومات راټولوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالجيج، چې له سهاره د بالخاش خپگان ته حيران و، خپل اس ورنږدې کړ او ورو يې وپوښتل:ايا بله کومه ستونزه درته پېښه شوې، چې دومره خفه ښکارې؟
بالخاش، چې لا هم مخ ته کتل، وويل: زه په دوي شکمن يم.
بالجيج حيران شو: ستا مطلب مغولان دي؟
بالخاش وويل: هو! زما په اند دا سوداگر نه‌دي، بلکه د چنگېز خان جاسوسان دي.
بالجيج ورته وکتل او ويې ويل: ته له کومه پوه شوې؟

بالخاش- څه ناڅه مې د دوی په اړه يو څه اورېدلي دي.
بالجيج وپوښتل: ايا په مغولي کمپ کې دې څه واورېدل؟
بالخاش - نه، قربان! خو که تاسې هغه معلومات واورئ، چې زه يې د چنگېز خان د جاسوسانو په اړه لرم، نو دا پوښتنه به مو نه‌وې کړې.
بالجيج، چې خبره يې جدي نيولې وه، وويل:نو بايد، همدا چې اترار ته ورسېدو، غاير خان ته خبر ورکړو!

بالخاش- هو، خو لومړی بايد ډاډ ترلاسه کړو.
بالجيج- مگر ته خپل په اطلاعاتو ډاډه نه يې؟
بالخاش- نه، دومره نه چې غاير خان ته ډاډ ورکړو. زه يوازې اټکل کوم. له اوس څخه بايد ورته پام وکړو.
بالجيج- دا ستا مسووليت دی.
بالخاس- د دې موضوع په اړه د اوس لپاره د چا سره خبرې مه کوه.
بالجيج- سمده، خو هر خبر چې دې تر لاسه کړ، ما هم پرې خبر کړه.
بالخاش- ضرور.

بالخاش خپل آس ځنگ ته کړ، هلته ودرېد، او کله چې کاروان له ده تېر شو، د وروستي سرې تر تېرېدو وروسته ورپسې روان شو.نيمه ورځ وه چې لومړني "يام" ته ورسېدل.(چنگيز خان د خپل مملکت په اوږدو کې د مسافرو لپاره د استراحت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځایونه جوړ کړي وو، چې هغوی ته یې "یام" ویل کېده.)کاروان هلته تم شو، لږ استراحت یې وکړ، او بیا یې د قبچاق دښتې په لور حرکت وکړ.

شپه تېره وه چې دوهم "یام" ته ورسېدل او هلته یې استراحت وکړ. له دې ځایه د قبچاق دښتې ته یوازې دوه ورځې لار پاتې وه. بالخاش پرېکړه وکړه، کله چې د خوارزم خاورې ته ورسېږي، له کاروانه بېل شي.ده احساس کاوه چې په اترار کې کومه پېښه شوې، خو دا حس ورته یو راز ښکاره کېده چې نشوای یې حل کولی. یوازینی څوک چې د بالخاش د اندېښنې څخه خبر و، بالجیج و. هغه یوازې پوهېده چې بالخاش نور د پخوا په څېر ارام نه دی.

بالخاش د لارې په اوږدو کې او په هغو ځایونو کې چې کاروان استراحت کاوه، د مغول خان د سوداګرو څارنه کوله،دی ورته شکمن و او ټول یې د سوباتای جاسوسان ګڼل.په هماغه شپه، کاروان حرکت وکړ، او بالخاش په یو نظر پوه شو چې یو تن د ړ چنګیز خان د سوداګرو له ډلې ورک دی.هغه اټکل وکړ چې دا کس حتماً د شپې له کاروانه بېل شوی او د چنګیز خان قرارګاه ته تللی، څو خپل معلومات سوباتای ته ورسوي!

بالخاش هیڅ خبره ونه کړه. کله چې کاروان له "یام" څخه ووت، یو سړی چې د چنګیز خان استازی و، ځان ورته ورنږدې کړ او ورو یې ورته وویل: فکر کوم که غلی پاتې شې، ښه به وي؟
بالخاش وخندل او ویې ویل: ستا په مطلب نه پوهېږم؟
سړي وویل: زما مطلب زموږ د خپلو کسانو څخه دی، چې اوس زموږ په منځ کې نشته.
بالخاش- زه هېڅ نه پوهېږم!
سړي موسکی شو او وویل: خیال وکړه چې لا هم نه پوهېږې.

بالخاش پوه شو چې نور شک ته اړتیا نشته. د چنګیزخان ټول سوداګر د سوباتای جاسوسان وو، او همدا راز، دوی د ده څارنه هم کوله.ده په زړۀ کې وویل: ډېر ژر به

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی ته معلومه شي چې له چا سره مخامخ دي.دربېیم "یام" ته چې ورسېدل، کاروان تم شو، خلک استراحت ته کېناستل.

بالخاش د اتراري سوداګرو سره ډوډۍ وخوړه، او بیا له دوی جلا شو، چې خپل خونې ته لاړ شي.خو کله یې چې د خونې دروازه خلاصه کړه، ناڅاپه د هماغه مغولي جاسوس سره مخ شو، چې د لومړي "یام" څخه نادرکه شوی و.
بالخاش وپوښتل: ته دلته څه کوې؟
هغه کس، داسی حال کې چې نري موسکا یې په شونډو خوره وه وویل: راغلې وم ترڅو د سوباتای پیغام تاته در ورسه وم! هغه تل په هر حالت کې ستا ملاتړ کوی.
بالخاش توند ځواب ورکړ: زه د سوباتای ملاتړ ته اړتیا نه لرم! ژر له دې ځایه ووځه، زه نه غواړم د هغه نوم واورم!

مغولي جاسوس وویل: ارام شه، بالخاش... موږ ستا دوستان یو.
بالخاش- خو زه تاسو ته دښمنان وایم.
سړي وخندل او وویل: موږ خو ځل ستا ژوند له مرګ ژغورلی!
بالخاش- ای کاشکې چې نه مو وای ژغورلی، چې اوس مجبور نه وم د سوباتای پیغامونه واورم!
مغولي جاسوس نږدې شو او ویې ویل: کله چې اترار ته ورسېږې، بیا به پوه شې چې چا ستا د وژلو نقشه چا جوړه کړې وه!
بالخاش- هر څوک چې وي، زه به پخپله د هغه چاره وکړم.

سړي په معنا داره خندا سره وویل: ستا لپاره ویل یې اسانه دي.
او پرته له دې چې د بالخاش ځواب ته انتظار وکړي، مخ یې واړاوه او پداسې حال کې چې لا هم د سترګو نظر یې بالخاش ته وو له کوټې ووت، بالخاش دروازه وتړله، او په کرکه یې وویل: سوباتای... سوباتای... زه باید د دې دوزخي سړي نوم هر چیرې واورم، یوه ورځ نه یوع ورځ به یې په خپلو لاسونو ووژنم ترڅو نور هیڅکله د هغه پیغامونه ترلاسه نه کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کوټې منځ کې کښېناست، خپل سر يې په ديوال تکيه کړو او خپل پښې وغځولې. هغه له ځانه سره فکر وکړ، چې په اترار کې زما پر خلاف داسي څه پېښ شوې دی چې سوباتاى يې په اره پوهيږي؟ زه بايد په هره بيه د کاروان په پرتله ګړندی هلته ځان ورسره وم، محمد مهدي خامخا زما د له منځه وړلو لپاره کوم پلان جوړ کړی، له هغه پرته بل څوک زما دښمن نشته...

هغه پريکړه وکړه چې همغه شپه لاړ شي پرته له دې چې څوک خبر شي.له هغه ځايه به يوازې ځان د هرسبان په لور حرکت وکړي. خو د سوباتا د جاسوسانو شتون هغه له دې پريکړې څخه منع کړ. هغه ډاډه و چې دوی پرې څارنه کوي. هغه بل پلان جوړ کړ او د پريشانه فکرونو سره ويده شو...

***

کاروان دوه ورځې وروسته د قيچاق له دښتې څخه تېر شو. هرسبان ته ډېر واټن نه و پاتي ځکه هرسبان د مغولو کوم د سيمو پولې ته نږدې و. بالخاش دومره خپه و چې نه پوهيده چې څوم "يام" ته رسيدلی! او څومره لاپاتی؟ مګر هغه ډاډه و چې بل تمځای به هغه وروستی"يام" وي چې کاروان به ورته ورسيږي. د هغه وروسته به د خوارزم مملکت پيل کيږي.

هوا لږه تياره شوې وه چې هغوی وروستي منزل ته ورسيدل. بالخاش پرېکړه وکړه چې کله ټول ويده شي، نو له هغه ځايه به د هرسبان پر لور حرکت وکړي. شپه نيمايي ته رسېدلې وه چې هغه له خپلې خونې ووت. مخکې له مخکې يې خپل اس د "يام" د دروازی څنګ ته نژدې تړلی و، ترڅو د وتلو پر مهال له کوم ستونزی سره مخ نشي.

که څه هم چې هوا تياره وه، هغه په احتياط سره شاوخوا وکتل او بيا ورو، ورو د تلو په لور وخوځېد. همدا چې خپل اس ته نژدې شو، د يو سړي خفه غږ چې ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشنا ښکارېده، د ځای سکون يې مات کړ او نوم يې واخيست.

بالخاش په غوسی سره د ژبی لاندی ځان سره وويل:دا بالجيج بالاخره ما په يو ستونزه کې اچوي!
هغه ودرېد. بالجيج ورته رانږدې شو او په حی ت يې وپوښتل: چېرته روان يې؟
بالخاش- لکه چې ته تل زما خارنه کوې؟
بالجيج وخندل:هو، همداسې ده، زما دوست. ته بايد پر ما باور ولرې.
بالخاش- ته حتماً بايد پوه شې چې زه چېرته ځم؟

بالجيج- هو، زه بايد پوه شم.
بالخاش- زه اترار ته ځم، ترڅو د کاروان څخهه مخکې هلته ورسېږم.
بالجيج- ستا دا بې احتياطي به تا ته ضرر ورسوي!
بالخاش- زه به هڅه وکړم چې دا جبران کړم، خو ته هم ژمنه وکړه چې دا به چاته نه وايې.

بالجيج- زه پوهېږم چې ته له ډېر وخت راهيسې اندېښمن يې، خو لږ فکر وکړه او بيا پريکړه وکړه.
بالخاش- زه فکر کولو ته اړتيا نه لرم.
بالجيج- زما په نظر ته غلطي کوې.
بالخاش- مهمه نه ده.
بالجيج- ستا دا دومره تلوار حتماً يو دليل لرى؟

بالخاش- کېدای شي.
بالجيج- ستا په نظر زه بايد پوه نه شم؟
بالخاش لاس د هغه پر اوږه کېښود او په نرم غږ يې وويل: زه بخښنه غوارم، زما ملګري اوس نه کېږی خو کله چې موږ په اترار کې يو بل سره ووينو، بيا به درته ټول حال ووايم. يوازې هڅه وکړه که چا له تا وپوښتل، زه چيرته يم؟ نو هېڅ مه وايه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالجیج- سمده ځان ته پام کوه.
بالخاش- په هیله د بیا لیدو.

بالخاش د "یام" دروازه خلاصه کړه، خپل اس یې راویست او څو قدمه وروسته، پر زین کیناست او د "هر سبان" پر لور روان شو...

یو څه مزل یې کړی و چې ناڅاپه یو سوار یې مخه ونیوله او په ګواښونکي غږ یې وویل: بیرته وګرځه، بالخاش!

بالخاش د اس واګې ونیول سخت یې ودرولو او پوښتنه یې وکړه: ته څوک یې؟
هغه سړي په هماغه جدي غږ وویل: ما ته امر شوی چې تا بېرته 'یام' ته راواړوم.
بالخاش وویل: ضرور د سوباتای جاسوس یې!
سړي وویل: هو، سم دې اټکل وکړ.
بالخاش په کینه ناک غږ وویل: کله چې د ستا د وژل کېدو خبر سوباتای ته ورسېږي، بیا به پوه شي چې له چا سره مخ دی.

او ناڅاپه یې توره راوکښله او پر هغه سړي یې برید وکړ،سخته جګړه ونښته. مغولي سړي هڅه کوله چې د بالخاش توره له لاسه واخلې او ژوندي یې یام ته بېرته یوسي، خو بالخاش د هغه وژلو ته زړه ښه کړی و.
مغولي سړي وویل: ما ته امر نه دی شوی چې تا ووژنم، ته هم هڅه مه کوه چې ما ووژنې، ځکه بې‌فایده ده. تسلیم شه او بېرته خپلو ملګرو ته لاړ شه!
بالخاش په داسې حال کې چې خپل توره راسته او چپه خوا خوځول ویې ویل: که همدا اوس وتښتي، زه به دې تعقیب نه کړم.

په همدغه وخت کې د مغولي سړي د تورې څوکه د بالخاش چپ اوږه زخمي کړه.
هغه وخندل او ویې ویل: ما کولای شو دا توره ستا سینې ته ورننباسم، خو افسوس چې امر ستا د ژوندی ساتلو شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش، چې د غوسی څخه یې سترګي د وینو پشان سره شوی وه،نور هم تېز برید وکړ. هغه له مرګ څخه ویره نه درلوده. پر خپل دښمن یې برید ته دوام ورکړ، تر دې چې د تورې ګوزار د مغولي سرې مټ زخمي کړ. هغه نور مقاومت نه شو کولی، غوښتل یې وتښتي، خو ناوخته و، ځکه چې د بالخاش د تورې څوکه د هغه سینه سوری کړه.هغه سرې یو لنډ چیغ ووهله او له اسبه راوغورځېد.

بالخاش ورنږدې شو او ورته ویې ویل: که ژوندی پاتې شوې نو سوباتای ته ووایه چې بالخاش داسې څوک نه دی چې تا ته تسلیم شي!

او بیا یې خپل اس ته پښه ورکړه او پر خپل سفر روان شو.هغه باید تر سپېدو دمخه "هرسبان" ته رسیدلی وایې او ایلي یې لیدلې وایې، ځکه هغه باوری وو چې ایلي د "سایان" په اړه ډېر معلومات لري.کله چې د سهار رڼا شاوخوا روښانه کړل، بالخاش د شرابخونې مخې ته له اس کوز شو او دروازه یې وټکوله..
هغه شپه یې په یاد راوسته، کله چې له "احمد آق سو" سره دې ځای ته راغلی و، او لږ وروسته هغه خونړۍ پېښه وشوه.

څو شېبې وروسته، د دروازې له شا کمزورې رڼا ښکاره شوه، او ورپسې د "ایلي" غږ راغی: څوک یې؟
بالخاش- زه یم، بالخاش!
ایلي حیرانه شوه: بالخاش؟!

او بیا ژر یې دروازه پرانسته، دواړه څو شېبې یو بل ته ځیر شول.ایلي یو اوږد کمیس اغوستی و، ویښتیا یې پر اوږو خوره و، او د ښکلي مخ پر څرک یې د غم سیوری خپور و.هغې څراغ په کېن لاس ونیو، بل لاس یې د بالخاش پر لور وغځاوه او ویې ویل: راځه دننه.

بالخاش د هغې لاس ونیو او ویې ویل: طویله راته وښیه، اس مې ډېر ستړی دی.
ایلي موسکۍ شوه او ویې ویل: زه اوس هم باور نه شم کولی چې دا ته اوسیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش!

دواړه طویلي ته لاړل. بالخاش د اس زین لیرې کړ، موسک شو او ویې ویل: دا حیوان تر ما ډېر استراحت ته اړتیا لري.
ایلي د هغه لاس ونیو او ویې ویل: ته هم باید استراحت وکړې!

دواړه شرابخونې ته بېرته ستانه شول،بالخاش داسي ښودل لکه چې د سایان په اړه هېڅ نه پوهېږي، ویې پوښتل: سایان ځنګه دی؟ حتماً ویده دی، ما فکر کاوه چې هغه به دروازه خلاصه کړې؟
ایلي په پوسخند وویل: سایان... زما پلار... هغه دلته نشته.
بالخاش په احتیاط وپوښتل: اترار ته تللی؟
ایلي- نه، هماغه ځای ته تللی چې ته ورغلی وې!

بالخاش- ستاسې په مطلب نه پوهېږم؟
ایلي- ورو ورو به پوه شې!

دواړه د شرابخونې دننه لاړل، ایلي بالخاش ته هماغه کوټه وښوده، چې احمد آق سو پکې وژل شوی و.

بالخاش په خفه انداز وویل: ما فکر کاوه چې د هغه شپې له پېښې وروسته به دې خپله کوټه بدله کړې وي!
ایلي ځراغ په خپل ځای کېښود او ویې ویل: کومه پېښه؟
بالخاش- د احمد آق سو وژل کېدل!
ایلي- زه له داسې شیانو نه وېرېږم. ماښام ډوډۍ دې خوړلې؟
بالخاش- هو، خو اوس لږ شراب غواړم. ډېر ژر مې ځان دلته راورساوه، ویره مې وه چې اس به له پښو ولویږي.

ایلی- اس خپل سپور پېژني، مجبور عادت وکړی دهغه په دی تلوارونو.
بالخاش- آخر دې ونه ویل چې پلار دې چېرته دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ايلي وخندل او ويې ويل: لکه چې تا زما څخه شراب غوښتلي وه؟

هغه له خونې ووته او څو شيبې وروسته بېرته راوګرځېده، له ځان سره يې د شرابو يوه کوزه او دوه ګيلاسونه راوړي وو.کله چې يې ګيلاسونه له شرابو ډک کړل، ويې خندل او ويې ويل: اوس کولای شې په ارام زړه شراب وڅښې، ځکه زه د دې نيت نه لرم چې تا مړ کړم په زهرو.
بالخاش وخندل او ويې ويل: داسې ښکليه نجلۍ لکه ته، هېڅکله به شيطاني پلان ونه لري.

او بيا يې د ايلي له لاسه ګيلاس واخيست او شراب يې په يو وار وڅښل، او ويې ويل: دا يوازنی شراب دی چې خوند به يې هېڅکله هېر نه کړم.
ايلي په ځانګړې انداز وويل: او ته هم يوازينی سړی يې چې زه ورسره مينه لرم.
بالخاش سر ښکته کړ او ويې ويل: زموږ ترږون دا و چې نور به د دې خبرې يادونه نه کوی، ما يو ځل مخکې هم درته وويل چې زه د "خان سلطان" په نوم د يوې نجلۍ سره مينه لرم او زړهٔ مې پری بايللی دی او پرېکړه مې کړې چې کله اترار ته ورسيږم نو ورسره واده وکړم.

ايلي- زه پوهېږم، خو ته هم بايد پدې و پوهېږې چې ستا دا خبرې به زما احساسات ستا په وړاندی بدل نه کړي.
بالخاش- موږ يوازې ملګري يو بس، کوښښ وکړه چې دا درک کړې.
ايلي وخندل، خو سترګې يې له درده ډکې وې ويې ويل: زه غواړم درک يې کړم، خو نه شم کولای. دا نور زما په اختيار کې نه ده.
بالخاش- د پلار په اړه دې راته ووايه، هغه چېرته دی؟

ايلي لږ شراب وڅښل، مخ يې سور شو، سترګو يې بله بڼه واخيسته. لږ ځمکې ته يې وکتل، ګيلاس يې په خپلو نازکو ګوتو کې کلک نيولی و، ويې ويل: که زه درته ووايم چې سايان زما پلار نه و، شايد باور ونه کړې!
بالخاش سره له دې چې د سايان د وژل کېدو خبر يې درلود، ځان ناخبره وښود او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حیرانتیا بېه یې واخیسته، ویې ویل: دا ناممکنه ده!
ایلي ورته وکتل او ویې ویل: دا حقیقت ومنه.
بالخاش بیا پوښتنه وکړه: اوس هغه چېرته دی؟

ایلي- دلته نه دی، د مغلو جاسوسانو هغه له ځانه سره بوت.
بالخان ژر وویل: ایلي، ته څه وایې؟! داسې ښکاري چې ته سم نه یې، تا باید شراب نه وای څښلي، لکه چې نشه یې کړی؟ هسې خبری کوی.
ایلي وخندل او ویې ویل: شاید ته فکر کوې چې زه دا خبرې له نشې کوم.
بالخاش په همغه جدي لهجې وویل: شک نشته، که غیر له دې وای، نو باید ضرور یوه پیښه شوی وی!

ایلي وخندل، لږ شېبه چوپه شول بیا یې وویل: همداسې ده.
بالخاش پوښتنه وکړه: کله چې د مغول جاسوسانو سایان لځان سره وړو ته همدلته وی؟
ایلي- نه، کله چې زه بیرته "هرسبان" ته راغلم، سایان له دې ځایه تللی و.
بالخاش- تا څنګه دا خبر ترلاسه کړو چې سایان د مغول جاسوسانو وړی؟
ایلي- هغه مغل راته وویل چې له ما سره هرسبان ته راغی.

بالخاش- ته ونه پوهېدې چې ولې یې هغه له ځانه سره بوت؟
ایلي په سړه لهجه وویل: هغه خیانت کړی و.
بالخاش د حیرت بېه ونیوله: څه ډول خیانت؟ زه ستا له خبرو هېڅ نه شم پوهېدلای.
ایلي- سایان د مغلو لپاره جاسوسي کوله. کله چې مغول پوه شول چې هغه دوکه ورکوي، نو یې له ځانه سره بوت. زه فکر نه کوم چې سایان به ژوندی پاتې وي، مغول ډېر ظالمان دي.

بالخاش وویل: ولې نه غواړې چې د خبری رښتیا راتهووایې؟
ایلي هغه ټول معلومات ورته وویل چې له مغل سړي یې اورېدلي وو، خو دا هماغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه و چې بالخاش له "سوباتای" څخه اورېدلي وو. بغير د کوم کمې او زياتي څخه!

څو شېبې چوپتيا خپره شوه.
بالخاش دا چوپتيا ماته کړه او ويې ويل: دا ټولې پېښې، دا ګنګوسې زما لپاره يوه راز جوړ شوې دی،چې زه يې نه شم حل کولای. زه بايد ژر تر ژره اترار ته لاړ شم او د "احمد آق سو" قضيه معلومه کړم، هغه ولی غوښتل ما ووژني؟ زما په نظر د دې راز حل او کلې په اترار کې ده. زه بايد معلوم کړم چې چا زما د قتل نقشه چا جوړه کړې وه؟بيا يې په جدي لهجه زياته کړه: هر څوک چې وي، زه به يې خپل پر لاسونو وژنم،
ژوندی به يې پرېنږدم.

ايلي خپل ګيلاس پر ځمکه کېښود، په سړه سينه يې وويل: بالآخره به پوه شې چې حقيقت څه دی. کله چې اترار ته ورسېږې، ټول حقيقت به درته څرګند شي، حتی هغه کس به هم وپېژنې چې ستا د وژلو نيت لري او لا تر اوسه يې لاس نه دی اخيستی.
بالخاش وويل: يعنې ته پوهېږې چې هغه څوک دی؟
ايلي موسکا وکړه او ويې ويل: زه هم ستا په څېر په هېڅ نه پوهېږم.

بالخاش چوپ شو.ايلي سترګې د هغه خواته ور واړولې، د هغې له سترګو څرګندېده چې شراب پرې اثر کړی، د مخ سره شوي ګلابي رنګ او د سترګو خمار يې لا ښکلا دوه چنده کړې وه.ايلي خپل ځان د بالخاش خوا ته نږدې کړ، سر يې د هغه پر زنګنو کېښود، لاس يې د بالخاش په ګوتو کې ونيو او ورو يې خپلو شونډو ته نږدې کړ، په زغرده يې وويل: زه ستا سره مينه لرم ته بايد دا ومنې.

د دې خبرې د ويلو پر مهال، له هيجانه رېږدېدله، د مخ سره والي يې نور هم زيات شوی و، د سترګو ژور نظر کې د ميني خنګ کې د شهوت او هوس احساس هم څپې وهلې.بالخاش، چې تر دې دمه يوازې څو ځله د ايلي لاس نيولی و، هېڅکله يې د هغې د بدن ګرمي نه وه احساس کړې. دا يوه خوندوره او تحريکوونکې ګرمي وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه هڅه وکړه چې ځان له دې اور څخه وساتي، خو ښکاره وه چې ایلي، دا ښکلې او جذاب نجلۍ، د دې جګړې ګټونکې وه.

دواړه په یو هیجاني چوپتیا کې ډوب وو. بالخاش په هغه تودو شیبو د هوس او شهوت کې د خان سلطان په اړه فکر کاوه، خو دی پخپله پوهېده چې د شرابخانې ښکلی نجلۍ به ترې لاس وانه خلي او هوسا به یې پرې نه ږدي.ایلي د هیجان لوړې کچې ته رسېدلې وه، بدن یې ګرم شوی و او نور یې هېڅ نه پوهېده. دواړه لاسونه یې پورته کړل او د بالخاش غاړې ته یې تاو کړل. د هغه سر یې ښکته کش کړ.
بالخاش هڅه وکړه چې ځان له دې هوسناکه څپې وباسي، خو نور ناوخته و. مخکې له دې چې څه ووایي، د ایلي شونډې یې پر خپلو شونډو احساس کړې...

دا یو تود، هوسناکه او پر شهوت لړلې مچ وو،بالخاش په خفه انداز وویل: هیڅ پوهېږې چې څه کوې؟
خو له لهجې یې ښکاره وه چې خفګان یې ورو ورو ځای هوس او شهوت ته پرېږدي.
ایلي وخندل او ویې ویل: یوازینی کار چې ډېر ښه پرې پوهېږم همدا دی.

ایلي د بالخاش له زنګانه سر پورته کړ او ژور یې ورته وکتل. هر څه یې درک کړل. هغه بریالۍ شوې وه. د بالخاش سترګو کې یې د شهوت خوند احساس کړو، ناڅاپه بالخاش د ایلي اوږې ونیولې، هغه یې پر فرش وغورځوله او په کلک یې د هغې له شونډو مچ واخیست. بیا یې سر د ایلي پر زړه کېښود، هغه یې کلک ونیول او په لړزېدلي غږ د شهوت او هوس څخه یې وویل: تا زه په ګناه ککړ کړم! ته یو شیطاني نجلۍ یې!

ایلي په لوړ غږ وخندل، لاسونه یې د بالخاش په ویښتو کې ښخ کړل او ویې ویل: دا هماغه څه دي چې ما غوښتل! ته اوس زما یې، خان سلطان باید هېره کړې!
د ایلي په دې خبره بالخاش ژر سر راپورته کړ، توند نظر یې ورته وکړ او ویې ویل: نه! زه به هغه هېڅکله هېره نه کړم. ته یوازې د شرابو نجلۍ یې، یواځې د مستۍ پر مهال باید درسره مینه وشي، او درڅخه خوند واخیستل شي پوه شوې؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

ايلې داسي حال کې چې نظر يې لا هم پر بالخاش وو له ځمکې پاسيده، او ناڅاپه يو زدنى څپيړه يې د بالخاش پر مخ ورکړل او په داسى لهجه چې کرکه او غوسه ورڅخه ښکاريده په چغه وويل: ورک شه له دې ځايه منحوس او مغرور انسان، نور نغوارم ستا مخ وګورم د دې ځاى څخه ورک شه.

بالخاش چې رنګ يې سور شوى و، د هغې له څنګ پاسيد، چې ايلي ورته وويل: کاش چې ما احمد اق سو ته اجازه ورکړې واى ترڅو ته يې وژلي واى،ته د مينې په معنى نه پوهېږې، کبرجن، ما ته له مرګ څخه وژغورلې او اوس ته ماته د شرابو نجلۍ وايې؟دا به ښه واى که تا ماته فاحشه ويلي واى.زه به يوه ورځ ستا د دې خبرو ځواب هرومرو درکړم.

بالخاش بغير د څه ويلو په همغه سور مخ د غوسي خپلې تورې او کمربند خوا ته لاړ، کوم چې هغه د خونې په کونج کې ايښودلي وو. هغه يې پورته کړ، په خپل ملا يې وتړل، خولۍ يې پر سر کړل او د خونې د دروازې سره ودرېد، ايلي ته يې وکتل. د شرابخانې نجلۍ خپل سر ښکته نيولي وو او د هغه څو شيبو جوش او لېوالتيا يې اوس پۀ غوسه او کرکه بدله شوې وه.
ايلي- ولې ولاړ يې ها؟ ژر لاړ شه! خان سلطان به ستا پتمه وى؟

بالخاش- فکر مې نه کاوه چې خپل د ځان څخه تيره هغه ايلي دى تر دى حد بيعقل اوسيږى.
ايلي- اوس خو پوهه شوى؟ نو لاره دى نيسه او ورک کيږه.
بالخاش- افسوس چې ښځه يې، که نه د دې سپين سترګۍ ځواب به مې په توره درکړى واى!

ايلي مخ د هغه خواته راوړو او ويې ويل: لکه چې خپل په توره وهنه زيات مغرور او کبرجن يې؟
او بيا ناڅاپه له ځمکې پورته شوه، خپل د کټ لاندې څخه يې خپل توره راويست، او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه یې له غلاف وواېست او د بالخاش مخې ته ودرېده.
ایلي- خیال وکړه چې د یو سړي سره مخ یې، مه درېږه، وار وکړه.

بالخاش حیران د هغي داسی حالت ته کتل لومړی ځل یې د هغې دا حالت په زړه ښه ولګېده، لاس یې ورو ورو له خپل توری څخه لرې کړ، او په نرمه لهجه یې هغې ته وویل: ستا دا دومره ښایست به هسی عبث لاړ شي که زه دی ووژنم، بهتره به وی چې خپل توره ښکته کړې او خپل ځان راباندی ونه وژني.

ایلي په غوسي وخندل، او خپل توره یې د بالخاش سینې خوا ته ونیول او ویې ویل: له څه وېرېږی؟ له دی چی خلک ووایې د هرسبان د شرابخانی د مالک لور د غایر خان د یو سرتیری بالخاش په لاسونو ووژل شول؟ لا دا معلومه نه ده چې ته به بریالی شې! کېدای شي ته هم د احمد آق سو په شان ووژل شې، یا هم شاید زه ووژل شم باید امتحان یې کړو، چې څوک ژوندی پاتی کیږی؟

بالخاش بغیر د کوم حرکت څخه ولاړ و او د هغې خواته یې کتل، ایلي خپله توره څو ځله وښوراول او په مسخره انداز یې وویل: جګړه پیل کړل اصیل جنګیالي! خپل د ځان څخه ساتنه وکړه، کنه څنګه چې احمد اق سو ستا پر لاسونو ووژل شو زه هم تا وژنم او جسد دې هم همغه ځاه ته اچوم نه.

ایلي خپل د توری څوکه د هغه د سینی خواته ښکته کړل او په لیونتوب یې وویل: زه ستا د وژلو څخه وېره نلرم، یا خپل خبره واخله یا هم لاس دی توری ته ویسه او زما سره مقابله وکړه، زه باید تاته دا ثابته کړم چې زه د شرابو انجلۍ نه یم چې ته د مستۍ په وخت کې ورڅخه ګټه واخلې او بیا لری ختا کړی، زه یو پاک جنۍ یم، تراوسه چا په عمر کی داسی سپکاروی ماته نه وکړی.

او بیا د توری په څوکه د بالخاش د جامو یو تڼی وشکول او ویې ویل: ډارن ولې ماته راګوری، خپل توره راوخله.
بالخاش حیران و چې څه وکړي، خو پوه شو چې باید د ایلي توره ترې واخلي، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل توره يې راويست، او ويې ويل:زه نه غوارم تا ته زيان ورسېږي، مه لېونی کېږه، ته لا د توری جګولو لپاره وړه يې!
ايلي خپل توره د بالخاش په تورې ووهل او ويې ويل: بنده کړه خوله او جګړه وکړه، ماته نصيحتونه مکوه.

بالخاش پوه شو چې بله چاره نه شته، بايد جنګ وکړي، او خپل توره په کار واچوی، له پيله معلومه وه چې هغه غوارې ايلي سره لوبه وکړي او مجبور يې کړي چې خپل توره ښکته کړي، خو څو حرکته وروسته پوه شو چې د يوه زړور او بې‌باکه نجلۍ سره مخ دی.خو بيا هم، هغه هيڅ احساسات و نه ښود. د بالخاش دا بې پروای دا فرصت برابره کړو چې ايلي په يوه چټک حرکت هغه حيران کړي او د خپل توری څوکه د هغه پر سينه کيږدی.

ايلي- اوس کولای شم په اسانۍ سره تا ووژنم. يوازې د تورې لږ فشار، او څوکه به يې ستا په سينه کې ننوزي.
بالخاش- او ستا کوټه به د دويم ځل لپاره پر وينو سره شی.
ايلي- توره دی وغورځه وه.
بالخاش بغير د څه ويلو خپل توره د خونې پر ځمکه وغورځاوه او ويې ويل:
مهربانۍ ښکلې پيغلې! اوس ته ډاډه يې چې کولای شې ما ووژنې؟

ايلي، چې لا يې هم نظر د بالخاش په لور و، موسکا وکړه، خپل توره يې ښکته کړل او ويې ويل: افسو چې نشم کولای تا ووژنم. ته پخپله هم پوهيږې چې زه درسره مينه لرم.کاش دا مينه نه وای، بيا به تا ليدلي وای چې د دې خونې ځمکه به ستا په وينو سره وای.
بالخاش وخندل او ويې ويل: که غير له دې وای، نو تا به ما ته دومره صبر نه وای راکړی!

دواړه وخندل. ايلي خپل توره يوې خوا ته وغورځوله، مخکې لاړه، خپل لاسونه يې د بالخاش غاړې ته تاو کړل او ويې ويل: و وايه چې زه د شرابو نجلۍ نه يم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش- ته واقعاً يوه زړوره او فداکاره نجلۍ يې.

بيا يې سر ورنږدې کړ او د ايلي غومبرې ښکل کړې، ايلي خپل ځان د بالخاش سينې ته ورنږدې کړو او ځان يې د هغه غېږ کې پټ کړو.
بالخاش- نور ناوخته کېږي، زه بايد ژر حرکت وکړم. ممکنه ده چې مغولان زما لاره پيدا کړې وي. نه پوهيږم چې دوی زما څخه څه غواړي؟

ايلي د هغه له غيږې جلا شوه. په همدې شېبه کې د شرابخانې د دروازې درب چوپتيا ماته کړه. دواړو يو بل ته وکتل.
بالخاش وويل: بالاخره دا دوزخي خلک راغلل!
ايلي- کېدای شي دوی نه وي؟
بالخاش- د شپې په دې وخت پرته له دوی بل څوک د شرابخانې دروازه نه ټکوي.
ايلي- ته همدلته پاتې شه، زه به وګورم چې څوک دي؟
بالخاش- خو تر دې مخکې، زه بايد د تښتې يوه لاره پيدا کړم.
ايلي وويل: ستا خبره صحيح ده،که مغولان وي، نو په زور به راشي، هر ځای به ولټوي، او که تا ومومي، حتی پر ما به هم رحم ونه کړي.

بالخاش وپوښتل: ايا دلته کومه پټ لاره شته؟
ايلي- هو، له ما سره راشه!
بالخاش-کېدای شي دوی ما پيدا کړي، ځکه چې طويلې ته تلل او آس ته زين اچول وخت غواړي.
ايلي- که زه ستا پر ځای وای، نو همدا چې د پټې لارې څخه بهر وتلم، د دوی له آسونو څخه يو مې غلا کاوه.
بالخاش- دا اسانه کار نه دی، ځکه ممکن يو څوک د هغوی د اسونو سره ولاړ وي.

د دروازې د ټکولو غږ بيا راغی، خو د اول ځل په پرتله زورور ايلي وويل: مهرباني وکړه، وخت مه ضايع کوه، بايد خپل ځان وژغورې!
هغې څراغ راواخيسته، دواړه له خونې ووتل او ښکته دالان ته لاړل، چې پای يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرابخانې دراوزې ته ورسېد. ایلي هغه دروازه بالخاش ته وښوده، چې د زینو ته نږدې وه، او ویې ویل: هغلته پټه لاره ده چې له دې ځای نیغ په نیغ د اسونو طویلي ته ځې او ته کولې شې خپل اس د هغه ځای څخه واخلې.
بالخاش- ولې دې مخکې راته ونه ویل؟

ایلي موسکی شوه او وویل: غوښتل مې ستا سره لږه لوبه وکړم، اوس لاړ شه!
بالخاش روان شو، ایلي د هغه لاس ونیو، ویې ویل: لږ تر لږه، یو ځل مې ښکل کړه!"
بالخاش بیاځلې د هغې غومبرې ښکل کړو او دروازه یې خلاصه کړه. دومره تیاره وه چې حتی خپل مخ یې هم نه شو لیدای. بله چاره نه وه، باید د هر قیمت په بدل کې له هغه ځایه وتلی وای.هغه ورو ورو مخکې لاړ، ناڅاپه یو فکر ورغی. بېرته وګرځېد، د دروازې شاته ودرېد...

د شرابخانې د خلاصېدو غږ یې واورېد...
ورپسې د یو سړي غږ راغی، چې په قهر یې له ایلي وپوښتل: بالخاش چېرې دی؟
ایلي- نن شپه دلته څوک نه دي راغلي!
هغه سړي وویل: موږ باید شرابخانه ولټوو!
ایلي- دا د خوارزم خاوره ده، زه تاسو ته دا اجازه نه درکوم، بېرته له هماغه لارې لاړ شئ، له کومه چې راغلي یاست!

بالخاش د دروازې د کلک بندېدو غږ واورېد. له درز څخه یې دالان ته وکتل، د کمزورې رڼا لاندې یې دوه مغولان ولیدل چې دننه راغلل.
ایلي په لوړ غږ وویل: بالخاش دلته نشته!
دواړه مغولان مخکې لاړل، یو له هغوي ایلي ته وویل: پورته لاره شه!
بیا یې خپل ملګري ته وویل: ته همدلته پاتې شه!

ایلي چې څراغ یې نیولی و، پر زینو پورته روانه شوه، او مغولان پسې لاړ.بالخاش له ځانه سره وویل: که دا یوازې دوه کسان وي، نو د دې یو کار خلاص دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغوي پر تلو دالان په تیاره کې ډوب شو. بالخاش ورو ورو پټه دروازه خلاصه کړه، خو ناڅاپه پوه شو چې مغول به شاید هغه ځای ته تللی وي. نو یو بل فکر یې وکړ. هغه دروازه ورو بنده کړه، هدف یې دا و چې مغول د غړ له کبله ورته نږدې شي، او دی یې ناڅاپه راګیر کړي.مغول د دروازې د غړ په اورېدو متوجه شو، یو دوه قدمه مخکې لاړ، شکمن و، ودرېد. بالخاش بیا دروازه وخوځوله.مغول فکر وکړ چې دلته څوک شته. دروازې ته ورنږدې شو، لاس یې پرېښود او لړ یې خلاصه کړه.

دا هماغه موقع وه چې بالخاش ورته انتظار کاوه! هغه اټکل کړی و، چې مغول به له توري سره چمتو وي، او که مستقیم برید پرې وکړي، نو پلان به یې ناکام شي.
بالخاش ورو ورو ځان ورنږدې کړ، کله چې د دروازې تر څنډې ورسید، د مغول سایه یې محسوس کړه.هغه خپل لاسونه ورو ورو وړاندې کړل، همدا چې د مغول بوټ ته یې لاس ورغی، ناڅاپه یې د هغه دواړه پښې کلکې ونیولې، سخت یې کش کړ، مغول خپل تعادل له لاسه ورکړ او په شدیده توګه پر دالان ولوېد.

بالخاش وخت ورنه کړ،سمدلاسه یې له ملا څخه خنجر راویست او په یو ټوپ یې ځان د مغول پر بدن ور واچاوه،بالخاش د هغه مغول خوله کلکه ونیوله او د بل لاس په واسطه یې د خنجر څوکه د هغه پر ستوني کېښوده او ویې ویل: که دې غړ پورته کړ، ستونی به دې در پرې کړم.
وروسته یې لاس د هغه له خولې لرې کړ. مغول وپوښتل: ته څوک یې؟
بالخاش ځواب ورکړ: زه هماغه کس یم چې تاسو ورپسې ګرځئ.

بیا یې یو ګام شاته واخیست او مغول ته یې امر وکړ چې له ځمکې پورته شي.
بالخاش، چې د خپل دښمن د نابودولو نیت یې درلود، ټول پام یې د هغه بل مغول ملګري ته و چې له ایلي سره پورته تللی و. هره شېبه امکان درلود چې هغه بیرته راشي او د بالخاش موقعیت له خطر سره مخ کړي.بالخاش احساس وکړ چې باید ژر تر ژره له هغه ځایه ووځي. هغه د مغول سرې دواړه اوږې ونیولې، چې لا هم له ځمکې راولاړ شوی و، او مخکې له دې چې هغه ته د مقاومت یا چیغې وهلو فرصت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړي، سر يې په ديوال وواهه. د درد نرۍ غږ د مغول له ستوني ووت، خو ژر غلی شو. بالخاش ونه‌توانېد هغه ولاړ وساتي. کله چې يې پرېښود، د يوې درنې تيږې په څېر پر ځمکه راولوېد او بې حرکته پاتې شو.

بالخاش څو شيبې هلته ودرېد، فکر يې د زينو پورته خوا ته وه. بيا يې د احتياط له مخې د ميخانې د وتلو دروازې ته لاړ، دروازه يې پرانستله او په بيړه يې ځان طويلې ته ورساوه.په تياره کې، د ديوال ته ځورند کوچني څراغ تر رڼا لاندې، بالخاش خپل آس زين کړ او له طويلې څخه يې وايست. لا يې هم باور نه و چې خطر ترې لرې شوی. څو قدمه چې له طويلې لرې شو، ودرېد، شاوخوا يې وکتل، او بيا يې د ميخانې لور ته سترګې واړولې.

هغه په زين سپور شو، او خپل آس ته يې حرکت ورکړ. ښار په ژوره چوپتيا کې ډوب و. سره له دې چې آس ورو روان و، خو د پښو غږ يې د شپې خاموشۍ ماتولو لپاره بس و. بالخاش ډاډه و چې سلامت به له ښار څخه ووځي، خو د ايلي په اړه يې انديښنه درلوده. هغه له ځانه سره وويل: دا ظالم مغول به ايلي نه پرېږدي، شکنجه به يې کړي، خو بله چاره نه لرله، بايد له ښار څخه وتلی وای او اترار ته تللی وای، ترڅو خپل برخليک ومومي.

کله چې بالخاش د ميخانې مخې ته له ميدان څخه تېرېده، احساس يې وکړ چې دا ځای پرېښودل ورته سخت دي. د ميخانې دننه يوې ښايسته نجلۍ د هغه لپاره خپل ځان له خطر سره مخ کړی و. سايان، چې د ايلي رضاعي پلار و، په دې مغشوشه پېښه کې خپل ژوند له لاسه ورکړی و. لا معلومه نه وه چې د ايلي برخليک به څه وي.کله چې له ميدان څخه ووت، خپل آس ته يې سرعت ورکړ. ناڅاپه د سوباتای خبرې يې ذهن ته راغلې:"غايرخان غوښتل تا ووژني!"

بالخاش څو ځله ځان سره وويل: ولې غايرخان زما د وژلو نيت لری؟ دا ممکن نه ده! دی نه پوهېده چې د دې پوښتنې ځواب څنګه پيدا کړي؟ له ځانه سره يې وويل: ښايي سوباتای غوښتل په دی دروغجنو خبرو ما مجبور کړي چې ورسره همکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړم، ځکه دا ممکن نه ده چې امیر اترار زما د وژلو اراده ولري. ما هیڅ ګناه نه ده کړې، او دی هم پوهېږي چې زه تل هغه ته وفادار یم. دا باید د سوباتای یوه بل چل ول وي...

دا متضاد او ګډوډ فکرونو د هغه ذهن ته آرام نه ورکاوه. لا تر نیمې ورځې نه و رسېدلی، چې بالخاش د اترار ښار دروازې ته ورسېد. اس یې د ستړیا څخه ستمي کاوه او دی پخپله هم ډېر ستړی ښکارېده. د تودې لمر وړانګې یې په مخ ځلیدې، او د مخ رنګ یې د لمر له لاسه لږ پیکه ښکاریده، بازارونه تقریباً تش وو، نو هغه کولای شول په آرامۍ له هغوی تېر شي. هغه یې کوله چې له ګڼه ګوڼې لرې، د ښار یوه خاموشه کوڅه خپله کړي. ډېر ژر، هغه د خپل کور مخې ته ورسېد. له آس نه ښکته شو، شاوخوا یې وکتل، کوڅه تشه وه.

دروازې ته یې ټک وواهه، او له ځانه سره یې وویل:
– ډېر ژر به هر څه روښانه شي...

د دروازې شاته د قدمونو غږ واورېدل شو، ګمان یې وواهه چې باید "پیر احمد" وي، هغه بوډا او وفادار خدمتګار.

– څوک یې؟
بالخاش وویل: زه یم، بالخاش.

د دروازې قلف په بیړه خلاص شو، او دروازه پرته له کوم غږه پرانستل شوه. پیر احمد، چې خپل مالک ولید، حیران شو، په رپېدلي غږ یې وویل: دا تاسې یاست؟ د بالخاش لمر وهلې او وچ شونډې وخوځېدی او په موسکا یې وویل: داسې ښکاري چې خوب وینې، پیر احمد... دا څنګه پوښتنه ده؟ ښه وګوره، هسې نه چې ما نه پیژنې!

پیر احمد وویل: نه، قربان، زه غلطي نه کوم خو ...
بالخاش- خو څه؟ ته لومړۍ دا زما اس طویلي ته یوسه او بېرته ژر راشه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیر احمد- وبخښې قربان تاسو خو چا ونه لیدلی؟ زما مطلب د خپلوانو څخه کوم کس؟
بالخاش- دا پوښتنه دې څه معنا لری؟
پیر احمد- کاش د هوا د تیاره کیدو وروسته راغلې واست!
بالخاش په تروش تندی وویل: په دی خبرو دی هسې وخت بریاده وی.

پیر احمد اس ونیو، او بالخاش کور ته داخل شو. د دهلیز په منځ کې څو شېبې ودرېد. ګمان یې کاوه چې د ده د غیابت په جریان کې، په اترار کې مهم بدلونونه راغلي، حتا پیر احمد هم د هغوی خبر لري.د سترېیو ګامونو سره، هغه خپلې خونې ته لاړ، هماغې خونې ته چې کړکۍ یې د دهلیز د دروازې پر لور وه.

یو کوچنی اطاق و، بالخاش یې شاته دیوال ته تکیه ورکړه، پښې یې وغځولې او له ځانه سره یې وویل:که پر ما دا ثابته شي چې محمد مهدی زما د وژلو پلان جوړ کړی، نو همدا شپه به ورسره حساب خلاص کړم. هغه باید پوه شي چې له چا سره مخ دی!

ډېر وخت نه و تېر شوی چې پیراحمد راغی...
په داسې حال کې چې خپل ځوان بادار ته یې کتل، ویې ویل: شکر الحمدلله چې روغ جوړ راغلې. الله دې وکړي چې له آشنایانو چا نه وې لیدلی.
بالخاش هڅه وکړه چې خپل ځان بې پروا ښکاره کړی په خپل ځای کې لږ ځای پرځای شو او ویې ویل: راشه، کېنه او روښانه راته ووایه، زما په نه موجودیت کې په ښار کې څه شوي؟

پیراحمد د هغه تر څنګ کښېناست، شاته یې دیوال ته تکیه ورکړه او ویې ویل: قربان، ستاسو په نه موجدیت کې حالات بیخي بدل شوي. زه درته عاجزانه وایم، له کوره مه وځه! ستاسو ژوند په خطر کې دی. که کولی شئ نو ژر ترژره بل ښار ته لاړ شئ، داسي ځای چې څوک مو و نه پیژنی داسی به ژوندی پاتې شئ کنه ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش چې د اندیښنې ښکار شوی و، په تلوار سره وویل: کنه څه؟ ولې نه وایې چې محمد مهدی زما د وژلو نقشه جوړه کړې؟
پیراحمد حیران شو او ویې ویل: محمد مهدی؟ نه قربان، هغه هیڅ واک نه لري. خطر د بل چا له لوري دی، داسې یو څوک چې هېڅکله به یې فکر هم ونه کړئ!
بالخاش په لړزانده غږ وویل: د چا لخوا؟
پیر احمد- غـــــــایر خـــــان!
بالخاش ناڅاپه وښوریږ، په زوره یې له ځان سره وویل: نه امکان نه لری یعنې سوباتای رښتیا ویل؟!

پیراحمد پوښتنه وکړه: سوباتای؟ دا نو څوک دی؟ د نوم له امله ښکاري چې باید د مغولو له ډلې وي؟ ایا هغه هم پوهېده چې غایرخان ستا د وژلو نیت لري؟

بالخاش هیڅ ځواب ورنه کړ، په فکرونو کې ډوب شو یوه پوښتنه یې بار، بار ذهن ته راتلل"غایرخان ولې غواړی ما ووژني؟"له څو شیبو چوپتیا وروسته، هغه د پیراحمد سترګو ته وکتل او ویې ویل:غایرخان ولې زما د وژلو نیت درلود؟
پیراحمد کرار وویل: هغه فکر کوي چې ته مړ یې!
بالخاش حیران شو: ته په دی خبرو له کومه پوهېږې؟

پیراحمد- قربان، زه شپه او ورځ ستا په اندېښنه کې وم. که باور نه لرې، د خان سلطان د پلار څخه وپوښتي هغه له ما ډېر معلومات لري.
بالخاش حیران شو: د خان سلطان پلار؟ زه هیڅ نه پوهېږم، دا څه روان دی؟ خو ته پوهېږې چې څه شوي نو رښتیا راته ووایه.

پیراحمد- زه هیڅ نه پوهېږم، باور وکړه!

خو بالخاش احساس کړه چې پیراحمد حقیقت پټوي، نو له ځایه پاڅېد، خپل خنجر یې راویسته او د پیراحمد سر ته ودرېد او ویې ویل: زه درسره ډېره مینه لرم، خو که زما پوښتنې ته ځواب ورنه کړې، همدلته دې وژنم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیراحمد چې خپل ارباب ښه پېژانده، وډار شو او ویې ویل: ښه، زه به هر څه ووایم، خو ته باید ژمنه وکړې چې ځان به کنټرول کوی.

بالخاش بېرته خپل ځای ته کښېناست او ویې ویل: ژمنه کوم، بې له ځنډه خبرې وکړه!

پیراحمد شېبه د وېرې او تردید حالت کې پاتې شو، خو کله یې چې د بالخاش جدي څېره ولیده، پوه شو چې نور یې د پټولو چانس نشته، نو یې وویل: غایرخان غوښتل تا ووژني، ځکه چې... هغه غوښتل خان سلطان ځان ته کړي!

بالخاش دا خبره چې واورېده، د سختې اندېښنې ښکار شو، داسې احساس یې وکړ لکه چې دا هر څه خوب وي. څو شیبې چوپتیا حاکمه وه، پیراحمد د بالخاش حالت ته حیران و، او وېره یې لرله چې د ارباب غصه به لا زیاته شي.

بالخاش ورو پوښتنه وکړه:خان سلطان اوس چېرې ده؟
پیراحمد په اندېښمن غږ وویل: هغه د غایرخان په ماڼي کې ده. غایرخان هغه په زوره له خپل کوره وایستله او خپل ماڼي ته یې ویوړل.

بالخاش ژور آه د زړه له تل وباسل او ویې ویل: زه باید له دې پست غایرخان څخه غچ واخلم! هغه زه د سوداګرو له کاروان سره ولېږلم، ترڅو پر احمد آق سو، زما د وژلو پلان عملي کړي..

هغه خپله خنجر په هوا کې وګرځاوه او په غوسه یې وویل: زه به دا خنجر د هغه زړه ته ښکته کړم.
پیراحمد په اندېښنه وویل: مهرباني وکړه لږ آرام شه باداره، که د غایرخان جاسوسان خبر شي چې ته دلته یې، ژوندی به دې پرېنږدي. ته خپل ځان مه بربادوه، ستاسو قهر او غوسه بې ګټې ده د غایرخان وژل که اسانه وایې نو ما به مخکې له دې چې تاسو راشې، هغه وژلی وای!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش چې له قهره يې غاښونه سره کلک نيولي وو، وويل: زه ستا پشان بې زړه انسان ته اړتيا نه لرم! ته کولی شې همدا اوس لاړ شې، زه پخپله پوهېږم چې څنګه خپل غچ واخلم!

وروسته يې سر په خپلو دواړو لاسونو کې ونيو او چوپ شو، څو شېبې همداسې تېرې شوې. پيراحمد چې خپل بادار ته کتل پام يې چې د بالخاش په سترګو کې اوښکې ځلېږي...

بالخاش، چې نظر يې يو ثابت ټکی ته نيولی و، ورو وويل: خان سلطان، ګرانۍ ته اوس چيرته يې؟
بيا ناڅاپه وخندل او ويې ويل: ته به وګورې پير احمد چې زه څنګه د غايرخان څخه غچ اخلم، خان سلطان زما ده په هر قيمت چې وي، زه به يې د دې بد ذات له منګولو خلاصوم!

پير احمد په ورختای وويل: تاسو غواړئ خپل ځان ووژنئ! که د انتقام اخيستلو نيت لرئ، بايد د اترار ښار پرېږدئ. غاير خان يو ځواکمن سړی دی، او ډېر په اساني کولای شي چې تاسو د تل لپاره له منځه يوسي.
بالخاش- خو زه به له اتراره ونه وځم! همدلته بايد خپل انتقام واخلم!
پير احمد- قربان، تاسو ستړي ياست او استراحت ته اړتيا لرئ.
بالخاش- نه، زه هيڅ ستړی نه يم! سمدلاسه د خان سلطان کور ته لاړ شه او پلار ته يې خبر ورکړه چې زه دلته يم!

پير احمد- دا ليونتوب دی! د غايرخان جاسوسان به ژر خبر شي چې تاسو ښار ته راغلي ياست.

بالخاش- هر څه چې درته وايم، همغه وکړه.
پير احمد- خو تاسې دا کارونه د غوسې نه کوئ.تاسې هم ځان وژنئ او هم زه او د خان سلطان پلار وژنئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش- بزدله، ډارن! زه پخپله دا کار کوم.
بيا له ځايه پورته شو،پيراحمد وارخطا پورته شو. د کوټې په دروازه کې ودرېد او ويې ويل: نه، زارۍ درته کوم، له کوره مه وځئ.زه وعده درکوم چې ستاسې پيغام به د خان سلطان پلار ته ورسوم.

بالخاش- نو زر شه، زه بايد د خان سلطان د تښتونې کيسه د هغه له پلار نه واورم.
پير احمد له کوټې ووت او ويې ويل:تر هغې چې زه بېرته راشم، له کوره مه وځئ.
بيا زر له کوره ووت...
بالخاش د کړکۍ تر څنګ ولاړ و، د انګړ د سرو ګلابونو بوټو ته يې کتل، له ځانه سره يې وويل: بلاخره دا معما او راز حل شوه. اوس پوه شوم چې ولې غايرخان زه او احمد آق سو ته امر وکړ چې د تجارانو له قافلې سره يوځای شو. هغه غوښتل چې ما د احمد آق سو په لاس ووژني، د قتل ځای يې هم د هرسبان شرابخانه ټاکلی و...

بالخاش ته هر څه روښانه شوي وو.غايرخان غوښتل چې خان سلطان په آسانۍ سره خپل کړي، نو بالخاش ته يې ماموريت ورکړ.هغه غوښتل د بالخاش وژل يقيني کړي، نو بل چا ته يې وظيفه ورکړه چې هرسبان ته لاړ شي او د بالخاش د وژلو خبر راوړي، خو هغه سړی د سوباتای جاسوسانو وواژه او له هغه وروسته سايان هم ووژل شو.«ايلي» هم د خان سلطان د تښتولو له پېښې خبر و؟ راتلونکو پېښې به دې پوښتنې ته ځواب ورکړي.يوه خبره روښانه وه، هغه دا چې د چنګيز خان جاسوسان د دې ټولې کيسې له جزئياتو خبر وو.سوباتای سم ويلي وو؛ غاير خان د هغه د وژلو لپاره پلان جوړ کړی و.

له نيمې ورځې وروسته ناڅاپه د کور دروازه وشرنګېده او خلاصه شوه.بالخاش له کوټې د کړکۍ څخه وليدل چې د خان سلطان پلار له پيراحمد سره کور ته داخل شو.
بالخاش له کوټې ووت او د انګړ منځ ته ودرېد.د خان سلطان پلار چې بالخاش وليد،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ودرېد، لاسونه يې د غېږې ورکولو په پار وغځول او ويې ويل: زويه! ته دلته څه کوې؟

بيا يې بالخاش په غېږ کې ونيوه.
پيراحمد وويل: قربان! راځئ کوټې ته.
هغوی کوټې ته لاړل او پر فرش کښېناستل.
بالخاش وويل: پيراحمد راته هر څه تشريح کړل.
د خان سلطان پلار په کراره وويل: هو، نيمه شپه وه چې په زوره کور ته راننوتل او خان سلطان يې بوتله.

بالخاش- تاسو څه وکړل پلار؟
خان سلطان پلار- ما څه کولی شو؟ د کور د ټولو خلکو ژوند په خطر کې و.
بالخاش- بس غلي پاتې شوئ؟
خان سلطان پلار- زما او له نورو کسانو له لاسه هېڅ کار نه کېده.
بالخاش- خو زه بايد خپل انتقام واخلم.

د خان سلطان پلار چې په عمر برابر خو په اندام ډنگر سړی و، وويل: زه نه غوارم چې تا له خپلې پرېکړې راوگرځوم، خو غوارم پوه شم چې ته غواړې له کومه ځايه پيل وکړې؟که ستا حسابونه غلط شي، موږ به ټول ووژل شو. بايد له تدبير نه کار واخيستل شي.ته غواړې امير د اترار سره مخامخ شې، هغه امير چې د سلطان محمد د مور، ترکان خاتون ملاتړ ورسره دی.بايد بې له فکره اقدام ونه کړې.

بالخاش په ډاډه لهجه وويل: يقين وکړئ چې زه بې له تدبير اقدام نه کوم.
خان سلطان پلار- زويه! نو څه کوې؟
بالخاش- اجازه راکړئ، اوس به څه ونه وايم، ځکه تر اوسه نه يم پوه چې له کومه ځايه بايد پيل وکړم.
د خان سلطان پلار وويل: راځه، لږ راته خپل د ځان په اړه ووايه... د مغول خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېواد ته چې ولاړې، هلته دې څه ولیدل؟
بالخاش- جنګي او پیاوړي سرې چې هېڅ ځواک یې مقابله نشي کولی.

خان سلطان پلار- دا ډېر ډارونکې دی.
بالخاش- په دی خبره باید غایر خان پوهه شې.
خان سلطان پلار- هغه یو خودخواه او ناپوه انسان دی.
بالخاش- که د ترکان خاتون (د سلطان محمد مور) ملاتړ ورسره ونه لري، نو دی نشي کولی اترار کنټرول کړي.
د خان سلطان پلار وویل: ډېر ژر به غایر خان ستا د راتګ خبر شي.
بالخاش ورو سر وخوځاوه او ویې ویل:او شاید لا همدا اوس یې جاسوسانو خبر ورکړی وي! خو زه ډاډه یم، چې کله د سوداګرو کاروان اترار ته ورسېږي، د غایر خان جاسوسان به هڅه وکړي چې ما پیدا کړي.

پیراحمد وویل: لومړی ځای چې پلټنه به یې وکړي، دا کور او د خان سلطان کور دی.
بالخاش مسکا وکړه او ویې ویل: بې ګټې ده، ځکه زما هیڅ نښه به پیدا نکړي.
د خان سلطان پلار له ځایه پاڅېد او ویې ویل: زه باید نور ولاړ شم.
بیا یې پیراحمد ته مخ کړ او ورته ویې ویل: بیرون څارنه وکړه.
پیراحمد له کوټې ووت، او بالخاش وویل: زما د راتګ په اړه دې هېچا ته څه نه وایئ.
د خان سلطان پلار وویل: په خدای قسم، که شکنجه مې هم کړي، ستا په اړه به هیڅ خبره ونه کړم.

بالخاش د هغه لاس ښکل کړ او ویې ویل: زما ژوند دې د خان سلطان قربان شي. زه به هغه بېرته تاسو ته دروګرځوم.
د خان سلطان پلار وویل: هغه ستا ده، خو زه نه غواړم چې ته خپل ځان له خطر سره مخ کړې. خپل ځان ته پام کوه زویه!
بالخاش- یقین وکړئ، چې بیا به هم سره ووینو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو بل یې په غیږ کې ونیول.
کله چې سره بېل شول، د خان سلطان د پلار سترګې له اوښکو ډکې وې.
بالخاش وویل:پلار صبر وکړئ.
خان سلطان پلار وویل: هو، بله لار نه شته، باید صبر وکړم.

بالخاش- خو زه هم بله چاره نه لرم، باید خپل انتقام واخلم.دا ناپوه او خودخواه سړی باید خپله ځای ته کښېنوم.
د خان سلطان پلار بې له دې چې نور څه ووایي، له کوټې ووت او د حویلۍ دروازې ته لاړ.کله چې دروازې ته ورسېد، پیراحمد ته یې وویل: زه وتلی شم؟
پیراحمد چې د دروازې په منځ کې ولاړ و، لږ شاته شو او ویې ویل: مهربانۍ څوک نشته...

د خان سلطان پلار په بیړه د بالخاش له کوره ووت او ژر له هغه ځایه لاړ.
هغه ورځ تیره شوه.بالخاش یو شیبه هم د خان سلطان له فکره او د غایر خان له انتقامه ونه وت.هغه خپل ځان د هغو خونړیو پېښو لپاره تیار کړی و، چې یا به پکې بریالی کېده یا به یې سر بایله.شپه نیمه شوې وه چې د بالخاش د کور دروازه وټکول شوه.

پیراحمد له وېرې له خوبه راویښ شو او ځان یې د بالخاش د کوټې دروازې ته ورساوه.هغه ورو دروازه وټکوله.
بالخاش له کوټې نه وویل: ما هم د دروازې ټک واورېده، لاړ شه وګوره دا څوک دی چې د شپې په نیمایي کې مزاحم شوی؟
پیر احمد- شاید د غایر خان خلک وي؟
بالخاش- شاید خو مهمه نه ده، زما فکر مه کوه.
پیراحمد- تاسو ځان پټ کړئ، زه به ورشم دروازه خلاصه کړم.
بالخاش- خپل پوهیږم ته ورشه دروازه خلاصه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیراحمد چې سخت وېرېدلی و، د کور دروازې ته روان شو.د دهلیز څراغ یې له دیواله واخیست او په رپېدونکو قدمونو د دروازې خوا ته ورغی. کله چې دروازې ته ورسېد، څو شیبې ودرېد، بیا یې پوښتنه وکړه: څوک یې؟

- مه وېرېږئ! دروازه خلاصه کړئ!

- څه غواړئ؟

- دروازه خلاصه کړئ، پیراحمد، موږ ستاسې دوستان یو!

پیراحمد په شکمن حالت لاس په دروازه کېښود، نه پوهېده څه وکړي؟دروازه خلاصه کړي که بېرته بالخاش ته ولاړ شي؟

یاد ته یې راغلل چې بالخاش ورته ویلي و دروازه خلاصه کړه.د دروازې له شا نه د یو سړي غږ راغی چې هغه یې په نوم یاداوه، خو دا غږ پیراحمد ته نابلده و.غوښتل یې بېرته ولاړ شي او بالخاش ته یې ووایي، خو هماغه غږ بیا راغی: پیراحمد! ولې ولاړ یې؟ موږ ستا او ستا د بادار دوستان یو. باور وکړه چې نه تا وژنو نه هغه. موږ پوهیږو چې بالخاش راغلی او اوس په خپل کور کې پټ دی. دروازه خلاصه کړه، زه ورسره خبرې لرم!

پیراحمد وویل:خو زه مو نه پېژنم، نوم مو ووایاست چې بالخاش ته یې ووایم، کېدای شي هغه مو وپېژني.

سړي وویل: بالخاش ته ووایه موږ له "هرسبان" راغلي یو، او "ایلي" پیغام درلیږلی دی.

پیر احمد- صبر وکړئ، زه به بېرته درشم!

- زر شه!

پیراحمد په منډه ځان بالخاش ته ورساوه او هر څه یې ورته وویل.

بالخاش چې د "ایلي" نوم واورېد، سمدلاسه یې وویل: ژر دروازه ورته خلاصه کړه او ورته ووایه چې د دروازې څنګ کوټه کې دې انتظار باسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیراحمد بېرته لاړ، خو لا هم داړه نه و،دروازه یې خلاصه کړه، څراغ یې پورته ونیو کله چې نظر یې په دوو مغولي څېرو ولګیده، یو دم یې زړه ولړزېد.
پیر احمد- تاسو څوک یاست؟
هغه سړي چې مخکې ولاړ و، نرمه موسکا وکړه: ومې ویل کنه موږ له "هرسبان" راغلي یو!
پیر احمد- تاسو دروغ وایاست!
- بالخاش چیرته دی؟
پیراحمد مخکې لاړ، هغه خونه یې پرانیسته چې دهلیز ته خلاصېده، څراغ یې دننه یووړ او ورته ویې ویل: ننوزئ!

هغه دواړه مغول دننه شول. پیراحمد ژر ځان بالخاش ته ورساوه، چې همدا شیبه خپلې جامې بدلولې.
بالخاش- هان پیراحمد! ناخوانده مېلمانه دې وپېژندل؟
پیر احمد- هو قربان، یوازې له څېرو مې وپېژندل!
بالخاش- دا څه مانا؟
پیر احمد- دواړه مغولان دي!
بالخاش- مغول؟

پیر احمد- هو د دروازی څنګ کوټه کې منتظر دي.
بالخاش لږ وخندل او ویې ویل: شاید غلط شوې اوسیږی د شپې په دې وخت کې د اترار ښار کې او زما کور کې دوه مغول؟ دا ډېر جالب دی!
پیراحمد وارخطا وویل: قربان، باور وکړه چې غلط نه یم، د هغوی له څېرو هر څه ښکاري، زه یې ښه پېژنم!
بالخاش په ارامه وویل: کېدای شي له مغولي سوداګرانو وی،. اوس به پوه شو چې ما سره څه کار لري!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش نور هغه پخوانی بالخاش نه و، اوس يې مغولانو ته له بل نظره کتل.
پیراحمد فکر کاوه چې بادار به يې د مغولانو د نوم په اورېدو حیران شي، خو داسې ونه شول، لکه چې بالخاش يې تمه درلوده.
پیراحمد وپوښتل: دوی له تاسو سره څه کار لري؟
بالخاش وخندل: دا باید له دوی وپوښتم! دا دوزخي خلک عجیب دي! ته خو هغوی نه پېژنې. اوس لاړ شه، د دروازې خارنه وکړه، کوڅه هم وګوره!

بالخاش له ځانه سره وویل: خامخا سوباتای خپل د يو جاسوس سره راغلې، باور مې نه کیږی دومره زړور انسان؟!

څو شېبې وروسته چې پیراحمد بېرون راووته، بالخاش هم نېغ د هغې خونې پر لور لاړ چې مغولان پکې منتظر وو. د دروازې مخې ته څو شېبې ودرېد، بیا يې ورو دروازه پرانیسته او دننه شو. چې دواړه مغولان يې ولیدل، يو دم يې زړه ولړزېد، ځکه يو يې هم ورته اشنا نه ښکارېدل.
بالخاش- تاسو څوک یاست؟
هغه منځنی ونه لرونکی سړی، چې له څهری زیات ډارونکي ښکاریده په نرۍ موسکا وویل: موږ ستاسې دوستان يو، البته باید ومنم چې مخکې له دی مو ملاقات نه دی سره کړی، راشئ کښېنئ!

بالخاش په هماغه شکمن لهجه وویل: خو باید پوه شم چې له ما سره څه کار لرئ؟
هغه سړي په نرم لهجه وویل: زه «چپه نویان» یم، دا بل زما ملګری دی، زما د سربازانو څخه.
بالخاش حیران شو: چپه نویان!؟ دا نوم مې هېڅ نه دی اورېدلی.
چپه نویان په همغه نرۍ مسکا وویل: سوباتای نوم څنګه؟ هغه خو به دې اورېدلی وي؟
بالخاش- هغه تاسو دلته رالېږلي یاست؟
چپه نویان- هو، همداسې ده زه د سوباتای ملګری او همکار یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش په تونده لهجه وویل: دوه چټل جاسوسان!
چپه نویان په کلک وخندل او ویې ویل: آرامه اوسه! موږ ستا کور ته د دوستۍ لپاره راغلي یو.
بالخاش- په دی نیمه شپه زما سره څه کار لری؟ چې زما خوب مو را خراب کړو؟
چپه نویان- بخښنه کوه نو چې ستا خوب کې مزاحمت وشو خو بل چاره نه وه.
بالخاش- خبره دی وکړه ولې راغلې یاست؟

چپه نویان- تا به خامخا د خان سلطان د تښتولو کیسه اورېدلې وي؟ اوس خو دا هم پوهېږئ چې غایر خان ستا د وژلو پلان درلود. که هغه خبر شي چې ته اترار ته راغلی یې، نو له هر ډول چل ول به کار واخلي چې تا په دام کې راګیر کړي. ته خپله پوهېږې چې غایر خان څومره کینه ای سرې دی.

بالخاش د دروازې څنګ ته کښېناست، چپه نویان هم خپلې ځای خواته لاړ او تکیه ورکړه.
بالخاش وویل: تاسو یوازې د همدی خبری د ویلو لپاره دلته راغلی یاست؟
چپه نویان په زیرکانه خندا وویل: ته یو زړور او بې باکه ځوان یې، بالخاش! خو هسې نه دا ستا په ذهن کې راشي چې د خان سلطان د ژغورلو لپاره د غایر خان ماڼې ته ورننوزې! که داسې احمقانه کار وکړې، نو ژوندی به ترې بېرون رانشې!

بالخاش په غوصه وویل: ته ډېر تند لهجه او بې ادبانه خبرې کوې!
چپه نویان په خندا وویل: خو زه ستا دوست یم او مجبور یم واضح درسره وغږېږم.
بالخاش په کلک لهجه وویل:خو زه داسې دوست ته هیڅ اړتیا نه لرم!
چپه نویان په آرامه خندا وویل: زه او سوباتای به لا هم انتظار وباسو، ځکه موږ باوري یو چې ته به ډېر ژر زموږ وړاندیز ومنې. ځکه دا ستا د ژوندي پاتې کېدو یوازینۍ لار ده، چې له موږ سره کار وکړې.
بالخاش په کلکه وویل: زه مرګ ته تیار یم، خو له تاسو او سوباتای سره کار کولو ته نه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

چپه نویان یو نری موسکا وکړه: زړور ځوان یې!
بالخاش- نور څه ویلو ته نه لرئ؟
چپه نویان- نه، خو زما خبرې مه هېروه!
بالخاش- زه پخپله پوهېږم چې څه وکړم.
چپه نویان وویل: که پوهېدې، بیا به خپل کور ته نه وې راغلی! لا هم ناوخته نه ده، که غواړې، له موږ سره به ولاړ شې.

چپه نویان او ملګری یې له ځایه پورته شول. بالخاش هم ودرېد. د مغول خان لوی جاسوس د دروازې خوا ته لاړ، کله چې د بالخاش مخې ته ورسید نو ودرېد، او ورته ویې ویل: خان سلطان د غایر خان په ماڼې کې ده هڅه مه کوه چې د خلاصون لپاره یې ماڼې ته ننوځې. زه نور څه د ویلو لپاره نلرم.

دا یې وویل او له خپل ملګري سره بهر ووت. بالخاش یې پسې ونه خوځېد. هلته ولاړ و چې د پیراحمد غږ یې واورېد: دا سوداګران تلای شي؟
بالخاش له کوټې نه په لوړ غږ وویل: هو، پرېږده چې ولاړ شي!
یوه شیبه وروسته، د دروازې خلاصولو غږ راغی. خو بالخاش د خان سلطان په فکر کې ډوب و. د مغول خان د لوی جاسوس خبرې، پر ځای د دې چې د خان سلطان د ژغورلو له فکره وباسي، دا هوډ یې نور هم پیاوړی کړ. له ځان سره یې وویل: په هره بیه چې وي، زه باید خان سلطان د غایرخان د ماڼې څخه وژغورم!

بالخاش د امیر اترار ماڼې ته د دننه کېدلو لارې ډېرې ښه پېژندلې.
پیر احمد- قربان، تاسې ښه یاست؟
بالخاش- هو، ته اوس ویده شه!
پیراحمد احساس کړه چې بالخاش بشپړ بدل شوی. هلته د دروازې ترڅنګ ودرېد.
څو دقیقې وروسته بالخاش له کوټې راووت. د پیراحمد په لیدو یې وویل: ته لا هم دلته یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیر احمد- هو، ستاسې په انتظار وم، هغوی ستاسو سره څه کار درلود؟
بالخاش- ته باید پوه شې؟

پیر احمد- آخر زه نه غواړم خپل بادار داسې غمجن ووینم.
بالخاش- د خان سلطان فکر مې آرامه نه پرېږدي!
پیر احمد- خو تاسې باید هغه هېره کړئ!
بالخاش- هېر؟ نه، هیڅکله هم نه،زه به یې هرومرو بېرته خپل ځان ته راوړم! اوس ولاړ شه ویده شه!

څو شېبې وروسته، د بالخاش کور په ژور سکوت کې ډوب شو...
بالخاش پرېکړه وکړه چې د راتلونکې شپې په تیاره کې به د امیر اترار ماڼۍ ته ننوځي.

***

د اترار ښار، د غایر خان مرکز، د شپې په چوپتیا کې ډوب و. د دې ښار په یوه کوڅه کې یو هوډمن سړی چې د خپلې تېرې تورې لاستي یې په مټه کې کلک نیولې وه، د دیوالونو ترخنګ چټک ګامونه اخېستل. کله چې به یې د شپې د ساتونکو قدمونه واورېدل، ځان به یې دیوال ته ورنږدې کړ، او کله به یې چې احساس کړه خطر تېر شو، نو بیا به یې خپله لار ته دوام ورکړ. دا ځوان سړی بالخاش و، هغه چې د خان سلطان د ژغورلو لپاره، هغه نجلۍ چې زړه یې ورپورې تړلی و، خپل ځان یې له خطر سره مخ کړی و.

هغه نیت درلود چې د شپې په دې ناوخته ساعت کې د امیر اترار ماڼۍ ته داخل شي او خان سلطان وژغوري،دا یو پردی سړی نه و. د ښار له تنګو کوڅو سره ښه بلد و او ښه پوهېده چې له کومې لارې کولی شي ځان د غایر خان ماڼۍ ته ورسوي.تر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې چې له کوره ووځي د خان سلطان پلار او پیراحمد ډېر کوښښ وکړ چې له دې کاره یې منع کړي. خو بالخاش، دا زړور او بېباک ځوان، د دوی خبرو ته هيڅ ارزښت ورنه کړ. هغه یواځې یو هدف درلود: خان سلطان د غایر خان له ماڼي څخه ژغورل.هیڅ ځواک نشو کولی هغه له خپلې پرېکړې راوګرځوي.کله چې د "قره سو" کوچنۍ کوځې ته ورسېد، ناڅاپه د شپې د ساتونکو د پښو غږ چوپتیا ماته کړه.

بالخاش په بیړه ځان دیوال ته ورنږدې کړ او سترګې یې د کوځې سر ته خښې کړې. لږه شېبه نه وه تېره چې د ساتونکو د مشعلونو رڼا د کوځې فضا روښانه کړه. یوه نرۍ ویره د بالخاش زړه ته لوېدلې وه،بالخاش کوځې ته داخل شو، احساس یې وکړ چې خطر ورنږدې کیږي. هغه شا ته وکتل د کوم لارې څخه چې راغلی و، او بیا یې د کوځې سر ته پام شو. د شپې ګرزیدونکي ساتونکو خبرې یې واوریدې، لږ وروسته یې دوی د کوځې په سر کې ولیدل.

شپې ګرزیدونکي ساتونکي هلته ودرېدل. بالخاش د ویرې خپله ساه بنده کړه، د خولې څاڅکې یې پر تندي او مخ ولاړې وې. له ځانه سره یې وویل: که دوی دیخوا راشي، زه به دواړه ووژنم.

دا ډېر خطرناک شېبې وې. ناڅاپه، دوه شپې ګرزیدونکي ساتونکو هغې کوځې ته داخل شول، چې بالخاش په منځ کې پټ و. دوی په درنو ګامونو راروان وو، خطر هره لحظه نږدې کېده. بالخاش لا هم د خپلې توري لاستی کلک نیولی و او سترګې یې پر هغه دو خښ کړې وه. په ګډو وډو فکرونو کې یې د خلاصون لاره لټوله یا به خپل د پټنځای څخه وځي او تښتي به یا به همدلته پاتې کیږي او د دوی دواړو سره جګړه کوی. ډېر وخت نه و، باید یو انتخاب یې کړی وای. بالاخره، هغه د لومړۍ لارې پرېکړه وکړه او ناڅاپه په همغه لاره یې منډه کړل چې راغلې وو.

شپې ګرزیدونکي ساتونکو یو څو شیبې حیران ودرېدل، بیا ناڅاپه یو یې چغه کړه: ودریږه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو بالخاش لا هم منډې وهلې. کوځه تنګه او اوږده وه. ساتونکو خپلې توري له تېکو را وایستې او د ده پسې یې منډې کړې. هغه ساتونکي چې مشعل یې په لاس کې و، د بل نه مخکې و، او د "ودریږه" چغې یې د کوځې چوپتیا او ارامي ماتوله.بالخاش په منډه و، ساه یې لنډه لنډه اخېسته. له ځانه سره یې وویل: "که د دوی چغې د نورو ساتونکو غوږونو ته ورسیږي، بیا به ټولې لارې را باندې بندې شي.هغه یوه داسې ځای ته ورسید، چیرې چې دوه کوځې سره نښلول شوې وې.

بالخاش ژر ښي اړخ ته وګرځېد او د یو دېوال تر شا ودرېد د ساتونکو د درنو ګامونو اوازونه، چې چټک راتلل، لا پسې نږدې کېدل. کله چې د مشعل رڼا ځای روښانه کړ، بالخاش د برید لپاره چمتو شو. د تېښتې پر مهال یې د دواړو له منځه ورلو نقشه جوړه کړې وه.هغه د کوځې په اول سر کې، د دېوال تر شا پټ و. لومړنی ساتونکي چې مشعل یې نیولی و، چټک راغی. بالخاش د فرصت نه استفاده وکړه، پښه یې د هغه مخې ته کیښوده. ساتونکي خپل تعادل له لاسه ورکړ، مخامخ پر ځمکه ولوېد، او مشعل یې له لاسه وغورځېد.

بالخاش په بې ساري چټکتیا ځان مشعل ته ورساوه، پورته یې کړ، او په دویم ساتونکي یې برید وکړ.
بالخاش- وسله وغورځوه او تسلیم شه!
ساتونکي یو ګام شاته واخیست او په غوسه یې وویل: ته څوک یې؟ توره او مشعل وغورځوه او ځان تسلیم کړه!
بالخاش وخندل او ویې ویل: خپل وخت ضایع کوې، احمقه!

بیا یې ناڅاپه برید وکړ. ساتونکي د مشعل له وېرې یو ځل بیا شاته ولاړ. بالخاش هغه داسې حالت ته راوست، چې شا یې دېوال ته و. په همدې حال کې، بالخاش پام هغه بل ساتونکي ته هم وه چې پرځمکه غورځېدلې وو، هغه ساتونکي چې پر ځمکه غورځېدلې وو له ځمکې را پورته شو، ترڅو خپل د ملګري سره مرسته وکړي. د بالخاش پام هم هغه ته وشو. بالخاش پر خپلو قوي لاسونو او د مشعل پر رڼا باور

(c) ketabton.com: The Digital Library

درلود. کله چې دویم ساتونکي پرې راودانګل، بالخاش په ناڅاپي حرکت مشعل د هغه مخ ته وروغورځاوه. ساتونکي د ویرې نه غړ کړ، لاسونه یې د سوځیدلي مخ پوښلو ته ونیول، او پر ځمکه راوغورځېد.

بالخاش لومړي ساتونکي ته چې د دیوال سره جوخت ولاړ و وویل: اوس ستا وار دی، چې د وینو ککړ جسد دې د ملګري تر څنګ واچوم.
ساتونکي چې خپل د ملګري د بد حالت په لیدو غوسه ورغلې وه په قهر یې وویل: فکر مه کوه چې زما نه به وتښتي!
بالخاش په کینې او غوسه وویل: احمقه! لا هم چانس لرې، که خپل ژوند غواړې، وتښته. خو نه، ته باید ووژل شې!
ساتونکي سره له دې چې پوهیدو، مقابل لوری یې پیاوړی حریف دی، بیا هم د احمقانه زړورتیا له مخې، د هغه د وژلو هڅه کوله.په همدې حال کې، د سوځیدلي ساتونکي ناری د کوټې آرامتیا له منځه یووړه. خو د سیمې خلکو کې هېچا دا جرئت نه درلود، چې د خپل کور دروازه خلاصه کړي.

بالخاش ځان قصداً شاته کش کړ، داسې یې وښوده لکه مقاومت نشي کولای.
ساتونکي چې دا ولیدل، زړه یې غټ شو او په چټکۍ سره یې د بالخاش د وژلو هڅه وکړه بالخاش چې دېوال ته یې شا ورنږدې شوه، په آرامۍ یې بریدونه تم کول او ناڅاپه، هغه خپله ځانګړې تاکتیکي تګلاره وکاروله. یو دم یې ځان غاړې ته کړ، د ساوتکي توره د دېوال سره ولګید. دا تر ټولو ښه فرصت و! بالخاش خپل تورې د هغه په اړخ ور ننه ایستله. د ساتونکي د درد نه فریاد وکړ. بالخاش خپل توره بېرته راویست. ساتونکي د هغه خواته راوګرځېده دوه درې ګامه وړاندې واخیستل، خو نور یې نشوای زغملای توره یې له لاسه وغورځېده او په پای کې پر ځمکه ولوېد.

د هغه غړ ورو ورو کمزوري کېده، بالخاش وخندل او له ځانه سره یې وویل: غایرخان باید پوه شي چې بالخاش څوک دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په چټکو ګامونو روان شو، توره لا هم په لاس کې وه، احتیاط یې نه پرېښود.
هغه غوښتل چې د سهار رڼا دمخه خان سلطان د امیر اترار د ماڼي څخه وباسي.
عجیب ځواک یې پیدا کړې وو، داسې چې د هېچا څخه یې ویره نه درلود، نه د غایر خان د ساتونکو څخه او نه هم پخپله د غایر خان څخه.نیمه شپه وه چې ماڼي ته ورسېد. د غایر خان د ښځو حرمسرا د ماڼي ترشا و، او هلته د رسېدو لپاره ګڼې لارې موجودې وې. خو د قصر او حرمسرای ساتونکي شپه او ورځ په ساتنه ولاړ وو.بالخاش د حرمسرای ته د ننوتلو لپاره د طویلي بام غوره کړ، ځکه هلته خطر لږ و.

د اسونو طویله د یوې پراخې کوڅې په پای کې و. بالخاش، چې شا یې دیوال ته نږدې نیولې وه او شاوخوا یې څارله، مخکې لاړ. د کوڅې سر ته چې ورسېد، یو ساتونکی یې ولید چې د مشعل تر څنګ ولاړ و. له ځانه سره یې وویل: دا خامخا زما له سرتېرو څخه دی. له دې ځایه به په اسانه تېر شم. هغه خپله توره په غلاف کېښوده او عادي بڼه یې غوره کړه، بیا یې د کوڅې لور ته ګامونه واخیستل.

- ودرېږه! ته څوک یې؟
دا د ساتونکي غږ و چې بالخاش ته یې د درېدو امر وکړ.
بالخاش په پیاوړي غږ وویل: یو آشنا!
ساتونکي وپوښتل: د شپې نښه ووایه!
"دا یو رقم کوډ دی د لفظ په شکل چې د هغه پر اثاث دوی پوهېږي چې مقابل لوری خپل دی که دښمن؟ "
بالخاش ورغبرګه کړه: راته را نږدې شه، زه د لرې ځایه راغلی یم او د غایرخان لپاره مهم پیغام لرم. د شپې نښه هم نه پوهېږم.
- له کومه ځایه راغلی یې؟
بالخاش- د هرسبان څخه.

ساتونکی ورو ورو د بالخاش خواته نږدې شو، کله چې څو قدمی کې ورسیده نو بالخاش یې وپېژانده او ویې ویل: بالخاش! تاسو په دی وخت ښاغلی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش وخندل او ويې ويل: هو، زه يم.
- راځې چې زه تاسو د محافظينو مشر ته بوځم.
بالخاش- نه، اړتيا نشته!
ساتونکی حيران شو: ولې؟ ايا تاسو نه غواړې چې خپل پيغام امير ته ورسوې؟

بالخاش ناڅاپه، په تيز حرکت سره، د ساتونکي تر ستوني خنجر کېښود او وخندل: اوس د شپې نښه راته ووايه!
ساتونکی وارخطا شو، په مات غږ يې وويل: ته پوهېږې چې څه کوې؟
بالخاش په سړه لهجه وويل: هو ښه پوهېږم، وخت مه تېره وه د شپې نښه ووايه!
ساتونکی په ويره وويل: که ډاډ راکړې چې ما نه وژنې نو درته وايم!
بالخاش په چالاکې وويل: ته په امان کې يې ووايه!
- شين ګوتمه!
بالخاش- باوري يې چې همدا نښه ده؟
- هو، جناب، که دا ووايې، نو قصر ته داخلېدای شې!

بالخاش لږ سوچ وکړ، بيا ناڅاپه خنجر يې د ساتونکي ستوني ته ننويست او ستونی ورته څېری کړو د هغه د څيری شوی ستونې څخه خپ غږ راووت خو بالخاش وخت ورنکړو او په پښه يې ووهه او پر ځمکه يې وغورځاوه. له دې وروسته، چټک د کوڅې لور ته لاړ، چېرته چې هيڅ ساتونکی نه و.

بالخاش د طويلی ديوال ته وخوت، بام ته ورسېد او د حرمسرای دننه يې وکتل. د ځينې کوټو د کړکۍ څخه روښانې راتلل هغه له ځان سره وويل: هرومرو خان سلطان د همدې خونو په يوه کې ويښه ناسته وي ترڅو زه هغه وژغورم.

هغه د يو غټ ونې له څانګو ځان ښکته کړ. سره له دې چې زړور سړی و، خو بيا هم زړه يې په ټکان و. پوهېده چې ځان خطر ته اچوي، چې پايله يې يا مرګ دی يا بريا. هغه دا فکر کاوه که ونيول شی څه کار به ورسره وکړی؟ دا فکر د هغه زړه کې لږ ويره پيدا کول، د ديوال څنګ کې ولاړ وو او فکر يې کاوه چې د کوم خوا څخه ولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي؟ خپل پر لستوڼي خپل د تندی خوله پاکه کړه او روان شو، کوم لاره چې هغه ټاکلې وه د ونو ترمنځ تېرېده او د حرمسرای مخي ته وتل. باغ په یو دروند او هیبتناکه چوپتیا کې ډوب وو.

هغه سړی چې خان سلطان یې په زوره خپل ماڼي ته راوړی وه په همدی حرمسرای کی خپل د یوی ښځې څنګ کې په بیغمه خوب ویده وو، که څه هم بالخاش د هغه ځای چاپیریال سره بلد وو خو د هغه وېره له دی وه چې د شپی نښه"شین ګوتمه" و نه اوسیږی! د ونو د منځ څخه چې تېر شو د یو ساتونکی غږ چې د حرمسرای مخي ته ولاړ وو هغه ځای پر ځای و درو، ساتونکي مخ ته راغی او ویې پوښتل: ته څوک یې؟ مه خوځېږه.
بالخاش په لوړ غږ وویل: آشنا یم!
- د شپې نښه؟
بالخاش- شین ګوتمه!

ساتونکي اجازه ورکړه چې تېر شي، بالخاش په چټک ګامونو د حرمسرای خواته روان شو چې همغه ساتونکي یو ځل بیا ورباندی غږ کړل او ویې پوښتل: له کومه راغلی یې؟
بالخاش ته د ساتونکي غږ آشنا ښکاره شو ودرېد او وویل: زه د امیر اترار لپاره مهم پیغام لرم!
- خو ته حرمسرای ته د ننوتلو اجازه نه لرې، همدلته صبر وکړه ترڅو زه د حرمسرای مشر ساوتونکي ته خبر ورکړم!

بالخاش وخندل: نو ژر شه، ملګریه!
ساتونکی ور نږدې شو، ترڅو دا په نیمه شپه کې راغلی کس وپېژنی چې څوک دی؟ کله چې یې وپېژانده، حیران شو: تاسو بالخاش!
بالخاش وخندل، خپل لاس یې د ساتونکي پر اوږه کېښود او ویې ویل: زه له لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځایه راغلی یم او باید خامخا غایرخان ووینم.
- د شپې نښه چا تاسو ته وښودل؟

بالخاش- د ماښي مخي ته چې کوم سرتیرى وو.
ساتونکي- نو اجازه راکړې ترڅو مشر ساتونکي ته خبر ورکړم.
بالخاش- نه، اړتیا نشته. ته لاړ شه، زه به یې خپله ووینم.
ساتونکي وپوښتل: ایا د چنګیز خان څخه مو کوم پیغام راوړی؟
بالخاش- هو، ملګریه.
ساتونکي ځان شاته کش کړ او ویې ویل: د حرم سرا د ساتونکو مشر خونه د ماڼۍ ترشا ده، که غواړې زه درسره ولاړ شم؟

بالخاش په جدي او کلک غږ وویل: ته د خدمت حال کې یې او یو سرتیری هېڅکله نه باید خپل د خدمت ځای پریږدی.

د دې خبرور وروسته روان شو چې د حرم سرا د مشر ساتونکي خونې ته لاړ شي، خو کله چې د ماڼۍ شاته تاو شو، د دیوال تر سیوري لاندې پټ شو. غوښتل یې ډاډه شي چې ساتونکی پرې شک نه کوي. ولیدل چې ساتونکی د ماڼۍ مخې ته قدم وهي، نو زړه یې ډاډه شو.یوه شېبه یې فکر وکړ چې څه وکړي؟ بیا یې وریاد شول چې د حرم سرای شاته بله دروازه هم شته. په چټکۍ او احتیاط سره د مشر ساتونکي له خونې تیر شو. د خونې څراغ روښانه و، او ښکاره وه چې لا تر اوسه نه وو ویده شوی له ځانه سره یې وویل:

باید تر دې مخکې چې ساتونکي زما په نیت پوه شي، خان سلطان له دې زندانه خلاص کړم.

کله چې د ماڼۍ شاته ورسید، نو نظر یې په یو ساتونکي ولګېد دلته یې نو کوم بهانه او چل نشو کولې مجبور و مخامخ ورسره مخ شي، ورو ورو د هغه لوري ته ورغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناځاپه ساتونکي شا ته وکتل، خو له دې مخکې چې غږ پورته کړي، بالخاش پرې ور ودانګل. دواړه پر ځمکه ولویدل.

بالخاش د ساتونکي ستونی په خپلو قوي ګوتو کلک ونیو، غږ یې په ستوني کې بند شو. بیا یې د هغه سر څو ځله پر ځمکه وواهه، ترڅو چې ډاډه شو هغه بې سده شوی دی. کله چې یقیني شو چې ساتونکی نیمه بېسده دی، د یوه نږدې ونې تر څنګ یې کش کړ. وروسته یې د ماڼۍ لور ته وکتل، په بیړه یې ځان دروازې ته ورساوه. غوښتل یې دروازه وازمايي، خو ویې لیدل چې لا دمخه خلاصه ده. ورو یې خلاصه کړه او دننه ولاړ.

هلته یو عجیب سکوت خپور و. څراغونه بل و، خو د حرم سرای دروند سکوت وېرونکې فضا رامنځته کړې وه.بالخاش شاوخوا وکتل، نه پوهېده له کومه باید پیل وکړي. پوهېده که کوچنی غږ هم پورته شي، ژوند به یې له خطر سره مخ شي. یو دم پرېکړه یې وکړه چې که څوک یې مخه ونیسي، له توره به کار اخلي.

مخکې یې یو پراخ دهلیز ولید، چې دواړو غاړو ته یې څراغونه نصب وو. یو خاص بوی یې احساس کړ. څو قدمه وړاندې ولاړ، د یوې خونې مخې ته ودرېد. حیران و چې څه وکړي. ناځاپه بېرته راوګرځېد او له ماڼۍ څخه ووت.

له ځانه سره یې وویل: باید د ساتونکو مشر راګیر کړم! هغه یوازینی کس دی چې کولای شي ما د خان سلطان خونې ته ورسوي. د ساتونکو مشر د خونې څراغ لا هم بل و. ور روان شو، ورو یې دروازه وټکوله.

له دننه د یو سړي غږ راغی: څوک یې؟
بالخاش- زه یم د ياتونکو له ډلې څخه!

د ساتونکو ډلې مشر چې تازه یې بستر ته ځان اچولی و، راپاځېد. څراغ یې لا روښانه و. دروازه یې خلاصه کړه، خو ناځاپه د بالخاش د توري څوکه یې پر سینه ولګېده، او هغه یې بېرته کوټې ته دننه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساتونکي مشر چې له وېرې يې غږ لړزېده، وویل: ته... ته بالخاش نه یې؟"
بالخاش، چې تازه یې پښه د کوټې دننه ایښې وه، وویل: هو، زه خپله یم، زوړ سړی!
د ساتونکو مشر وپوښتل: ته دلته څه کوې؟
بالخاش- د دې پوښتنې په ځواب ته ښه پوهېږې،چې ما ولې خپل ژوند له خطر سره مخ کړی؟!
- زما څخه څه غواړې؟
بالخاش د ساتونکو مشر ته نږدې شو، شا یې دیوال ته ولګول او په جدي غږ یې وپوښتل: خان سلطان چېرې ده؟

د ساتونکو مشر چې له وېرې یې رنګ الوتی و، وویل: زه... زه نه پوهېږم، باور وکړه!
بالخاش توره لږ ورنژدې کړه. د ساتونکو مشر د درد احساس وکړ، وېرېدلی یې وویل: څه کوې؟
بالخاش په سړه سینه وویل: غواړم تا ووژنم.
د ساتونکو مشر چې له وېرې یې زنګونونه لړزېدل، وویل: نه... ته دا کار نشې کولی!
بالخاش- ولې نه؟ ډېر اسانه کار دی، که ځواب دې را نه کړ، د تورې څوکه به دې زړه ته ننباسم.

د ساتونکو مشر چې له وېرې یې خوله وچه شوې وه، وویل: ته خپل ځان مرګ ته ورکوې، ستا دا کار لېونتوب دی زما خبره واوره په کوم لاره چې راغلې یې په هماغه لاره بېرته لاړ شه.
بالخاش په پوسخند وویل:زه باید ډېر پخوا وژل شوی وای، خو ګوری چې لا ژوندی یم نو وخت مه ضایع کوه، خان سلطان چېرې ده؟

د ساتونکو مشر چې غږ یې لړزېده وویل: ته نشې کولی خان سلطان له دې ځایه وباسې!
بالخاش- مطلب پوهیږې چې هغه چېرته ده؟
- هو، زه پوهیږم. خو ته باید خپل د ځان په اړه فکر وکړې، د خان سلطان فکر له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذهنه وباسه.
بالخاش- دا خبرې به دې غایر خان ته کړې وای، ممکن هغه منلی وای.
- ته لیونی یې! که ساتونکي تا ونیسي، ټوټه ټوټه به دې کړي.

بالخاش- کوم ساتونکي؟ ټول ما پېژني آیا نه ویني؟ چې زه ستا تر کوټې راغلې یم.
- تر یوه حده به ستا خبره مني خو هغوي هېڅکله د غایر خان له حکم څخه سر غړونه نشي کولی.
بالخاش- بالآخره، وایې چې خان سلطان چېرته ده او که نه؟
- هو، البته وایم. لږ صبر وکړه...

زوړ ساتونکي هڅه وکړه چې بالخاش له خپل تصمیم څخه را وګرځوي، خو بالخاش چې پرته له خان سلطان بل هېڅ فکر نه کاوه، له قهر او کینې ډک وخندل او زوړ سړي ته یې وویل: لکه چې ته نه غواړې د سبا لمر ووینې!
د ساتونکو مشر وېرېدلی شو او ویې ویل: سمده اوس وایم! خان سلطان نن شپه د امیر اترار په کوټه کې ده ...

بالخاش چې دا خبره واورېده، د هغه د غاړې رګونه وپړسېدل، څېره یې د وینې له قهره سره شوه، داسې احساس یې وکړ چې کوټه یې د سر شاوخوا تاوېږي، یو وحشي حالت یې پیدا کړ، غاښونه یې سره کلک کړل او ویې ویل: اممم دا خو بیخې ښه شو اوس به زه غایر خان ووژنم او بستر به یې د هغه په وینه سره کړم!
د ساتونکو مشر ورته وویل: اوس لاړ شه، او خپل ځان مرګ ته ورکړه.
بالخاش له قهره وخندل او ویې ویل: دواړه به یو ځای لاړشو!
- خو ما خو درته وویل چې خان سلطان چېرته ده؟ که کولای شې، لاړ شه او وژغوره یې!

بالخاش په کلکه وویل: ته هم له ما سره ځې! حرکت وکړه.
- نه! ما پرېږده!
بالخاش- حرم سرا ته د ننوتلو لپاره ستا شتون ته اړتیا لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د هغه د کمیس یخن ونیو او د کوټې دروازې خواته یې ټیله کړو، خپله توره یې غلاف کړه او خپل خنجر یې کلک لاسونو کې ونیو او هغه ته یې وویل: که غږ دې پورته کړ، دا خنجر به دې په زړه ننباسم! نو هغه وکړه چې خاموش اووسې!

دواړه له کوټې ووتل او د حرم سرای د ودانۍ په لور روان شول. د ساتونکو مشر غوښتل له هغه دروازې ننوځي کوم چې ساتونکي لري خو بالخاش ورته وویل:
کوښښ مکوه چې ما ته چل راکړې له ما سره راځه له دیخوا.

زاړه سړی لکه یو کوچنی چرګ و چې د عقاب په منګولو کې راګیر شوی وي. هغه لړزېده. زنګونونه یې دومره طاقت نه درلود چې خپله ځان پر ځای ودرولي شي، پښې یې پر ځمکه کشېدلې بالخاش هغه د اوږو څخه نیولی و.کله چې دوی ودانۍ ته ورسېدل،دساتونکی مشر په حیرت سره وویل: ساتونکی چیرته دی؟
بالخاش چې له غصې سره خندل وویل: د هغه غم مه کوه، د هغه ونې لاندې ارام کوي.

- نو تا هغه وژلي؟
بالخاش- نه یوازې بې هوشه شوی دی، ښایي مړ شوی هم اوسیږي نه یم خبر!
ساتونکی په ارامه سره د شونډي لاندی یو څه وویل کله چې بالخاش وپوښتل: څه وایې؟
ساتونکی وویل: دعا کوم.

بالخاش هغه ته اشاره وکړه دواړه د زینو څخه پورته شول، او ودانۍ ته ننووتل.
د هغه ځای خاموشي اوس بالخاش ته ډارونکي نه وه، ځکه چې د ساتونکو مشر د لاری ښودلو لپاره ورسره و.هغه خپل د ژوند څخه لاس مینځلې وو او پرېکړه یې کړې وه چې همدا شپه به د غایر خان ژوند ته هم د پای ټکي کېږدي. د ساتونکو مشر پر دیوال تکیه کړې و، مخ یې ژیړ شوی و او سترګو کې یې ژوره ویره وه. هغه پوهېدی چې دا پیښه هر رقم پای ته ورسیږي بیا هم هغه ژوندی نه شی پاتې کیدلې، هغه یوځل بیا هڅه وکړه چې بالخاش له دې کاره راوګرځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش بد بد وروکتل او ویې ویل: بې عقل زاړه سړي، غایرخان زما څخه هغه یوازینی کس چې ما یې پخاطر ژوند کاوه په زور راڅخه اخیستي، هغه خپل د دې بد پلان د سرته رسولو لپاره ما ته دنده راکړه ترڅو په لاره کې مې ووژني، خو زه ژوندی پاتې شوم چې له هغه انتقام واخلم.
ساتونکو مشر- کرار خبرې وکړه.
بالخاش- راونیړه.
- زه یوازې د غایر خان د خوب خونه درښایم.
بالخاش- ته د هغه د باوری کسانو څخه یې، هغه چې کله صدا غږ د دروازې شاته واورې نو سمدلاسه به دروازه خلاصه کړې او هغه وخت به زه د هغه چاره وکړم.

په همدی وخت کې چې دوی دواړو خبری او مشوری کول د دوی ترڅنګ چې کوم کوټه وه د هغې دروازه په ارامه توګه پرانېستل شوه او یوه ځوانه او ښایسته ښځه چې سپین اوږد کمیس یې اغوستی و، په دروازې کې څرګنده شو، هغې د ساتونکو مشر او بالخاش ته وکتل او ویره یې پیدا کړه، ځکه چې هغه دواړه یې هېڅکله نه و لیدلي او نه یې پېژندل، هغې فکر وکړ چې بالخاش یو د ساتونکو څخه دی، نو خپل بدن یې د دروازې پر لور راکش کړو او په ارامه یې پوښتنه وکړه:
- څه پیښ شوي دي؟

بالخاش په غوسه د ساتونکو مشر ته وکتل او ورته یې په سترګو سترګو کې څرګنده کړه چې که هغه حقیقت ووایي نو ژوندي به پاتې نه شې.
د ساتونکو مشر وویل: هیڅ خبره نشته اغلې مهرباني وکړئ تاسو استراحت وکړې، موږ یو مهم پیغام راوړی چې همدا اوس یې باید امیرا اترار ته ورسه وو.

ځوانه ښځه چې د غایر خان له ښځو څخه یوه وه، په داسې حال کې چې سترګې یې بالخاش ته وې او په خپلو شونډو یې یو نرمه موسکا راوړې وه، په ارامه توګه خپل ښایسته بدن خونې ته دننه کړ او دروازه یې وتړله.بالخاش د ساتونکو مشر ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشاره وکړه چې مخکې لاړ شي او په ارامه يې وويل: اوس تازه پوهيږې چې څه باید وکړې؟

هغه په اندېښنې سره وویل: ته هم باید پوه شي چې له دې ځایه ژوندی نه شې وتلې، لا هم وخت شته چې ځان وژغورې.
بالخاش- زما په فکر کې مه اوسیږه.
- ته یو بې عقل ځوان یې.
بالخاش- ژر به حقیقت واضح شي.

دوی د هغې خونې مخې ته ورسیدل چې لویه دروازه یې درلوده. د ساتونکو مشر خپل لاس خپل پر زړه کېښود او وویل: دا د غایر خان د خوب خونه ده، خو خان سلطان دلته نشته. ما تا ته دروغ وویل، هدف مې دا و چې تا له هغه پریکړې چې کړې دی وه منصرف کړم.
بالخاش د ساتونکو مشر شاته کش کړ او ویې ویل: ته یو دروغجن سړی یې، داسې کار مه کوه چې جسد دې دلته وغورځوم، ما د خان سلطان د ژغورلو لپاره خپل ژوند په خطر کې اچولی دی د هغې خونه چیرته ده؟

د ساتونکو مشر د لاس په اشاره هغه دروازه وښوده چې د تالار په بل اړخ کې وه او ویې ویل: هغه هلته ده، خو ته یې له حرم سرا بهر نه شې راوستلی.
بالخاش ورته وویل: خو زه دا کار کوم.
د ساتونکو مشر ورته وویل: خپل پر ځان رحم وکړه ځان مرګ ته مه ورکوه.
بالخاش ورته ځواب ورکړ: دا خبرې خپل ځان ته وکړه.

وروسته یې د ساتونکو مشر ته اشاره وکړه چې هغه دروازې خواته روان شی، مخکې له دې چې دروازه وټکوي کرار یې د ساتونکو مشر ته وویل: که بل څوک غیر له خان سلطان دروازه پرانیزي، زه به تا ژوندی پرېنږدم.
ساتونکو مشر وویل: باور وکړه، خان سلطان به پخپله دروازه پرانیزي.
بالخاش په آرامه سره یوه ځل دروازه ووهله، لږ وخت یې انتظار وکړ، ځواب یې ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

موند. بیا یې دوه ځله دروازه ووهله، د دروازې تر شا د خان سلطان آواز واورېدل شو چې په آرامه یې وویل: څوک یې؟

بالخاش د هغه آواز په اورېدو سره سترګې یې روښانه شوې او خپل په بدن کې د تودوخې احساس وکړو، ده خپل خوله د دروازې خواته نږدې کړل او په آرامه یې وویل: زه یم...
خان سلطان د هغه آواز په اورېدو سره حیران او وډار شول، او د ځان سره یې وویل: هغه څنګه دلته راغلی؟ بیا یې په ټیټ غږ وویل: زه نه غوارم چې دوی تا ووژني... واپس ولاړ شه دلته خطر دی.
بالخاش ورته وویل: تر دې چې ناوخته شې دروازه پرانیزه، زه باید تا د دې ځای څخه ویسم.

خان سلطان په لړزانده غږ وویل: هغوی به تا وژني، زه نه غوارم چې ته زما لپاره ووژل شې. له دې ځایه لاړ شه، مه پرېږده چې زه ټول عمر په دې غم کې ژوند وکړم.
بالخاش په کلک غږ وویل: خو ما خپل ژوند ستا د ژغورلو لپاره په خطر کې اچولی دی. مخکې له دې چې کوم شور پورته شي، دروازه پرانیزه.
د ساتونکو مشر چې خپل ژوند په خطر کې لید، په ټیټ غږ کې وویل: نن ماښام ته مور ټول وژنې، غایر خان هغه څوک نه دی چې تا ژوندی پریږدی ستا دا جرات هغه دې ته ار کوي چې تا جلاد ته وسپاري.

بالخاش له سخت نظر سره وویل: ته دی خوله بنده وی یا زه یې دربنده کړم؟
او بیا یې په ارامه سره دروازه ووهله. خان سلطان دروازه پرانېسته، او بالخاش چې د ساتونکو مشر څخه یو لحظه هم غافل نه و، هغه په اطاق کې واچاوو او خپله هم دننه ته ورننوت او دروازه یې بنده کړه. څو شیبې یې یو بل ته وکتل، او ناڅاپه خان سلطان ځان د بالخاش په غېږ کې واچاوو او په داسې حال کې چې ژاړل یې وویل: ما له دې ځایه بوزه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ساتونکو مشر وویل: ولې ځنډ کوئ؟ تښته وکړئ!
بالخاش د خان سلطان مخ ښکل کړو او ویې وویل: تر دې چې ناوخته شي باید د دې ځای څخه و تښتو خو مخکې له دې چې لاړشو باید دا زوړ سړی آرام کړم.ځکه چې ښايي هغه د ساتونکو سره اړیکه ونیسي او موږ په ګیر ورکړي!
د ساتونکو مشر په ویره سره لاسونه پورته کړل او ویې ویل: نه، زه هېڅ ته خبر نه ورکوم، ما مه وژنه.
خان سلطان وویل: نه، ته نباید هغه و وژني.
بالخاش خپله توره راکښته کړه، لاستي يې په خپل لاس کې ټینګ کړ، او په داسې حال کې چې سترګې يې پر زوړ سړي وې، ویې ویل: له ځایه دې حرکت مه کوه!

د ساتونکو مشر وویل: د دې څخه مخکې چې ناوخته شئ تښته وکړئ. زه ستاسو په اړه اندېښمن یم.
بالخاش- بېخود، بیعقل ته زموږ په اړه اندېښنه لرې که د غایر خان؟
بیا يې دروازه پرانېسته او بهر ته يې وکتل. کله چې ډاډمن شو چې په تالار کې هیڅوک نشته او ټول شیان په خاموشي کې ډوب دي، نو د خان سلطان لاس يې ونیو او دواړه له اطاقه بهر ووتل. د ځوانې ښځې زړه په سینې کې ټکان خوړو. ویره او ډار پر هغې سیوری غوړولی وو، خو بالخاش هیڅ ډول ویره نه درلوده. هغه یوازې خان سلطان ته فکر کاوه، نه بل څه ته.

هغه خپل د مټو په ځواک باوري وو، تر دې چې د غایر خان حرم سرا ته ورسیږي هغه درې کسان وژلي وو. هغه یو عجیبه حالت کې و، غچ اخیستل يې د سترګو پر وړاندې پرده اچولې وه، هغه باید همغه لارې ته ورګرځېدلی وای پر کوم چې راغلی و، هغه مهال یوازې راغلی و، خو اوس يې خان سلطان باید له ځان سره وړی وای یوازینۍ اندېښنه يې دا وه چې که له ساتونکو سره مخ شي، شاید خان سلطان ته کوم زیان ورسیږي، یا بیا يې له لاسه ورکړي. دواړو خپل شا پر دیوال تکیه کړې و. خان سلطان د وحشت له لاسه په څهره رنګ نه درلود. لاس يې د بالخاش په لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې و. هغې ځان ته ډاډ ورکاوه چې په پناه د یو قوي سړي کېده چې د جګړې او تور وهنه کې سیال نلری.

هغې ځان ته ویل چې له دې ځایه به روغ رمټ بهر شي. خان سلطان خپل ځان لږ نور هم بالخاش ته نږدې کړو او په کراره یې وویل: ولې دریدلې یې؟
بالخاش نیم نظر پرې واچاوو او ویې ویل: باید ډاډه شم چې هلته په تالار کې څوک نشته.

ناڅاپه یې د څو کسانو سایې ولیدلې چې په احتیاط سره یې قدم اخیست،که څه بالخاش ډېر زړور ځوان وو خو ناڅاپه یې زړه له وېرې څخه ولړزیده او د ځان سره یې وویل: بالاخره هغوی زما پل وموند اوس به ډېر ژر غایر خان له خپل خونې را ووځې. خان سلطان ته یې وکتل د هغې څهره د وېرې څخه بې رنګه شوې وه، بالخاش حیران و چې څه وکړي، ایا خان سلطان بیرته خپل کوټې ته واستوی یا یې لځان سره یو وینه تویونکي جګړې ته بوزی؟

د هغه پر مخ او تندی خوله په څرګنده توګه ښکاریده، هغه د توری لاستي پرېښوده او په خپل لاس یې خپل د تندی څخه خوله پاکه کړه، ساه یې په سینه کې بنده پاتی وه او دوه سترګي مخامخ دیوال ته نیولي وه پر کوم چې د ساتونکو سایه ښکاریده خو د څو شیبو وروسته نور د هغه ساتونکو سایه نه ترسترګو کیدل، هغه فکر وکړ چې شاید دا سایې یې یوازې په خیال او وهم کې لیدلي وي!؟ خان سلطان په ټیټ غږ وویل: زه دلته دریږم، ته لاړ شه او د تالار هغه اړخ وګوره.

بالخاش- نه دومره وخت نشته راځه، یو ځای ځو.
د ویرې او امید ترمنځ، دوی ورو ورو مخ ته لاړل، پداسې حال کې چې شا یې دیوال ته نږدې وهله. کله چې د دهلیز څنډې ته ورسیدل، بالخاش د خان سلطان لاس پرېښود او د لاس په اشاره یې ورته وویل چې غلی پاتې شي او همدلته ودریږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش ځان د دهليز منځ ته ورساوه او د دهليز پيل ته يې وکتل. او د مخامخ صحني په لېدو ځای پر ځای ودرېد لکه ميخ چې يوځای کې ټک وهې! څو ساتونکي د تالار سر کې ولاړ وو، د دوی لوڅې توري د مشعلونو په رڼا کې ځليدل، لکه مجسمې. د سکوت يوه ويره ناکه فضا جوړه کړې وه، دا هغه وحشتناک پای وو چې د ساتونکو مشر ورڅخه خبرداری ورکړی و.

بالخاش سترگې پټې کړې، داسې انگېرله لکه دا چې هسې د ده د ذهن وهم وي. ويره يې وجود نيولی و، دومره چې غايرخان يې د خوب په جامو کې د ساتونکو ترمنځ وليد.بالخاش حيران و چې ولې ساتونکي غلي دي. ناڅاپه دا ډارونکی سکوت د غايرخان له خندا سره ماته شوه. هغه وويل: ته يې، بالخاش! زه ستا راتگ ته منتظر وم!

بالخاش ځان ته راغی، خان سلطان ته يې وکتل. نجلۍ له ډاره لړزېده. يو څو شيبې بيا سکوت حاکم شو.
بالخاش، چې غوسه يې په غړ کې احساس کېده، وويل: غايرخان، زه تا ته وايم! ته يو پست او ذليل سړی يې! زما د نه شتون پر مهال دې خان سلطان په زور له خپل کور نه حرم سرای ته را وستله، خو اوس زه راغلی يم چې هغه بېرته يوسم، يا به تا ووژنم!

د غايرخان خندا لا پسې زياته شوه او ويې ويل: ما فکر کاوه ته مړ يې، خو اوس خوشحاله يم چې ستا مرگ به په خپلو سترگو وينم!

بيا يې ساتونکو ته امر وکړ: را ويې نيسی!

ناڅاپه څلور ساتونکي پر بالخاش را ودانگل، سخت او خونړی جنگ پيل شو. خان سلطان داسې حال کې چې دوه سترگې د ويرې څخه بالخاش ته نيولې وو، شونډه يې چيچله، او اوښکې يې پر مخ بهيدې.په همدې وخت کې يو کس د هغې اوږه ونيول او ورته ويې ويل: لورې، راځه خپل کوټې ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان سلطان شاته وکتل، دا هماغه زوړ د ساتونکو مشر و، چې له ویرې څخه پر پښو ولاړېدلې نشو خان سلطان وویل: هغه زما لپاره خپل ځان په خطر کې اچوي. دوی به یې ووژني!

هغې سر دیوال ته تکیه کړ، سترګې یې پر بالخاش خښ شوې چې په یو عجیب زړورتیا په سخت جنګ کې لګیاو څلور قوي ساتونکي د یو ځوان سره مبارزه کوله، چې پخوا یې مشر و.بالخاش توره په چټکۍ سره خوځوله. ډېر ژر، یو ساتونکی له جنګ څخه ووت د بالخاش توري د هغه ښي اوږه پرې کړې وه، وینه یې بهېدله.

غایرخان په غوسه چیغې کړې:احمقانو! زه نه غواړم دی ژوندی پاتې شي، ختم یې کړئ!

تر دې دمه، ساتونکو هڅه کوله چې بالخاش ژوندی ونیسي، خو د غایرخان د امر سره سم، بریدونه لا سخت شول،بالخاش ورو ورو د کمزورۍ احساس کاوه. پوهېده چې ډېر ژر به د دوی توري د ده بدن ټوټه ټوټه کړي.

په همدې شیبه کې، ناڅاپه، خان سلطان د غایرخان خواته منډه کړه او دوه قدمه وړاندې د هغه مخ ته ودریده، او چیغه یې کړه: که هغه ووژنې نو زه به هم خپل ځان ووژنم!

غایرخان په بې پروايۍ او خندا وویل: اې! ته هم دلته وې ښکلې جنۍ؟ ویني دا بیعقل څنګه خپل ځان په خطر کې اچولی؟
خان سلطان په تلوار وویل: ساتونکو ته ووایه چې جګړه بس کړي.
غایرخان- خو هغه باید ووژل شي!
خان سلطان- هغه ماته راوبخښه زارۍ درته کوم.

غایر خان داسې حال کې چې دوه سترګي په خان سلطان باندی ګنډلې وه، په معنا داره خندا او په نرمه لهجه وویل: ته یو سرکښه نجلۍ یې! خو بالخاش باید مړ شي، ترڅو ستا زړه د تل لپاره د هغه له لوری آرام شي، او زما خواته راشې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان سلطان په ژړغوني غږ وویل: نه! مه یې وژنه، زه به د تل لپاره ستا شم، رحم وکړه، هغه ژوندی پریږده.

غایرخان ورو سر وخوځاوه او ویې ویل: ښه، سمده نه یې وژنم!
بیا یې په لوړ غږ بالخاش ته وویل: مقاومت بې ګټې دی، خپله توره وغورځوه او تسلیم شه!

ساتونکي بېرته ودرېدل. بالخاش لنډه، لنډه ساه اخیسته، لږ شاته ولاړ، دیوال ته یې تکیه وکړه. رنګ یې له مخه تللی و، خو لا هم د غوسې نښې پرې ښکاره وې.
یو ساتونکي ورته وویل: د امیر اترار په حکم، خپله توره راوسپاره!

بالخاش ناڅاپه یو چټک حرکت وکړ، خپله توره یې پورته کړه، د ساتونکو له پاسه یې د غایرخان پر لور وغورځوله، او چیغې یې کړې: ته یو پست او ذلیل انسان یې!

خو غایرخان، چې تل بې پروا و، له ځایه یې حرکت ونه کړ. توره د هغه پښو مخې ته راولوېده.غایرخان وخندل، ویې ویل: بوزئ یې!
ساتونکو د بالخاش خنجر له ملا راوکیښ، او هغه یې خپل په منځ کې ونیو. کله چې د غایرخان له مخې تېرېده، بالخاش، په کینې او قهر په لوړ اواز وویل: زه یوه ورځ ضرور خپل بدل ستا څخه اخلم.
غایر خان وخندل او ویې ویل: زه د مړو د روحونو څخه ویره نه لرم!

بالخاش، چې په قهر یې بد رد ویلو، له حرم سرا وویستل شو. د هغه آواز څو شېبې د ماڼۍ له بهر اورېدل کېده، بیا خاموشي خپره شوه.غایر خان مخکې لاړ، د خان سلطان لاس یې ونیو، او د هغې د اوښکو ډکو سترګو ته یې وکتل. بیا یې نرم اواز وویل: ته زما د حرم سرا تر ټولو ښکلی ښځه یې.،که سرکشي پرېږدې، د حرم سرا لومړۍ مېرمن به شې، زما ملکه به شې! اوس آرام وکړه.

خان سلطان سر ټیټ کړ، ورو ورو یې ژړل او ویې ویل: زه ستا یم، خو ... خو ژمنه راکړه چې بالخاش به ازاد کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غایر خان په کلک آواز وویل: نه، هغه به په زندان کې پاتې شي!

ناڅاپه د دهلیز له پای نه یو غږ پورته شو. غایر خان تندی تریو کړ او په زوره یې وویل: هلته څوک دی؟
د ساتونکو زوړ مشر چې له ویرې لړزېده، مخې ته راغی. غایر خان چې ډېر په غصه و، چیغه کړه: احمق ته هلته څه کوې؟
د ساتونکو مشر وویل: قربان! زه بې‌ګناه یم!
خان سلطان ژر وویل: بالخاش هغه په زوره دلته راووست. دا بې‌ګناه دی!

غایر خان چې خپل د قهر سرېولو لپاره څوک لټاوه، چیغه کړه: ساتونکو ..!
ډېر ژر دوه ساتونکي را دننه شول. غایر خان هغوی ته مخ کړ او وویل: دا بې‌ګناه کس له عذابه خلاص کړئ!
د ساتونکو مشر د غایر خان پښو ته ځان وغورځاوه، او بخښه یې ترې غوښته، خو هغه په لغته وواهه او لرې یې کړ. ساتونکو هغه له ځمکې راپورته کړ او له حرم سرا یې بهر یووړ.

خان سلطان آرام ولاړه وه، خو سخت وېرېدلې وه، غایر خان نیم نظر د هغې خواته واچوه او بیا پرته له دې چې څه ووایي، خپل خوب ځای ته لاړ.خان سلطان څو شېبې د دهلیز په منځ کې ولاړه وه. د بالخاش فریادونه یې لا هم په غوږونو کې غږېدل. د هغه د جدایۍ فکر یې زړه غمجن کړی و. د زوړ ساتونکو د مشر زارۍ هم اوریدل چې ویل یې زه بې ګناه یم! او د هغه سره د غایر خان غږ چې ویل یې دا بې ګناه انسان ژر خلاص کړې.

خان سلطان خپل نظر د تالار شاوخوا واړاوه، سره له دې چې هلته د امیر اترار حرم سرا وه، خو داسې ښکاره کېده چې هلته هېڅ ژوند کس نشته! هغه په آرامۍ سره خپل د خوب ځای خواته روان شو،د دې فکر چې نور بالخاش نه شي لیدلی، د هغې زړه ته درد ورکاوه، د دې جلا کېدو غم د هغه زړه دروند کړی و. هغې په دې اړه ډاډه نه و چې غایرخان به د خپلې وعدې سره سم عمل وکړي. هغه یو بې رحم او ظالم

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرې و، او د هغه وحشتناک زندان یوه تدریجي مرګ و چې محکومین یې د جلاد په لاس مرګ ته په زرګونه واره ترجیح ورکول له دې چې هغه زندان کې اوسیږی.

بالخاش یې د هغه وحشتناک زندان په لور روان کړو هغوی له یوه تنګ او نمناک دهلیز څخه تېر شول چې دیوالونه یې د تیږو سره پوښل شوي وو، د هغوی د درنو قدمونو غږ د دهلیز خاموشي په وحشتناک ډول ماته ول، مشعل د یوه ساتونکي په لاس کې و چې د هغوی مخکې روان و، د دهلیز په اوږدو کې د دیوالونو د لای څخه شنه چمنو وده کړې وه،د دې ځای بوی د نفرت وړ و. هوا درنه او خفه کوونکې وه چې ساه اخیستل یې ستونزمن کړې و. بالخاش له دې دهلیز سره ښه آشنا و. هغه پخپله څو ځله له محکومینو سره له دې ځایه تېر شوی و، په هغه وخت کې دې د امیر اترار د ساتونکو مشر و خو اوس یو محکوم وو چې د غایر خان د عیاشي له لاسه د مرګ خواته روان وو.

یو دردناک او وحشتناک مرګ، هغه د غایر خان د زندانو څخه خبر درلود، هغه پوهیده چې د دې تنګ او تیاره دهلیز پای به چیرته رسېږي. هغه خاموش و او څه یې نه شو کولی. دوه پیاوړي ساتونکي د هغه لاسونه په خپلو قوي پنجو کې نیولي وو. دا ځای د مرګ دهلیز په نوم یادیږي. هیڅوک نه یادوي چې کوم محکوم دې له دې ځایه ژوندی وتلی وي.

ساتونکو، چې یو وخت یې له بالخاش نه اطاعت کاوه، اوس هغه ته د یو محکوم په سترګه کتل. دوی له یوه تیاره، لندبل دهلیز څخه تېرېدل. بالخاش پوهېده چې د دهلیز پای ته رسېدل د مرګ معنی لري. ناڅاپه د هغه د سترګو وړاندی د خان سلطان مخ ودرېد، چې د سترګو اوښکې یې روانې وې.په یوه شېبه کې، د بالخاش سترګو ته پرده راغله. هغه په لوړ اواز وویل: ما پرېږدئ!

هغه خپل ټول ځواک راټول کړ، او د ساتونکو له منګولو ووت. کوم دوه ساتونکي چې مخکې روان وه د دوي په غږونو بېرته را وګرځېدل. د مشعل اور بالخاش ودرولو. په همدې شېبه کې، شاته ولاړ ساتونکو پر بالخاش برید وکړ.بالخاش هڅه وکړه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان خلاص کړي، خو بریالی نه شو. یو ساتونکي د هغه ستونی ته لاس کړ، سر یې شاته کش کړ او بالخاش یې د ستوني څخه راونیو هغه نفس نشو اخیستی، او ورو ورو یې ساه بنده شوه...

د هغه د څنګ ساتونکي خپل ملګري ته وویل: پرې یې ږده.
څو شېبې وروسته حالت بېرته عادي شو،د ساتونکو پیاوړي پنجې د بالخاش پر اوږو د فولادي کړۍ په څېر تاو شوې. بیا یې هغه وخوځاوه. څو قدمه چې ولاړل، ناڅاپه بالخاش چیغه کړه: هغه زما ده... دا غایر خان خو ....

خو د ساتونکي یو سوک چې د هغه پر خوله ورپریوت، اجازه ورنه کړه چې خبره پای ته ورسوي. د وینې تودوالی یې په خوله کې احساس کړ، خو څه یې کولای شول؟ ورو ورو یې څېره د غم پر دوړو پټه شوه. داسې حالت یې درلود چې که د تېښتې لار یې هم پرانستې وای، نه به یې حرکت کاوه، داسې ښکارېده لکه چې هر څه یې هېر کړي وي.هغه ساتونکی چې د ده ښي لور ته روان و، په زهرجن خندا سره یې وویل: وګورئ، څنګه یې د مظلومیت بڼه غوره کړې!

یو بل ساتونکي چې مخکښ روان و، وویل: غواړي موږ دوکه کړي، پام کوی چې چل یې ونخوری.
بل یې وویل: که دا ځل یې حماقت وکړ، دلته یې حساب ور رسیږو،غایر خان به خوشحاله شي.

خو بالخاش لا هم چوپ و. وېره یې پر څېره خوره وه. غوره یې وبلله چې زندان ته له رسېدو سره سم، پر چرمي تخت کېنول شي او جلاد یې سر له تنه جلا کړي. خو غایر خان غوښتل هغه په تورتم کې ورو ورو ختم کړي. دا د دردناکې مرګ سزا وه، چې زنداني به د جلاد د تیزې چاړې هیله درلوده.د دهلیز په پای کې، د مار په څېر یو پیچلي کاڼي زینې وې، چې یوې وېرونکې زیرزمینې ته تلل، د دیوال پر اوږدو زینو مشعلونه بل وو. بالخاش چې زینې ولیدې، سره له ټول زغم، وښورېده. وېره یې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګو راټوکېده، احساس یې کاوه چې ستونی یې وچ شوی. له ځانه سره یې وویل: باید زغم وکړم... یوازې د هغه لپاره، چې له ځانه زیات یې خوښوم!

زندانبان چې د درنو قدمونو غږ یې پر زینو واورېده، له ځانه سره وویل: لاړ شم وګورم دا نوی مېلمه څوک دی؟!

هغه د خپلو کلیو ګېډی د خپل کمربند له څرمي تسمې راځوړنده کړه، خپل ږېره یې وموښله، او له خپل نمجنې خونې بهر شو. لنډ قد او چاغ اندام یې درلود، او کله چې روان و، بدن یې چپ او راست خواته کوږ کېدو،د مشعلونو تر رڼا لاندې، د ساتونکو سترګې پرې ولګېدې، چې ورو ورو له زینو ښکته کېدل. د زندانبان کرغېړنه خندا پر شونډو راغله او په شیطاني لحن یې وویل: دا نوی تازه وارد څوک دی؟

یو ساتونکي په مسخره خندا وویل: وګوره شاید اشنا درښکاره شې؟
بل وویل: بالخاش خو درته معلوم دی!
زندانبان د بالخاش د نوم په اورېدو حیران شو، داسې وانګېرله چې ساتونکي ورسره ټوکې کوي. مخ ته راغی او ویې ویل: زه له دې ټوکي خوښ نه شوم!

ساتونکي چې مشعل یې نیولی و، وویل: زاړه سړي، ومنه چې دا تازه وارد هماغه بالخاش دی!
زندانبان وویل: خامخا یې د اترار امیر  ته خیانت کړی!
بالخاش خپله چوپتیا ماته کړه او ویې ویل: هو، زاړه سړي،غوښتل مې هغه ووژنم!
زندانبان لږ خوځېد، او ویې ویل: باید ژبه یې پرې کړو!
یو ساتونکی وویل: دا یو کار به ته وکړې.

هغه راښکته شول. زندانبان د بالخاش رنګ بایللې څېرې ته ځیر شو، سر یې ورو وښوراوه او ویې ویل: همدی دی، بیا یې ساتونکو ته مخ کړ او وپوښتل: جلاد ته کله خبر ورکړم؟
د هغه نورو مشر ساتونکي وویل: تر اوسه امر نه دی راغلی. تر ټولو ښه زندان ورکړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

او تر وسه وسه يې ښه ونازوه، چې د امير اترار خوښ شي!
زندانبان بېرته کرغېړنه خندا وکړه او ويې ويل: زه پوهېږم چې څه وکړم.

لږ وروسته، زندانبان د يوه کوچني اوسپنيز دروازې مخې ته ودرېد. د خونېکلی يې له بستې جلا کړ، دروازه يې پرانيسته، او ويې ويل: دا زموږ تر ټولو غوره زندان دی. بالخاش ناڅاپه داسې وخندل، لکه چې ليونی شوی وي، او ويې ويل: هغوی به زما انتقام واخلي.
ساتونکي وپوښتل: هغوی څوک دي؟
بل وويل: شايد ملګري لري، بايد غاير خان ته خبر ورکړو!

دوه ساتونکو هغه په تيز حرکت زندان ته دننه ټيل واوهه او د هغه تر شا دروازه وتړل شوه، د قفل د تاوېدلو غږ پورته شو، او بيا د ساتونکو او زندانبان د پښو غږونه ورو ورو لرې کېدل. او کرار کرار هغه غږونه هم ورک شول، او مرګ چار چاپېره چوپتيا ونيول هغه يوه ويرونکې، توره، ژوره چوپتيا وه. هيڅ رڼا دننه نه راتله.

بالخاش په لمس لمس د خونې اوږدوالی او پلنوالی وپلټه. خونه دومره کوچنی و، چې کله يې په منځ کې ودرېد، او لاسونه يې غځول، ګوتې يې دوارو ديوالونو ته رسېدې.دلته هيڅ کاټی‌تخته نه وه، چې د زندانيانو د بستر په توګه وکارېږي. دروازه له خالصې اوسپنې جوړه وه.هيڅ د باندې سوري نه و.لکه چې ژوندي يې خښ کړی وي. تورتم ژور، وېروونکی، او وژونکی و.بالخاش د زندان د کوټې پر ځمکه کښېناست، خپلې پښې يې غځولې او شا يې ديوال ته تکيه کړه. د نمجنې هوا ناوړه بوی ټول ځای ډک کړی و. دننه خاموشي داسې وه لکه د اوسپنې دروندوالی، داسې ښکارېده لکه باندنی نړۍ وجود نه لري.

خپل يو لاس يې موټ کړ او بل لاس ته يې زور ورکړ، احساس يې کاوه چې آن د فکر کولو توان هم نه لري.تيارې داسې وه چې د هغه د روح تر ژورو رسېدلې وه... د ده لپاره نه ورځ پاتې وه، نه روښوالی. د هغه نړۍ يوازې تورتم وه. بيا داسې وخت راغی چې نور يې هيڅ هم نه احساس کاوه... همداسې يې سر ديوال ته تکيه کړ.او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویده شو په خوب کې خان سلطان ولېده هغه هم د ورځې په رڼا کې خو ناڅاپه وارخطا راپاڅېد... بیا هم تیاره... د غصې څخه یې چیغه کړه او د ګوتو موټې یې کلک کړل، په وار وار یې د زندان دروازه ووهله.

زندان ساتونکي چې دا ډول چیغو سره عادت و، هیڅ پام یې ونه کړ، آن له خپل ځایه هم ونه خوځېد. بالخاش سترې او بې وسه بېرته د زندان پر فرش کښېناست. نور یې نه د چا فکر کولای شو، نه د کوم شي.ساعتونه تېر شول، ناڅاپه د زندان دروازه د یو بد غږ سره خلاصه شوه، یو کمزوری روښنایي دننه راغله. بالخاش سترګې پټې کړې، ځکه چې حتی دا کمزورې رڼا یې هم سخت سترګی پعذابه ولې، د زندان ساتونکي د دروازې له درز څخه یو د ډوډۍ ټوټه دننه وغورځوله او په مسخره خندا یې وویل: له دې به ښه مېلمستیا بله پیدا نکړې.

بیا یې د زندان دروازه کلکه کړه او لاړ. بالخاش د ډوډۍ د موندلو لپاره پر ځمکه وځملاست، بالاخره یې پیدا کړه. ډوډۍ سخته او وچه وه، خو دومره وږی و چې آن د هغې سختوالی یې هم نه احساساوه.څو شېبې وروسته، یو سخت تنده پرې راغله، داسې احساس یې کاوه چې وجود یې سوځي. وارخطا له ځمکې پاڅېد او په مټو یې د زندان دروازه ووهله، چیغه یې کړه: دزندان ساتونکي دروازه خلاصه کړه.

لکه چې د زندان ساتونکی د همدې شېبې انتظار باسه. ورو یې وخندل، له ځایه پاڅېد، له ځان سره یې وویل: "اوس فکر کوي چې زه به یخي او خوږې اوبه ورکړم!

یوه نرۍ ټوټه یې په اوبو کې لنده کړه، بیا یې لږ اوبه ترې وڅڅولې، د زندان دروازې ته ورغی.بالخاش د دروازې تر شا ولاړ و، چې د زندان ساتونکي دروازه پرانسته، هغه وارخطا د زندان له کوټې بهر راووت.خو د زندان ساتونکي سخت ګوزار یې پر سینه ولګېد، چې بیرته یې دننه راوغورځاوه. که روښنایي د بالخاش سترګې نه تنګولې...

نو بالخاش په ډېر اسانه کولی شو چې د زندان ساتونکی ووژني، خو د زندان تیاره د بندیانو د ځواک او چالاکي د ماتولو لپاره تیره وسله وه. د زندان ساتونکي لونده ټوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دننه د خونې واچوله او ویې ویل: ته به له دې ځایه ژوندی ونه وځې.
او دروازه یې بنده کړه.بالخاش د یو څه د لوېدو غږ واورېد چې د خونې پر فرش ولګېد. په تیاره کې یې د لاسونو په مرسته دا شی وموند، په خپل موټې یې کلک ونیوه او ژبې ته یې ورنږدې کړ.هغه له مرګ سره مبارزه کوله او هیله یې لرله چې جلاد راشي او زر یې له دې کړاو څخه خلاص کړي.

***

د څو کسانو د پښو غږونو چې د زندان د خونې شاته روان وو، بالخاش له ژور خوبه راویښ کړ. ده ته فرق نه کاوه چې ورځ ده که شپه، خو اټکل یې وکړ چې کومه مهمه خبره ده.ډېر ژر د خونېدروازه خلاصه شوه او د یو سړي امرانه غږ یې واورېد: بیرون راشه!

بالخاش په سختۍ سره له ځمکې پورته شو او ویې پوښتل: له ما سره څه کار لرئ؟
ساتونکي وویل: غایر خان تا غواړي.
بالخاش په کرکه وویل: هماغه خبیث او ذلیل سړی؟
ساتونکي په غوسه وویل: که اجازه مې درلوده، همدلته مې ستا سر پرې کاوه.

بالخاش له ځایه ونه خوځېده. ساتونکی د خونې دننه راغی، په زور یې د بالخاش اوږه ونیوه او ځان سره یې کش کړ.د زیرزمینې د څراغونو روښنایۍ د بالخاش سترګې ځورولې، نو خپل لاسونه یې پر سترګو کېښود.

د غایر خان غږ یې واورېد: هغه را نږدې کړئ!

ساتونکي د بالخاش لاس ونیوه او هغه یې غایر خان خواته ورساوه، کوم چې د دوی څخه یو څه لرې ولاړ و. بالخاش لا هم خپل لاسونه پر سترګو ایښي وو په تند لهجه وپوښتل: له ما سره څه کار لرئ؟
غایرخان وخندل او ویې ویل: ډېر دې زړه غواړي چې جلاد ته دې وسپارم ترڅو مړ دې کړي؟ خو نه مرګ تاته کم سزا ده ته باید د زندان په تیاره کې مړ شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یې هغه ساتونکي ته وکتل چې د بالخاش شاته ولاړ و او ویې ویل: لاسونه یې له سترګو راښکته کړه!
ساتونکي سمدلاسه لاسونه وړاندې کړل او د بالخاش لاسونه یې ښکته کړل. بالخاش د څراغ د رڼا له لاسه سترګې پټې کړې، بیا یې ناڅاپه چیغه کړه: زما څخه څه غواړې؟ په کراره مې پرېږدی.
غایرخان وپوښتل: ستا مطلب له "هغوي" څخه څوک دي؟
بالخاش- نه پوهېږم ته څه وایې... 'هغوی' څوک دي؟

غایر خان په تند غږ وویل: تا ساتونکو ته ویلي چې 'هغوي' به زما انتقام اخلي. زه پوهېدل غواړم چې هغوی چیرته پټ دي او نومونه یې څه دي؟
بالخاش، چې غږ یې له کرکې ریږېده، وویل: دا موضوع درته ډېره مهمه ښکاري؟
هغه سړي چې د غایرخان شاته ولاړ و، وویل: بالخاش! ته د امیرِ اترار په حضور کې ولاړ یې، ادب ولره!
بالخاش لنډه خندا وکړه او ویې ویل: امیرِ اترار! هماغه بې‌شرمه، عیاش او رزیل سړی چې د ظلم څخه خوند اخلي!

غایرخان په قهر چیغه کړه: شکنجه یې کړئ! مه ځنډېږئ! دا ګستاخ،سرکښ باید پوه شي چې له چا سره مخ دی.

په یوه شېبه کې بالخاش راونیو او په څلور مېخو یې ټک واهه، بالخاش لږ خپل سترګې پرانیستې.
غایرخان مخکې لاړ او ویې ویل: د هغوی نومونه څه دي؟
بالخاش- زما یاد ته نه راځي چې داسې یوه خبره مې کړې وي!

د ساتونکو مشر، چې دا خبره یې غایر خان ته رسولې و، وویل: قربان! خپله یې دا خبره وکړه د زندان مشر هم شاهد دی!
غایرخان- وا دې وریده بالخاش؟
بالخاش- هو، ما واورېد، خو دا خبرې درواغ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غایرخان- مخکې له دې چې شکنجه درکړل شي، و وایه، د هغوی نومونه څه دي؟
بالخاش وخندل او ویې ویل: زه وینم چې دا خبرې ته ډېره خواشینی کړې یې! نو غوږ ونیسه، ته به هغوی ډېر ژر و نه پېژنې.

غایرخان د شکنجو او سزا ورکولو مامور ته اشاره وکړه چې کار پیل کړي.
دوو ساتونکو د بالخاش کالي وشکول. د سزا ورکولو مامور چې چرمی پیشبند یې تړلی و او مردار مخ یې درلود، له اوره یې سور اوسپنیز اوسپنه راوایست. د اوسپني ګرم څوکه یې د بالخاش پر لاس کېښود. بالخاش د درد له امله یو دردناک چیغه ووهل.

غایرخان خپله ږیره وموښله او ویې ویل: بالخاش، ښه غوږ ونیسه، دا لا یوازې پیل دی. که راته ووایې چې هغوی څوک دي او څه کاره دي؟ نو ستا زندان به بدل کړم.
بالخاش، چې له سخت سوځېدو یې تندی تروش شوی و، په سختۍ سره وویل: زه خوشاله یم... چې دا خبری... ته د مرګ ... تر حاله وېره ولې یې...ولې انتظار کوې؟... د شکنجی مامور ته ووایه چې خپل کار ته دوام ورکړي.

غایرخان بیا د شکنجي مامور ته اشاره وکړه.

د سزا ورکولو مامور دا ځل د بالخاش پښې د زنځیرونو سره وتړلې، او بیا یې ځنځیرونه د یو عجیب څرخونکي ماشین سره وتړل او خپلو شاګردانو ته یې وویل چې ماشین ته حرکت ورکړي...
ماشین ورو ورو ګرځېده. بالخاش احساس کاوه چې د بدن بندونه یې سره بېلېږي. سره له دې چې غاښونه یې سره کلک کړي وو، درد یې نشو زغملای، او پر تندي یې د خولو څاڅکي راټول شوي وو.

غایرخان وویل: ودرېږئ.

بیا یې بالخاش ته وکتل او ویې ویل: تر سبا پورې ښه فکر وکړه چې خپل حالت درک کړې. زه داسې څوک نه یم چې ستا غوندې خلک ما دوکه کړي. زه به دې دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکنجه کړم چې مړی دې له دې ځایه وباسم. که هغوی راته معرفي کړې، زه ژمنه کوم چې تا به بېرته خپل پخواني کار ته راستون کړم دا خو ستا هیله ده، کنه احمقه؟

بالخاش ساه ساه ساه اسوېلی واخیست او ویې ویل: زما هیله بل څه ده. ته پخپله هم پوهېږې چې زه خان سلطان غواړم.

غایرخان وخندل او ویې ویل: احمقه! هغه زما دحرم سرای لپاره پیدا شوې ده، او ډېر ژر به د حرم سرای لومړۍ مېرمن شي. حتی په خوب کې یې هم داسې ورځ نهشوای تصور کولی. ما هغه د نعمتونو په سمندر کې ډوبه کړې ده. د هغې فکر مه کوه، هڅه وکړه چې خپل ځان له دې تیارو خلاص کړې!

بالخاش غلی شو. د غایرخان په حکم، هغه یوې بلې کوټې ته یووړل شوه، چې پورته یې یوه کوچنۍ سوري وه، له کومه چې د کوټې څخه بهر ښکاره کېده. بالخاش د خپل سوځېدلي لاس او د پښو د هډوکو له سخت درد سره مخ و، او نږدې بېسده شوی و. ورو ورو یې له درد غړونه کوله او هېڅ احساس یې نه درلود.

***

کله چې غایرخان ولیدل چې د شکنجې له لارې نهشي کولی چې بالخاش خبرو ته اړ باسي، نو یو بل فکر یې ذهن ته راغی. ده پریکړه وکړه چې که زندان بدل کړي او بالخاش ته ښه خواړه ورکړي، شاید خبرې ته زړه ښه کړي او "هغوی" ور وپېژني. د غایر خان تجسس او شک سخت راپارېدلی و. ده غوښتل پوه شي چې بالخاش د "هغوی" له یادولو څخه څه مطلب درلود؟

خو سره له دې چې دومره قدرت یې درلود، لا هم وېرېده. د خپلو شاوخوا کسانو څخه وېرېده، د دې له وېرې چې قدرت به له لاسه ورکړي،بله ورځ، د ماښام نژدې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش له خپل زندان څخه وایستل شو. یو څه ګوډ ګوډ تلو خو نور د رڼا له امله نه ازارېده.

غایرخان او د ده څو نږدې کسان ولاړ وو. غایر خان بالخاش ته وکتل او ویې ویل: زه فکر نه‌کوم چې ته به بیا شکنجې ته زړه ښه کړې!
بالخاش پوزخند وواهه او ویې ویل: زه د 'هغوی' په اړه هیڅ نه پوهېږم، او ستا له شکنجې هم ویره نه لرم.

غایرخان، چې د قهر له امله یې څېره سره شوې وه، چیغه کړه: احمقه! زه پوهیږم ستا مطلب د" هغوی" څخه مغولان دي، هغه راولئ!
د غایر خان په خبره بالخاش ځان سره په زړه کې وویل: بې شکه هغوی پیراحمد شکنجه کړی دی.

لږه شېبه نه وه تېره چې د سزا ورکولو د مامور دوه شاګردانو چې پیراحمد یې له بغلونو نیولی و، خونې ته راوړو، بالخاش د خپل وفادار نوکر، پیراحمد، په لیدو حیران شو. له هغه پیاوړې سړی څخه یوازې یو دوه هډوکی پاتې و. ښکاره وه چې سخت شکنجه شوی و.بالخاش له ځانه سره وویل: "دا ظالم سړی دا بې ګناه انسان شکنجه کړی، تر څو زما په اړه څه معلومات ترلاسه کړي."

هغه د پیراحمد مخ ته وکتل، چې رنګ یې زېړ او سترې و، او د مرګ سیوری پرې خپور و. له غوسې یې خپلې ګوتې کلکې کړې. د شکنجی د مامور شاګردانو  لا هم پیراحمد نیولی و، ځکه داسې ښکاره کېده که خوشې یې کړي، نو د سختو شکنجو له امله به ونه توانېږي چې ودرېږي.خاموشي د تورې وریځې په څېر ځای نیولی و.
ناڅاپه بالخاش په غوسه چیغې کړې: ولې مو هغه شکنجه کړی؟
بیا یې له لږ ځنډ وروسته وویل:زه له تا سره خبرې کوم، غایر خان... ستا ظلمونه به یوه ورځ ستا پر غاړه شي. ته یو ظالم انسان یې، چې د خپلو ناوړو هدفونو لپاره له هېڅ کاره دریغ نه کوې. بالاخره به د دې تور زندان ظلمونه سلطان ته ورسېږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کلمې چې بالخاش په زوره وویل، د زناان دیوالونو ته ټکر کېدلې او ژر به له منځه تللې.د غایر خان اطرافیان د بالخاش له زړورتیا په غوسه شول، او هره شېبه یې تمه لرله چې غایر خان د بالخاش د وژلو حکم صادر کړي.خو غایر خان، هغه ظالم سړی چې هر څه یې یوازې د ځان لپاره غوښتل، لا هم آرام و،هغه یو زیرک او هوښیار سړی و، ښه پوهېده چې کله باید غلی شي. څو شېبې چوپتیا راغله، بیا ناڅاپه بالخاش په لوړ غږ وویل: ولې غلی شوی یې، غایر خان؟ خبرې وکړه! ووایه، د دې سړي شکنجه کولو څخه تا ته څه ګټه در رسېدلې؟

غایر خان په مردار خندا شونډې پرانیستې او وویل: وخت به راشي چې زه به ستا بېباکو خبرو ته ځواب درکړم.
بالخاش چې له غوسې لړزېده، وویل: که ته انسان وای، تا به پیراحمد نه شکنجه کولای، نه به دې خان سلطان د خپل پلار له کوره زور را ایستلی وای او نه به دې هغه حرم‌سرا ته بیولی وای!

غایر خان په سړه سینه وویل: د ځان په اړه خبرې وکړه! ومنه چې ته خائن یې!
بالخاش دا خبره چې واورېده، ناڅاپه یې حرکت وکړ چې د غایر خان لور ته ولاړ شي، خو د ساتونکو قوي لاسونو هغه ټینګ نیولی و. بالخاش په لوړ غږ وویل: که زه ازاد وای، نو په سوک به مې ستا خوله درماته کړې وای!
دغایر خان له نږدې کسانو یوه چې د بالخاش سختو خبرو خپه کړی و، وویل: قربان، اجازه راکړئ چې زه یې ادب کړم!

غایر خان وویل: پرېږدئ، لا یې وخت نه دی رسېدلی چې ووژل شي. ډېر شیان شته چې باید اعتراف پرې وکړي.

بیا یې بالخاش ته وکتل او ویې ویل: پیراحمد اعتراف کړی چې ته د مغولو له وحشي قوم سره هم لاسې شوی یې او هغوی ته دې خپل کور ته د ننوتلو اجازه ورکړې ده! ته یو خائن یې، او باید د ښار په میدان کې د خلکو مخې ته ووژل شې. اوس خپله خیانت ته اعتراف وکړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش چې د "خائن" کلمه واورېده، وینه یې په جوش راغله، د مخ رنګ یې سور شو، او په داسې غږ چې له غوسې او کرکې لړزېده، وویل: دا دروغ دی! زه خائن نه یم! ته غواړې چې ما محکوم کړې، نو ما په خیانت تورن کوې! که یې ثابته ولی شې نو ثابته کړه!

غایر خان خپل په لاس پیراحمد ته اشاره وکړه او ویې ویل: پیراحمد یو ژوندی شاهد دی، چې د هغه شاهدی د دې لپاره کافي دي چې ته د خاین په توګه محکوم شې.

بالخاش- پیراحمد بې‌ګناه دی.
غایر خان- یواځینی ګناه یې دا ده چې د داسې یو خاین په کور کې خدمت کوي لکه تا.
بالخاش- زه خاین نه یم، هغه دوه مغول سوداګر وو.
غایرخان- ستا کور کې یې څه کول؟ خامخا یې پیغام راوړی و؟
بالخاش- ته نشې کولی پر ما تهمت وتړې او ځان له خیانت نه خلاص کړې، ځکه چې ته خپله یو خاین او رذل انسان یې.
غایرخان- ځواب راکړه مغول ته له کومې پېژندل چې نېغ ستا کور ته راغلل؟

بالخاش- زه د هغوی سره د چنګیزخان په کمپ کې آشنا شوم.
غایر خان ورو سر وخوځاوه او ویې ویل: زموږ سوداګر نن ماښام اترار ته راورسېدل، ته له کاروانه بې‌اجازې جلا شوی یې اوس څه ځواب لرې؟
بالخاش په کلک لهجې سره وویل: ما غوښتل ژر تر ژره اترار ته ځان ورسوم او تا ووژنم! اوس دې زړه یخ شو؟
غایر خان- اوس به ته خپله ووژل شې،یو خاین باید ووژل شي.

بالخاش- زه له مرګه ویره نه لرم.
غایر خان- و به ګورم! تا به د ښار په میدان کې د خلکو مخې ته سر درپرې کړی.
بالخاش چې له غصې یې غږ لړزېده، وویل: ته یو شیطان صفته سړی یې! تا داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناوړه دسیسه جوړه کړې وه چې ما د احمد آق سو په لاس ووژني، بیا دا وښايي چې زه غلو وژلی یم. ستا هدف دا و چې خان سلطان تر لاسه کړې. همدا کار دې هم وکړو خو د احمد آق سو پر وژلو ستا ټول پلان خراب شو.

غایر خان وخندل او ویې ویل: ستا دې بې‌معنا خبرو ته هېڅ خاین کس توجه نه کوي.

بالخاش په قهر وویل: ځکه چې هغوی ستا مزدوران دي. لږ تم شو، بیا یې ادامه ورکړه: ما د خپل ځان د دفاع لپاره هغه وواژه. هغه د ژوند د وروستیو شېبو پر مهال د سختۍ سره ستا نوم واخیست. هغه په زحمت سره وکولی شو چې ووایې چې ستا په امر یې غوښتل ما ووژني.

دلته بالخاش مجبور و چې داسې وښايي لکه چې د احمد آق سو له خولې یې د غایر خان نوم اورېدلی وو، حال دا چې دا راز ورته «سوباتای» ویلی و.

غایر خان وپوښتل: هغه دوه مغولان له تا سره څه کار درلود؟

بالخاش- هسې زما لیدو ته راغلي وو.

غایر خان- هغه هم د نیمې شپې وروسته؟ ته باید حقیقت ووایې.

بالخاش- حقیقت همدا و چې ما درته وویل.

غایر خان- د هغوی وړاندیز څه و تاته؟

بالخاش په قهر وخندل او ویې ویل: وړاندیز؟! ته احمق سړی یې، ته یوازې پلمه لټوې او غواړې له ما خبرې راوباسې، خو دا بې‌فایده ده.

ناڅاپه یې چیغې کړې: "ولې ولاړ یې؟ امر وکړه چې ما ووژني.

غایر خان- نه، ته باید دومره ژر ونه وژل شې، لا هم زما د پوښتنو ځوابونه دې نه دې راکړي.

بالخاش- زه نور هېڅ ځواب نه لرم چې تاته درکړم.

غایر خان- ته د هغوی جاسوس یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش په غوسه وويل: ته يو ټيټ او بې‌ارزښته سړی يې چې دا خبرې کوې!
غاير خان زهرجن وخندل او ويې ويل: ژر به دې غږ د تل لپاره خاموش کړم.
بالخاش- ته بله چاره هم نلری، همدا دې يوازينۍ چاره ده.
غايرخان- سوباتای او چپه نويان څوک دي؟
بالخاش- زه هغوی نه پېژنم.
غايرخان- پير احمد د کوټې له دروازې شاته ستاسو او د هغو دوو مغلو خبرې اورېدلې، چې تاسو د څه شي په اړه خبرې کولې!
بالخاش- پير احمد هېڅ نه دي اورېدلي.

غاير خان د پير احمد لور ته لاړ، د هغه مخې ته ودرېد او ويې ويل: هغه خبرې تکرار کړه کوم چې دې هغه شپه اورېدلې وه.
پير احمد، چې تر دې دمه خاموش و، ناڅاپه په ژړا پيل وکړو، د هغه زنه لړزېده، او په داسې غږ يې خبرې کولې چې په زحمت له ستوني راوت:
- بالخاش، ما وبښه! هغوی زه شکنجه کړم، او زه .... زه يې مجبور کړم چې هر څه ووايم چې پوهېدم. ما وبښه... ما درسره خيانت وکړ.

بالخاش خپله لاړې تيرې کړې او ويې ويل: ته بايد ما وبښې، ځکه چې دا جلادانو ته زما په خاطر شکنجه کړی يې.
غاير خان خپل سوک د پير احمد پر سينه وواهه او ويې ويل: خبرې وکړه!
پير احمد- هو... ما د دروازې له شا د سوباتای او چپه نويان نومونه واورېدل.
غاير خان د بالخاش لور ته راغی، څو قدمه وړاندې ودرېد او ويې ويل: اوس دې واورېدل، خائن؟ اوس خپل په خوښه وايې چې دا دوه مغول څوک دي؟ يا که د شکنجې په زور درڅخه راوباسم معلومات؟

بالخاش- هغوی دوه مغولي سوداګر دي...
غايرخان- نه! ته دروغ وايې! هغوی د چنګيزخان جاسوسان دي!
بالخاش ځواب ورکړ: بيا نو ته له ما ډېر معلومات لرې، ځکه زه نه وم خبر!

(c) ketabton.com: The Digital Library

غایرخان- ځکه چې زه خاینان پېژنم او پوهېږم چې هغوی له چا سره لیدل کتل کوي! بیا یې د سزا ورکولو مامور ته وکتل او ویې ویل: پیر احمد نور د کار نه دی، راحت یې کړه!

بالخاش چیغې کړې: نه! هغه مه وژنئ، هغه بې‌ګناه دی. آزاد یې کړئ، ما د هغه پر ځای شکنجه کړئ، ما د هغه پر ځای مړ کړی.
غایرخان یو مردار مسکا وکړل او ویې ویل: ته به هم د ده وروسته ووژل شې، خو له دې وړاندې چې ته د ښار په میدان کې ووژل شې، باید زما پوښتنو ته ځواب ووایې. د دې لپاره چې ته مجبور شې خبرې وکړې، هر څه چمتو دي. هڅه وکړه چې بې له شکنجې هر هغه څه ووایې چې د هغو دوو مغولو په اړه پوهیږې.

بالخاش- زه په هېڅ نه پوهېږم.
غایر خان د سزا ورکول مامور ته وویل: د بالخاش مېلمه پالنه وکړئ.

د شکنجې ورکولو د مامور شاګردانو بالخاش له ساتونکو واخیست، لاسونه او پښې یې له څلورو میخو سره وتړل، او د لاسونو د ګوتو ترمنځ یې نری نری لرګي کېښودل او سخت یې پرېکاږل...

بالخاش یوازې څو شېبې مقاومت وکړ، خو د سخت درد له امله تندی د ګونځو ډک شو، او د هغه چیغې د زندان په تورو دیوالونو کې خپرې شوې... د هغه حرکاتو ښودله چې له شدیده درده ځان تاو را تاو کوي.

غایرخان د شکنجې مامور ته اشاره وکړه: تم شئ!
د شکنجې د ورکولو مامور شاګردانو د بالخاش لاسونه ازاد کړل.
غایرخان- ایا اوس هم انکار کوې؟

بالخاش ځواب ورنه کړ. د ګوتو درد یې پعذاب کړی و، ساه یې سخته اخیسته، سترګې یې د شدیده درده پټې وې، او ګوتې یې نور حرکت نه کاوه.
د سزا ورکولو مامور وویل: قربان! اجازه راکړئ چې دی خبرو ته مجبور کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غایرخان- دی زما غږ اوري، بله چاره نه لري، باید زما پوښتنو ته ځواب ووایي.
بالخاش لږ سترګې پرانیستې او په درزیدلي غږ یې وویل: "زه... هېڅ... نه وایم...
غایر خان په معناداره موسکا وویل: ښایي د دویمې شکنجې وروسته خبرو ته تیار شي...

او بیایې د سزا ورکولو مامور ته اشاره وکړه چې کار ته دوام ورکړي.

دا ځل هغوی د بالخاش دواړه لاسونه په نریو رسیو سره په یو رقم ګرځنده ماشین وتړل، او بیا د سزا ورکولو د مامور شاګردانو دواړو خواوو ته رسې ورو ورو په همغه ماشین تاوولې، او د هغه سره سم د بالخاش لاسونه کش کېدل. دا بول شکنجه پخپله سخت دردناک وه، او درد یې له اوږو او تخرګونو څخه پیلېده.لکه داسې و، ته وا رګونه یې د شلېدو په حال کې دي. هډوکي یې په شدیده توګه درد کاوه.

بالخاش، چې نفس یې په سینه کې بند پاتې و او د ډېر درد زغملو څخه یې د مخ رنګ توری شوی و، او د مغزی رګونه یې د سخت درد له کبله راوتي وه، ولاړ وو.
غایر خان، چې ورو ورو یې حوصله ختمېده، وویل: د هغو دوو مغولو جاسوسانو په اړه راته وایه...

بالخاش، په داسې غږ چې د ستوني بندښت یې پکې ښرګند و، وویل: وواياست چې لاسونه مې پرېږدي!
د غایر خان په اشاره، د بالخاش لاسونه خلاص شول. هغه ژور سا واخیسته، او که څه هم لا هم درد احساساوه، ویې ویل: هغه دوه مغول... سوداګر وو.

غایر خان ناڅاپه په غصه شو، او په قهر یې چیغه کړه: دا احمق زما سره لوبې کوی! شکنجه یې کړئ!
— نه، دا کار مه کوئ!

بول د غږ خواته وګرځېدل، خان سلطان د زینو سر ته ولاړ و. ناڅاپه چوپتیا خپره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غایر خان دا چوپتیا ماته کړه او وپوښتل: ته دلته څه کوې، خان سلطان؟
خان سلطان- راغلې یم چې هغه وژغورم.
غایر خان په غوصه باندی ساتونکو ته وویل: سمدلاسه یې خپلې استوګنې ته بوځئ!

دوه ساتونکي روان شول چې د زینو پورته وخېژي. خو خان سلطان، چې ښي لاس یې تر شا پټ ساتلی و، ناڅاپه مخ ته راووست،یو خنجر یې په لاس کې ځلیده، لاس یې پورته کړ او په ګواښونکي انداز یې وویل:که تاسو هغه ته شکنجه ورکړئ، زه به دا خنجر په خپل زړه کې ننباسم!
غایرخان حیران و چې څه وکړي. هغه له بالخاش څخه کرکه درلوده، خو خان سلطان یې د هغې د بې‌سارې ښکلا له امله ستایله.
په نرم غږ یې وویل: لیونتوب مه کوه، دا خنجر وغورځوه!

خان سلطان- نه! ته باید هغه ته شکنجه ورنکړې!
غایرخان- خو بالخاش خائن دی، هغه له مغولو جاسوسانو سره اړیکه لرله!
خان سلطان- نه دا دروغ دی، تا ماته د دې څخه مخکې هم یوځل دروغ وویل چې بالخاش د غلو لخوا وژل شوی.

بالخاش، چې لږ څه ښه شوی و، په لوړ آواز وویل: تاسو د غایرخان مزدوران باید پوه شئ چې دا سړی څومره خاین او بې‌غیرته دی!

غایرخان، چې ځانګړی چل یې درلود، ژر پوه شو چې که د دې صحنې پای ته رسول وځنډوي، نو ښایي خان سلطان د بالخاش د آزادۍ غوښتنه وکړي. نو، تسلیم شو او په خندا یې وویل: زه ستا غوښتنه منم!
بیا یې ساتونکو ته مخ واړاوه او ویې ویل: دی زندان ته یوسئ!

بیا پخپله د زینو پورته وخوت، د خان سلطان له لاسه یې خنجر واخیست، لاس یې د هغې پر اوږه کېښود، او دواړه د ماڼۍ له دهلیزه ووتل، له بل پلوه، بالخاش له زولنو خلاص کړل شو، خو زندان ته یووړل شو. شکنجه شوی بدن یې د زندان پر یخ فرش

(c) ketabton.com: The Digital Library

وغورځول شو، او دروازه پسې بنده شوه. لږ وروسته، د بالخاش د ډېر درد بېسده شو، په داسې حال کې چې د پیراحمد جسد د ماڼۍ د زېرمتون تر شا، پر یخې او نمجن ځمکې پروت و ....

***

هغه حالت چې خان سلطان د غایرخان لپاره رامنځته کړی و، غایر خان دې ته متوجه کړ چې که چیرې بالخاش د ښار په میدان کې د خلکو په وړاندې اعدام کړي، نو ممکن خان سلطان ځان وژنه وکړي. نو باید بله لاره پیدا کړي او بالخاش په بله طریقه له منځه یوسي. غایر خان پرېکړه وکړه چې بالخاش به د نورو محکومینو په څېر، د زندان په زیرزمیني کې د جلاد په لاس ووژني.

دا د بالخاش د زندان څلورمه شپه وه، شکنجه او عذاب نور نه و. هغه احساس کاوه چې غایر خان د هغه د قتل نقشه جوړه وی، ترڅو پرته له کوو شور ماشور یې له منځه یوسي. بالخاش له مرګ وېره نه درلوده؛ هره شېبه یې انتظار کاوه چې دی به د زندان شاته بوځي. هغه پوهېده چې هلته به څوک د ده په انتظار وي.د زندان شاته یو کوچنی کوټه وه، چې د فرش پر نیمه برخه یې یو غټ، ضخیم چرم خپور و، چې د وینې وچه شوې داغونه یې درلودل. د دې ځای رڼا د یوې کوچنۍ مشعلې له برکته وه.

دا وېروونکی ځای د غایرخان د جلاد د کار ځای و،یو دروازه یې د مرګ زندان ته خلاصېده، چې محکومین یې له هغه ځایه دننه کول، او بله دروازه یې د زندان دهلیز ته تلله، چې جلاد او د هغه شاګرد به له هغه ځایه تګ راتګ کاوه.په دې وحشتناک ځای کې، د ستري او نسبتا صافې ډبرې شتون د پام وړ و، چې د یوې ژورې څاه خوله یې پوښلې وه. د متعفن بوی فضا ډکه کړې وه، د هغو جسدونو بوی چې د څاه په تل کې خوشا شوي وو. جلاد او شاګرد یې د دې ځای له بوی او وینو سره عادت شوي وو، او دا هر څه یې د ژوند یوه برخه ګرځېدلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کوټې لاندې له دیواله یوه نرۍ اوبه راوتلې، چې یو کندې ته تویېدلې او بیا له هغه ځایه بهر ته تللې. هر ځل چې جلاد به له خپل کاره فارغ شو، شاګرد به یې، خنجر او چرمي پیش بند د کالو چې د محکوم د وینې څخه رنګین شوی و. لاندې یې په باریکو اوبو وینځلو او بېرته یې په خپل ځای کېښود، خو مشعل تل بل و. د اوبو د دوامدار تویېدو یکنواخت غږ، چې په یوه کندې کې لوېده، د دې ځای وحشت زیاتاوه. د مشعل نامنظمې لمبې، د اوبو تویېدو غږ، او د جلاد او د هغه د شاګرد ویرونکې څېرې، د محکوم زړه له درزا غورځاوه.

بالخاش، چې د غایرخان د محافظینو مشر و، دا ځای یې لیدلی و پوهېده چې له هغه زنداني سره، چې د مرګ سزا ورته ورکړل شوې، څه ډول چلند کېږي...

دی د خپل زندان په څلورمه شپه د یوه شومې پېښې خبر ورکاوه. هره شېبه یې تمه درلوده، چې دی به د جلاد خونې ته بوځي. د دیوالونو تر شا یې د اوبو د تویېدو غږ اورېده او د ټوټه ټوټه شویو مړو د وینې بوی یې احساساوه... شپه نیمایي ته رسېدلې وه. بالخاش هر لحظه د زندان ساتونکو ته انتظار و، چې راشي، ده ته ورشي، او د مرګ تالار ته یې یوسي.ده داسې احساس کاوه، لکه دا چې یې د ژوند وروستۍ شپه وي. د جلاد او د هغه د شاګرد وېروونکي څېرې، چې د وژنې پر مهال به یې خپل مخونه د یوې کڅوړې نقاب ته پټول، د ده له ذهنه نه تللې. د هغوی وحشتناک څېرو تصور، دی سخت وارخطا کړی و.

بالخاش، له ټولو شکنجو سره سره، لا هم قوي روحیه درلوده. د جنګ په ډګر کې وژل کېدل، تر هغه وحشتناکه مرګ، چې د مرګ په کوټه کې یې ورته انتظار کاوه، ورته غوره ښکارېده.یو څه وروسته، د څو کسانو د قدمونو غږ د زندان فضا غلې کړه. بالخاش له ځایه پاڅېد، د زندان دروازې ته ورغی، او د دروازې له کوچني کړکۍ یې د باندې وکتل.د ده سترګې پر محمد مهدي ولګېدې، چې اوس یې د غایر خان په دربار کې مقام ترلاسه کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش د زندان د خاصو ساتونکو تمه درلوده، خو کله چې یې محمد مهدي ولید، حیران شو، او له ځانه سره یې وویل: دی دلته څه کوي؟

لږ وروسته، محمد مهدي، د زندان مشر ته غږ کړل، او هغه چې تازه خپل کوټې ته تللې و په تیز را ووت، مهدی ورغی او ورته یې وویل چې د بالخاش زندان خلاص کړي. بالخاش حیران شو، محمد مهدی له ده سره څه کار لري؟
ده اوږې پورته واچولې او خپل ځان ته یې وویل: یقیناً راغلی چې ما د شکنجې خونې ته بوځي.

زندانبان د بالخاش زندان خلاص کړ او خپله یې ځان شا ته کړ. محمد مهدی د زندان دننه قدم کېښود. دوه زاړه ملګري یو د بل مخې ته ودرېدل.
بالخاش په مسخره خندا وویل: آخر خپل هیلې ته ورسېدې، او د ساتونکو مشر شوی!
محمد مهدی په نرم غږ وویل: اشتباه کوې، بالخاش! دا زما هیله نه وه چې ستا ځای ونیسم، دا د غایرخان حکم و.

بالخاش په غوسه او کرکه وویل: هماغه ناپاک غل!
محمد مهدی- آرام اوسه، بالخاش! زه له تا سره کار لرم.
بالخاش پوښتنه وکړه: له ما سره څه کار لرې؟
محمد مهدی- ما تاته د غایر خان پیغام راوړی دی.
بالخاش په ریشخند انداز وویل: کوم پیغام؟ شاید غایرخان غواړي زما وصیت واوري!
محمد مهدی- بالخاش! واوره، ما ته اجازه راکړه چې خبرې وکړم. ته له مرګ سره ډېر نږدې یې. ستا د وژلو حکم لا مخکې صادر شوی، خو ما له غایرخان اجازه اخیستې چې دلته راشم، شاید زه وکولی شم تا د مرګ له منګولو وژغورم؟

بالخاش په مسخره وویل: نو دا پیغام یوازې یوه بهانه ده؟
محمد مهدی- نه، داسې نه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش- د غایرخان هر پیغام چې وي، زه ورته ارزښت نه ورکوم.
محمد مهدی- ولې نه غواړې خپل حالت درک کړې؟
بالخاش- ولې نه، زه پوهېږم چې مرگ مې انتظار باسي!

مهدی- غایر خان پیغام را لیږلی چې که ته د چنگیز خان د جاسوسانو په اړه خپل معلومات ورکړې، نو دی به ستا له وژلو تېر شي.
بالخاش په توند غږ وویل: زه د مغل د جاسوسانو په اړه هېڅ معلومات نه لرم. غایر خان فکر کوي چې زه له دوی سره اړیکه لرم. دا یوازې یوه پلمه ده. هغه له ډېر پخوا د دې پلان درلود چې ما ووژني، یوازې د دې لپاره چې د خان سلطان واک ترلاسه کړي. بالاخره، خپل هدف ته ورسېد، او اوس به ما هم نن شپه یا هم سبا شپه د جلاد په لاس ووژني. ته هم ښه پوهېږې چې هغه څومره بد او ظالم سړی دی.

مهدی- هڅه وکړه چې مؤدب واوسې، توهین مکوه.
بالخاش، چې له قهره یې خندا کوله، وویل: ته دا تمه لرې چې زه د غایر خان د نوم په اوریدو تعظیم وکړم؟
مهدی، چې هڅه یې کوله خبرې یې نرمې وي، ورو وویل: که ته خپل غصه کنټرول کړې، ښایي وضعیت دې ښه شي.
بالخاش، چې غږ یې له قهره ډک و، وویل: که غایرخان خپل فاسد او شیطاني هوسونه کنټرول کړي وای، زه به تر آخره هغه ته یو وفادار سرتیری پاتې شوی وای. خو اوس زه ترې کرکه لرم، کرکه!

مهدی- تا زما پوښتنې ته ځواب ونه وایې.
مبالخاش- زه ستا د خبرو په مطلب نه پوهېږم.
مهدی- د مغل خان د جاسوسانو په اړه مې پوښتنه وکړه.
بالخاش- ما درته مخکې هم وویل، زه د مغل جاسوسانو په اړه هېڅ معلومات نه لرم.
مهدی- خو پیراحمد تر شکنجو لاندې په ټولو خبرو اقرار کړی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش- په دی خبرو پوهېږم، او سخت هم خوشحاله یم چې غایر خان په دی موضوع داسی اندېښمن شوی. کېدای شي هغوی دا فاسد سړی ته ښه درس ورکړی!

مهدی- ته همدا غواړی؟
بالخاش په ارامه سر وخوځاوه او ویې ویل: زه پرته د غایر خان له مرګه بل هېڅ نه غواړم.
محمد مهدی هڅه وکړه چې هغه ارام کړي، خو کله یې چې ولید هېڅ نتیجه نه ورکوي، ویې ویل: موږ سره ملګري وو...
بالخاش د هغه خبرې پرېکړې او ویې ویل: خو اوس زه ستا په څېر خلکو ته اړتیا نه لرم. ته کولی شې ولاړ شې او هغه خبرې چې ما وکړې، غایر خان ته ورسوې،بې‌شکه، هغه به سمدستي زما د وژلو حکم صادر کړي. ولاړ شه، ووځه!

محمد مهدی پرته له دې چې نور څه ووایي، له خونې راووت. هغه زندان‌ساتونکي ته وویل: دروازه بنده کړه! بیا روان شو، او ساتونکي ورپسې لاړل. لږ وروسته، د هغوی د پښو ږغ ورک شو، او درنه خاموشی په شاوخوا خپور شو.بالخاش لا هم د دروازې تر شا ولاړ و او د باندې یې کتل. ناڅاپه، د تېښتې فکر د هغه ذهن ته راغی. د شکنجو دردونه لا هم د هغه په وجود کې پاتې وو، خو بیا هم یې پرېکړه وکړه چې د چل او فریب له لارې له زندانه وتښتي. څو دقیقې یې انتظار وویست، او کله چې ډاډه شو چې محمد مهدی او ساتونکي د زندان له ساحې وتلي دي، نو د دروازې له کوچني کړکۍ څخه یې زندان‌ساتونکی ته غږ کړ.

زندان‌ساتونکی، چې غوسه ښکاره کېده، له خپلې کوټې راووت.
– څه خبره ده؟
بالخاش وویل: راشه، زه غواړم زما یو پیغام محمد مهدی ته ورسوی.
زندان‌ساتونکی د زندان دروازې ته ورنژدې شو او ودرېد.
بالخاش خپله ګوتمه له ګوته وایسته، او د زندان د شا کړکۍ څخه یې وښوده او ویې ویل: دا تا ته درکوم، ځکه احساس کوم چې ډېر ژر به ووژل شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زندان‌ساتونکي چې ګوتمه ولیده، سترګې یې وغړولې، شونډې یې وخوځېدې، او موسکی شو. هغه خپل نظر ګوتمې ته ځښ کړی و او وپوښتل: د دې ګوتمې په بدل کې زه باید څه وکړم؟

بالخاش احساس وکړ چې د هغه پلان بریالی کېدونکی دی، نو خپل غږ یې ډېر مهربان کړ. زندان‌ساتونکي، چې پوه شو د قیمتي ګوتمې مالک کېږي، د خوښۍ موسکا وکړه او خپل مسؤولیت یې هېر کړ، داسې چې ته به وایې له یو ملګري سره خبرې کوي، نه له یوه زنداني سره.
بالخاش وویل: هغه نجلۍ چې زه یې خوښوم، دا مهال د غایر خان په حرم سرای کې ده. زه غواړم دا ګوتمه، چې ما سره ده او نه غواړم د جلاد لاس ته ورشي، محمد مهدي ته ورکړې. ترڅو هغه یې په پټه هغې نجلۍ ته ورسوي.

زندان‌ساتونکي وپوښتل: د هغې نجلۍ نوم څه دی؟
بالخاش وویل: خان سلطان.
بالخاش خپل لاس د زندان له کوچني کړکۍ څخه را وایست او ویې ویل: دا واخله، دا ګوتمه ستا برخه ده.
زندان‌ساتونکی ورو ورو د کړکۍ خواته ورنژدې شو، لاس یې وغځاوه، او د هغه سترګو ته یو ځانګړی بڼه پیدا شوه. لاس یې پورته نیولی و، بالخاش ګوتمه د هغه د لاس په ورغوي کې کېښوده.
ز
ندان‌ساتونکي خپل لاس ورو ورو شاته کړ، ګوتمه یې سترګو ته نژدې کړه او ځیر ځیر یې ورته وکتل.بالخاش بله ګوتمه، چې د هغه په کیڼ لاس کې وه، وایسته او زندان‌ساتونکي ته یې وویل: دا هم واخله، جېب ته یې واچوه، دا ستا ده.
زندان‌ساتونکي ډېر ژر ګوتمه د خپل کمیس تر لاندې جیب کې پټه کړه، خو بیا یې د بلې ګوتمې خواتهپه  حریصانه نظر وکتل.
بالخاش، چې د هغه په څېره کې د بد نیت نښې لوستلې، پوه شو چې زندان‌ساتونکی اوس ځان د دواړو ګوتمو مالک ګڼي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

زندان‌ساتونکی ډاډه و چې ډېر ژر به بالخاش اعدام شي.
بالخاش وویل: ولې ولاړ یې؟ مخکې له دې چې ناوخته شي، دا ګوتمه واخله او په یوه خوندي ځای کې یې پټه کړه، ترڅو په یو مناسبه شېبه کې محمد مهدی ته ورکړې... هېر نه کړې، د هغې نجلۍ نوم خان سلطان دی.
زندان‌ساتونکی، چې لړ شاته تللی و، بېرته رانژدې شو او لاس یې د کړکۍ لوري ته وغځاوه څو ګوتمه واخلي. خو همدا چې د هغه لاس کړکۍ ته ورنژدې شو، بالخاش د هغه مټ ټینګ ونیو او په ناځاپي حرکت کې یې هغه خپل لور ته کش کړ.

د زندان‌ساتونکی غوښتل چیغې ووهي ترڅو یو کس ورسره مرسته وکړي، خو بالخاش د خپل بل لاس په وسیله د هغه ستونی کلک ونیو،زندان‌ساتونکی له ویرې رېږدېده، ساه یې بنده شوې وه، او د هغه تیاره څېره لا هم تیاره ښکارېده.بالخاش په ګواښونکي غږ وویل: د زندان کلۍ راکړه که نه مړی به دې د دروازې تر پښو لاندې پروت وي!
زندان‌ساتونکي، چې په خفه غږ یې زحمت کاوه خبرې وکړي، وویل: پرې مې ږده...
بالخاش د هغه پر ستوني لا ډېر زور راووست او ویې ویل: کله چې کلیانې راکړې، هله به دې پرېږدم!

زندان‌ساتونکي، چې نور یې د ځان ژغورلو بله لار نه لرله،پ خپل کمربند باندی ترړل شوي کلیانې خلاص کړل، پورته یې ونیول، او بالخاش ته یې ورکړل. بالخاش د هغه مټ خوشې کړ، کلیانې یې واخیستل، او په زحمت سره یې د زندان د خونی دروازه خلاصه کړه، په داسې حال کې چې لا یې هم په بل لاس د زندان‌ساتونکي ستونی ټینګ نیولی و. د وتلو وروسته بالخاش د هغه پر ستوني وروستی کلک فشار ورکړ، بیا یې خوشې کړ.

زندان‌ساتونکی، چې مرګ یې خپلو سترګو ته لیدلی و، پر خپلو پښو ودرېدای نه‌شو. په داسې حال کې چې خپل ستونی یې په دواړو لاسونو نیولی و، پر ځمکه ولوېد، لخاش له زندان کامل راووت، شاوخوا یې وکتل. سره له دې چې شکنجو کمزوری

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې و او د سوزېدلي باوړی درد يې لا هم احساس کاوه، د ازادۍ هیله يې زړه ته زړورتيا ورکوله. احساس يې کاوه که يو توره لاس ته ورشي، کولی شي لځان ځخه دفاع کړي.په بېړه د زندان ساتونکي د کوټې لور ته ولاړ، د وسلې په لټه کې و، ځکه پوهېده چې بې وسلې د تېښتې چانس نه لري. خو پرته له يوه کوچني خنجر ځخه بله وسله يې پيدا نه کړه.

هغه يې په لاس کې کلک ونيو، خپل د زندان خونی خواته يې وروستی نظر واچاوه، چيرې چې زندان‌ساتونکی بې‌حرکته پر ځمکه پروت و، او بيا په بيړه د زينو لور ته روان شو.کله چې د زينو سر ته ورسېد، څو شېبې ودرېد.درنه خاموشی لکه د بلا سيوری پشان پر فضا خپره وه،هغه خپل نظر د دهليز خولې ته واړاوه، د تورتم ډکه، وحشتناکه فضا وه.بيا راوګرځېد، له دېواله يې مشعل راواخيست، او د دهليز پر لور يې حرکت وکړ.په ډېر احتياط يې قدمونه ايښودل. د تېښتې چانس کم و، خو يوځل هڅه يې بايد ضرور کړې واي،هغه پوهېده چې د دهليز بلې خواته به له ساتونکو سره مخ شي.

د هغه تر ټولو ستره اندېښنه دا وه چې د ساتونکو مشر طاقان! له ساتونکو سره مخ نه شي.طاقان د زندان د ساتونکو قوماندان و، او د بالخاش د نيولو پر شپه د يوې مهمې دندې لپاره له ښار وتلی و.بالخاش ته معلومه وه که تېښته يې ناکامه شي، نو وژنه يې حتمي ده.هغه په درنو، خو ډېر احتياطي قدمونو مخ ته روان و، د خنجر لاستی يې په مټ کلک نيولی و.کله چې د دهليز منځ ته ورسېد، ناڅاپه، د دهليز بلې خوا ته د مشعل رڼا راښکاره شوه. بالخاش پر ځای ودرېد.يو څو شېبې وروسته، د څو کسانو د پښو غږ د ماحول درونډ سکوت مات کړ.

ښکاره وه چې هغوی د زندان پر لور روان دي يو غږ د دهليز له بلې خوا پورته شو: ته څوک يې؟

بالخاش د غږ څښتن وپېژاند، دا محمد طاقان و، د زندان د ساتونکو مشر. بالخاش حيران پاتې شو، نه پوهېده چې څه وکړي؟ د تېښتې لار يې بنده وه، او شاته زندان

(c) ketabton.com: The Digital Library

و... د محمد طاقان راتگ زندان ته، هغه هم د شپې ناوخته، بې دلیله نه و. طاقان د بالخاش د وژلو فرمان راوړی و.

بالخاش بله چاره نه لرله، ژر یې هغه لاره بیرته واخیسته چې له هغه ځایه راغلی و، ترڅو ځان په کومه کونج کې پټ کړي. محمد طاقان احساس وکړ چې حتماً په زندان کې کومه پېښه شوې ده، نو یې ساتونکو ته وویل: هغه تعقیب کړئ، کېدای شي له بندیانو څخه کوم کس وي چې د تېښتې نیت لري.

بالخاش په تیزۍ سره د زینو لاندې خواته کوزیده، د ساتونکو د بوټونو غږونه یې اورېدل چې په دهلیز کې انکازې کولې. محمد طاقان هم د ساتونکو پسې منډه کړې وه.بالخاش تر زېرزمینې راورسېد، حیران و، نه پوهېده چې ځان چیرته پټ کړي؟ مشعل یې یوې خواته وغورځاوه، تر زېرزمینې وروستي سر پورې ولاړ، شاید په کوم خالي خونه کې پټ شي. ناڅاپه یې په یاد شول چې د زندان کیلیانې یې په همغه کوټه کې پرې ایښې کوم کې چې دي زندانی وو، ژر بېرته د ستنېدو کوښښ یې وکړو خو همغه شېبه ساتونکي د زینو سر ته را رسېدلي وو.

یو ساتونکي چغه کړه: دا د بالخاش دی!
او بیا د سترګو په رپ کې ټول ساتونکي د زینو څخه راښکته شول، محمد طاقان چې د ساتونکو پسې را رسېدلی و، غږ یې وکړ: راونیسی یې! دی نشي تښتېدای.
بالخاش د زېرزمینې په منځ کې ودرېد، د دفاع حالت یې خپل کړ. طاقان په تیزۍ سره ځان لاندې ته راورساوه او وویل: بالخاش، ما ستا د خوشې کېدو فرمان راوړی دی خپل چاقو وغورځوه او زما سره ولاړ شه، غایرخان غواړي چې تا ووینې.

ټولو ساتونکو په یو غږ وویل: ده د زندان ساتونکی وژلی دی.
بالخاش شکمن شو طاقان یو ځل بیا په نرمه لهجه وویل: زه رسمی امر ستا د خوشې کیدو او غایر خان ته د وړلو لرم، نو حماقت مه کوه، خپله چاړه وغورځوه.
بالخاش وویل: قسم وخوره!
طاقان- زموږ د کلونو دوستۍ په نوم قسم خورم چې تا ته به ضرر نه رسوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش خپله چاړه وغورځوله او وړاندې لاړ. طاقان د ساتونکو په لور وکتل او ویې ویل: اوس یې راونیسئ.

په یوه شېبه کې ساتونکو بالخاش کلابند کړ. بالخاش، چې له غوسې او کرکې څخه یې څېره سره شوې وه، طاقان ته وویل: ته هم یو کمزوری او بېغیرته سړی یې!
او ناڅاپه یې د طاقان په لور برید وکړ، خو ساتونکو هغه کلک ونیو.
طاقان وویل: غایرخان ستا د وژلو امر کړی. همدا اوس جلاد او د هغه شاګرد د مرګ په خونه کې ستا انتظار باسي.
بالخاش- خو ته دوکه‌باز یې، تا قسم وخوړ.
طاقان- ما قسم خوړلی و، چې "زه" به تاته ضرر نه رسوم! او اوس هم خپل پر قسم ولاړ یم زه به تاته لاس لا نه دروړم. ښه اوس دا راته ووایه چې ته څنګه له زندانه راوتلی یې؟

بالخاش- کاشکې ما کولای شول چې ته پخپله ووژنم!
طاقان مسخره خندا وکړه او ویې ویل: خو اوس به موږ تا ووژنو، ته د دوو ساتونکو د وژلو او د غایرخان حرم سرای ته د ناسم ننوتلو په جرم وژل کېږې، کومه وروستۍ وصیت نه لرې؟

هماغه مهال زندان ساتونکي چې هوښیار شوی و، له ځمکې راپورته شو او ویې ویل: قربان! ده ما ته چل راکړو او په زور یې کیلي راڅخه واخیستله.
طاقان- شکر، چې موو را ونیوه.
بالخاش- باید هغه بله لمبه شوې مشعل مې ستا په مخ وهلی وای!

طاقان په پوسخند خندا وکړه او ویې ویل: خاین تل بزدله وي! ته نور هغه زړور بالخاش نه یې، ته خاین یې، چې باید جلاد ته وسپارل شې!

د زندان ساتونکی وړاندې راغی، د بالخاش مخې ته ودرېد او په زهرجنه لهجه یې وویل: د ګوتمی پر ځای، ستا د وژل کېدو خبر به خان سلطان ته ورسېږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا یې یو مرداره خندا وکړه، بالخاش ځو شېبې همداسې ورته وکتل او بیا ناڅاپه یې سخت لغته د زندان ساتونکي په خېټه ورکړه... او هڅه یې وکړه چې خپل ځان د ساتونکو له منګولو خلاص کړي، خو ساتونکو کلک نیولی و.

زندان ساتونکی، چې د خېټې لغته یې وخوړه، شا ته لاړ، په شا ولوېد، او بیا، پداسې حال کې چې لاس یې پر خېټه ایښی و، پورته شو او محمد طاقان ته یې وویل: قربان! اجازه راکړئ چې زه د جلاد دنده ترسره کړم، او دا خاین مړ کړم.

طاقان- چپ شه، بوډا سړي.
بیا یې بالخاش ته وکتل او ویې ویل: کهک کوم وصیت لرې، نو وکړه.
بالخاش- زه هیڅ وصیت نه لرم. امر وکړه چې ما د مرګ خونې ته بوځي، ځکه زه نه غواړم ستا ناوړه څېره د دې ځخه نور زیات ووینم.

طاقان ساتونکو ته وویل: یوسئ! جلاد او شاګرد یې د ده د ورتګ په انتظار دی.
ساتونکو بالخاش د مرګ خونې ته روان کړ،چې دروازې ته ورسېدل، دروازه له دننه خلاصه شوه.بالخاش د اوبو د باریک څڅېدو غږ واورېد، چې له دیوال نه د مرګ په خونه کې څڅېده. د جلاد او د هغه د شاګرد څېرې یې په ذهن کې انځور شوې، د هغوی د کځورې په شان تور نقابونو شاته، یوازې د سترګو دوه تورې سورېې ښکاره وې.

د بالخاش ژبه وچه شوې وه، او د مرګ غبار یې پر مخ خپور و.
یو ساتونکي وویل: ننوځه جلاد انتظار باسي.
بالخاش نیمه مخ ور وګرځاوه او ویې ویل: هغه تل انتظار باسي...

بیا یې یو ګام د دروازې پر سر کېښود. د خونې له دننه کمزورې رڼا یې سترګو ته ورغله. ځو شېبې ودرېد، بیا یې د وېرې ډک، رپېدونکي ګامونه دننه کېښودل. دروازه د ده تر شا بنده شوه، همدا شیبه یوه قوي لاس د هغه خوله ونیوله او د خونې منځ ته یې کش کړ.د بالخاش له مخه رنګ الوتی و. سترګې یې هیڅ نه لیدلې، آن د جلاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاګرد هم، چې مخامخ ولاړ و، نه لیدو. ناڅاپه یې د چړې تېره څوکه د خپلې مرۍ پر پوست حس کړه، او ورپسې یې یو امر کوونکی غږ واورېده.

- که دې غږ پورته کړ، دا چاقو به دې په ستوني کې ننباسم!

ویره د بالخاش ستونی را ټینګ کړ، ژبه یې وچه شوې وه، او سترګې یې پرته له تیارو بل څه نه لیدل. جلاد په ورو غږ ورته وویل: زه تا نه وژنم، بلکې له دې مرګ د خونې څخه دې ژغورم، ته زما خبرې درک کولی شې؟

بالخاش خپله وچ شوې مرۍ د لاړو په تېره ولو تازه کړه، او په داسې غږ چې ګواکې له لرې ځایه راتله، ورو وویل: هو... پوههه شوم، خو تا ولې د غایر خان حکم نه عملي کوئ او ما نه وژنې؟
جلاد د هغه ستونی خوشې کړ، خنجر یې ښکته کړه او ویې ویل: لاندې وګوره!
کله چې بالخاش واورېدل چې جلاد غواړي دی وژغوري، نو یو څه امید یې پیدا کړ. ورو یې سر ښکته کړ، نمجن ځمکه یې ولیدله، او د دوو کسانو جسدونه یې ولیدل چې پرمخ پر ځمکه لویدلی وه!

په حیرانۍ یې جسدونو ته وکتل او له ځانه یې پوښتنه وکړه: دلته څه پېښ شوي؟ دا وژل شوي کسان څوک دي؟ جلاد ولې نه غواړي ما ووژني؟
هغه د دې پوښتنو هېڅ ځواب نه لاره. د ده ذهن هېڅ روښانه ټکی یې نه پیدا کاوه چې د دې تیاره او مبهم حالت پرده پورته کړي. هغه چې څو شېبې وړاندې د مرګ تر غاړې رسېدلی و، اوس له مرګ سره ډېر فاصله لرله. حیران و، نه پوهېده څه ووایي. ورو یې سر پورته کړ.

جلاد، چې لا یې هم خپله خبره د تورې کڅوړې تر شا پټه کړې وه، ورو وویل: دا دواړه مړي د اصلي جلاد او د هغه د شاګرد دي!
بالخاش سترګې په جسدونو خښې کړې، بیا یې جلاد ته وکتل، او ویې ویل: نو ته...
جلاد د هغه خبرې پرې کړې او ویې ویل: موږ د دې لپاره خپل ځانونه له خطر سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخ کړل ترڅو تا وژغورو.
بالخاش- له ما څه غواړې؟
- زه یوازې دا دنده لرم چې تا له دې ځایه وباسم.
بالخاش- خو زه باید تا وپېژنم.

- کوشش وکړه چې پوه شې، ته په ډېر خطرناک حالت کې یې. ستا ژوند یوازې په یو تار پورې ترلی دی.
بالخاش اټکل وکړ چې کېدای شي دا دوه کسان، چې جلاد او د هغه شاګرد یې وژلي او د هغوی ځای یې نیولی، د مغول خان جاسوسان وي. دوی د "چپه نویان" په امر د غایر خان زندان ته ننوتي، تر څو هغه وژغوري.
جلاد خپل شاګرد ته وویل: بیرون ته وګوره!

د جلاد شاګرد د دروازې له درز څخه لاندې ځمکې ته وکتل، لږ وروسته یې سر شا ته کړ، بېرته جلاد ته وکتل او ویې ویل: طاقان او ساتونکي لا هم ولاړ دي.
بالخاش- هغوی انتظار باسي ترڅو زما مړی ووینې.
جلاد- خو هغوی به ستا د مړي پر ځای، د جلاد او د هغه د شاګرد له مړي سره مخ شي.
بالخاش- له کومې لارې باید تېښته وکړو؟
جلاد- ته باید تر ما ښه د دې ځای پټې لارې وپېژنې. موږ به له هماغې لارې وځو، له کومې چې راغلي یو.

بالخاش تر یوه حده د زندان له پټو لارو او دهلیزونو سره بلد و، خو تر دې دمه نه پوهېده چې جلاد او د هغه شاګرد د مرګ خونې ته له کومې لارې را ننوتی؟
جلاد یوه کوچنۍ پټه دروازه پرانیسته او خپل شاګرد ته یې وویل: حرکت وکړه.

د جلاد شاګرد له دیوال څخه مشعل راواخیست، د هغه کوچني دروازې له لارې ووت، وروسته یې بالخاش ته وکتل او ویې ویل: اوس ستا وار دی.
بالخاش ورپسې روان شو، لږ وروسته جلاد هم د مرګ له خونې ووت.دهلیز تیاره او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویرونکی و، چت یې ډېر ټیټ و، داسې چې حتی د منځني قد لرونکي کسان هم باید د تېرېدو پر مهال خپل سر لږ ټیټ کړي وای.

د دهلیز نمجنه هوا او بد بوی د ساه اخیستل سخت کړي و، د خپل مخ نقاب لری کړو او خپل د مخ خوله یې وربادی پاکه کړه. جلاد، چې اصل کې د مغول خان له جاسوسانو څخه و او د بالخاش تر شا روان و وویل: موږ مجبور شوو چې د مرګ خونې ته د رسېدو لپاره یو ساتونکی ووژنو. بله لار نه وه پخپله یې زموږ کار کې مداخله وکړه.
بالخاش وپوښتل: تاسو د طویلی له انګړ څخه دهلیز ته داخل شوئ؟
جلاد ځواب ورکړ: هو، ته هم له دې پټې لاری خبر وی؟
بالخاش- تر یوه حده، اوس ورو ورو هر څه را یادېږي...
جلاد وخندل او ویې ویل: لکه چې وېرې ستا مغزه له کاره غورځولی و؟

بالخاش لنډ وخندل او ویې ویل: هو، همداسې ده. ستا وحشتناکه بڼه او د شاګرد موجودیت دې، کولای شي تر ټولو زړور سړی هم ووېروي. هماغه شیبه چې ته زما تر شا وې او زما ستونی دې ونیو، او د خنجر تیره څوکه دې زما پر مری کېښوده، نږدې و چې زړه مې ودریږي!
مغولي سړي وویل: بله لار نه وه. زه مجبور وم چې تا ناڅاپه ووېروم، او بیا درته ټوله کیسه وکړم.
بالخاش وپوښتل: تاسو دواړو ته چا دنده درکړې؟ چپه نویان؟
جلاد- ښه ده اوس دی مغز لږ، لږ کار کوی او درک کوې چې چا ستا د تېښتې نقشه جوړه کړې دوه!

بالخاش- چپه نویان زما څخه څه غواړي؟
- له همغه وپوښته، هغه ستا دوست دی کنه؟
بالخاش- هو، زه پوهېږم، هغه تر اوسه څو ځله زهله مرګه ژغورلی یم اوس نو ښه پوهېږم چې څوک زما دوست دی، او څوک زما دښمن!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یې په ځنډ سره وویل: که موږ کولای شو هغه هم وژغورو...
جلاد وپوښتل: ستا مطلب خان سلطان دی؟
بالخاش- هو، د هغې د ژغورلو لپاره کومه نقشه لرئ

جلاد- ما ته هېڅ امر نه دی شوی، زه یوازې د دې لپاره راغلی یم چې تا وژغورم.
دواړه چوپ شول،د مشعل تور لوګی د دهلیز هوا نوره هم ساه بندوونکې کړې وه.
بالخاش لومړی ځل و چې له دې ځایه تېربېده.هغه لا هم د آزادۍ احساس نه کاوه، ځکه لا یې له خطرناکې سیمې تېښته نه وه کړې.په همدغو خطرناکو شېبو کې، چې د جلاد شاګرد پسې روان و، په ذهن کې یې ګڼې نقشې رسمولې خو تر ټولو مهمه د خان سلطان ژغورل او له غایر خان څخه انتقام اخیستل و.

جلاد وویل: موږ باید تر سپېدو دمخه له اترار ووځو.
بالخاش- که کومه پېښه رامنځته نه شي.
جلاد په ځانګړې ډول وخندل او ویې ویل: باید له همدا اوسه یو پر یو د جګړې لپاره تیار شې. موږ له یوې خطرناکې لارې تېرېږو، او هره شېبه ممکن له ساتونکو سره مخ شو. له وژلو خو ویره نه لرې؟
بالخاش- زه ان حاضر یم چې غایر خان هم ووژنم!
جلاد یو لنډ وخندل او ویې ویل: تلوار مه کوه، ملګریه ...

د دهلیز خولې ته ورسېدل، یو ځل بیا چوپتیا خپره شوه.د جلاد شاګرد، چې مخکښې روان و، د یوې کوچنۍ دروازې مخې ته ودرېد.
جلاد وویل: ولې ودرېدلې؟ دروازه خلاصه کړه!
شاګرد مشعل مړ کړ، ناڅاپه تیاره خپره شوه.
جلاد، د خنجر لاستی یې د بالخاش لاس ته ورکړ: دا ونیسه!
شاګرد ورو ورو کوچنې دروازه چې د کړمۍ هومره اندازه یې وه خلاصه کړه، او په خپل سینه پر ځمکه وخوځېده، او د دهلیز له خولې بهر ووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو شېبې وروسته، بيرته راغی او په ټيټ غږ يې وويل: راووځئ، څوک نشته!
بالخاش په بيړه ځان د دهليز له خولې بهر کړ، شا ته يې يوه ديوال ته تکيه وکړه.
څه شېبې وروسته، جلاد هم ورسره يوځای شو. اوس درې واړه د دهليز تر څنګ ولاړ و.شاوخوا ته يې وکتل دوی په يوه نسبتاً لوی انګړ کې ولاړ و، چې تياره وربانديې خپره وه، دا يو وران ځای و، چيرې چې د ورځې پر مهال آسونه د صحن له شمالي اړخ څخه، چې هلته طويله و، راوستل کېدل. د دې وران ځای په لوېديځ اړخ کې يو کوچنی دروازه وه، چې يو تنګ دهليز ته پرانيستل کېده.

او د دې دهليز په پای کې يو کوچنۍ انګړ وه، چيرې چې د غاير خان ماڼۍ ساتونکي استراحت کاوه. د دې استراحت ځای يوه څنډه د حرم سرای له بيروني باغ سره وصل وه.معمولاً جلاد او د هغه شاګرد د ساتونکو له انګړ څخه د طويلې شاته انګړ ته تلل، او له هغه ځايه د دهليز له لارې د مرګ اطاق ته ننوتل. کله چې به يې د حکم اجرا وکړه، د هماغه لارې بيرته راستنېدل، او کله چې به د باغ شاته کوټې ته ورسېدل، خپل نقابي کځوره به يې له سر نه لرې کړه. د دوی تګ راتګ ازاد و، او هيڅوک يې مخه نه نيوله.مغولي سړي سر د بالخاش خواته ورنږدې کړ او ورو يې وويل: زه او زما ملګرى کولی شو په اسانه له دې ځايه ووځو، او د ساتونکو له انګړ څخه ځان باغ شاته کوټې ته ورسوو.

بالخاش وپوښتل: آيا هغوی تاسو نه پېژني؟
جلاد- موږ د نقابي کځوړې په اغوستو خپل مخ پټوو، نو هيڅوک مو نه ويني.
بالخاش- هو، دا مې هېر و، خو زه بايد ژر تر ژره له دې ځايه ووځم. کېدای شي د زندان ساتونکي د اصلي جلاد او د هغه د شاګرد د وژل کېدو او زما د تښتېدلو خبر شوي وي. بايد بيړه وکړو!
دروغجن جلاد وخندل او ويې ويل: آرام اوسه، ملګريه موږ تا دلته نه پرېږدو په هر قيمت چې وي، موږ بايد تا وژغورو. زه باور لرم چې ستا زړورتيا به ستا د ژغورنې لامل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش - د طویلی بام لږ خطرناک دی.
دروغجن جلاد مسکی شو او ویې ویل: زه هم همدا فکر کوم ته تر ما ښه پوهېږې، چې د طویلی تر شا پر دیوال دوه ساتونکي څار کوي.
بالخاش څو شېبې په فکر کې ډوب شو، بیا یې دروغجن جلاد ته مخ کړ او ویې ویل: هو، زه پوهېږم چې د باغ یوه دروازه د کوڅې په پای کې خلاصیږي، خو بله چاره نشته. که وغواړو چې له کوڅې تیر شو، باید دا دوه ساتونکي له مخې لرې کړو.

د جلاد شاګرد، چې تر دې دمه چپ و، وویل: اجازه راکړئ، زه د طویلی دیوال ته پورته شم او کوڅه وڅارم.
دروغجن جلاد وویل: ژر شه، ځکه...
خو بالخاش د هغه خبره پرې کړه او ویې ویل: دا کار زه کوم.
جلاد وویل: زما دنده دا ده چې تا روغ رمټ خپل هدف ته ورسوم. پرېږدئ چې زما ملګری دا کار وکړي.

د جلاد شاګرد په بیړه ځان د مقابل ځای دیوال ته ورساوه. ورپسې جلاد او بالخاش هم دانګړ هغې غاړې ته ولاړل. جلاد خپل لاسونه سره یو ځای کړل، ملګري یې خپلې پښې د جلاد په لاسونو کې کېښودې، او دروغجن جلاد په چټک حرکت سره هغه د بام غاړې ته پورته کړ.جلاد شاګرد ژر پورته وخوت، او په کرار، کرار انداز یی د کوڅې خواته وکتل. دوه ساتونکي د طویلی دیوال ته نږدې قدم وهلو.هغه یو غټ رسۍ، چې د خپل اوږد کمیس لاندې یې پټ کړی و، راواخیست. یو سر یې د طویلی له انګړ څخه راختلي زوړ ونې ته وتاړه، او بل سر یې د بام له غاړې ښکته کړ. بالخاش، او ورپسې جلاد، له رسۍ پورته شول، او ځانونه یې په بام وغځول.

ناڅاپه، د ساتونکو په انګړ کې شور او زوږ شو. د هغوی خبرې نه اورېدل کېدې، خو څرګنده وه چې د زندان ساتونکي د بالخاش د تېښتې او د جلاد او د هغه د شاګرد د وژل کېدو خبر شوي دي. د ساتونکو ترمنځ بې‌نظمي رامنځته شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش یو لنډ خندا وکړه او ویې ویل: بیچاره محمد طاقان. په خطر کې لوېدلی غایر خان هغه زما د تېښتې مسؤل ګڼي.

د مغول خان جاسوس، چې موږ ورته دروغجن جلاد وایو په زیرکانه ډول وخندل او ویې ویل: طاقان باور نشې کولی چې تا به رښتینی جلاد او د هغه شاګرد وژلي وي. دی باوري دی چې کومه بله دسیسه روانه ده!
بالخاش په داسي لهجه چې غوسه او کرکه ترې احساسېده وویل: د دې کار وروسته هغه باید پوه شي چې له چا سره یې معامله ده.
دروغجن جلاد وویل: له دې وروسته موږ له هغوی سره مخ یو. ژر به هر څه روښانه شي. مخکې له دې چې ناوخته شي، باید له دې کوټې ووځو. راځه، له ما سره راشه.
بالخاش وپوښتل: څه کار غواړې وکړې؟

جلاد- طویلی ته ننوځو بله لار نشته.
درې واړه له غټې ونې ښکته شول. د جلاد شاګرد د طویلی دروازه خلاصه کړه.
دروازې ته نږدې په دیوال یوه کوچنۍ څراخ ځوړند و، چې د غوړیو په سوځېدو یې کمزورې رڼا خپروله.
جلاد وویل: وخت کم دی، موږ نشو کولی چې آسونه زین کړو.

درې واړه د آسونو خواته ولاړل. ناڅاپه، د طویلی په فضا کې د یوه آس لوړ ښبهار چغې خپره شوه.
بالخاش وویل: لکه چې راګیر شو؟
په همدې شیبه، یو سړی، چې په لاس کې یې کوچنی څراغ و، طویلی ته راداخل شو او په لوړ غږ یې وپوښتل: دلته څوک دی؟
درې واړه د آسونو تر شا پټ شول.
هغه سړی څو ګامه وړاندې راغی، هڅه یې کوله چې په کمزورې رڼا کې هر څه ووینې.بالخاش ورو د جلاد غوږ کې وویل: دا سړی ما ته پرېږده.
جلاد غوښتل وپوښتي چې "ته څه کول غواړې؟" خو ناوخته شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش ناڅاپه په لوړ غږ وویل: زه یم راغلی یم چې یو آس زین کړم. د امیر لخوا دنده راکړل شوې ده.
هغه سړي، چې د آسونو ساتونکی و وپوښتل: ستا نوم څه دی؟
بالخاش یو ګام وړاندې شو او وویل: زه د محمد مهدي لخوا رالېږل شوی یم..

راته نږدې شه ..
سړي وویل: نوم دې ووایه.
بالخاش د هغه پر لور ورغی، مخامخ ودرېد او ویې ویل: فکر کوم چې ته ما پېژنې؟
سړي خپل سر لږ ورنږدې کړ، خو ناڅاپه یې ځان شا ته واچوه او په حیرانتیا یې وویل:بالخاش! ته باید په زندان کې وای! ته دلته څه کوې؟
بالخاش په آرامه وویل: زه هم دا خبره درته کوم.
ناڅاپه، یې د سړي په خېټه یو زورور لغت وواهه، هغه سړی چې نسبتاً ځوان و، شاته وغورځېد، او څراغ یې له لاسه ولوېده.بالخاش ورته چانس ورنکړ، په یوه خیز یې ځان پرې واچوه او د هغه غاړه یې کلکه ونیوله.

سړي خپل دواړه لاسونه د بالخاش تر زنې لاندې کېښودل او په ټول زور یې فشار ورکاوه،بالخاش سره له دې چې چاقو ورسره و، نه یې غوښتل چې دا وکاروي. هڅه یې کوله چې سړی پرته له وسلې بې‌وسه کړي.په یوه شېبه کې یې د هغه غاړه خوشې کړه، خو دواړه لاسونه یې کلک ونیو، تاو یې کړل، او سړی یې بې‌وسه کړ.
د طویلې ساتونکي مقاومت نشو کولی، لاسونه یې ښکته راولوېدل.هغه فکر وکړ چې یوازینۍ لاره دا ده چې د مرستې لپاره چیغې ووهي.خو همدا چې یې خوله پرانسته، بالخاش کلک سوک پر خوله ورکړ.

چې غږ یې په ستوني کې بند شو.بالخاش څو ځله د هغه سر پر ځمکه وواهه، سړی بې‌وسه شو، د خبرو توان یې له لاسه ورکړ، او لږ وروسته بې‌هوشه شو.بالخاش راپورته شو او د مغولي جاسوس (دروغجن جلاد) ته یې غږ کړ: چېرته یاست؟ بیړه وکړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروغجن جلاد ور نږدې شو او ویې ویل: خطر موږ ته نږدې شوی و؟
بالخاش وویل: نور باید ځنډ ونکړو.

له طویلی څخه یې درې آسونه راوایستل، ژر یې د هغوی خولی ته واګې واچول.
بالخاش وویل: د طویلی د هغه دروازی کیلي چې کوڅې ته خلاصیږي، باید د دې سړي سره وی؟
دروغجن جلاد لنډ وخندل او ویې ویل: موږ سره یوه اضافه کیلي هم شته.
هغه آسونه له طویلی څخه راویستل. د جلاد شاګرد دروازې ته ولاړ، او د خپلې کیلي په وسیله یې دروازه خلاصه کړه.

درې واړه، پرته له دې چې زین ولري، پر آسونو سپاره شول او یو پر بل پسې له طویلی ووتل. دروغجن جلاد د یو نازک رسی په وسیله د بالخاش د آس شا ته یو ټک ورکړ آس له ځایه وخوځېد، او نور دوه آسونه هم ورپسې را روان شول.درې واړه د کوڅې په اوږدو کې په چټکۍ سره روان وو، داسې چې پر آسونو یې ځانونه ښکته کړي وو، او پښې یې د آسونو لاندې سختې نیولې وې.یو ساتونکی، چې د کوڅې په پای کې د حرم‌سرای د دروازې ساتنه کوله، چیغه کړه: تاسې څوک یاست؟

د آسونو د پښو غږ، چې د کوڅې پر کاڼو لګېده، د شاوخوا خاموشی یې ماتول،د کوڅې په سر کې ولاړ بل ساتونکي، چې دا حالت یې ولید، پریکړه یې وکړه چې مخه یې ونیسي.هغه توره راویسته او د کوڅې په منځ کې ودرېد.بالخاش، چې مخکښ و، خپل مسیر یې بدل نه کړ، آس یې تېغ په نېغ د ساتونکي پر لور بوت.آس د ساتونکي سره وجنګېد، او هغه یې پر ځمکه وغورځاوه.ساتونکی د نورو دوو آسونو تر پښو لاندې وغورځېد.څو شېبې وروسته، چې لږ لیرې شول، بالخاش د خپل آس واګې کش کړ او د هغه سرعت یې ورو کړ.
دروغجن جلاد وویل: زما سره راشه.

دوی بیا په هماغه چټکۍ سره پر مخ ولاړل.بالخاش د آرامۍ سا واخیسته او له ځانه سره یې وویل: اوس باوري یم، چې ازاد شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروغجن جلاد وویل: شونې ده چې ساتونکي زموږ د موندلو لپاره د ښار دروازو ته لاړ شي. باید ژر تر ژره ځان وباسو،موږ باید ځانونه د شمالي دروازې خواته ورسو او له هغه ځایه ووځو.

بالخاش، چې د دوو آسونو ترمنځ يې سپرلی کاوه، وویل: ټولې دروازې تړل شوې دي، موږ باید خپل ځان وژلو ته ونه سپارو. زما کور خوندي ځای دی موږ کولای شو تر سبا ماښام پورې هلته پټ شو، او کله چې شپه شي، د دروازو له بندېدو دمخه له أترار څخه ووځو.

د مغول خان جاسوس وخندل او ويې ویل: ته څومره احمق يې بالخاش! چې داسې وړانديز کوې. ستا کور ته تګ یعني زموږ درې واړو وژل! که موږ ونيسي، د غاير خان د ډاروونکو زندانونو دروازې به د ورځې له راختو دمخه زموږ لپاره پرانيستل شي.زه باور لرم چې همدا اوس ساتونکي څو برخو ته وېشل شوي دي. يوه ډله به ستا کور ته تللې وي، ځکه فکر کوي ته به هلته پټ شې، حتی امکان لري د خان سلطان د پلار مانۍ هم تلاشي کړي.
بالخاش وویل: زموږ حالت هره شېبه خرابېږي.
مغولي جاسوس وویل: موږ باید، په هر قيمت، د شمالي دروازې له لارې ووځو، حتی که اړ شو د دروازې ساتونکي او هغه عسکر ووژنو چې هلته پیره ورکوي.

بالخاش لږ فکر وکړ، بیا يې وویل: د دروازې پرانيستل اسانه کار دی، خو د ساتونکو شاته تمبول به کار سخت کړي. همدا چې د دروازې قلف خلاص شي، هغوی به د خپلو بربنډو تورو سره له خپلو خونو راووځي، او بیا به یو سخت او خونړی جګړه پيل شي. که د دوی شمېر له موږه زيات وي، نو پرته له شکه به زموږ سرونه پرې کړي.

مغولي جاسوس په کلکه وویل: قوي زړه ولره، بالخاش! که ويره پر تا غلبه وکړي، زموږ ټولې هڅې به بې فايده لاړشي.
هغه بل جاسوس چې تر دی دمه خاموش و وویل: موږ ستا لپاره خپل ځانونه له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خطر سره مخ کړي دي.
بالخاش وویل: زه د غایر خان د ساتونکو سره د مخ کېدو څخه نه وېرېږم هېڅکله هم نه ...

یوې شېبې لپاره چوپتیا حاکمه شوه. هغوی د اسونو سپرلي ته دوام ورکړ. د اسونو د پښو غږ د کوڅو خاموشۍ او چوپتیا ماتوله.د مغول خان دوه جاسوسان د بالخاش دواړو خواوو ته سپاره وو. دوی ته امر شوی و، چې کله بالخاش له زندانه وباسي، نو باید هغه "هرسبان" ته یوسي، چیرې چې یو زیرک او هوشیار سړی د هغوی په تمه و. دغه سړی "سوباتای" و، چې د چنګیز خان له دوو ستر جاسوسانو څخه یو و.سوباتای په بې‌صبری خپل د پلان بریا ته منتظر و، هغه پلان چې د بالخاش د ژغورلو لپاره جوړ شوی و. دی مطمئن و، چې سرتیري به یې بریالي شي او د اُترار دغه ځوان به هرسبان ته ورسوي.

ډېر ژر، دوی د شمالي دروازې ته نږدې شول د اسونو سرعت یې کم کړ.
مغولي جاسوس وویل: باید ډېر احتیاط وکړو.
بالخاش- د دروازې له تېرېدو لپاره دې څه پلان جوړ کړی؟
مغولي جاسوس- لږ صبر ولره، بالخاش! زه باید تا روغ او سلامت هرسبان ته ورسوم.
بالخاش- هرسبان؟ هلته څه خبره ده؟
- کله چې ورسیدو نو پوه به شې.
بالخاش- خو زه آزاد یم، او کله چې د دروازې څخه واوړم، کولای شم چې هر لور ته لاړ شم.
مغولي جاسوس وخندل او ویې ویل: ته ډېر احمقانه خبرې کوې.

بیا یې خپل ملګري ته وکتل او ویې ویل: ته مخکې لاړ شه، دروازه خلاصه کړه، او کله چې د دروازې د ساتونکي د خونې مشعل مړ کړې، نو بیا به موږ ته نښه راکړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر احتیاط وکړه.

ځوان مغول له اسه ښکته شو، د اس پړی یې خپل ملګري ته ورکړ، او ورو ورو د دروازې پر لور روان شو.بالخاش او مغولي جاسوس، د دېوال تر سیوري لاندې، په خپلو بې‌زین اسونو ناست وو.

بالخاش- ته فکر کوې، چې دی به بریالی شي؟

مغولي سړی- هو، دی زموږ تر ټولو تکړو او هوښیارانو کسانو څخه دی، جلاد او شاګرد یې د ده په لاس ووژل شول. دی توره په ډېر سرعت وباسي او مقابل لوری بې‌خبره کوي. زه یقین لرم، چې دی به دروازه خلاصه کړي.

ځوان مغولي په احتیاط ګامونه اخستل. ټول توجه یې د دروازې د ساتونکي خونې ته متوجه وو. درنه خاموشۍ حاکم و، او هره لحظه دا وېره وه، چې د غایر خان ساتونکي به راورسېږي او د تېښتې لاره به بنده کړي.کله چې ځوان مغول د دروازی ساتونکی خونې ته ورسېد، ځان یې د تیاره سیوري ته واچاوه، څو د مشعل په رڼا کې ونه‌لیدل شي. هلته ودرېد، او د نیمه‌خلاصې خونې لور ته یې وکتل. له دننه هیڅ غږ نه راتلو.دی تر دروازې لږ فاصله لرله. کله چې مطمئن شو، چې ساتونکي ویده دي، نو په بیړه د دروازې شاته ولاړ.

هغه څو شېبې انتظار وکړ، بیا یې د دروازی غټ اوسپنه پورته کړه، درانه اوسپنه یې ورو ورو راښکود، هڅه یې کوله، چې غږ پیدا نشي، خو کله چې اوسپنه له لرګي څخه جلا شوه، لاندې ولوېده، او "ټک" یې وکړ. ځوان مغول ژر حرکت وکړ، اوسپنه یې شاته کش کړ، او دروازه یې دومره خلاصه کړه، چې یو اس په اسانه تېر شي. د تېښتې لاره پرانیستل شوې وه.اوس باید خپلو ملګرو ته نښه ورکړي، چې حرکت وکړي.ده چټک خپل توره راواخیست، بېرته د دروازی ساتونکي د خونې پر لور لاړ، څو د دروازې تر څنګ مشعل مړ کړي او بالخاش او مغولي جاسوس ته خبر ورکړي، چې کار بشپړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو کله چې د زینو سر ته ورسېد، یوه ساتونکي، چې د اوسپني د غړ له امله راویښ شوی و، له خونې بې‌وسلې راووت. د ده له نابېره لیدو حیران شو، او هڅه یې وکړه، چې بېرته خونې ته دننه شي او خپل توره راواخلي.خو د هماغې شېبې په ترڅ کې، د ځوان مغولي توره د هغه په شا کېښودل شو...

هغه کس له درده چیغې کړې، خونې ته دننه شو، او ډېر ژر د کوټې په ځمکه راولوېد. په هماغه وخت کې مغولي سرې مشعل مړ کړ. د ساتونکي چیغې هغه درې نور دروازه ساتونکي له خوبه راپاڅولو. هغوی وارخطا شول، توري یې له غلاف وایستل او داسې یې وانګېرله چې دښمن ښار ته ننوتی او سخت جګړه پیل شوې ده. خو کله چې دوی د کوټې درشل ته ورسېدل، یو مغولي ځوان د توري په واسطه د هغوی مخه ونیوله او جګړه یې ورسره پیل کړه.

هغه په خپله ټول توان هڅه کوله چې ساتونکي د کوټې دننه وساتي، ترڅو چې بالخاش او بل مغولي ور ورسیږي ساتونکو چې هر څومره هڅه وکړه چې هغه شاته وتمبوي، خو بې‌فایده وه.کله چې مغولي جاسوس او بالخاش د مشعل د مړ کېدو نښه ولیدله، اسونه یې د دروازې لور ته وخوځول او ژر یې ځانونه ورورسول. مغولي جاسوس په خپل ژبه خپل ملګري ته څه وویل. هغه په یو وار له اسه ښکته شو.

ساتونکي چې قهرېدلي وو، په بیړه له کوټې راوتلل او پرې برید یې وکړ. سخته جګړه ونښته. بالخاش پرته له یو خنجر بل هیڅ وسله نه لرله. هماغسې چې پر اس ناست و، ناڅاپه یې ځان د یوه ساتونکي پر لور وغورځاوه.په هماغه وخت کې چې دواړه خپل تعادل له لاسه ورکړ او ځمکې ته لوېدل، بالخاش د باور نه وړ چټکتیا سره خنجر د ساتونکي په شا کې ښخ کړه.د ساتونکي له خولې نه چیغه ووته، او دواړه پر ځمکه راوغورځېدل. بالخاش له یوې خوا د هغه ستونی ټینګ ونیو، او له بلې خوا یې د هغه وسله‌وال لاس لاندې کړ. بیا یې خپله پښه د ساتونکي د مټ پر سر کېښوده او کلکه یې کېکاږله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساتونکی، چې د خنجر وار کمزوری کړی و، د بالخاش د پښې د فشار له امله یې ګوتې شل شوې. بالخاش کښېنسته شو، د ساتونکي توره یې راواخیسته، او خپلو مغولي ملګرو ته یې ځان ورساوه.په تیاره کې دواړه مغول داسې جنګېدل، لکه چې له یوه سخت دښمن سره مخ وي. یو دانه دروازه ساتونکي چې یو منځني عمر سړی و، د جګړې له پیله په خپله کوټه کې پټ شوی و.

له ساتونکو څخه چې د دروازې د ساتلو دنده یې درلوده، یوازې یو تن ژوندی پاتې و. کله چې یې ولیدل چې درې جنګیالي یې په وړاندې دي، او د ده ملګری هم وژل شوی نو خپله توره یې وغورځوله او تسلیم شو. ځوان مغول خپل خنجر پرې وغورځاوه. خنجر یې د ساتونکي په سینه کې تر لاستي پورې ننوت، او هغه یې پر ځمکه راوغورځاوه.

هماغه شېبه د آسونو د پښو غږونه، چې د دروازې لور ته راتلل، له یو څه واټن څخه واورېدل شول بالخاش وویل: د غایرخان ساتونکي زموږ لور ته راځي.
د مغول جاسوس په مسخره بڼول خندا وویل: زموږ سره کار نه لري، یوازې د خپل ملګرو د مړو جسدونو د وړلو لپاره راځي.
ځوان مغول وویل: موږ باید دلته پاتې نه شو. که موږ یې ولیدو، نو حتمي به تر هرسبان پورې زموږ تعقیب ته دوام ورکړي، او معلومه نه ده چې موږ به یې له شره خلاص شو.

درې واړه د بې زینه آسونو پر شا سپاره شول، له دروازې تېر شول، او په چټکۍ سره روان شول. د دوی موخه هر سبان و، هماغه ځای چې "سوباتای" د خپلې نقشې د عملي کېدو په تمه ناست و.هغوی د اترار له شمالي دروازې ووتل. دوه مغولي سرتېري په کلکه د بالخاش څارنه کوله، ځکه چې مشر مغولي شکمن و چې ممکن بالخاش د تېښتې هڅه وکړي. دواړه د هغه دواړو غاړو ته آسونه ځغلول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش وپوښتل: په هرسبان کې موږ باید له چا سره وګورو؟
مغولي جاسوس وویل: هغه سړی چې ستا د تېښتې نقشه یې جوړه کړې، ستا انتظار باسي.
بالخاش وپوښتل: نوم یې څه دی؟
جاسوس وخندل او ویې ویل: فکر کوم چې ته به یې ښه پېژنې؟
بالخاش- نو ته غواړې چې نوم یې راته ووایې؟

جاسوس وویل: کله چې هرسبان ته ورسېدو، پخپله به پوه شې.
یو څو شېبې چوپتیا خپره شوه،بالخاش بیا وپوښتل: ستا او ستا د ملګري نومونه څه دي؟
هغه سړي وخندل او ویې ویل: اوس ولې دا پوښتنی کوی؟
بالخاش -ځکه چې نور خطر نه احساسوم.
هغه سړی چې د حلاد جامي په تن وه وویل: زما نوم "اولجای" دی او د هغه بل نوم "قا آن".

بالخاش اټکل کړی و چې "اولجای" او "قا آن" څه کاره دي. هغه فکر کاوه چې دا دواړه د چنګیز خان جاسوسان دي، چې د "سوباتای" یا "چپه نویان" له خوا د دې خطرناک ماموریت لپاره لیږل شوي دي. هغه د مغول خان د دوو لویو جاسوسانو نومونه تل په یاد درلودل.حتی د هغوی خبرې یې هم نه وې هیرې کړې. هغه په دې فکر کې و چې څنګه کولی شي د هغوی اطاعت وکړې؟

په ذهن کې یې دا را وګرځېده چې مخکې له دې چې هرسبان ته ورسیږي، وتښتي او ځان کوم لرې ښار ته ورسوي. خو د ده موقعیت داسې و چې که یې د اس سرعت لږ هم کم کړی وای، نو دا دواړه جاسوسان به پرې پوه شوي وای.له ځانه سره یې وویل: "دا ناممکنه ده چې زه دی دوی لپاره جاسوسي وکړم.

اولجای چې بالخاش په فکر کې ولېد ویې پوښتل: ولې داسي چوپ او فکرمند یې بالخاش؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

قا آن په خندا وویل: حتماً سترې شوی دی.
اولجای په لوړ اواز وخندل او ویې ویل: د هرسبان شراب سترېیا له بدن څخه وباسي.
بالخاش په ټیټ اواز وویل: د هرسبان شراب....

د بالخاش فکر د سایان د شرابخونې ښکلي نجلۍ "ایلي" خواته لاړ، لا تر اوسه یې د هغې یاد نه و کړی خاموشی یې مات کړ او ویې پوښتل: ایلي ژوندۍ ده؟
اولجای وویل: ستا مطلب هغه ایلي ده چې د هرسبان د مشهوره شرابخونې د مالک لور وه؟
بالخاش وویل: هو، د هغې څخه کوم خبر نه لرې؟
اولجای په معنا لرونکې خندا وویل: له کومه معلومه چې ایلي دې منتظره نه وي؟
قا آن په ځانګړي انداز وویل: زما په اند بالخاش په ایلي مین شوی دی؟

اولجای وویل: پرېږده چې دی خپله دا خبره وکړي.
بیا یې بالخاش ته وکتل او وپوښتل: دا رښتیا ده چې ته ایلي سره مینه لرې؟
بالخاش هغوی ته بد بد وکتل او ویې ویل: ډېر څه شته چې رښتیا نه دي.
اولجای وپوښتل: لکه کوم شیان؟
بالخاش- کله چې وخت یې راورسېد، خبر به دې کړم.

د شپې تیاره ورو ورو خلاصېده او د ورځې روښنایي د هغې ځای نیوه. بالخاش ته هغه شپه رایاده شوه، کله چې له احمد آق سو سره د هر سبان پر لور روان و. هغه وخت دی له هغو پېښو ناخبره و چې په اترار کې شوي وو، او یوازې د خپلې دندې د ترسره کولو په لټه کې و.هغه ته رایاده شوه چې احمد آق سو د غایر خان له لوري دنده درلوده چې دی ووژني، او بیا هغه خونړۍ پېښه چې د هرسبان په شرابخانه کې رامنځته شوه. وروسته احمد آق سو ووژل شو، دا پیښې څو ځله د بالخاش په ذهن کې انځور شي.

همدلته وه چې له ایلي، د سایان شراب فروش د لور سره اشنا شو. ټولې پېښې، له هرسبان څخه د مغولو د خان تر ځمکې پورې، د هغه په ذهن کې بېرته ژوندۍ شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوا بالکل روښانه شوې وه، او هر څه په ښکاره لیدل کېدل.
اولجای وویل: موږ باید په هرسبان کې د چا پام ځان ته راونه ګرځوو.
بالخاش- یوازینی حل دا دی چې ټوله ورځ د ښار بهر پاتې شو، او کله چې تیاره شوه، ښار ته ننوځو.

اولجای بالخاش ته وکتل او ویې ویل: زه یوازې ستا له وجې اندېښمن یم. که د ښار خلک تا په دې شلیدلي کالو او زخمي بدن ووینې، نو حتماً به هڅه وکړي چې تا وپېژني، چې ته څوک یې؟ او څه درپیښ شوی؟
بالخاش- او دا هغه وخت دی چې زموږ ژوند به په خطر کې ولوېږي. زه باوري یم چې د غایر خان ساتونکي زموږ د تښتېدو خبر شوي دي، او همدا اوس به زموږ په تعقیب کې وی، دوی پوهېږي چې زموږ مقصد هرسبان دی!

اولجای- په ځېر ځیر بالخاش ته وکتل او بیا یې وویل: زه دیته حیران یم د دې خبری باوجود چې ته پخپله د کلونو راهیسي په اترار کې اوسیږی او د هغه ځای اوسېدونکی یې! څنګه لا هم نه پوهېږې چې د اترار د شمالي دروازې څخه د وتلو لار هرسبان ته نه ځي؟ موږ د شمال دروازی څخه راووت او بیا د شپی په تیاره کې مو لاره بدل کړل ترڅو څوک زموږ پل وانخلي چې موږ هرسبان ته روان یو.

قا آن وویل: دا د بالخاش ګناه نه ده چې لاره نه پېژني، د زندان شکنجې یې حواس ببخي ګډوډ کړي دي.
بالخاش، چې د سړک شاوخوا ته یې کتل، وویل: همداسې ده، اولجای... ما فکر کاوه چې کله د شمالي دروازې څخه ووځو، نو هغه سړک ته به ورسېږو چې د هرسبان پر لور ځي؟
اولجای موسکی شو او ویې ویل: زه مخکې پوهېدم چې ممکن د غایرخان ساتونکي زموږ تعقیب وکړي. له همدې امله مې شمالي دروازه غوره کړه. که له ختیځې دروازې څخه وتلي وای، نو د غایر خان سپاره به زموږ تر شا وای، او موږ به یې لیدلی شوای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش - امم ته یو هوښیار او زیرک سړی یې...
اولجای وویل: ما ستا د تښتېدو نقشه نه ده جوړه کړې، دا زیرکتیا او هوښیارتیا د هغه سړي ده چې زموږ مشري کوي. دا حساب شوی پلان دهغه و. حتی هرسبان ته د رسېدو لاره هم هغه ټاکلې وه.
بالخاش- خو بیا هم امکان لري چې د غایر خان سرتیري د هرسبان پر لور لاړ شي؟
اولجای- هغوی زموږ نښې نشي موندلی. لومړی پلان دا و چې زموږ دوه ملګري به د شمالي دروازې دباندې زموږ انتظار باسي، خو دا نقشه بدل شوه، ځکه ممکن و چې دوی وپېژندل شي او ونیول شي. ته خپله ښه پوهېږې چې غایر خان زموږ سره سخت دښمن دی.

بالخاش ورو وویل: زه هم د هغه سره دښمني لرم. د هغې ورځې انتظار کوم چې خپل انتقام ترې واخلم.
کله چې هغوی یوې نښې ته ورسېدل، چې د سرک ښي لوري ته دوه تیرې یو پر بل ایښودل شوې وې، اولجای، چې د آس سواري یې په چټکۍ سره روانه وه، مخکې له دې چې هغې نښې ته ورسېږي، د سرک ښي خوا ته متوجه شو او ویې ویل: د اسونو سرعت مو راکم کړئ.

بالخاش وپوښتل: ولې؟ کومه ستونزه رامخکی شوی؟
اولجای- زموږ ملګرو د سرک ښي خوا ته د درېیمې نښې په توګه دا تیږه ایښې ده. اصلي بیلاره له هماغه ځایه پیلیږي، موږ په فرعی او ناهمواره لارو ځو ترڅو کوم کس مو ونه ګوری.

د آسونو سرعت ورو شو دوی دوهم نښه ته ورسیدل، چې د لومړۍ نښې سره ورته وه. اولجای وویل: دا دوهمه نښه ده. وینې چې ستا د تېښتې لپاره هر څه پلان شوي دي. په حقیقت کې، ته خپل ژوند موږ ته پوروړی یې.
بالخاش په زړه نازړه توګه وویل: هو، زه تاسو ته پوروړی یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه پوهېده چې له دې وروسته باید یو نوی ژوند پیل کړي، چې مقدمات یې د مغول خان په هېواد کې برابر شوي وو. هغه د مغول خان لپاره جاسوسي کوله.دوی درېیم نښه ته ورسیدل. اولجای د آس مخ بل لاری خوا ته واړاوه او ویې ویل: دا لاره د هر سبان سرک ته غځېږي،دا یو تنګ او ناهمواره لاره ده، نو موږ نشو کولی په چټکۍ سره لاړ شو.

بالخاش- ما د دې په اړه فکر نه و کړی.

اولجای په معنا لرونکي غږ وویل: ډېر داسې شیان شته چې ته یې نه پوهېږې، خو ورو ورو به یې زده کړې.

دوی د بیلارۍ پر لور روان وو. اولجای بالخاش په منځ کې نیولی و او له هغه حتی یو لحظه هم غافل نه و.

لمر کاملاً راختلی و، کله چې دوی د بیلارۍ له لارې د هر سبان پر لور روان وو. سترېيا، تنده او لوږه هغوی ځورول. کله چې لمر د نیمې ورځې پر سر شو، د هرسبان ښار ښکاره شو.

اولجای- نور ډېر لاره نه دي پاتې..

کله چې دوی اصلي سړک ته ورسېدل، بالخاش خپل د جامو په سر یو بل پنډ افسری جامه واغوسته، یو پلن چرمین کمربند یې هم وتاړه.اولجای، چې هغه ته یې کتل، لږ موسکی شو او ویې ویل: په دې لباس کې د هرسبان خلک به تا و نه پېژني، او نشي کولای د فراري بالخاش نښه غایرخان ته ورکړي، په ځانګړې توګه ځکه چې قا آن به له موږ څخه دلته جلا شي. دا طریقه غوره ده.

قا آن ورو د بالخاش پر اوږه لاس کېښود او ویې ویل: د بیا لیدو په هیله، ملګریه.

اولجای او بالخاش د هرسبان پر لور روان شول تر ښاره پورې. ډېر واټن نه و پاتې بالخاش دا فکر کاوه چې د مغولو جاسوسان د خوارزم په خاوره کې خپاره شوي او آزادانه فعالیت کوي. دا حالت د هغه لپاره، چې خپله ژوند یې د دوی احسان ګڼو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

زغم ورې نه وو،هغوی ښار ته داخل شول او له هماغه لارې يې تګ کاوه، له کومې چې بالخاش د احمد آق‌سو سره په هغه شپه د پيښو ډکه لاره وهلې وه. د ښار خلک ورته کتل او دوی له منځه تېرېدل.

د هرسبان ښار، چې د قبچاق له دښته سره نژدې و، د چنګيزخان او خوارزم ترمنځ سرحدي نقطه بلل کېده، او د چنګيزخان جاسوسانو خپل فعاليتونه ډېر په همدې ښار کې متمرکز کړي وو.کله چې دوی د شراب‌خاني مخې ميدان ته ورسېدل، اولجای وويل: مورږ به د طويلی له دروازې شراب‌خانه ته داخلېږو.
بالخاش- ژر شه، ځکه سترېيا او تنده نږدی ده ما له پښو وغورځوي.
اولجای په خندا وويل: دا ځای ستا د استراحت لپاره مناسب دی.

هغوی طويلی ته داخل شول. اولجای دروازه بنده کړه، او بالخاش له اس نه ښکته شو او د طويلی د منځني لرګي ستن ته يې ځان تکيه کړ. لږ وروسته، د يوې ښځې کراره غږ يې تر غوږ شو، چې ويل يې: له ډېر وخته درته انتظار يم.

بالخاش شاته وګرځېد، او نظر يې پر ايلې ولګيده، هر څه ورته روښانه شول. په داسې حال کې چې د نجلۍ ښکلو او ښايسته سترګو ته يې کتل، له ځانه سره يې وويل:نو دا ښکلی نجلۍ هم د هغوی لپاره جاسوسي کوي؟

ايلي همداسې بالخاش ته کتل، ورو ورو ورته نږدې شوه، مخامخ ودرېده او په داسې غږ يې خبرې وکړې لکه يو ورک شوی اشنا چې ليدلی وی: کله مې چې واورېدل غاير خان تا شکنجه کوي، نو شپه او ورځ مې له لاسه ورکړې وو.
بالخاش په سترې غږ وويل: هو، ډېر سخت يې شکنجه کړم، خو اولجای او قا آن وژغورلم.

د اولجای کلک غږ پورته شو او ويې ويل: ايلي! هر کله چې له بالخاش سره دې خبرې پای ته ورسېدې. هغه يې خپل پټنځای ته بوځه، ډېر سترې شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ايلي هيڅ ځواب ورنه کړ. اولجاى له هغه دروازې ووت چې د شرابخانې تر شا دهليز ته خلاصېده، او دواړه يې يوائې پرېښودل.
ايلي- زه دومره خوشحاله يم چې تا وينم، چې زړه مې غواړي وژاړم.
بالخاش د زيات فکرونو څخه تندى تروش کړو او وپوښتل: ايا ته هم د هغوى لپاره کار کوې؟

ايلي د ځواب ورکولو پر ځاى ورو سر پورته کړ، سترګې يې پټې کړې، او شونډې يې سره راټولې کړې. داسې ښکاره کېده لکه زړه يې چې د يوه مچ غوښتنه کوي؟ هره شيبه يې هيله لرله چې بالخاش به يې په غيږ کې ونيسي او ښکل به يې کړي. خو بالخاش په قهر وويل: تا ما ته ځواب رانکړو.
ايلي سترګې خلاصې کړې، سر يې ښکته کړ، او په خفګان يې وويل: زه ځواب نه لرم چې درکړم، ستا لپاره لا ډېر وخت پاتې دى چې هر څه باندى پوه شې.

بالخاش غوسه شو او ويې ويل: خو زه غواړم پوه شم چې تا ولې هغوى ته دلته د راتګ اجازه ورکړې؟
ايلي ځواب ورکړ: تر څو چې بيا تا ووينم، اوس په خبره پوهه شوى؟
بالخاش- دا قانع کوونکى ځواب نه دى. ته له ډېرې مودې راهيسې له هغوى سره اړيکه لرې، زه فکر کوم، له هغه وخته چې سايان ووژل شو!

ايلي داسى حال کې چې خپل سترګي مظلومي او معصومي نيولى وه وويل: ما بله چاره نه لرله، که مې د هغوى خبره نه واى منلې وژل کېدم. هغه وخت زما حالت هم ستا غوندې و.
بالخاش په کلک لهجه وويل: زما حالت له تا سره ډېر فرق لري. ته يو ټيټ، سپکه او چټله جاسوسه يې ....

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایلي له غوسې چیغې کړې: دا خبرې مه کوه! که زه نه وای، هغوی به ته وژلی وای.
بالخاش غمجن وویل: کاشکې مړه شوی وای...
ایلي- لا هم ناوخته نه ده! ته اوس هم بېرته اترار ته ستنبدای شې.
بالخاش غلی شو.
ایلي په قهر وویل: ولې غلی شوې؟ خبرې وکړه! ته وینې چې بله چاره نه لرې، بغیر د هغوی د اطاعت کول څخه، اترار نور ستا ځای نه دی یوازې یوه لاره لرې"د مغولو لپاره جاسوسي."

بالخاش له قهره په لړزېدلي غږ وویل: د مغول خان لپاره جاسوسي؟
ناڅاپه یې غږ جګ کړ: زه له دې وحشیانو کرکه لرم! کاشکې مې سوباتای او چپه نویان، دا دوزخي انسانان، په خپلو لاسو وژلي وای.
ایلي ورو د بالخاش پر اوږه لاس کېښود او په ټیټ غږ یې وویل: آرام شه، ګرانه. هڅه وکړه چې خپل خطرناک وضعیت درک کړې. ته یو تښتیدلی انسان یې د غایر خان سرتیري هر ځای ستا په لټه کې دي، منم چې دا مغولان ظالمان او بې رحمه دي، تا سایان، زما رضایي پلار، په یاد دی؟ هغه د دوی لخوا په وحشیانه ډول ووژل شو.

بالخاش په قهر وویل: خو تا هغه د مرګ کندې ته وغورځاوه.
ایلي- نه! هغه شپه زه له تا سره وم، هېر دې دي؟
بالخاش- هو، یاد مې دي، خو تا هغه په ګیر ورکړی وو.
ایلي غلی شو. څو شېبې وروسته یې وویل: راځه له طویلی څخه ووځو،ته باید لږ استراحت وکړې، قهر او کینه له ځانه لیرې کړه او د خپل ځان په فکر کې شه. هره شېبه امکان لري چې د غایر خان سرتیري هرسبان ته راشي. ته باید خپل ځان مړ نکړې، ځکه .... ځکه ...ته زما یې .
بالخاش په توند غږ وویل: زه آن د خپل ځان هم نه یم، څه ورسیږی ستا شم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په داسې حال کې چې قهر يې له څېرې ښکاره و، روان شو، دواړه له طويلې څخه ووتل.ايلي، بالخاش د شرابخانې تر شا يوه پټ دهليز ته بوت، چيرې چې يو کوچنی کوټه وه، يوازې يوه دروازه يې درلوده، د بالخاش پرته يوازې د چنګيزخان جاسوسانو دغه ځای ليدلی وو، بالخاش د کوټې په منځ کې ودرېد، په خپل حال کې ډوب و.
چې ايلي کرار وويل: سوباتای همدلته دی، بايد هغه ووينې.

بالخاش، چې د هغې مخ ته کتل په کراره وويل: ما اټکل کړی وو چې دلته به څوک زما په تمه وي! هغه له ما څه غواړي؟
ايلي- ته پخپله ښه پوهېږې...
بالخاش تندی تروش شو او په کنايه يې وويل: او ته له ما هم ښه پوهېږې..
ايلي- ته وخدای بس که،دا چينجې خبری دی.

بالخاش بغير د څه ويلو خپل کالی چې له وهلو ټوټه ټوټه شوی و، لرې وغورځاوه. د کوټې پر فرش کېناست، پښې يې وغځولې، يو څه مخکې شو، شا يې ديوال ته ولګوله، ژور سا يې واخيست او ويې ويل: زه غواړم يوازې پاتې شم.
ايلي، له دې پرته چې نور څه ووايي، ووته او دروازه يې بنده کړه.
بالخاش اوږد وغځېد، لاسونه يې د سر لاندې کېښودل، چت ته يې کتل او فکرونو کې ډوب شو.د ده لپاره له خان سلطان سره يوځای کېدل دومره مهم نه و لکه د خپل هېواد د غرور ساتنه.هغه پوهېده چې د مغولو جاسوسان به يې د عزت ماتولو هڅه وکړې.

خو څنګه يې کولی شو خپل غرور او د وطن مينه وساتي؟هغه يو زړور جنګيالی و، يو مغرور مبارز، چې هېڅ ځواک يې نه شو ماتوای.آن هغه مهال چې د غاير خان عسکرو شکنجه کاوه او مرګ يې سترګو ته ولاړ و، بيا هم تسليم نه شو او په قهرجنو ټکو يې د غاير خان ځواب ورکاوه،بالخاش له مرګه ويره نه درلوده. اوس چې دښمن د خپلو ناوړو موخو لپاره د غاير خان زندان څخه خوشې کړی و، بايد انتقام واخی

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو داسې ويرونکی انتقام چې ساری يې نه وي،هغه پوهېده که د مغولو جاسوسانو ورانديز ونه مني، نو له يو وحشتناک مرګ سره به مخ شي، او که له دوی وتښتي، بيا به يې هم د نړۍ په هر ګوټ کې ورپسې وګرځي.

له يوې خوا د غاير خان سرتېري د هغه په لټه کې وو، او له بلې خوا مغولان به يې آرام پرېنږدي، حيران وو او نه پوهېده چې څه وکړي.کرار کرار يې پر کمزوري مسکا خپره شوه، په زړه کې يې وويل:زه به له دې وحشي مغولو داسې انتقام واخلم چې تر اوسه يې چا مثال نه وي ليدلی .. ستړيا او بې‌خوبۍ بې ارادې د هغه سترګې درنې کړې او ويده شو..

خپل په سينه د يو درونډ شي په احساس کولو ورو يې سترګې خلاصې کړې.
ايلي يې وليده، چې سر يې د ده پر سينه ايښی و، او په داسې ارامه خوښې کې ډوبه وه لکه چې په بله نړۍ کې وي،بالخاش، چې څو ساعته وړاندې ورسره تونډ چلند کړی و، لاس ورو وغځاوه او د ايلي ويښتيان يې ورو ورو ونازول.ايلي، چې سترګې يې څو شېبې پټې کړې وې، موسکۍ شوه او وويل: ګرانه راويښ شوې؟

سر يې کرار د هغه له سينې پورته کړ،دواړو يو بل ته وکتل، داسې ژور نظر چې د ايلي د سترګو له کنجونو د شوق او خوښۍ اوښکې راوڅڅېدې.بالخاش خپل غښتلې لاسونه د هغې په نازک وجود راتاو کړل او لا يې ځانته نږدې کړل، پر تندي او سترګو يې ښکل کړل بيا يې د ايلي پر تندی خپل تندی کيخود، د دواړو سترګو کې احساسات او هوس څپې وهلې، ايلي داسې حالت درلود، چې تر اوسه يې هېڅکله هم نه و احساس کړی، سترګې يې له شوقه ځليدلې.زړه يې غوښتل چې په لوړ غږ چيغې کړې او ووايي: اخر بالخاش زما شو ...

ټول شيان ورته يو ځانګړی ښه درلوده. بالخاش لا هم پر ځمکه اوږد پروت و.څو دا نور هغه بالخاش نه و، چې څو ساعته وړاندې و. فکرونه يې بدل شوي وو، داسې فکرونه چې د هغه تر شاه يې خپل غرور پټ کړی و.
ايلي- ډېر وخت ويده وې... نيمه ورځ تېره شوې. ورې نه يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش لږ وخندل او ویې ویل: ښه پوښتنه دې وکړه.
ایلي د بالخاش مخ د خپلو لاسونو ترمنځ ونیوه، څو شېبې یې سترګو ته ځیر شوه، بیا یې په یو خاص شوق د هغه مخ ښکل کړو، کله چې یې سر پورته کړ، موسکۍ شوه او ویې ویل: احساسوم چې ټوله دنیا زما ده.

بالخاش وخندل او ویې ویل: نو زه بله برخه نه لرم؟
دواړو په لوړ غږ وخندل...
ایلي، لا هم د بالخاش له سترګو نه جلا کېده، لاسونه یې پر ځمکه کېښودل، ورو پورته شوه، ویې ویل: تا ته مې ډېر خوندور خواړه تیار کړي.
بالخاش- سوباتای لا هم دلته دی؟
ایلي- هغه غواړی ته ښه استراحت وکړې د هغه وروسته به ستا ملاقات ته راشي.
بالخاش- ستا څخه نظر دې؟
ایلي لږ شېبه چوپه شوه بیا یې وویل: ته باید ومنې، که هغوی ته نه وای ژغورلی...

بالخاش، د ایلي خبره نیمه کې پرې کړه: هو پوهېږم که دوی زه نه وای ژغورلی، نو وژل کېدم.
ایلي وویل: باید د هغوی وړاندیز ومنې.
بالخاش کرار وویل: بله لار نه لرم..
ایلي- اوس پوه شوې چې زه حق لرم؟ ستا غوسه یوازې د سترېیا له وجې و.
ایلي له خونې ووتله،څو شېبې وروسته، اولجای را دننه شو.له رانئوتلو سره سم په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: لکه چې د ډېر مودی راهیسې دی ارام خوب نه و کړی؟
بالخاش پورته شو، څو ځله یې لاسونه وغځول، بیا یې لاسونه پورته کړل، مخ ته یې راوړل او پر لوڅه سینه یې ووهل، ویې ویل: وروستی ځل چې ما ارام خوب کړی و، د چنګیز خان په کمپ کې و. له هغه وروسته، خوب رانه تښتېدلی و. شپه او ورځ مې په فکرونو او کړاونو تېرېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش، ژور ساه واخیسته او بیا یې وویل: زه خپله ژوندی پاتې کېدل تا ته پوروړی یم، اولجای!
اولجای، په ځانګړي غرور وویل:دا یو امر و، ته باید له سوباتای څخه مننه وکړې، ځکه ستا د ژغورلو نقشه د هغه وه.
بالخاش، سوباتای...! ما هغه څو ځله لیدلی اوس چېرته دی؟
اولجای- همدلته، ستا په انتظار دی، هغه یو هوښیار او زړور سړی دی.
بالخاش- چپه نویان هم ورسره دی؟
اولجای وخندل او ویې ویل: نو ته هغه هم پېژنې؟
بالخاش، جدي وویل: ما هغه په اترار کې لیدلی و.

اولجای- چپه نویان د مغول خان د کمپ سره دی.
بالخاش- د غایر خان له سوارانو څه خبر شته؟
اولجای، چې لاسونه یې پر ملا ایښي وو، لوړ وخندل، ویې ویل: د دوی لاسونه به نور هېڅکله تاته ونه رسېږي، همدا چې ته ویده وې، د غایر خان یو ډله سواران د محمد مهدی په مشرۍ دلته راغلل. شرابخانه یې وپلټله، خو تش لاس بېرته ولاړل.
اولجای، موسکی شو، یوه شېبه چوپ شو، بیا یې وویل:مورږ ټول باید د ایلي څخه مننه وکړو. دا هوښیاره او زیرکه نجلۍ ده! هغې د خپل چل او مهارت په وسیله، پرته له دې چې شک پرې راشي، د محمد مهدی او د هغه سوارانو ته خالص شراب ورکړل.

اولجای، وخندل او زیاته یې کړه:حتی محمد مهدی په اول نظر پرې مین شو.
بالخاش، په غوسه وپوښتل: ایلي څه وکړه؟
اولجای، په کراره وویل: مه خپه کېږه، ایلي یوازې پر تا مینه ده.
بالخاش، له غوسې سره وویل: محمد مهدی...! ای کاش، چې په خپلو لاسو مې هغه مړ کړی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولجای- تر اوسه یې لا وخت نه دی راغلی.
بالخاش د شک په لهجه پوښتنه وکړه: ته او سوباتای چېرته پټ شوي وئ، کله چې هغیی راغلل؟
اولجای، په کراره وویل: زه او سوباتای ستا کوټې ته راغلو او دلته د دروازې شاته مو ځانونه پټ کړل.
بالخاش، ژور فکر وکړ او بیا ویې ویل: شونې ده چې محمد مهدی لا هم په هرسبان کې وي؟
اولجای، مسکا وکړه او ډاډ یې ورکړ: نه، زموږ جاسوسانو خبر راکړی چې هغه بېرته اترار ته تللی دی.

په همدې وخت کې، ایلي د خوراکي توکو یو پتونس راووړه او کوټې ته داخله شوه.
اولجای، موسکی شو، د بالخاش پر اوږه یې لاس کېښود او وویل: په ارام زړه خپل خواړه وخوره، سوباتای ستا انتظار کوي.
هغه له کوټې ووت.ایلي، پتونس د ځمکې پر سر کېښوده، بیا یې په بیړه بهر منډه کړه. لږ وروسته بېرته راستانه شوه، د شرابو یوه بوتل او یو مسي جام یې راوړل او د خوراک څنګ ته یې کېښودل.بالخاش، د دې څخه مخکې چې خپل خواړه وخوري د شرابو لومړی جام له یوه غوړپ سره تش کړ.

کله چې یې دوهم جام هم وڅښل، په شک یې وپوښتل: محمد مهدی دلته راغلی و؟
ایلي، ساه واخیسته او ځواب یې ورکړ: هو، هماغه وخت چې ته ویده وې، هغه د خپلو ساتونکو سره راغی شرابخانه یې وپلټله.
بالخاش، د نه باور په لهجه وویل: او تا هغه خپل د شرابو په بهترینه شرابو مېلمه کړو؟
ایلي، زړورانه ځواب ورکړ: نو ما نور څه کولای شوای؟
بالخاش، د درانه فکر په حالت کې وپوښتل: ولې دې دا خبره راته ونه کړه؟
ایلي، ورو ځواب ورکړ: نه مې غوښتل چې ستا فکر ګډوډ کړم.
بالخاش، درېیم ګیلاس هم وڅښل، خپل سر یې د دیوال سره تکیه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایلي، چوپه له کوټې ووته، لږ وروسته بېرته راغله، د هرسبان د خلکو پر لاس جوړ شوی کالي لاس کې وه بالخاش ته یې وښوده او ویې ویل: دا مې لا له وړاندې اخیستی و. باور مې نه کاوه چې دا به ستا پر بدن ووینم.
بالخاش، ورو پاڅېد، کالي یې له ایلي واخیست، د لږې شېبې لپاره یې ورته وکتل، بیا یې وویل: مننه، ایلي!
بیایې د شوخۍ سره وویل: اوس ووځه، غواړم جامې بدل کړم.

څو دقیقې وروسته، بالخاش د هرسبان د خلکو جامې پر تن له کوټې را ووت.
ایلي، چې د دروازې شاته ولاړه وه، څیر څیر یې ورته وکتل، بیا یې خپل لاسونه د بالخاش پر غاړې راتاو کړل، خپله مخ یې د هغه پر مخ کېښود، او داسې حال کې غږ یې د هیجان لړزېده ویې ویل: مینه یم درباندی.
بالخاش په نرم غږ باندی بغیر له دی چې د هغې د مینه ناک لهجې ځواب ورکړی وپوښتل: سوباتای چېرته دی؟
ایلي د یوې شیبې لپاره غلې شوه، بیا یې وویل: راځه، زه به دې هلته بوزم.
دواړه روان شول...

سوباتای، په هغه اطاق کې چې احمد آق‌سو پکې وژل شوی و، د بالخاش انتظار ایسته.کله چې بالخاش ور ننوت، سوباتای موسکی شو او وویل: ښه راغلې، بالخاش! راشه کېنه.
سوباتای خپل د ځای ښور ونخوړو او خپل راسته خواته یې د بالخاش کښېناستلو ته اشاره وکړه. بالخاش ژوره ساه واخیسته او بیا د سوباتای ښي لور ته کېناست. کوټه د دروند چوپتیا تر سیوري لاندې راغله.ایلي د ناسم حس سره له کوټې ووته.
اولجای، چې د دروازې ترڅنګ ولاړ و، د سوباتای له اشارې سره سم، له اطاقه بهر شو.

سوباتای، لږ ځان ځای پرځای کړو بیا د سترګو له کونج بالخاش ته یې وکتل او ویې وویل: زه پوهېدم چې ته به یوه ورځ خامخا بېرته زموږ خوا ته راګرځې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش، چې مخ يې بېرنګه ښکارېده، په تروه تندي وپوښتل: له ما څه غواړئ؟
سوباتای، په پټه موسکا ځواب ورکړ: هماغه څه چې زه له خپلو نورو کسانو څخه غواړم؛ ته باید موږ ته معلومات راټول کړې.
بالخاش- څه ډول معلومات؟
سوباتای- کرار کرار به درته ووایو.

څو شېبې چوپتیا په کوټه کې خپره شوه، تر دې چې دا چوپتیا بالخاش ماته کړل، هغه د سوباتای خواته وکتل او داسې حال کې چې د هغه سترګو ته ځېر وو په کلک یې وویل: زه یوازې هغه وخت ستاسو وړاندیز منم، کله چې تاسو خان سلطان د غایر خان د حرم سرای څخه وژغورې.
سوباتای لنډ وخندل، بیا داسې حال کې چې په ځېر نظر یې بالخاش ته کتل په کراره یې وویل: خان سلطان هېره کړه، د هغې ژغورل موږ ته ډېر په توان دي او پرته ستا له خوشحاله وو نور زموږ لپاره هېڅ ګټه نلری.

سوباتای خپل لاسونه د مېز پر سر کېښود، مخ یې لږ د بالخاش خواته وړاندې کړ، او په سوړ غږ یې زیاته کړه: مونږ ته د زندان څخه را وویستې، البته زما د درې تکړه مامورانو د مړه کیدلو پر قیمت، خو ته بیا هم د غایر خان حرم سرای ته د ننوتلو خوبونه وینې؟
بالخاش، چې له پریشاني یې لاسونه سره کلک نیولي وو، وویل: خان سلطان زما لپاره ډېر مهم ده.

سوباتای خپل پر زنه لاس کش کړو او په داسی حال کې چې ځېر نظر یې د بالخاش سترګو ته نیولي و وویل: خو زموږ لپاره ته مهم وی چې ومو ژغورلې، خو خان سلطان موږ ته هېڅ ګټه نلری نو هېره یې کړه، زه نه غواړم نور د هغې په اړه واورم.
د افسوس سیوری د بالخاش پر مخ خپور شو. سترګې یې ښکته کړل او د مایوسۍ سره یې وویل: خو د خان سلطان ژغورل د غایر خان څخه د غچ اخیستلو په معنا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوباتای، چې نور یې غوښتل دا موضوع پای ته ورسوي، غږ یې نرم کړ او ویې ویل: که د غایر خان څخه د غچ اخیستلو په ارادی یې، نو انتظار وباسه زه به درته ووایم کله چې وخت راورسیږی، هغه وخت به خان سلطان هم تر لاسه کړی!
بالخاش، د شک او مایوسۍ سره وویل: هغه وخت به ډېر ناوخته وی، زه نه باید هیله ورته ولرم.

سوباتای، خپل سر یو څه وړاندې کړ، موسکی شو، په غږ کې یې شیطاني نرمي راغله او ویې ویل: خان سلطان اوس د غایر خان ښځه ده، خو ایلي، دا هوښیاره شراب‌خرخوونکې نجلۍ، لا هم پیغله ده! ته کولی شې هغې سره خپل زړه وترې، مینه ورسره وکړی، هغه یوه فداکاره نجلۍ ده، او که زړورتیا یې ستا سره پرتله کړم، ډېر شاته نه پاتې کېږي. هغه زموږ د خلکو څخه ده، نو زه درته کامل اجازه درکوم چې مینه ورسره وکړی.

سوباتای څو شیبې غلی شو، بیا یې خبرو ته دوام ورکړ او ویې ویل: خو دا په یاد ولره زموږ په سازمان کې، لومړی شرط دا دی چې له ښځو لرې واوسې! او تر ټولو مهم، موږ سره به دوکه نه کوی، که موږ ته شا کړې نو دا د مرګ مانا لري ته بل پناه‌ځای نه لرې، که هر چېرته وتښتې، زما پټ ماموران به دې ومومي، او د خپل ځانګړي خنجر سره به تا مړ کړې.
سوباتای یو څه شاته کېناست، یوه اوږده سا یې واخیسته او په ورو غږ یې وویل: تر اوسه لا تر هغه ځای نه یې رسیدلی چې هغه رقم ځانګړی خنجر ولری.

بالخاش کرار خپل سر وښوره او ویې ویل: کوښښ کوم ترڅو د هغه ځانګړی خنجر د درلودو قابل جوړ شم.
سوباتای په موسکا وویل: ته به خامخا یوه ورځ هغه افتخاری ځانګړی خنجر تر لاسه کړی ته یو زړور سړی یې.
بالخاش- زه باید اوس څه وکړم؟
سوباتای ځواب ورکړ: کله چې هوا تیاره شي، ستا لومړنی کار به شروع شي، په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماموریت کې به ته یوازې اوسیږی، ته به یو ښار ته لاړ شو، خو د روانېدو پر وخت به تاته د ښار نوم ووایم، ته چې هلته کله ورسېدې نو باید دا معلومات موږ ته راټول کړې:

- ښار ته د ننوتلو لارې، که ښکاره وي یا پټې.
- برجونه، دیوالونه او د ښار دفاعي ځواک.
- د عسکرو جنګي روحیه او د خلکو حالتلر
بالخاش، که څه هم پوهېده چې سوباتای دا معلومات د څه لپاره غواړي، خو بیا یې هم وپوښتل:کولی شم وپوښتم چې دا معلومات ستا لپاره څه ګټه لري؟
سوباتای په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: ستا دا احمقانه او ساده پوښتنه راته خوند راکوي، هېڅوک نشي کولای ستا له خولې څه وباسي دا معلومات موږ چنګیز خان ته استو بیا یې زیاته کړه: او هو هماغه وخت چې غایر خان ته شکنجه کولای ترڅو د چپه نویان په اړه معلومات ورکړي، ما ته خبر راورسېد چې تا هېڅ هغوی ته زموږ په اړه نه دې ویلي، هماغه وخت زه پوه شوم چې ستا انتخابول مې سم کار و.ته یو ریښتونی سړی یې، او ستا شتون زما لپاره ډېر ارزښت لري.

بالخاش- که عادي حالت وای، ما به خامخا هغه څه چې زما و د چپه نویان او حتی ستا ترمنځ تېر شوي وو، غایر خان ته ویلي وای ...
سوباتای په شیطاني موسکا سره وویل: که زه هم د خان سلطان د تښتولو او د هغه دسیسې څخه خبر نه وای کوم چې غایر خان ستا د ختمولو لپاره جوړه کړې وه، نو دا ډول خبرې به مې هېڅ کله تاته نه وې کړې. زه هغه وخت له هر څه خبر وم او پوهېدم چې غایر خان څومره خطرناکه اور بل کړی.

بیا یې خپل لاسونه سره ووهل...

اولجای کوټې ته داخل شو. سوباتای ورته وویل: زموږ لپاره شراب راوړه، له نن څخه وروسته بالخاش زموږ وفادار مامور دی.
څو شېبې وروسته، ایلي د دوی لپاره شراب راوړل او پیالې یې ورډکې کړې. سوباتای

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله پیاله د بالخاش د روغتیا لپاره وڅښله، بالخاش هم هماغه ډول وکړ، کوم چې سوباتای کړې وو، د هغه وروسته پیالې یو په بل پسې ډکېدې او تشېدې. سوباتای یو هوښیار او زیرک سړی و. هغه غوښتل بالخاش، دا نوی جاسوس، د شرابو په زور وازمایي. هغه د چنګیز خان له سیمې راغلی و، لکه پوخ شوی فولاد وو د هر ناورین پر وړاندې لکه غر ولاړ و. یو مغرور او راتلونکی ته ځیر سړی و.

هغه او د ده همکاران، چې چپه نویان یې مشري کوله، د یوې ادارې مشران وو چې چنګیز خان پرې تکیه درلوده. چنګیز خپل ټول بریاوې د همدوی د هوښیارۍ په برکت ترلاسه کړې وه، بالخاش چې شراب یې د ایلي له لاسه اخېستل، بغیر له کوم دمې پر سر اړول او څښل. خو ټول پام یې سوباتای ته و. احساس یې کاوه چې دا مغول سړی، چې تنګې سترګې یې لرلې، د یوه هدف لپاره ورسره شراب څښي.
په زړه کې یې وخندل، ځکه چې دا شراب یوازې د هغه د مخ رنګ لږ بدل کړې وو، نور یې هېڅ بدلون نه و راوستی.

ایلي په اندېښمن نظر بالخاش ته کتل، هغه هره شیبه په تمه وه چې بالخاش به د زیات شراب څښلو له وجې بې‌سده پر ځمکه پرېوځي، خو بالخاش شراب یو د بل پسې وڅښل تر هغې چې سو باتای وویل: بس دی، ایلي!
بالخاش وخندل او ویې ویل: موږ خو تازه ورباندې شروع کړې وه!
سوباتای، چې خپل پر تنګو سترګو یې بالخاش ته نیغ ورکتل وویل: ما تر اوسه داسې سړی نه دی لیدلی چې د شرابو په څښلو کې دې دومره زغم ولري. ته هماغه څوک یې چې زما پکار وو، اوس کولی شې استراحت وکړې.

ایلي د شرابو ګیلاسونه راواخېستل او له خونې ووتله.
بالخاش سوباتای ته وویل: زه ستا په اختیار کې یم سو باتای. ووایه زه باید څه وکړم؟
سوباتای خپل لاسونه سره ووهل او ویې ویل: کله چې هوا تیاره شي، ته به یو ډېر خطرناک ماموریت ته لاړ شې، البته د بریا چانس پکې ډېر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش- دا امید راکول دي ډېر کمزوری راښکاره شو.
سوباتای لږ شاته لاړ سر یې ورو شاته ټیټ کړ او ویې ویل: ویره او اندېښنه له ځانه لرې کړه.

بالخاش ودرېد، سر یې نیغ ونیو، داسې ښکارېده لکه چې بیخی یو څاڅکی شراب هم نه وي څښلي، سوباتای ورته ځیر شو، هغه تمه درلوده چې بالخاس به ناڅاپه خپل تعادل له لاسه ورکړي او بې‌سده به پر ځمکه پرېوځي.خو بالخاش ورو ورو د دروازې خوا ته لاړ، دروند او ثابت ګامونه یې اخیستل، دروازه یې خلاصه کړه او له خونې ووت. پرته له دې چې د شرابو څه اغېز احساس کړي، خپل کوټې ته لاړ او پر هغه نرم بستر اوږد وغځېد کوم چې ایلي ورته برابر کړی و.لاسونه یې د سر لاندې کېښودل او سترګې یې د کوټې چت ته ونیول، ذهن یې د غایر خان او د مغول خان له جاسوسانو څخه د انتقام اخیستلو په سوچ کې ډوب و...

***

هوا لږه تیاره شوی وه چې اولجای د بالخاش کوټې ته راغی، او هغه ته یې وویل چې سوباتای د هغه په انتظار دی په طویله کې.
بالخاش پر بسترې لږ اړخ واړوه، بیا یې وویل: وا مې ورېده ته کولی شې لاړ شې.
اولجای هغه یوازې پرېښود.لږ وروسته، ایلي ځان بالخاش ته ورساوه.بالخاس لا هم پر بستر پروت و. یلي ورو خپل سر د هغه پر سینه کېښود، او د څو شیبو لپاره یې د چوپتیا خوند واخیست. بیا یې په ورو غږ وویل: سوباتای غواړي چې تا د خوارزم یو ښار ته د جاسوسۍ لپاره ولېږي.
بالخاش، چې د ایلي وېښتان یې په نرمۍ سره اړول را اړول وویل: زه پوهېږم.

ایلي- کوښښ مه کوه چې هغه ته چل ورکړې.
بالخاش- نه زه داسې نیت نه لرم،هغه یوازې معلومات غواړي، او زه به یې ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راټول کړم.
ایلي سر پورته کړ، د بالخاش سترګو ته یې وکتل او ویې ویل: سوباتای غواړي تا و ازمويي، هغه معلومات چې تا ته یې راټولول درسپارل شوي، ستا څخه مخکې د ده پیاوړي او تیزو جاسوسانو ورته راوړي.

بالخاش د ایلي ښکلی مخ په خپلو لاسونو کې ونیو، ژور یې د هغې سترګو ته وکتل او وویل: زه سوباتای ته وفادار یم، ته باید و نه وېرېږې،ستا ویره بې ځایه ده.
ایلي په نرم غږ وویل: هغه لا هم پر تا بشپړ باور نه لري، دا ماموریت یوازې ستا د ازموینې لپاره دی.
بالخاش وخندل او وویل: زه پوهېږم. ما دا کار یوازې د دې لپاره منلی چې یوه ورځ له غایر خان څخه خپل غچ واخلم.
ایلي په اندېښمن غږ وویل: باید ډېر احتیاط وکړې...

بالخاش د ایلي مخ ښکل کړو او په خندا یې وویل: ستا خبرې ماته زړورتیا راکوي.
ایلي له خوشحالۍ دومره احساساتي شوه چې د سترګو له کونجونو یې د خوښۍ اوښکې را وځځېدې سر یې د بالخاش پر سینه کېښود او ویې ویل: نه غواړم تا له لاسه ورکړم.

په همدې وخت کې، له خونې د باندې د اولجای غږ واورېدل شو، چې بالخاش یې راوغوښت. ایلي ژر سر پورته کړ او ویې ویل: د تلو وخت را رسېدلی، سوباتای ستا انتظار باسي،کاشکې شپه مو سره یوځی  تېره کړې وای.
دواړه له ځایه پاځېدل، بالخاش وویل: هر چېرې چې ما واستوي، ژر به بېرته ستا خواته راشم.
ایلي یو اوږد آه واېست او ویې ویل: زه سوباتای تر تا ښه پېژنم، کله چې پر تا باور پیدا کړي، بیا به دې هسې آرام پرېنږدي او موږ به ډېر لږ سره ووینو!

بالخاش خپله کالۍ واغوسته او له خونې ووت.
اولجای په موسکا ورته وویل: سوباتای ویل ښځه د شرابو څخه هم خطرناکه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش ورو د هغه پر سینه وار وکړو او په خندا یې وویل: دواړه یو شان نشه لری.
دوی دواړه طویلې ته لاړل، سوباتای د کمزوری څراغ رڼا تر څنګ پر ځمکه ناست و.
بالخاش په حیرت وپوښتل: ولې دې د خبرو کولو لپاره طویله غوره کړی سوباتای؟
د مغولو لوی جاسوس په یوه کمرنګه موسکا وویل: دا ځای خوندي دی، راځه کښینه!

بالخاش کښیناست او ویې ویل: نو د غایر خان ساتونکي لا هم په ښار کې دي؟
سوباتای- دا مه هېروه، هغوی ستا په لټه کې دي! زه فکر کوم چې یو څو یې په ښار کې پټ دي، او یقیناً شکمن دي چې ته دلته پټ شوی یې.
بالخاش په کلک غږ وویل: ډېر مې زړه غواړی د هغوي سره مخ شم.
سوباتای په ارامه وویل: بېځایه احمقانه خبري مې نه خوښېږي، هغوی نه باید ستا پټنځای پیدا کړي.

بالخاش په غرور وویل: که یې پیدا هم کړ، زه به یې یو هم ژوندی پرېنږدم، البته، یو به ژوندی پرېږدم، تر څو غایر خان ته د خپلو ملګرو د وژل کېدو خبر ورسوي.
سوباتای د بالخاش سترګو ته څو شېبې په ځېر وکتل بیا یې وویل: زما وېره له دې ده چې ستا دا بې‌ځایه او احمقانه غرور یوه ورځ به هم ستا سر وخوري او هم به ما له مشکل سره مخ کړي. ښه غوږ شه ته باید همدا شپه له دې ځایه ووځې او جند ښار ته لاړ شې.
سوباتای لږ خاموشی اختیار کړل بیا یې وپوښتل: ته له دې ښاره سره اشنا یې لری؟
بالخاش بې‌له ځنډه وویل: هو دوه ځله ورغلی یم.

سوباتای- خو دا ځل چې ور روان یې، باید ښار له نظامي اړخه وڅېړې. د ښار دیوالونه، برجونه، پټې لارې، د سرتېرو شمېر، د خلکو روحیه او د دفاعي ځواک په اړه معلومات راټول کړي!
بالخاش- دا خو ډېر سخت کار دی!
سوباتای په لنډه خندا وویل: هېڅ کار سخت نه وی، کله چې جند ته ورسېږې، د قربان ګلدي په نوم زموږ یوه ملګري ته لاړ شه. هغه به تا راهنمایي کړي.بالخاش د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان سره ورو قربان ګلدي نوم تکرار کړ. د هغه د خبرې حالت داسې و، لکه چې دا نوم ورته اشنا ښکاري!

سوباتای چې ورته ځیر و وپوښتل: ته دا سړی پېژنې؟
بالخاش- نه زه څوک په دې نوم سره نه پېژنم! یوازې مې د دې لپاره تکرار کړ، چې په یاد مې پاتې شي.

سوباتای خپل خنجر د ملا څخه راخلاص کړ او بالخاش ته یې ورکړه او ویې ویل: کله چې له قربان ګلدي سره مخ شې، دا خنجر ورکړه دا به د پیژندګلوۍ نښه وي، او هغه به تا راهنمایي کړي.
بالخاش وپوښتل: د دې سړي بڼه څنګه ده؟
سو باتای- یو لنډ قدی، منځني عمر سړی دی. د مخ چپ لوری ته یې د زخم نښه ده، او تل یو توره دسمال د ملا شاوخوا تاووي.
بالخاش بله پوښتنه وکړه: دنده یې څه ده؟
سو باتای- زمونږ سره سوداګریزې اړیکې لري، خو دوکان یې د بازار په سر کې دی. خو  ته باید د هغه په کور کې ورسره ووینې.

سوباتای له ځمکې پاځېده، بالخاش هم ودرېد. اولجای د مغولو د سوباتای شاته ولاړ و.بالخاش وپوښتل: څه وخت باید حرکت وکړم؟
سوباتای- تر نیمې شپې مخکې، ایلي د سفر سامان درته برابر کړی، او اولجای دې اسپ چمتو کړی. کله چې له جند بېرته راغلې، ایلي به درته ووایي، چې ما چیرته پیدا کولی شې.
بیا یې دواړه لاسونه د بالخاش پر اوږو کېښودل او ویې ویل: بریالی راشه.

سوباتای له طویلی ووت...
لږ وروسته، ایلي طویلی ته راغله. د بالخاش د سفر ټول توکي یې چمتو کړي وو. بالخاش د اولجای سره یو ځای خورجین د اسپ پر شا بند کړ او د تګ لپاره چمتو شو.اولجای اسپ له طویلی را وایست.کله چې بالخاش او ایلي یوازې پاتې شول،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایلي خپلې سترګې ښکته واچولې، هغه یې کوله چې اوښکې یې توی نه شي، خو بیا یې په کمزوري غږ وویل:خدای دې مل شه...

بالخاش خپل لاس د ایلي تر زنې لاندې کېښود، د هغې سر یې اوچت کړ، او د هغې پر اوښکو لړلې سترګو ته یې وکتل. بیا یې ورو رامخکې شو، د هغې نرم مخ یې ښکل کړ او ویې ویل: ډېر ژر به یو بل بیا ووینو.
ایلي بې له دې چې څه ووایي، سر ښکته واچوه او په بېړه له طویلې ووت. بالخاش څو شیبې هماغلته ودرېد، بیا ورو، د فکرونو ډک، د طویلې دروازې ته لاړ. اولجای د باندې منتظر و.بالخاش د اسپ واګې ترې واخیسته، پښه یې پر اس واړول او پر اسپ سپور شو.
اولجای- بریالی شه.

بالخاش چوپ پاتې شو، یوازې یې غمچین پر اسپ ووهل او له هغه ځایه روان شو...
د اس د پښو غږ د ښار د پراخ میدان ارامي مات کړه، خو ډېر ژر چوپتیا بېرته خپره شوه.بالخاش، چې په تیزۍ سره د خوارزم تنګو کوڅو ته ننوت، د خپل ماموریت په اړه یې فکر کاوه.قربان ګلدي هغه تاجر چې له مغولو جاسوسانو سره یې اړیکې درلودې، ده پیژانده! هغه ته یې په دارالحکومه د اترار کې توجه اوړیدلی وه، هغه وخت کله چې یې د غایر خان حرم سرای ته قیمتي زربفت ټوکران راوړې وه،کله چې یې د هغه نوم د سوباتای له خولې واورېد، حیران شو، او همدې لپاره یې بار، بار نوم ورځخه تکرار کړ. خو د سوباتای په مخکې یې ژر ځان کنټرول کړ، تر څو هغه ته د شک ځای ور نه کړي.

بالخاش لځان سره وویل: نو دا دوزخي مخلوقات په خوارزم کې هم ډېر جاسوسان لري؟ خو زه پوهېږم څنګه ورسره معامله وکړم. زه هغه سړی نه یم چې د سوباتای لپاره جاسوسي وکړي!
خو ناڅاپه، تر اوسه له ښاره نه و وتلی، چې له شا څخه یې یو کلک او دروند غږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته شو: بالخاش!
دا د يو سړي غږ وو چې بالخاش يې پر نوم ناری کاوه، بالخاش ژر د اس واګې ونيوله، او د اس تګ يې کم کړ، چې يوځل بيا له شا څخه د هغه سړي غږ راغی:
بالخاش! ودرېږه!

يوه ډارونکې چوپتيا خپره شوه، بالخاش کولی شو چې اس ته پښه ورکړي او خپل سفر ته دوام ورکړي، خو وېره يې درلوده چې شونې ده تعقيب شي، ځان سره يې وويل: بايد همدا اوس د دوي حساب خلاص کړم.
ده د اس سر تاو کړ، او په کلک او لوړ غږ يې وپوښتل: تاسو څوک ياست؟
د سړي غږ پورته شو: موږ ماموريت لرو چې تا ونيسو! مقاومت بې‌فايده دی. خپله توره وغورځوه، د اس نه کښته شه، او تسليم شه!
بالخاش په قهر وويل: شاته لاړ شئ، که نه مرګ ته تيار شئ!

هغه سړي په لوړ غږ وخندل او ويې ويل: موږ دوه نفره يو، موږ ته غاير خان امر کړی چې تا مړ يا ژوندی ونيسو. ته خائن يې او بايد د خپلو اعمالو سزا ووينې.
بالخاش توره له غلاف وايسته او ويې ويل: کاش ما ستاسې سرونه غاير خان ته استولی شوای، خو خير هغه به ډېر ژر خبر شي چې تاسو دواړه مړه ياست.
هغه دوه تنه، چې وړاندې را روان وو،د بالخاش په دی خبره يې په لوړ غږ وخندل، د دوی خندا غږ د شپې په چوپتيا کې انګازې وکړې.بالخاش اس د يو دوکان تر ديوال نږدې کړ، ورو له زينه راجګ شو، ځان يې د دوکان چت ته ورساوه...

تورې يې بېرته غلاف ته کړه، سترګې يې په دوی وڅومبل، چې د تيارو په منځ کې را نږدې کېدل،همدا چې د دوکان ديوال ته راورسېدل، ناڅاپه، بالخاش خپل ځان له چته پر هغه دواړو سړيو راوغورځاوه ...!

د بالخاش په دی ناڅاپه حرکت دواړه راولوېدل او پر ځمکه پرېوتل. بالخاش په چټکۍ سره خپل خنجر راويسته او له هغوی څخه يې يو تن ووژاه. د هغه دردناک چيغې په ستوني کې پاتې شوې او پر ځمکه ولوېد. بل سړی په چټکۍ سره راپورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو، خپله توره یې راویسته او د برید حالت یې ونیو. تیاره د دې مخه نیوله چې هغه وتوانېږي خپل ځواکمن سیال بالخاش ووینې، چې د سترګو په یو رپ کې یې د هغه ملګری وژلی و. بالخاش په خندا وویل:

- تر څو ناوخته شوی نه وی خپل نیمه ژوندی ملګري جسد واخله او له دې ځایه وتښته، ځکه پریکړه مې کړې که ته لاس توری ته ویسي نو زه به دی د هغه بل ملګری څنګ ته واستوم.

هغه سرې چې سخت وېرېدلی و او هڅه یې کوله چې ځان کنټرول کړي وویل: خو زه تا ته مشوره د تښتې نه درکوم! ځکه زه غوارم ستا سر غایرخان ته یوسم.
بالخاش په مسخره خندا وویل: یقیناً چې غایر خان به تاته ډېر غټ انعام ټاکلی وی زما په سر؟

- پر ځای د دې خبرو، را وراندې شه. ځان مه پټوهٔ.
بالخاش- احمقه، ښه به وای چې نور ملګري دې هم راوستي وای زما د ګیر کولو لپاره.

بالخاش دا خبره وکړه او بیا ناڅاپه یې د بریښنا په څېر په ساتونکي برید وکړ. ساتونکي وېرېدلی او حیران شو شاتګ یې وکړ خو شا یې دیوال ته ولګېده. نور د تېښتې لار نه وه. په وېره او ډار یې هڅه کوله چې د ځان څخه دفاع وکړي. بالخاش سره له دې چې په اسانۍ سره یې کولای شو هغه ووژني، خو د هغه د وژلو نیت یې نه درلود. غوښتل یې چې د هغه د لاس څخه توره واخلي. کله چې دواړه سینه په سینه شول، تورې یې پر یو بل ولګولی ساتونکی وېرېدلی و، هڅه یې کوله چې بالخاش شاته وتمبوي، خو بالخاش هغه په داسی ځای کی نیولی وو چې نه د تښتی لار درلود نه د جګړې.

او هڅه یې کوله چې د هغه توره ترې واخلي. بلاخره د ساتونکی مقاومت مات شو، او کله چې د هغه وسله د لاس څخه یې وغورځېده بالخاش د خپلې تورې لاستی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلک د هغه پر مخ وواهه او خپل یو څه شاته لاړ، ساتونکي د درد نه یو لنډ چیغه ووهله، سر یې وګرځېد، نور یې د ځان دفاع توان نه درلود، بالخاش دوهم ګوزار د هغه د سر شا ته ورکړ. ساتونکي خپل تعادلله لاسه ورکړ، څو قدمه مخکې لاړ، او بیا پر ځمکه راولوېد.

بالخاش، چې پر شونډو یې یو نری مسکا و، خپل توره یې غلاف ته واچوله، د ساتونکي سر ته ودرېد، په پښه یې د هغه په اړخ لغت ووهله او ورته ویې ویل: اووو جناب زما غړ اوري؟
ساتونکي چې د درد څخه کرار کرار اخ اخ کاوه، یو څخه لږ حرکت وکړ او په ساه نیولي غږ یې وویل: ما... مه وژنه...خیر دی ...زه بې ګناه یم.

بالخاش وخندل او ویې ویل: زه کمزوری خلک نه وژنم. له دې ځایه ولاړ شه. او هوو ستا نور ملګري چیرته دي؟
ساتونکي وویل:موږ پنځه کسان یو، زموږ درې نور کسان په ښار کې پاتې دي.
بالخاش- کله چې اترار ته لاړې نو غایرخان ته وایه چې زما انتظار دی باسی، زه به یې آرام ته پرېنږدم.
ساتونکی- هغه ستا په لټه کې دی.
بالخاش په لوړ آواز وخندل، اس ته ورنژدې شو، په یو خیز پر اس سوور شو ا بغیر د څه ویلو یې حرکت وکړ.

***

درې ورځې وروسته، کله چې لمر نوی راختلی و، او د جند ښار برجونو او دیوالونو ته یې رڼا ورکوله، یو سپور چې د سفر ستړی وو، د ښار دروازې ته ورسېد.د سفر دوړو یې څېره پوښلې وه، خو خوښ و چې خپل هدف ته رسېدلی و. دا ستړی سپور بالخاش و د مغلولانو جاسوس! څو شېبې ودرېد، ترڅو د ښار دروازه خلاصه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښار له شپني چوپتيا راوتلی و. هغه، پداسې حال کې چې پر اس سپور و، ورو ورو د کوڅو څخه تېرېده...

بازار ته ورسېد. لا هم دوکانونه بند وو او د ښار خلک له خپلو کورونو څخه د راوتلو حال کې وه، په هغه شاوخوا کې يو چايخانه هم وه. بالخاش هلته ولاړ ترڅو د سهار سبا ناری وکړي او د سفر ستړيا لېرې کړي، يو ساعت وروسته، د قربان ګلدی ليدو ته له چايخانې ووت بازار ته ورسېد، له يوه سړي يې د قربان ګلدی د حجرې پوښتنه وکړه.

سړي د لاس په اشاره حجره ور وښوده، چې تر هغې ډېر واټن نه و، او ويې ويل: همدا اوس يې حجره خلاصه کړه.

بالخاش بازار ته داخل شو، قربان ګلدی يې د زخم له نښانه وپېژانده، چې په چپ خوا د مخ يې درلود، يو ټيټ قد او د منځني عمر سړی و. ټولې نښې، چې سوباتای ورکړې وې، پکې موجودې وې.بالخاش ته د سوباتای خبره رايادە شوه، چې قربان ګلدی بايد په خپل کور کې ووينې. يو نوی فکر يې ذهن ته راغی. مخکې لاړ، ګلدی متوجه شو، خپل ځېر او زيرک نظر يې په بالخاش کېښود او و يې پوښتل: کوم کار لری؟

بالخاش- له لرې ځايه مې درته د سوداګری مال راوړی.
قربان ګلدی په مشکوک توګه پوښتنه وکړه: زه څوک يم؟
بالخاش د دوکان دننه شو او ويې ويل: که زه نه يم غلط شوی، نو ته به د جند لوی سوداګر، قربان ګلدی اوسيږی؟
قربان ګلدیوويل:دا سودا تا له کومه ځايه راوړې؟
بالخاش- له هرسبان څخه.
قربان ګلدی- يوازې يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش- هو یوازې او سترې.

قربان ګلدي د فکر کولو په پار تندی تروش کړو خپل سترګې یې د بالخاش سترې مخ ته واړولې او ویې ویل: تم شه، تر څو چې زما شاګرد راشي بیا به یو ځای د سوداګریز مال لیدو ته لاړ شو.

یو څو شیبې چوپتیا شوه، بیا ګلدي وپوښتل: ستاسو نوم څه دی؟

بالخاش ځواب ورکړی: بالخاش.

قربان ګلدي- له لهجې څخه دې ښکاري چې د اترار له سیمې اوسیږی؟

بالخاش- هو، زما د زیږېدو ځای هلته دی.

قربان ګلدي د بالخاش سترګو ته وکتل، مخ یې تریو شو، یوه شېبه یې فکر وکړ، بیا یې یو نری موسکا وکړه او ویې ویل: له څېرې څخه دې ښکاري چې یو سوداګر یې، چې له لږ سرمایی سره تجارت ته راغلی یی؟

بالخاش احساس کړه چې قربان ګلدي موضوع درک کړې، خو شرایط داسې دي چې دی نشي کولی مستقیماً اصل موضوع ته داخل شي.

بالخاش- زه یو داسې سړی یم چې له مادي نړۍ څخه یوازې یو اس لرم، چې تر دې ځایه رارسولی یم نور څه نه لرم.

قربان ګلدي خپل ږیرې ته لاس یووړ، ویې خندل او ویې ویل: نو ځوانه څه کار کوې؟ شاید د سوداګرو کاروانونه منزل ته رسوی او پیسی اخلی؟

بالخاش- هو همداسی ده.

قربان ګلدي- اوممم یا هم شاید بل کار کوی خو نه غواړې چې ماته ووایې؟

بالخاش- ما د لارې دومره کړاوونه وزغمل ترڅو تاسو ووینم.

قربان ګلدي په ځانګړي انداز وویل: نو ضرور دی ما ته زیات قیمتي مالونه راوړې دی؟

بالخاش بله خبره راواخیسته او ویې ویل: ستاسو شاګرد نه دی راغلی؟ لکه چې نن نه راځې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

قربان ګلدي خپل نظر د بازار خواته واچاوه او ويې ويل: هغه دې راغې.

لږ وروسته، يو ښايسته ځوان چې منځنی قد يې درلود، دوکان ته داخل شو او سلام يې وکړ.قربان ګلدي هغه ته وکتل او ويې ويل: همدلته اوسه تر څو زه بېرته راځم.

بيا يې بالخاش ته اشاره وکړه، چې ورسره لاړ شي، قربان ګلدي مخکې روان و، او بالخاش يې ورپسې وو، کله چې له بازاره ووتل بالخاش ځان قربان ګلدي ته ورنيږدې کړ او ورو يې ورته وويل:زما آس د چايخاني په طويلي کې دی.
قربان ګلدي- مهمه نه ده، ځوانه!
بالخاش- بيا نو سمده.

دوی د ښار له تنګو کوڅو تېرېدل،قربان ګلدي د هغه کور مخې ته ودرېد، چې د کوڅې له سطحې تقريباً يو متر ټيټ و.لکه چې بالخاش نږدې شو،قربان ګلدي د هغه کور خواته ښکته شو بالخاش هم ورسره لاړ، دواړه کور ته دننه شول، قربان ګلدي د کور د دهليز لرګينه دروازه خلاصه کړه او بالخاش ته يې وويل: راننوځه خپل کور د دې.

بالخاش پرته له دې چې کوم شک وکړي، کوټې ته داخل شو، قربان ګلدي هم ورپسې ورننووت، دروازه يې بنده کړه، او بغير د کوم وخت ورکولو يې د بالخاش څخه وپوښتل: ته څوک يې؟ د چا له خوا راغلی يې؟ او زما سره دې څه کار دی؟
بالخاش- زه د سوباتای له لوري راځم.
قربان ګلدي- سوباتای! زه هغه نه پېژنم.
بالخاش- خو زه ډاډه يم چې ته يې پېژنې.
قربان ګلدي- رښتيا ووايه ځوانه.

بالخاش لاس د خپل کالو خواته او هغه خنجر يې راوايست کوم چې سوباتای د قربان ګلدی د آشنايۍ د نښان په توګه ورته سپارلی و. بالخاش خنجر د قربان ګلدي پر لور ونيوه او ويې ويل: زه فکر کوم چې اوس به سوباتای وپېژنې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

قربان ګلدی خنجر واخیست، موسکی شو، او ویې ویل: ته یو زیرک ځوان ی،د سوباتاې پیغام څه دی؟
بالخاش- ته باید ما سره مرسته وکړې ترڅو هغه معلومات راټول کړم کوم چې سوباتاې یې غواړي.

قربان ګلدي په فکر کې شو او ویې ویل: ته باید لږ صبر وکړې.
بالخاش- خو زه باید ژر بېرته هرسبان ته ورشم.
قربان ګلدي- خو هغه معلومات چې سوباتاې یې غواړي، دومره اسانه نه تر لاسه کېږي.
بالخاش- خو ته یوازی ما ته لارښونه وکړه نور زه ښه پوهیږم چې څه کار وکړم.
قربان ګلدي خپل تندی تروش کړ او ویې ویل: ته په دې ښار کې پردی یې، باید ډېر احتیاط وکړې.

بالخاش، چې غوښتل یې وښیي چې له هېڅ شي یا هېچا وېره نه لری خپل سر جګ کړ او ویې ویل: زما په اړه فکر مه کوه، یوازې دا راته ووایه چې له کوم ځی باید پیل وکړم؟که ته یوازې ما له ښار سره بلد کړې،نو نور به تا ته اړتیا نه وي.
قربان ګلدېچې د بالخاش پر لوري یې کتل وویل: ته یو نه وېرېدونکی زړه لرې ځوان! باید ووایم چې سوباتاې تر اوسه ستا په څېر بې باک سرتېری نه درلود. خو بیا هم، احتیاط له لاسه مه ورکوه.
بالخاش په ناکراری وویل: خو ته وخت ضایع کوی.

قربان ګلدي داسیاحساس کړه چې دی د سو باتاې له یوه زړور او نه تسلیمېدونکي مأمور سره مخ دی، چې په هېڅ قېمت نشي کولی خپل خان ته یې تسلیم کړې او خپل خبره ورباندی ومنی،څو شیبې چوپتیا رامنځته شوه او بیا قربان ګلدی وویل: تر څو چې شپه نه وي شوې، زه نشم کولی تا ته لارښوونه وکړم.
بالخاش- خو د شپې له راتګ سره زه باید له "جند" ښار څخه ووځم، مخکې له دې چې د ښار دروازې وتړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قربان ګلدي- ته یو جذباتي ځوان یې.
بالخاش- د هغه مأموریت په اړه خبرې وکړه کوم چې سوباتای درکړی دی.

قربان ګلدي لږ سوچ وکړ او بیا ویې ویل: زه به همدا اوس تا له خپل ښار سره بلد کړم، او کله چې شپه شوه، د "جند امیر" د سپرو مشر به راولم، ترڅو خپل معلومات درکړي.
بالخاش په حیرانتیا وپوښتل: هغه هم زموږ له ډلې دی؟
قربان ګلدي له زیرکانه خندا سره وویل: هغه د سرو زرو د روپو غلام دی.
بالخاش له معناداره موسکا سره وویل: نو د سرو زرو د روپو لپاره خیانت کوي؟
قربان ګلدي ورو خپل سر وخوځاوه او ویې ویل: موږ ټول د پیسو لپاره جاسوسي ته چمتو یو، زه، ته، او د جند د امیر د سپرو مشر.

بالخاش وویل: خو زه د پیسو غلام نه یم! د انتقام لپاره دا کار کوم.
قربان ګلدي په حیرانتیا سره وپوښتل: انتقام؟ د چا څخه؟
بالخاش ورو د هغه پر اوږه لاس کېښود او ویې ویل: ملګریه غوره به وي چې موږ دواړه یو د بل شخصي ژوند په اړه خبرې ونه کړو. موږ د سوباتای لپاره کار کوو، او موږ باید د یو بل د تېر وخت په اړه هیڅ و نه پوهیږو؟ زه هغه کوم چې د شپې د مخه کله د "جند" ښار تر شا پرېږدم، او لاړ شم شاید نور هېڅکله دلته را نشم او تا ونه وینم.

نو زموږ دواړو لپاره غوره همدا ده چې چوپتیا اختیار کړو او یوازې خپل مأموریت ته پام وکړو. ته په "جند" کې یې او زه په "اترار" کې دواړه د مغول خان لپاره کار کوو. هغه یو فتح کوونکی سړی دی، ډېر ژر به ټوله نړۍ د هغه د سپرو آسونو تر پښو لاندې ولړزېږي. هغه یو دوزخي سړی دی، نه رحم پېژني، نه شفقت.

قربان ګلدي، چې خپل نظر یې د بالخاش پر خوله ټینګ ساتلی و، وویل: ته یو بې‌ساري ویناوال یې!
بالخاش موسکی شو او ویې ویل: ته د داسې څه په اړه خبری کوې چې په ما کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيخی نشته.
قربان ګلدي- زه يوازې دا فکر کوم چې ته بايد د "اترار" له لوړ پورو او شهزادګانو څخه اوسيږې.
بالخاش- نه، ته تېروتنه کوې زه د "اترار" د عادي خلکو څخه يم.
قربان ګلدې خپل ځای بدل کړ او ويې ويل: ما تر اوسه هېڅکله عمر کې ستا په شان بې‌پروا سړی نه وو ليدلی. ته مغول خان يو دوزخي انسان ګڼې. که دا خبره سوباتای ته ورسېږي، هغه به تا ژوندی پرېنږدي.

بالخاش په بې پروا انداز وويل: زه نه له سوباتای وېرېږم او نه د هغه له نورو ملګرو څخه، هغوي ټول دوزخي دي، حتی زه او ته، چې ورسره يوځای شوي يو او مرست ورسره کو.
قربان ګلدې په لوړ اواز وخندل او ويې ويل: ته عجيب انسان يې.
بالخاش- زما څخه عجيبتر خو ته يې چې بېځايه زموږ دواړو وخت ضايع کوې.
قربان ګلدي- زه دې ته فکر کوم چې تا څنګه د ښار سره بلد کړم؟
بالخاش- يوازې د ښار د خلکو او د هغوی د شمېر په اړه راته ووايه.

قربان ګلدې يو مزدور سړی وو چې کور يې د مغول خان د جاسوسانو پټنځای ګڼل کېده. هغه د ښار د برجونو، دېوالونو او د پوځ د شمېر په اړه معلومات نه لرل، يوازې هغه معلومات يې ورکاوه چې خپله يې درلودل. خو هغه د بالخاش سره  ژمنه وکړه چې د امير جند د آس سپرو مشر به د غرمې ډوډۍ لپاره هلته راولي.
بالخاش وپوښتل: ايا فکر کوې چې د آس سپرو مشر به ستا بلنه ومني؟
قربان ګلدي په شيطاني انداز وخندل او ويې ويل: د سرو زرو روپي به هغه دلته راولي،هغه د پيسو لپاره هر کار ته تيار دی هغه له ما هم ډېر معلومات لري، ټول هغه څه چې سوباتای غواړي.

بالخاش- نو تلوار کوه.
قربان ګلدي- زه به همدا اوس د يو دليل په موندلو د هغه ليدو ته لاړ شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش- سمده نو ستا تر راتلو زه به لږ په ښار کې وګرځم.
قربان ګلدي هغه یوازې پرېښود او د آس سپرو د مشر د لیدو لپاره ولاړ.څو شېبې وروسته، بالخاش په پوره احتیاط د قربان ګلدي له کوره ووت او کوڅې ته ننوت. کوڅه ارامه او تشه وه، نو په ډاډه زړه روان و.کله چې د ښار مرکزي میدان ته ورسېد، پرته له دې چې له چا وپوښتي، د دولتي قلعې (ارک) ته نږدې شو، او بیا د ښار د برجونو او دېوالونو خواته ولاړ.هغه په دقت د ښار د دیوالونو شاوخوا ځایونه وڅېړل.

هغه نږدې و چې ځېل مطلوب معلومات ترلاسه کړي، خو لا هم معلومات یې بشپړ نه وو.هغه باید د جند د آس سپرو له مشر سره لیدلی وایې یا د پیسو په وسوسه،یا یې د ګواښ کولو له لارې مجبوره کړي ړای چې ټول رازونه ورته ووایي.کله چې بالخاش بېرته د قربان ګلدي کور ته د تګ پر لاره د ښار مرکزي میدان ته ورسېد، نو ناڅاپه یې احساس کړه چې یو سړی یې تعقیبوي!هغه د نعل جوړونې یو دوکان ته ودرېد، ځان یې د دوکاندار سره په خبرو بوخت کړ، خو په پټه یې هغه سړی تر نظر لاندې ونیو، چې څو قدمه لرې ولاړ و.د سړي له څېرې ښکاره وه چې د "جند" د خلکو له ډلې نه دی.

بالخاش له ځانه سره وویل: کېدای شي د سوباتای له جاسوسانو څخه وي، چې زما څارنه کوي؟د دې فکر سره، هغه په ډاډ زړه خپل لاره ته دوام ورکړ.خو هغه سړی لکه سیوری ورپسې روان و،سړی د بالخاش تعقیب ته دوام ورکړ. بالخاش پر خپله لاره روان و، خو فکر یې ټول د دې نامعلوم سړي پر خوا راټول و. هغه هماغه کوڅې ته ننوت، چې د قربان ګلدي کور یې په پای کې و. نامعلوم سړی هڅه وکړه چې فاصله راکمه کړي، کله چې هغه د بالخاش څو قدمۍ ته ورسېد، نو د بالخاش نوم یې واخیست ..

بالخاش لومړی یو دم وډار شو، بیا ودرېد، سر یې شاته وراړاوه، او د سړي خواته یې وکتل او په کلک غږ یې وپوښتل: ته څوک یې؟ او له ما څه غواړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی د هغه مخې ته ودرېد، سترګې یې د بالخاش سترګو ته ټینګې کړې او وپوښتل:
ته بالخاش یې؟
بالخاش په هماغه جدي لهجه وویل: هو زه یم د مطلب خبره کوه.
د بالخاش په دی خبره ناڅاپه هغه سړي خپل ښي لاس چې تر شا یې نیولی و، راوایست، د چړې نوک یې د بالخاش پر سینه کېښود، او په معناداره موسکا یې وویل: زه به د هغه انعام مستحق شم، چې د ستا د سر لپاره ټاکل شوی.

بالخاش سمدستي موضوع درک کړه او په پوره آرامۍ یې وپوښتل: هغه انعام، چې غایر خان زما په سر ټاکلی څومره دی؟
سړي وویل: زر د طلاو سکي.
بالخاش په مسخره انداز وخندل او ویې ویل: "و داسې ښکاري چې زه ډېر مهم کس یم، چې غایر خان زما پر سر د طلاو زر سکې ټاکلي؟
سړي چې خپل نظر یې د بالخاش له سترګو نه اړاوه، وویل: ستا پیدا کول، هغه هم د "جند" په ښار کې، زما لپاره یو معجزه وه.اوس حرکت وکړه، زه غواړم تا دارالحکومه ته بوزم!

بالخاش په آرامۍ وویل: نو آخر غایر خان بریالی شو...
سړی- ته یو خائن انسان یی.
بالخاش په قهرجنه غږ وویل: خپله خوله بنده کړه.
هغه سړی وخندل او ویې ویل: تصور به دې هم نه و، چې په دې لرې پرتې سیمه کې به زما په ګیر به راشی؟
بالخاش سترګې ښکته واچولې او ویې ویل: زه تسلیم یم، یوازې اجازه راکړه، دسمال مې چې ما خپل تر ملا تړلی خلاص کړم، ځکه سخت یې پعذاب کړی یم.
سړی چې خپل د خنجر څوکه د بالخاش پر سینه ایښې وه وویل: ژر شه.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

غایر خان چې د بالخاش د ناخاپي تېښتې او د جلاد د هغه شاګرد، او د دروازې ساتونکو د وژل کېدو له امله په غوسه و، پرېکړه وکړه چې په هر قیمت چې کېږي بالخاش مړ یا ژوندي پیدا کړي او خپل غوسه وړباندی ماته کړي. هغه فکر کاوه چې بالخاش د مغول خان د جاسوسانو په مرسته له زندانه تښتېدلی، دا یې د خپلې ادارې کمزوري ګڼله او وېرېده چې که سلطان ته دا خبر ورسېږي، د واک بنسټ به یې ولړزېږي،نو یې د اترار شاوخوا ټول ښارونو ته مامورین واستول، ترڅو د بالخاش نښه ومومي.هغه اعلان وکړ، که هر چا د بالخاش سر راوړي، نور زر د طلاو سکې به جایزه ورکړي.

خو د هغه مامورین په هر ځای کې ناکام شول، او اوس نوبت هغه مامور ته و، چې په جند کې د بالخاش د پیدا کولو لپاره ګمارل شوی و.کله چې دې مامور د جند ښار د برجونو او دېوالونو شاوخوا بالخاش ولید، د خوښۍ نه یې په پښو کې زغم نه و. هغه فکر کاوه، که د بالخاش د اوسېدو ځای معلوم کړي، نو ملګري به یې هم وپېژني، نو یې بالخاش ناخاپه ونیوه.بالخاش ځان داسې وښود، لکه زیات پیاده تګ هغه پعذاب کړی او اوس غواړي خپل تر ملا تړل شوی دسمال خلاص کړي.

هغه چې خپل نظر یې د غایر خان د مامور په سترګو کې ښخ کړی و، کرار کرار د خپل ملا څخه د دسمال خلاصول باندی بوخت شو، په همدې حال کې د هغه سړی څخه  وپوښتل: ستا نوم څه دی؟
سړي په کلک غږ وویل: زما د نوم پر پوهېدو تا ته هېڅ فایده نه رسیږي،کله چې زه تا جلاد ته وسپارم نو هغه وخت د مرګ څخه مخکې به زه ځان دروپیژنم.
بالخاش- نو ته غواړې ما د جلاد لاس ته وسپارې؟
سړي ځواب ورکړ: دا د اترار د امیر غایر خان حکم دی، آن زه اجازه لرم چې همدلته تا ووژنم.

بالخاش په مسخره خندا وویل: او بیا به زما سر زما د بدن جدا کړې او غایر خان ته به یې یوسې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرېي وويل: ما ته ډېر اسانه ده چې دا خنجر ستا په سینه کې ننباسم، خو ته باید د اترار په لوی میدان کې د خلکو پر وړاندې ووژل شې، ترڅو ټول وپوهېږي چې د یوه خاین برخلیک اخر څه وي؟!

بالخاش په دې فکر کې و، چې څنګه سرېی ناڅاپه راګیر او له پښو وغورځوی؟ هغه پرېکړه کړې وه، چې هره چالاکي او چل ول به کاروي، ترڅو د دې سرېي له منګولو ځان خلاص کړي. بالخاش نه توره درلوده، نه خنجر، خو د ځواک له پلوه له دې سرېي سره برابر و. یوازې د یو چل له لارې یې کولای شول، چې د سرېي خنجر له لاسه وباسي.کله چې بالخاش د خپل دسمال وروستی غوټه هم خلاص کړ، نو دسمال یې په لاس کې ټول کړ او ناڅاپه یې د سرېي پر مخ سخت وار وکړ.ورپسې یې په تیز حرکت، د سرېي مټ کلک ونیو، او په ټول زور یې پورته کړ او بیا یې لاندې راښکته کړ.

سرېی چې له دې برید سره ورختا شوی و، لږ شاته لاړ بالخاش په همدې فرصت کې خپل په بل لاس باندی یو قوي سوک د هغه پر شا ورکړ. سرېي سره له دې چې کلک او سخت ډبونه یې خوړلې وه خو بیا هم مقاومت یې کاوه خپل تعادل یې له لاسه ورنکړ، او سمدستي یې د بالخاش د مرۍ نیولو هڅه وکړه خو بالخاش د هغه لاس کوم کې چې خنجر وو تاو کړ، سرېی څو وارې خپل پر ځان تاو شو خو بالخاش د هغه  لاس، چې خنجر په کې و، شاته کش کړ او بیا خپل پر ټول زور سره یې سرېی شاته، د دیوال پر لور ټېله کړ او سخت یې دیوال خوا ته وواهه. د دې قوي ضربې له امله، د سرېي له لاسه خنجر و ولېد.

بالخاش ژر خنجر راوخیست چې په همدې شېبه کې دوه نور کسان چې د جند له خلکو څخه وو، کوټې ته داخل شول هغوی چې دا صحنه یې ولیده، پر خای ودریدل یوه یې یوه چیغه کړه: څه کوې؟!
بالخاش هغوی ته متوجه شو. بیا یې خنجر د غایر خان د مامور پر اوږې وواهه، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې زخم کړ او ويې ويل: لاړ شه او غاير خان ته ووايه چې ډېر ژر به زه خپله د هغه پسې ورشم. اړتيا نشته چې زما د سر لپاره جايزه وټاکي!

د غاير خان مامور، چې د وروستي بريد له امله تعادل له لاسه ورکړی و، ونه توانېد چې څه ووايي،بالخاش هغه پرېښود، او سړی پر ځمکه راولوېد.کله چې هغو دوو سړيو دا وليدل، يو يې په لوړ غږ چيغې کړې: تا هغه وواژه، قاتله.
بالخاش پوه شو، چې وضعيت ډېر خطرناک دی، نو له هماغې لارې، چې راغلی و، په تېښته شو،هغه دوه سړي د هغه پسې منډه کړه،حالات ډېر خراب شوي وو. که نيول شوی وای، وژل کېدل يې حتمي وو. اوس يوازينۍ لار دا وه، چې ځان پټ کړي.
بالخاش، چې ساه يې لنډه شوې وه او زړه يې له وېرې په درېدو و، په چټکۍ سره له کوڅې ووت او بله کوڅه کې داخل شو.

خو هغه د ښار د تنګو کوڅو له لارې نه و خبر هغه يوازې هڅه کول چې خپل ځان د هغه دوه نفرو څخه پټ کړي، نه پوهېده چې چېرې روان دی، يوازې د خپل ژوند د ژغورلو فکر يې درلود. څو کوڅې سره تېر راتير کړل، بيا يې د قدمونو سرعت لږ راکم کړ. په يو ناڅاپي حرکت د يو ديوال تر څنګ ودرېد، څو تازه ساه ګانې واخيستې بيا يې سر له کوڅې راويست د هغو دوو سړيو هېڅ نښه نه وه، له ځانه سره يې وويل: حتما ورڅخه ورک شوی يم، زه بايد مخکې له دې چې ناوخته شي، ځان د قربان ګلدي دوکان ته ورسوم او ټوله کيسه ورته ووايم، بيا يې حرکت وکړ، خو هر قدم چې اخيست نو شاته يې کتل، چې څوک خو يې تعقيبوي نه؟

ناڅاپه يې نظر په يو ځوان ولګيد چې له مقابل لوري راتله، نو د هغه څخه يې د بازار پته وپوښتله، ځوان د سر تر پښو ورته وکتل، بيا يې پوښتنه وکړه: تازه راغلی يې؟
بالخاش ژوره ساه واخيست او ويې ويل: زه له ډېر لرې ځايه راغلی يم.
ځوان چې د لارې څخه خبر و بازار ته د تلو لاره يې بالخاش ته وروښوده، بالخاش هم په ورښودل شوی لاری حرکت وکړ، بازار ته يوازې يوه کوڅه پاتې وه،هغه ډېر مزل کړی و، منډې يې وهلې وې، او ستړی شوی و،کله چې د بازار لومړي سر ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسېد، په احتياط يې قدمونه اخستل، ځکه پوهېده، چې د غاير خان مامورين به ډېر ژر د ښار ساتونکو ته خبر ورکړي او هره کوڅه به د هغه د پيدا کولو لپاره تلاشي کړي.

***

قربان ګلدي په خپل دوکان کې، په ارامه ناست و چې ناڅاپه بالخاش دننه شو. قربان ګلدي حيران شو، خو ژر يې ځان راټول کړ. بالخاش چې د يوې ټوټې قيمت يې په دروغو پوښتنه کوله په کراره قربان ګلدی ته وويل: زه په خطر کې يم،ستا کور زما لپاره خوندي نه دی، بله پناه‌ځای را پيدا کړه.

قربان ګلدي، چې يو هوښيار او زيرک سړی و، د دليل پوښتنه يې ونه کړه، يوازې يې وويل: زما سره راځه.

هغه له دوکانه ووت، بالخاش هم ورپسې روان شو قربان ګلدي هغه د ښار "توخوجولار" سيمه کې د يوه ځوانې فاحشې کور ته بوت، بالخاش ټوله کيسه ورته بيان کړه.د قربان ګلدي څېره د خواشينۍ رنګ واخيست او ويې ويل: زه نه غوارم وپوښتم چې داترار امير غاير خان ولې ستا پسې ګرځي او غواړی تا ووژني! خو احساس کوم چې حالت ډېر خطرناک شوی ته بايد ژر تر ژره له ښاره ووځې.
بالخاش وپوښتل: آيا تا د آس سپرو مشر سره ليدنه وکړه؟

قربان ګلدي کرار خپل سر وخوځاوه او ويې ويل: ته کولی شې د ماښام له رارسېدو سره هغه وګورې.
بالخاش- خو زه غوارم چې د شپې وخت کې له ښاره ووځم.
قربان ګلدي ځواب ورکړ: بايد صبر وکړې او له خپل پټنځای څخه بهر نشې.
بالخاش چې د کور ښه يې له لومړي نظره معلومه کړې وه او پوهېدې څنګه ځای دې پوښتنه وکړه: هغه ښځه چې زموږ لپاره يې دروازه خلاصه کړه څوک ده؟
قربان ګلدي په يو شيطاني موسکا وويل: زه او د اسونو سپرو مشر ډېر شپې دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځو او دا ځوانه فا*ش جنۍ زموږ ښه پالنه کوي، هغه همدا اوس ځان ستا د خدمت لپاره چمتو کوي.

بالخاش چې نه يې غوښتل له چا سره واوسي په تلوار وويل: خو زه يوازې پاتې کېدل غوارم.
د بالخاش په خبرې قربان ګلدي په حيرت وويل: ای کاش زه پوهېدلی شوم چې ته اخر څه ډول سړی یې؟
بالخاش- ډېر ژر به پوه شې مخکې له دې چې له ښاره ووځم.
او ورپسي زياته کړه: او هو يوه بله غوښتنه مې هم درلود، هغه جنۍ ته ووايه هېڅوک نه کور ته پرېږدی او نه هم زما کوټې ته.
ګلدي اوږې پورته واچولې او ويې ويل: سمده هر رقم چې ستا زړه غواړی.

بالخاش- زه يوازې غوارم چې ما د ښار له خبرونو خبر کړي.
قربان ګلدي له خونې ووت، ځوانه انجلۍ چې د ده د وتلو سره د ده لاره بنده کړه وغوښتل چې څه وپوښتي خو قربان ګلدي له دې مخکې چې هغې څه ووايي، وويل: هغه يوازې پرېږده، زه ژر بېرته راځم.

کله چې شپه شوه، بالخاش د کوټې له کړکۍ څخه کوڅې ته ټوپ کړ. يو څو شېبې د ځوانې انجلۍ د کور ديوال ته نژدې ودرېد، ترڅو ډاډ ترلاسه کړي، چې څوک يې نه ويني.بيا يې په تېزۍ او احتياط سره ځان له هغه ځايه لرې کړ.هغه يو خطرناک پلان درلود، داسې پلان، چې که لږ غلطي ورڅخه شوې وای، نو راز به يې افشا شوی وای، او ژوند به يې هم له لاسه ورکړی واې، بالخاش له څو کوڅو تېر شو تر دې چې د ښار منځني ميدان ته ورسېد هغه مخکې فکر کړی و، چې قربان ګلدي به د شپې ناوخته د اسونو د سپرو مشر د انجلۍ کور ته راولي، او تر هغه وخته به دی خپله دنده سرته رسولې وي.

هغه د سهار پر مهال، چې ښار ته يې چکر واهه، د دارالحکومه مخې ته هم تېر شوی و.هغه اوس د هغه ځای لاره پېژندله، نو اړتيا يې نه درلوده، چې له چا پوښتنه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی سره له دې چې په ډېر خطرناک حالت کې و، د ښار حاکم ته د ورتلو پریکړه یې نیولی و کله چې د دارالحکومه د لویې دروازې مخې ته ورسېد، ودرېد او نظر یې هغه اوږد قد لرونکي ساتونکي ته واچاوه، چې د دروازې مخ ته ولاړ و.بالخاش سره له دې چې خپل پلان یې تازه جوړ کړی وو او په ذهن کې تکرار کاوه خو بیا هم ډاړمن وو او هېڅ د وېرې احساس یې ونه کړ.

هغه د کلک قدمونو سره داسې روان و چې ډېر په بیړه ښکاره نشي خو ساتونکي یې مخه ونیوله په زوره یې وپوښتل: ته څوک یې؟ او دلته څه کوی؟ ای پردي سړي؟
بالخاش، په کلک لهجه ځواب ورکړ: زه له اترار ښخه راغلی یم، او د حاکم صیب لپاره مې مهم پیغام راوړی.
ساتونکي له سره څخه تر پښو ورته وکتل بیا یې وویل: دلته ودرېږه، زه د ساتونکو مشر ته خبر ورکوم.
بالخاش، په همغه کلک لهجه وویل: ژر شه، تلوار وکړه.
ساتونکی د لویې دروازې ترڅنګ یوه کوچنۍ خونه ته ننوت لږ وروسته د منځني قد لرونکي یو سړی د هغه سره راووت د ساتونکو مشر بې‌پروا او مغرورانه چلند درلود بالخاش ته نږدې شو، او په بې‌احترامانه لهجه یې وپوښتل: له کومه راغلی یې؟

بالخاش پرته له ځنډه ځواب ورکړ: زه د اترار له ښار څخه راغلی یم او د اترار د امیر د غایر خان لخوا مې د حضرت حاکم لپاره مهم پیغام راوړی.
دساتونکو مشر په مسخره توګه وخندل او ویې ویل: حتماً هم د هغه دنیا سر څخه تر دی ځایه د پښو په زور دی مزل کړی؟
بالخاش- نه، زما آس بازار ته نږدې د چایخانی په طویله کې دی، هغه د دومره مزل وروسته ستړی شوی وو، نو زه مجبور شوم هغه پرېږدم او پیاده ځان را ورسه وم تر څو د غایر خان پیغام حضرت حاکم ته ورسوم.
د ساتونکو مشر- پیغام دی ماته ووایه زه به یې د هغه تر غوږ ورسه وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش، بې له ځنډه وویل: نه، زه مامور یم چې خپله شخصاً د حاکم حضور ته ورشم.
د ساتونکو مشر په فکر کې شو، هغه د بالخاش په خبرو شکمن و خو په بشپړه توګه یې هم نه‌شوای رد کولی ځکه هیڅ شک نه و چې بالخاش د اترار له خلکو څخه دی.
نو و یې پوښتل: ستا نوم څه دی؟
بالخاش پرته له ځنډه ځواب ورکړ: زما نوم محمد مهدي دی! زه د اترار د امیر غایر خان د ساتونکو مشر یم.
د ساتونکو مشر چې د دې نوم او منصب په اورېدو حیران شوی و، ځان یې لږ را سم کړ او په درناوي یې وویل: زما سره راځی.

د ساتونکو مشر مخکې روان شو او بالخاش یې هم تر شا، هغوي له لویې دروازې تېر شول
دساتونکو مشر وویل: حضرت حاکم دا مهال حرم سرای ته تللی دی باید د حاجب له لارې ورته خبر ورکړم.
بالخاش وویل:بیړه وکړه، زه باید همدا شپه بیرته اترار ته ولاړ شم.
د ساتونکو مشر چې ظاهراً د بالخاش د منصب او داسی تلوار څخه متاثره شوی و وپوښتل: ایا هلته جګړه پیل شوی؟
بالخاش- جګړه؟ نه هر څه امن دي.
د ساتونکو مشر وویل: ما فکر کاوه شاید د مغول خان پوځ زموږ پر هېواد برید کړی وي.
بالخاش په مسکا لنډ وخندل او ویې ویل: مغول خان هېڅکله داسې غلطي نه‌کوي. دواړه وخندل...

لږ وروسته دواړه د حرم‌سرای دروازې ته ورسېدل،د ساتونکو مشر دروازه وټکوله.
لږ وروسته یو غلام هلک دروازه خلاصه کړه. د ساتونکو مشر هلک ته وویل: حاجب ته خبر ورکړه، چې یو مهم امر رامنځته شوی، او زه غواړم ورسره ووینم.
غلام د حرم‌سرای دننه لاړ.ډېر وخت نه و تېر شوی، چې بېرته راستون شو او وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاجب ستاسو د راتگ په تمه دی.
دواړه د دروازې څخه تېر شول او د یو پراخ دهلیز ته ننوتل، په دهلیز کې د دواړو خواوو څراغونه ایښي وو، چې فضا یې د روښنایۍ لاندې نیولې وه.کله چې د حاجب کوټې ته داخل شول بالخاش یو زوړ سړی ولید، چې د کوچني تخت پر سر ناست و دا سړی بل څوک نه بلکې حاجب و!

حاجب، چې خپله څیره‌یې بالخاش ته اړولې وه د ساتونکو له مشر وپوښتل: دا ځوان څوک دی؟
د ساتونکو مشر وویل: قربان محمد مهدي د اترار دامیر غایر خان د ساتونکو مشر دی. هغه د امیر له لوري د حضرت حاکم لپاره یو مهم پیغام راوړی، او د لیدنې اجازه غواړي.
حاجب، لږ وخوځېد، بیا یې وویل: زمونږ ښار ته ښه راغلې محمد مهدي! د اترار امیر پیغام څه دی؟
بالخاش له لږ ځنډ وروسته په درنښت وویل: قربان زه دنده لرم چې د امیر پیغام شخصاً د حضرت حاکم غوږونو ته ورسوم.

حاجب مسکا وکړه او له خپل تخته راکوز شو او ویې ویل: که داسې ده نو د غایر خان پیغام به ډېر مهم وي خدای دې وکړي چې د هغه په پیغام حضرت حاکم او د جند خلک خیر ومومي.
بالخاش وویل: همداسې ده د حضرت حاکم او د جند د خلکو خیر او مصلحت په همدې پیغام کې دی.
حاجب سر وخوځاوه بیا یې وویل: زه همدا اوس حضرت حاکم ته خبر ورکوم چې ستا لیدو ته حاضر شي.

هغه د کوټې یوې کوچنۍ دروازې ته لاړ، دروازه‌یې خلاصه کړه، او له هغې واوښت.
د ساتونکو مشر د بالخاش لور ته وکتل او ویې ویل: ډېر ژر به موږ ټول د اترار د امیر د پیغام څخه خبر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش- امکان لری حضرت حاکم تا د یو دندی لپاره مامور کړی!
د ساتونکو مشر حیران بالخاش ته وکتل او ويې پوښتل: څنګه ماموریت؟
بالخاش موسکی شو او وویل: ژر به پوه شې.
د ساتونکو مشر- خو ای کاش ژر پوهه شوی وای ترڅو ځان مې ورته تیار کړی وای.
همدغه وخت کې حاجب له دروازې دننه شو او بالخاش ته یې وویل: حضرت حاکم د اترارامیر غایر خان سره د دوستۍ او ښې اړیکو له امله ته لیدو ته منلي یې راځه له ما سره.

بالخاش په درنښت ځواب ورکړ: زه د هغوی د احسان منندوی یم.
هغه د حاجب شاته لاړ، دواړه له دهلیزونو تیر شول، تر دې چې یوه پراخ تالار ته ورسیدلپه تالار کې د لویو څراغونو رڼا خورېده حاجب د یوې لویې دروازې مخې ته ودرېد. څو ځله‌یې دروازه وټکوله بیا یې دروازه خلاصه کړه او دننه ننوتل دا یوه مجلله خونه وه فرشونه قیمتي وو، او د چت له لویې چلچراغ څخه ځلانده رڼا خپرېده د کوټې په منځ کې د جند حاکم ولاړ و، هغه د منځني عمر سړی و، او خپل لاسونه یې د شا خواته تړلي و.حاجب او بالخاش دواړو د احترام لپاره سرونه ورته ټیټ کړل.

حاکم په درانه نظر بالخاش ته وکتل او ويې ویل: رانژدې شه محمد مهدي!
بالخاش ورو ورو وړاندې لاړ او کله چې نږدې شو نو یو ځل بیا یې تعظیم وکړ.
حاکم خپلې ګوتې د ږیرې منځ ته یووړې بیا یې وویل: زما د ورور غایر خان پیغام څه دی؟!
بالخاش یو نظر حاجب ته واچاوه چې حاکم یې وپوهو چې باید یوازې پاتې شي، حاکم، سر وخوځاوه بیا یې حاجب ته وویل:موږ یوازې پرېږده.
حاجب، په درناوي شاته شاته ووت،حاکم بالخاش ته وکتل او ويې ویل: اوس کولی شې هر څه په راحت خیال ووایې.
بالخاش خپل سر پورته کړ غږ یې ښکته کړو او ويې ویل: د مغول خان جاسوسان ستاسو ښار ته راننوتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاکم حیران شو او ویې ویل: زه به سمدلاسه امر وکړم چې ټول ښار تلاشي شې او د ښار دروازې کلکې وتړی تر څو هر مشکوک کس راونیول شی.
بالخاش په زیرکتیا وویل: دا بېفایدې ده ځکه هغوي د مغولو نفران نه دي! بلکې ستاسودوو کسان دی چې د طلا په بدل کې د دوی لپاره جاسوسي کوی.
حاکم ژر پوښتنه وکړه: دا دوه خیانتکاران څوک دي؟
بالخاش ځواب ورکړ: یو قربان ګلدی دی د ابریشمو ټوټو سوداګر، او بل هم ستاسو د اسونو د سپرو مشر.
حاکم د حیرانتیا له امله خوله نیمه خلاصه کړه او ویې ویل: نه دا ناممکن ده که دا حقیقت ولري زه به پرې نږدم چې هغوي د سبا لمر ووینی، زه به همدا شپه امر وکړم چې دواړه اعدام شي، خو اصل کیسه څه ده؟

بالخاش د دروغو یو کیسه جوړه کړل او حضرت حاکم ته یې داسي پیل کړل: د اترار امیر غایر خان جاسوسانو یو مغولي جاسوس راونیوچ، هغه جاسوس د شکنجو لاندې، دقربان ګلدی او ستاسو د اسونو سپرو مشر نومونه یاد کړل، د هغه وروسته غایر خان ماته امر وکړو چې ځان د یو مغول جاسوس په توګه معرفی کړم او دلته راشم او د هغه دواړو سره اړیکه ونیسم تر څو معلوم کړم چې ایا هغه جاسوس موږ ته ربښتیا ویلي او کنه؟

بالخاش لږ خاموش شو بیا یې وویل: ما هم د امر سره سم همغه کار وکړو او نن ماښام زه د هغه دواړو جاسوسانو لیدو ته ورځم.
حاکم د قهر نه خپل مټ کلک ونیو او ویې ویل: زه همدا اوس امر کوم چې هغه دواړه راګیر او اعدام کړی.
بالخاش- که اجازه راکړی دا کار به زه وکړم.
حاکم- څه کار غواړی وکړی؟
بالخاش چې د زیرکۍ له لارې یې خپله نقشه عملي کړې وه وویل: زما د ملاقات ځای د هغوی سره د یو فا*ش کور په "توخوجولار" سیمه کې دي شاید همدا اوس چې زه ستاسو سره په خبرو لګیا یم هغوی راغلی اوسیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاکم چې دا خبرې واورېدل له غوسي څخه په ماڼي کې په ګرځېدو شو، څو شېبې وروسته د بالخاش مخي ته ودرېد او ویې پوښتل: ستا په نظر زه باید څه کار وکړم؟ دا حالت زه نشم زغملی! د دوی وینه باید تویه شي.
بالخاش وویل زه هم د همدی کار لپاره راغلی یم او بیا یې خپل پلان حاکم ته تشریح کړ، چې څنګه به قربان ګلدی او د اسونو د سپرو مشر ته د هغوی د کړې خیانت سزا ورکړي.

حاکم قانع شو هغه خپل لاس د بالخاش پر اوږه کېښود او ویې ویل: زه درنه مننه کوم محمد مهدی!
بالخاش، سر ټیټ کړ او ویې ویل: موږ ټول د سلطان خدمتګاران یو.
حاکم موسکی شو: آفرین سبا د ماسپښین ډوډۍ زما مېلمه یې.
بالخاش سر وښوراوه: مننه، قربان خو زه باید همدا شپه اترار ته ستون شم.

حاکم- خپل تک بل سبا ته پاتي کړه.
بالخاش په درناوي وویل: که اجازه راکړئ زه باید همدا نن شپه له ښاره ووځم.
حاکم ژوره ساه واخیسته بیا یې وویل: څکه چې مامور یې نو ډېر ټینګار درباندی نکوم، د تلو وخت کې زما ځانګړي ګوتمه د حاجب څخه واخله تر څو د ښار دروازې درته بغیر د کوم ستونزي څخه خلاصه کړي.

بیا یې دواړه لاسونه سره ووهل حاجب دننه راغی،حاکم امر وکړ چې د ساتونکو مشر ژر تر ژره ورولیږي او همدا راز هغه ځانګړې ګوتمه محمد مهدي ته ورکړل شي، چې د تګ وخت کې د جند دروازی ورته خلاصی کړي.ډېر ژر د ساتونکو مشر حاضر شوحاکم هغه د بالخاش اختیار ته وسپاره او ورته ویې ویل: ته باید د محمد مهدي له امرونو څخه پیروي وکړې.

بالخاش، چې د محمد مهدي په بڼه یې حاکم غولولی و، د دې لپاره چې پلان یې بریالی روان و، له خوشحالۍ نه په ځان نه پوهیده، بالخاش د تالار څخه د وتلو پر مهال ودرېد او پوښتنه یې وکړه: ایا د اترار امیر پاره کوم پیغام لرئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاکم وویل: زما ګرم سلامونه زما ورور ته ورسوه او ورته ووایه چې ژر به یو استازی، د داسې ډالیو سره چې د هغه مقام ته مناسبه وي، ورولیږلم، د هغه د داسی احسان په بدل کی.

هغوی له تالار څخه ووتل بالخاش ځانګړې ګوتمه له حاجب څخه واخیست او د ساتونکو مشر ته یې خپل پلان تشریح کړ.هغه چمتووالی ونیو او له حکومتي ماڼۍ څخه ووت...

بالخاش په تیزۍ سره د هغې لارې په لور حرکت وکړ چې راغلی و. هغه اټکل کاوه چې شاید قربان ګلدي او د اسونو سپرو مشر به د ځوانې انجلۍ کور ته داخل شوي وي.هغه د خپل غیابت لپاره یوه بهانه برابره کړې وه او باوري و چې هغوی به پرې شک ونه کړي. خلوت کوځې یې په چټکۍ سره تر شا پرېښودې، او له خپلې کړې کارنامې څخه راضي او خوشحاله ښکارېده.کله چې د ځوانې انجلۍ د کور دروازې ته ورسېد، خپل د خونې کړکۍ یې تیاره ولیده، په خپل ذهن کې یې وویل: هغوی لا هم نه دي راغلي.

دروازه یې کرار ووهل لږ وروسته، ځوانې انجلۍ دروازه پرانیسته،بالخاش کور ته ننوت، انجلۍ دروازه بنده کړه او پوښتنه یې وکړه: چیرته وې؟
بالخاش د هغې د فکر اړولو لپاره خپل لاس د هغې پر اوږه کېښود او ویې ویل: زه لاړم چې خپل آس وګورم،د سهار راهیسې مې چایخانه کې یوازې پریخودی وو.

بیا یې ځوانه انجلۍ په دواړو لاسونو پورته کړه، هغه یې ښکل کړل او په خندا یې وویل: کاش زه دلته لږ نور هم پاتې کېدای شوی.
ځوانه انجلۍ چې پر هیجان راغلې وه وویل: تر هغو چې قربان ګلدي راځي، موږ وخت لرو، راځه ما خپل خونې ته دې بوځه او د هغه شرابو څخه یو غوړپ وڅکه کوم چې ما ستا لپاره تیار کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش هغه خپل خونې ته بوتله په نرمۍ يې پر بستر کېښوده، او خپله د هغې تر څنګ پريوت کله چې يې د ځوانې انجلۍ سترګو ته وکتل نو د دې لپاره چې د هغې دعوت د شرابو لپاره رد کړې په چالاکې وويل: زه بغير د شراب څښلو څخه ستا دوه سترګو مست کرم ته فکر کوې چې شراب به ما ته له دې څخه لا زياته نشه راکړي؟

ځوانه انجلۍ چې دا ډول خبرې ورته نوې وې، فکر وکړ چې خپل د خوښۍ سرې يې موندلی، د هغې له سترګو د خوښۍ اوښکې را وبهېدې، زړه يې له هيجانه په ټپېدو شو. هغې له شوقه خپل لاسونه د بالخاش شاوخوا تاو کړل، سر يې ښکته کړ او بالخاش يې ښکل کړو، خو بالخاش يوازې لوبه کوله.هغه غوښتل چې د خپل غيابت پېژولو لپاره د ځوانې انجلۍ احساسات داسې راوپاروي چې بل څه ورته مهم ښکاره نشي.هغه په خپل نيت کې بريالی شوی و.اوس ځوانه انجلۍ په بل حالت کې وه، او د بالخاش پرته يې بل هېڅ نه ليدل هغې يوازې د دغه صحنې او بالخاش په اړه فکر کاوه چې د هغې تر څنګ پروت و او د هغې ويښتيان يې نازول.

ځوانه انجلۍ له بسترې څخه راولاړه شوه، يو جام يې له شرابو ډک کړ او بالخاش ته يې ورکړ.
ځوانه انجلۍ- زه غواړم د شرابو اثر ستا په سترګو کې ووينم.
بالخاش چې پوهېده يو جام شراب هغه نه نشه کوي نو په يو ځل يې پر سر واړو او تش يې کړ.ځوانې انجلۍ خپل کالی وباسل او خپل بدن يې بربنډ کړ نيمه لوڅه د بالخاش مخې ته ودرېده ورو وڅرخېده، او د هغې سينه د حرکت پر مهال لږ ولړزېده، چې دا صحنه بالخاش ته لا جذابه ښکارېده.بالخاش چې ځان يې داسې ښودلو لکه ځوانې انجلۍ چې پر هيجانه راوستی وي وويل: کالې دې واغونده...

ځوانې انجلۍ يو غوړپ شراب وڅښل، مسته خندا يې وکړه او د بالخاش غېږ ته يې ځان وغورځاوه همدا چې غوښتل يې بالخاش ښکل کړي د دروازې ټک ټک پورته شو. لکه چې ځوانې انجلۍ هېڅ دا غږ نه و اورېدلی، ځکه لا هم د بالخاش د ښکل کولو نيت يې درلود خو بالخاش هغې ته وويل؛ دروازه ټکېږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوانې انجلۍ وخندل او ويې ويل: قربان ګلدي يو چاغ سړی دی، پرېږده چې د دروازې تر شا پاتې شي.
بالخاش- نه، ورځه دروازه پرانيزه.

ځوانه انجلۍ چې لا هم په خپل جذباتو کې غرقه وه وويل: خو تا زه هغسي مسته نکړم څنګه چې ما غوښتل!
بالخاش له ځايه پورته شو او ويې ويل: ته همدلته پاتې شه، زه دروازه خلاصوم.
ځوانې انجلۍ وخندل ځان يې لږ تاو کړ آه يې وايست، او نور يې هېڅ ونه ويل داسې معلومېده لکه چې د بلې نړۍ فکرونو ته تللې وي، او بل هېڅ شی يې پام ته نه و.بالخاش د هغې له خونې ووت او دروازه يې پرانيسته.قربان ګلدي او د اسونو د سپرو مشر ولاړ وو.بالخاش د قربان ګلدي خوا ته وکتل او ويې ويل: ما ويلي هم وه درته چې زه بايد له ښاره ووځم، بيا ولې دومره ناوخته راغلې؟

د اسونو د سپرو مشر چې يو غښتلي سړی وو رامخکي شو او ويې ويل: قربان ګلدي ملامت نه دی زه وم چې هغه مې ودرولو.
قربان ګلدي د بالخاش نه وپوښتل: هغه چېرته ده؟
باخاش ځواب ورکړ: هغه بيده ده.
قربان ګلدي د سپرو مشر ته اشاره وکړه: مهربانۍ راځی.
هغوی هماغې خونې ته داخل شول چې بالخاش څو شېبې وړاندې ترې د کړکۍ له لارې کوڅې ته ټوپ وهلی و.د سپرو مشر خپله توره د ملا له څخه جلا کړه او د ځان تر څنګ پر فرش کېښوده.

قربان ګلدي هم د هغه ترڅنګ کښېناست.بالخاش د دوی مخې ته ودرېد، د اسونو د سپرو مشر ته يې وکتل او وپوښتل: ستاسې نوم څه دی؟
قربان ګلدي تر هغه وړاندې شو او ويې ويل: عبدالغفور.
بالخاش په مصنوعي موسکا وويل: مغول خان که زموږ په څېر هوښيار او چالاک مامورين ولري، نو ډېر ژر به پر ټوله نړۍ واکمن شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالغفور ځواب ورکړ: له کومه معلومه ده؟
بالخاش په لنډه خندا وویل: له دې ځایه چې تاسو د جند ښار تر ټولو مهمې پوځي معلومات ما ته راکوئ، او زه هغه چاته رسوم، چې اړتیا ورته لري. دا بسنه نه کوي؟

عبدالغفور قربان ګلدي ته وکتل او ویې ویل: بهر وګوره.
قربان ګلدي له ځایه پورته شو د خونې دروازه یې پرانیسته بهر یې وکتل بېرته دروازه بنده کړه او ناڅاپه یې خپل ځان د بالخاش پر لور وغورځاوه، بالخاش هماغه شېبه احساس کړ چې دوی د هغه او د حاکم د ملاقات په اړه پوهېدلي دی او غواړي دی ووژني، خو هغه ژر ځان سمبال کړو په پوره مهارت یې قربان ګلدي له خپل سره راواړاوه او پر فرش یې وغورځاوه، بیا په چټکۍ له ځایه پورته شو، خپل خنجر یې له غلافه راوایسته

هممهاله عبدالغفور، چې خپله توره یې د څنګ سره ایښې وه، له ځایه ودرېد او په غوصه یې وویل: ته به له دې ځایه ژوندی ونه وځې، خائن زه ستا له هر څه خبر یم! ستا د حاکم سره ملاقات او هغه نقشه چې تا جوړه کړې، ما ته ټول معلومات را رسېدلي دي.
بالخاش یو ګام شاته شو او په غوصه یې وویل: زه خوشحاله یم چې نن شپه به تاسو خائنان په خپلو لاسونو نیست او نابود کوم.
بالخاش ته بله لاره نه وه پاتې که له دوی څخه یو هم ژوندی پاتې کېده، نو د هغه او د حاکم د ملاقات راز به یې سوباتای ته رسولی وای،هغه باید په هر قیمت دا دواړه له منځه وړي او له ښاره تېښتیدلی وای.

عبدالغفور چې توره یې د بالخاش پر لور نیولې وه، ناڅاپه پرې حمله وکړه! بالخاش چې خپل د ژوند په اوږدو کې یې ډېر دا ډول صحنې لیدلې وې، په مهارت ځان شاته کش کړ.د عبدالغفور توره د دېوال سره ولګېده!بالخاش همدا فرصت غنیمت وګاڼه، او خپل د تېره خنجر په وسیله یې د عبدالغفور ښي اوږې ته ضربه ورکړه، بیا په چټکۍ د قربان ګلدي پر لور وروګرځېد، چې خنجر یې په لاس کې وه، خو حیران ولاړ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش د هغه پر نس زورور لغته ووهله! قربان ګلدي د درد له امله پر ځمکه ولوېد. جنګ لا سخت او خونړی کېده،هر یو یې هڅه کوله چې بل له منځه یوسي.بالخاش د خپل ملي غرور لپاره جنګېده! دا یوه سخت او د بریښنا پشان تیر جګړه وه، داسې جګړه چې یوازینی پای یې مرګ و.هغه باید دا دواړه خائنان له منځه وړي وای. عبدالغفور یا قربان ګلدي، که هر یو ژوندی وتښتېده، نو د بالخاش د مرګ حکم به یې لاسلیک کړی و. د جاسوسانو لاسونه اوږده وو، مغول به هغه ژوندی نه پرېښود. په همدې سختو شېبو کې، چې بالخاش هڅه کوله دواړه خپل دښمنان ووژني، ناڅاپه یې د سایان نوم په ذهن کې تیر شو. هغه په یاد راوړل چې څنګه سوباتای هغه د خیانت په سزا ووژه.

د بالخاش چالاکي او تیز حرکاتو هغه دواړه حیران کړي وو، کله چې قربان ګلدي د عبدالغفور وینه‌بهېدلی اوږه ولید، نو د وېرې احساس یې وکړ، هغه پوه شو چې د ده سیال دا اتراري ځوان، بې‌رحمه، چالاک او له مړینې نه وېرېدونکی کس دی، د قربان ګلدي مخ د وېرې له امله بې‌خونده ښکارېده، هغه چې د بالخاش له سختې لغتې وروسته پر ځمکه غورځېدلی و، اوس یې خنجر په لاس کې لړزېده او ویره چې د هغه د بدن هر رګ ته ننوته، د سترګو له ښو یې لوستل کېده. عبدالغفور چې لا هم خپله توره په لاس کې نیولې وه، د یو تیز برید لپاره چمتو و!

هغه هڅه وکړه چې بالخاش ته یو مرګونی ګوزار ورکړي، بالخاش چې د جګړې چلونه یې ښه زده وو په احتیاط د مناسب فرصت په لټه کې و، تر څو خپل دویم ضربه هم پرې وکړي.عبدالغفور، چې سخت ژوبل و د غوسي او درد له امله چیغه کړه- ګلدی وار ورباندی وکړه فرصت مه ورکوه وې وژنه.

خو قربان ګلدي چې بدن یې له وحشت له لاسه لړزیده بغیر د کوم حرکت ځای پر ځای ولاړ وو، هغه نه د کور څخه د وتلو توان درلود او هم د جګړې، ځکه پوهېده چې بالخاش ترې پیاوړی دی  بالخاش په قهرجن غږ وویل: تاسو دواړه خائنان باید لکه سپي ووژل شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالغفور، چې د مرګ له ویرې یې عقل له کاره لوېدلی و، چیغه کړه: زه به سوباتای ته ستا د قتل خبر ورکړم.
او ناڅاپه یې حمله وکړه،خو بالخاش ډېر چالاک و، د عبدالغفور د توري مټ یې په هوا کې ونیو.عبدالغفور د خپل ټول توان سره هڅه وکړه چې لاس خوشې کړي،خو بالخاش ته دا ښه فرصت و هغه خپله بله لاس، چې خنجر پکې وه، پورته کړه...

او په بیحد سرعت سره یې د عبدالغفور په نس کې ووهل، خنجر یې تر لاستي د هغه په نس کې ښخ کړ، بیا یې ژر را وایسته، عبدالغفور د درد څخه سخت چیغې وهلې د هغه توره له لاسه ولوېده،دواړه لاسونه یې د خپل ژوبلې شوې ګېډې پر سر کېښودل، خو وینه له ګوتو راتویېده.سترګې یې د مرګ له وېرې پراخې شوې یو، دوه قدمه شاته ولاړ، بیا پر ګونډو باندی شو او ناڅاپه پر سینه ولوېد یو ځل یې بدن وخوځېد بیا بې‌حرکته پاتې شو.عبدالغفور مړ شو!

قربان ګلدي چې پخپله د دې جګړې پیل کړی و، اوس بې‌وسه او بې‌وسلې پاتې و. هغه د ځان سره فکر وکړ که بالخاش وویني چې زه وسله نه لرم نو شاید رحم به راباندې وکړي، هغه پوهېده چې د مرګ او ژوند ترمنځ یوازې څو شیبې فاصله لري.
بالخاش، چې لا هم د قهر او غوسې په اور کې سوځېده ورو یې وویل: اوس نو ستا نوبت دی خائن.
قربان ګلدي چې له مرګه سخت ډارېده، خپل لاسونه پورته کړل او په زاریو یې وویل:نه ... نه ما مه وژنه عبدالغفور زه مجبور کړم دا کار وکړم.

بالخاش چې د هغه درواغو ته متوجه و ترې وپوښتل: بغیر له تاسو دوو، نور څوک د مغولو لپاره جاسوسي کوي؟
قربان ګلدي چې د ویرې له امله یې ژبه بنده شوې وه قسم یاد کړ چې بغیر له ده او عبدالغفور څخه نور څوک نه پېژني.
بالخاش بیا وپوښتل: تاسو څنګه له مغولو سره اړیکه نیسی؟
قربان ګلدي چې اوس یې ژبه له ډاره سخته ګرځېده، په وېرېدلي غږ یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی هر څو میاشتي وروسته د سوداګرو په جامو کې 'جند' ته راتلل او زموږ څخه یې معلومات ترلاسه کول.

بالخاش، چې د خیانت د دغه تسلسل له اورېدلو نور هم قهرېدلی و، چیغه کړه: او تاسو خائنانو به د دې خبیثانه کار په بدل کې پیسې ترلاسه کولې کنه؟
قربان ګلدي چې اوس یې زنګونونه لړزېدل او له سترګو یې اوښکې بهېدلې، ژړ وویل: بله چاره نه وه که مې دا کار نه وای کړی، هغوی به زه وژلی وای.
بالخاش چې نور یې د قربان ګلدي ښېل ناشوني بلل، د خپلو غوسه‌ناکو سترګو سره ورته وکتل او په سخت غږ یې وویل: اوس زه تا وژنم، خائنه.
قربان ګلدي چې نور یې د مرګ سیوری له نږدې حس کاوه، د لړزېدلو شونډو سره ورو ویل: ما ژوندی پرېږده قسم خورم چې سبا سهار به له دې ښاره ولاړ شم او ځان به پټ کړم، نور به هېڅکله مغولو ته کار ونکړم.

خو بالخاش چې د خیانت سزا یې معلومه کړې وه په جدیت وویل: نه، ته باید ووژل شې!

د دې خبرې سره سم هغه د خپل لاس خنجر کلک ونیوه، هدف یې وټاکه او د قربان ګلدي د زړه پر لور یې وغورځاوه. خنجر د هوا سینه څېره کړه او د خاین په زړه کې ښکته شوه قربان ګلدي د یوه نرۍ چیغې سره پر ځمکه وغورځید څو ځله وښورېده، بدن یې شخ شو او بیا د تل لپاره خاموش شو. بالخاش چې د بریا احساس یې کاوه، د افتخار له مسکا سره د قربان ګلدي مړي ته وکتل ورو یې ګامونه واخیستل، خنجر یې د هغه له سینې وایستله، او د هغه پر جامو یې پاک کړ.

بیا یې څراغ راواخیست او له کوټې بهر شو. د ځوانې انجلۍ څخه کوم خبر نه وو لکه چې په ژور خوب ویده وه.بالخاش چې پوهېده نور دلته تم کېدل خطر لري، ځان یې بام ته ورساوه هغه څراغ څو ځله پورته کوز کړ‌دا یوه پټ نښه وه چې د ساتونکو مشر او سرتیري هر کله دا نښه د فا*ش د کور پر بام ولیده خپل د کمین له ځایه راووځي او کور محاصره کړي ترڅو قربان ګلدی او د اسونو سپور مشر لاس ترلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونیسی، بالخاش د احتیاط له مخې ببرته ژر ښکته شو. او کرار د ځوانې انجلۍ ته ورننووت انجلۍ لا هم بېحرکته په درنه خوب ویده وه، بالخاش چې د هغې داسی کرار خوب ته کتل په ارامۍ یې وویل:

- که دې خبر درلودای چې په کور کې یې څه وحشتناکه پیښه شوې، نو ښایي له وېرې څخه یې سا بنده شوې وای.

ناڅاپه د باندې د اسونو د پښو دروند غږ پورته شو، بالخاش ژر دروازه خلاصه کړه، د ساتونکو مشر له اسه کوز شو، او بالخاش چې څراغ یې په لاس کې و، نښه ورکړه چې نژدې راشي کله چې دواړه مخامخ ودرېدل، بالخاش په ارام خو قاطع غږ وویل: ما نن ماښام د جلاد کار ترسره کړ.
د ساتونکو مشر چې حیران ښکارېده، پوښتنه وکړه: مطلب تا هغوی ووژل؟
بالخاش سر وخوځاوه: هو او که ما لږ غفلت کړی وای، نو هغوی به زه وژلی وای، هغوی د مخه ماته نقشه جوړه کړې وه.

د ساتونکو مشر چې د حاکم امر یې په یاد و وویل: خو حضرت حاکم غوښتل چې دوی ژوندی وویني.
بالخاش چې د خپل کار په سموالي مطمئن و، ځواب ورکړ: چاره نه وه، هغوی پوه شوي وو چې ما له حاکم سره لیدلي وو. که ما هغوی نه وای وژلي، هغوی به زه له منځه وړی وای.
د ساتونکو مشر چې اوس یې د موضوع جدیت درک کړ پوښتنه وکړه: او هغه فا*ش نجلۍ؟ هغې سره دې څه وکړل؟
بالخاش پوزخند وواهه او وویل: هغه په ژور خوب کېده داسې ښکاري چې له دې ټولو پیښو ناخبره وی.

د ساتونکو مشر یو شېبه فکر وکړ بیا یې وویل: خو تا ډېر تلوار وکړه.
بالخاش، چې نه یې غوښتل بحث اوږد کړي وخندل او ویې ویل: که ما یوه شیبه هم ځنډ کړی وای، تاسو به یوازې زما مړی موندلی وای. هغوی ناڅاپي حمله وکړه، که ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه لحظه بې‌پرواهي کړې وای، زه به اوس ژوندی نه وم.
بیا یې ټینګار وکړ: د ځوانې انجلۍ سره کار مه لری، زه فکر نه کوم چې هغه دی له دوی سره همکاره اوسیږی؟

د ساتونکو مشر سر وخوځاوه او وویل: سمده ته حرکت وکړه، نور کار ما ته پرېږده.
بالخاش- زما آس د بازار مخې ته د چایخاني په طویله کې دی، که ممکن وي یو آس دې راته راکړئ، زه باید ژر لاړ شم.
د ساتونکو مشر وویل: حضرت حاکم غواړي تاسو ووینی، لکه چې غواړی د اترار امیر ته کوم پیغام واستوی!
بالخاش په ارامۍ سره سر وخوځاوه او په ځانګړې زیرکۍ یې وویل: زه د حضرت حاکم حکم منم.
د ساتونکو مشر وویل: موږ باید مړي وګورو.
بالخاش- امر ورکړئ چې مړي هدیرې ته یوسي او ژر یې پټ کړي، ځکه د ورځې به دا کار د خلکو د ګڼې ګوڼې سبب شي.

د ساتونکو مشر وویل: همدا اوس دا کار تنظیموم.
او بیا د کور انګړ ته یې قدم دننه کړ او داخل شو، بالخاش او دوه ساتونکي ورپسې روان شول، بالخاش لږ شاته شو، څه شېبه وروسته له کوره راووت او پنځو نورو ساتونکو ته یې وویل: تاسو هم دننه شئ.

ساتونکي له خپلو اسونو کوز شول او کور ته دننه ولاړل، بالخاش موسک شو او لځان سره یې وویل: له حضرت حاکم سره بله لیدنه ښایي زما سر پر هوا کړی!
دی په یو ټوپ د اس شاته کېناست او په چټکۍ د دروازې پر لور روان ش، په بیړه یې حرکت کاوه، وېره یې درلوده چې د دروازې نه تر وتلو وړاندې، د ساتونکو مشر د ده له تېښتې خبر شي او پسې ورشي هغه د "جند" د کوڅو له منځه خپل اس په زوره ځغلولو، د وېرې او هیلو ترمنځ و. په زړه کې یې ځان سره ویل: که ونیول شم، شک به راباندې وکړي، زندان ته به مې واچوي، او غایر خان به خبر کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یې له ځانه سره وویل: امکان نه لري چې پرېږدم دوی مې ونیسي.
د خولې دانې یې د تندي او مخ پر سر ښکاریدې، خو دی لاهم د امید او اضطراب ترمنځ، د اس په منډه روان و. ناڅاپه یې د ښار د دروازې ځراغونه ولیدل او له ځانه سره یې وویل: نور هېڅ خطر ما نه ګواښي.
بالخاش د دروازې شاته ورسېد، دروازه ساتونکي د یو بل ساتونکي سره یو ځای مخې ته ودرېد او لاره یې بنده کړه.
دروازه ساتونکي په درونډ غږ وپوښتل: ته څوک یې؟
بالخاش په پیاوړي غږ ځواب ورکړ: زه د حضرت حاکم له لوري مأمور یم، باید ترار ته لاړ شم.

دروازه ساتونکي وویل: د تېرېدو نښه؟
بالخاش د حضرت حاکم ځانګړې ګوتمه چې د دروازې څخه د تیریدو لپاره ځانګړې و وښود او ویې ویل: ژر کوی دروازه خلاصه کړې زه بیړه لرم.
دروازه ساتونکي ګوتمي واخیست، د مشعل تر رڼا لاندې په ځېر وکتل او تر شونډو لاندې یې وویل: نښه سم ده.
بیا یې د ساتونکي په مرسته د دروازې اوسپه کش کړ او دروازه یې خلاصه کړه.

بالخاش ګوتمه بېرته واخیست، اس ته یې پښه ورکړه او اس یې په چټکۍ روان کړ، او د دروازې له منځه تېر شو، د دروازې څخه د تیریدلو سره سم یې ژوره ساه واخېسته او له ځانه سره یې وویل: دا لا د کار پیل دی، زه باید د مغول خان د جاسوسي شبکې ریښې ووهم!

هغه د شپې په تیاره کې د اس په منډه روان و، د هغه لارې پر لور چې هرسبا ته تلله. هغه د قربان ګلدی او عبدالغفور د وژلو له امله ځان ارام احساساوه. پرېکړه یې کړې وه چې د مغول خان ټول مزدوران له منځه یوسي، بالخاش خان سلطان نه و هېر کړی خو هغه څه چې ورته مهم وو او د هغه لپاره یې جګړه کوله، وطن و هغه د خپل سر د خطر پروا نه درلوده، خو بیا هم د غایر خان د انتقام فکر یې هم له ذهنه نه و

(c) ketabton.com: The Digital Library

وتلی بالخاش ه د هغه ورځې هیله درلوده، چې غایر خان به په یوه ویرونکې بڼه ووژني او خان سلطان هغه نجلۍ چې زړه یې ورباندی بایللی وو خپل کړی.

***

درې ورځې وروسته ماښام له رانژدې کېدو سره بالخاش هرسبان ته ورسېد د سختې لارې ستړیا او تکلیف د هغه لمر وهلي مخ باندی له ورایه ښکارېده. له هغه وخته چې یې "جند" ښار شاته پرېښی و، یوازې دوه ځایه یې د ناري او ماښام ډوډۍ لپاره تم شو، نور یې بې دمې سفر ته دوام ورکړی و.هوا پوره تیاره شوې وه چې دی د شرابخانې شاته په هغه پټ طویله کې دننه شو. هلته څوک نه و. خپل اس یې په یوه کونج کې وتاړه، زین یې ترې راکوز کړ، او غوښتل یې د پټې دروازې له لارې شرابخانې ته ننوځي خو دروازه له بله طرفه بنده وه!

دی له هغه ځایه راووت د شرابخانې د مخ دروازې ته ورغی د نشه‌یي مشتریانو خنداګانې یې په غوږو کې واورېدې څو شېبې ودرېد بیا دننه لاړ، شرابخانه له خلکو ډکه وه، هلته موجود کسانو یوه پیاله خالي کول بله ډکول د دروازې له درزونو یې ایلي ولید چې د مشتریانو منځ کې تاوېده او د دوی خالي پیالې یې له شرابو ډکولې. بالخاش پر زینو پورته وخوت د ایلي د کوټې دروازه یې خلاصه کړه، او د سختې ستړیا له امله یې ځان د شا پر خوا پر کټ وغورځاوه، احساس یې وکړ چې سوباتای او د هغه کسان له دې ځایه تللي دي.

دومره ستړی و چې ژر یې سترګې درنې شوې، او ژور خوب کې لاړو نیمه شپه تېره شوی وه چې ایلي د شرابخانې دروازه بنده کړه او خپله کوټې ته ورغله.همدا چې دننه شوه او بالخاش یې د کوټې په منځ کې پر کټ پروت ولید، د خوشالۍ له شدت څخه یې ساه بنده شوه، په همغه حیران حالت کې د بالخاش څنګ ته کېناسته، خپل مخ یې د بالخاش په دوړو وهلي مخ کېښود، بالخاش چې لا هم د خوب په نړۍ کې و، احساس کړه چې څوک ورسره نژدې دی. ورو یې سترګې پرانیستې، او چې ایلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې وليده، پورته غوښتل يې کښېني، خو ايلي خپل لاس د هغه پر سينه کېښود، او هغه يې د پورته کېدو څخه منع کړو، بيا يې په بيحد شوق ښکل کړ او ويې ويل:

ايلي- ستا له ليدو دومره خوشحاله يم، چې زړه مې غواړي د خوښۍ چيغې ووهم.
بالخاش په کمزوري موسکا وويل: لکه چې زړه دې غواړي ما د مرګ کندې ته ورټېل کړې په چغي وهل.؟
ايلي چې سترګي له اوښکو ډکې شوې وه پر هغه غږ چې لږ لړزيده وويل: هغه ورځ چې ته نه يې، زما نړۍ به تياره شي، او بيا به د ايلي په نوم نجلۍ هم سشتون ونه لري.
بالخاش وخندل او ويې ويل: يعني ستا په دی خبری باور کړم؟
ايلي چې د بالخاش سترګو ته يې کتل په ټينګار وويل: زه د ليونانو پشان ستا سره مينه لرم.

بالخاش د هغې مخ په دواړو لاسونو کې ونيوه او ورو يې وويل: او زه يو تېښتېدلی بندی يم، چې بل پناه‌ځای نه لرم. يوازې ستا توده غېږی څخه، هغه غيږ چې کولای شي ما بيا ژوند ته هيله‌من کړي...
ايلي- له خپل مأموريت راته ووايه، کومه بده پېښه خو درته پيښ نه شوه؟
بالخاش ژور سا واخيسته او ويې ويل: لږ پاتې و چې بندي يا مړ شم، سوباتای چيرته دی؟
ايلي- هغه د قبچاق په دښت کې ستا انتظار باسي، تر هغه ځایه دوه ورځې لاره ده خو زه نه پرېږدم چې ته دومره ژر ولاړ شې.
بالخاش د خوب له نشې را بيدار شو کښېناست، او ويې وويل: تا ته معلومه ده چې زه له يوه خطرناک مأموريت نه راستون شوی يم، بايد ژر تر ژره سوباتای ووينم.

ايلي چې غوښتل يې هغه لږ نور هم پاتې کړی موسک شوه او ويې ويل: ته لا اوس له لاره راغلی يې لږ استراحت خو وکړه!
بالخاش وخندل او ويې ويل: اوس ماته يو ګرم خواړه او داسې شراب پکار دي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی له پښو وغورځوي.
ایلي په شیطاني موسکا وویل: او ماته یو سړی پکار دی چې نوم یې بالخاش دی.
دواړه له زړه نه په لوړ غږ وخندل...

ایلي له ځایه پاڅېده، له کوټې ووته، ترڅو بالخاش ته خواړه او شراب چمتو کړي.
څو دقیقې وروسته د شرابخاني د دروازې د ټک وهلو غږ راغی، بالخاش ناڅاپه راویښ شو، ایلي په بیړه د دروازې لور ته ولاړه، د شرابخانې ارام فضا دا غږ ګډوډ کړ...
بالخاش په ټیټ غږ وویل:ورشه وګوره چې څوک دی؟ که د سوباتای کسان نه وو، ورته ووایه چې شرابخانه بنده ده.

ایلي هغه یواځې پرېښود، شاته د شرابخانې بغل ته ولاړه.ډېر وخت نه و تېر شوی، چې ایلي د مغولي سړي اولجای سره بېرته راستانه شوه.
اولجای چې بالخاش ولید وخندل او ویې ویل: زه شکمن وم چې ښايي بېرته راشې.
بالخاش چې لا هم د سفر ستړی و وویل: ما د شپې په تیاره کې هرسبان ته ځان راورساوه.
اولجای- سوباتای لکه چې خبر وو چې ته به راغلې اوسیږی! زه یې راواستولم تر څو ستا حال واخلم. باید بیړه وکړو هغه انتظار باسي.
بالخاش- لږ وخت به رانکړی ترڅو خپل ستړیا وباسم؟
اولجای د کوټې پر فرش کېناست خپله توره یې تر څنګ کېښوده او ویې ویل: سوباتای به ستا پر لیدو خوشحاله شي.

بالخاش- زه پخپله هم حیران یم، چې ولې لا ژوندی یم؟باید وژل شوی وای.
اولجای په حیرت پوښتنه وکړه: څنګه ته یې هلته وپېژندلي؟
بالخاش چې سترګې یې یو نامعلوم لوري ته نیولې وې وویل: دا یوه وېرووونکې کیسه وه...
اولجای وویل: نو کیسه راته وکړه، څه وشول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش موسک شو او په خاموشۍ کې يې وويل: کله چې مورِ سوباتای ته ورسېږو، هلته به يې واورې.
اولجای وخندل: زه بله تمه نه لرم، سوباتای همدا غواړي، ته به ډېر ژر د هغه تر ټولو نامتو مأمورانو کې شامل شې.

بالخاش وخندل او ويې ويل: او يا هم د چپه نويان په مامورانو کې؟!
اولجای- هغه دواړه د مغول خان له باوري کسانو څخه دي، هر دانه سره چې يوځای شي افتخار به وګټې.

په همدې حال کې ايلي کوټې ته ورننوتله، د خوراک پتنوس او د شرابو کوزه يې د فرش پر سر کېښوده.
بالخاش اولجای ته وکتل او ويې ويل: کولای شې له ما سره دا خواړه او شراب شريک شې؟
اولجای لږ وړاندې شو موسک شو او ويې ويل: يوازې شراب.
هغه يو جام پورته کړ ويې څښل بيا بل تر څو يې څو جامه پرله‌پسې وڅښل بيا يې خپل د لاس شا خپل پر شونډو تير کړ او په کراره يې وويل: بالخاش! مورِ بايد د سپېدو له راختو وړاندې د هرسبان له سيمې ووځو.

بالخاش د شراب څو غوړپونه وڅښل او په ډاډمن غږ يې وويل: زړه دې ډاډه اوسه اولجای! که مورِ د ورځې له لارې هم تېر شو، هېڅوک جرئت نه لري چې زمورِ مخه ونيسي ستا په څېر يو جنګيالی زما زړورتيا نوره هم پياوړې کوي.
اولجای چې دا خبرې ورته نوې وې، د غرور احساس وکړ خپلې وسلې ته يې لاس کړ او په احتياط يې وويل: بايد احتياط وکړو سوباتای نه غواړي چې د هغه کسان په بې‌ځايه ستونزو کې ځانونه واچوي، جنګېدل زمورِ دنده نه ده.

بالخاش خپل خواړه پای ته ورسول څو غوړپونه نور د شرابو وڅښل او موسک شو: مورِ د مغول خان د پوځ مخکښ سرتېري يو، چې د شپې په تياره کې حرکت کوو، او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوی لپاره لاره هواروو.
اولجای وخندل او ویې ویل: ما دا ډول خبرې تر اوسه نه وې اورېدلې.

هغه له ځایه پاڅېده، ایلي چې د بالخاش سترېا یې محسوسوله، اولجای ته وویل: بالخاش سترې دی لږ وخت ورکړه چې استراحت وکړي.
اولجای چې د شراب مستي یې لږ زور اخیستی و، په شیطاني نظر ایلي ته وکتل موسک شو او ویې ویل: ورختا کېږه مه بالخاش ډېر وخت لری چې ستا سره عشق وکړي او په غیږ کېدی ونیسی.

ایلي سمدلاسه تندی تروش کړ او ناڅاپه یې یو زورور څپېړه د اولجای په مردار مخ ووهله،اولجای لاس خپل توره ته کړ خو له غلاف یې را ونه ایستله. غوسه یې مخ تک سور کړ او په کرکجن غږ یې وویل: افسوس چې ښځه یې! که ته نر وای داسې به مې ادب درکړی وایې چې عمر کېدی هیر کړی نه وایی.
بالخاش چې د جګړې هوا یې احساس کړه سمدلاسه خپل لاس د اولجای پر اوږه کېښود او په سړه سینه یې وویل: ملګریه ومنه چې ناسمې خبرې دې وکړې شاید ناپاکي فا*ش ښځې دا ډول خبرې خوښ کړي، خو ایلي یوه پاکه نجلۍ ده او د سوباتای باوري کس ده.

اولجای نیم مخ بالخاش ته وګرځاوه، سترګې یې را نږدې کړې، او په غوسه یې وویل: تر اوسه مور نه دې زېږولې چې زما پر مخ څپېړه ووهي، زه به د ایلي د دې څپېړی بدل ضرور اخلم دا زما لپاره ستره سپکاوی ده، چې یوه فاحشې راته څپېړه راکړه.
بالخاش چې نور یې دا سپکاوی نشو زغملی په سخت غږ ورته وویل: خپل دا خبرې دی بېرته واخله که نه نو له ما سره به مخ شې.
اولجای لکه چې کومه درنه سپکه یې اورېدلې وي ساه بنده شو، مخ یې لاپسی تک سور شو سترګې یې بالخاش ته واړولې او غاښونه یې سره وچیچل، په کلک غږ یې وویل: زه غوارم هغه خبره چې دی وکړه یو ځل بیا واورم، څه دی وویل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش په امرانه لهجه وویل: هغه سپکې خبرې چې تا ایلي ته وکړې، بېرته یې واخله.
اولجای چې لا هم په قهر نیم نظر د بالخاش خواته وو ناڅاپه یې د لاس په څنګل بالخاش کلک پر سینه وواهه او ویې ویل: خپل حد وپیژنه ته اوس دومره شی شوی چې پر ما امر کوی؟
بالخاش پر همغه جدي غږ پرته له دې چې شاتګ وکړي ورته وویل: داسې یو کار مه کوه چې د یو سپی پشان دی ووژنم.

اولجای ناڅاپه حرکت وکړ، د یو وحشي حیوان په څېر د بالخاش مخ ته ودرېد او په غوسه یې وویل: ته غواړې ما لکه سپی ووژنې؟! بدبخته که ما ستا د ورلو ماموریت نه درلود نو ستا د دی خبرو ځواب مې خپل د تورې په ژبه درکاوه.
بالخاش چې لکه د غر ولاړ و د خپلې زړورتیا څرګندونه وکړه لاس یې د اولجای پر اوږه وواهه او په کلک غږ یې وویل: مخکې ولاړ شه، د ایلي مخکي زنګون ووهه او د خپلو سپکو خبرو بښنه ورڅخه وغواړه.

اولجای چې نور یې صبر تمام شوی و، د بالخاش ګرېوان ونیوه بالخاش د برق په تېزۍ د خپل قوي لاسونو لاندې د هغه مټ کلک کړ یو ناڅاپي حرکت یې ورکړ، او د اولجای لاس یې تاو کړ اولجای چې د دې حرکت تمه نه درلود خپل د بدن کنټرول یې له لاسه ورکړ بدن یې چرخ وخوړ او شاته بالخاش ته ودرېد، ایلي چې د وېرې له امله یې شونډې شنې شوې وې او دا شخړه هم د دې له امله رامنځته شوې وه په وېره، وېره هغه دواړو ته کتل ناڅاپه یې په ژړغوني غږ یې وویل: بس کړئ! ... تاسو یو د بل ملګري یاست زه نه غواړم ستاسو دواړو څخه د کوم وینه توی شي.

بالخاش چې لا هم په قهر و د غضب له جذبې ډک غږ سره وویل: دا احمق باید پوه شي چې له چا سره مخ دی!
اولجای چوپ و خو سترګې یې لا هم له قهره سوځېدې، ایلي په تلوار وویل:
بالخاش، ما هغه وبښلو، پرې یې ږده!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش چې لا هم قهرجن و، يو ګام وړاندې شو، او د قسم په اخيستو يې وويل: په ستر خدای مې دی  قسم وی، که اولجای ستا مخې ته زنګون ونه وهي او ښښنه ونه غواړي نو ته به نن شپه د هغه د وينې تويېدل دلته پر دې فرش ووينې.

اولجای چې د خپل غرور ساتل ورته مهم و، ناڅاپه يې خپل ټول قوت را ټول کړ چې له دې حالت ځان خلاص کړي، خو کوشش يې بې ګټې وو، هغه داسې احساس کول لکه چې د بالخاش په مقابل کې کمزوری شوی دی! بالخاش خپل پر پښه د اولجای زنګون په کلک ووهه، اولجای د خپل بدن کنټرول له لاسه ورکړ، او له خپل هغومره غرور سره پر زنګونو ولوېد، بالخاش چې په قهر و په کلک غږ وويل: زنکون وواهه که نه ستا وينه به دلته تويېږي.
اولجای د درد له امله ورو وويل: بالخاش! ته د اور سره لوبی کوې زه به ستا دا سپکاوی هېڅکله هېر نکړم.

بالخاش په يوه غوصه ناک خندا اولجای ونيوه او د کوټې ديوال ته يې ور ټېل واهه. د اولجای تندی په شدت سره له ديوال سره ولګېد. ايلي چې وېرېدلې وه ژر يې وويل: بالخاش ته خپل ځان وژنې! دا احمقانه کارونه بس کړه.
اولجای چې له درد له امله يې تندی تروش کړی وو له قهر او غوسي په لړزيدلی غږ وويل: هغه خپل قبر په خپل لاسونه کيندلی، د دی لوبې پای د هغه مرګ دی او بس.
بالخاش چې لا هم شاتګ ته نه و تيار د اولجای له ملا څخه د هغه د توري تېره خنجر را وويسته، او د هغه تيزه څوکه يې د اولجای پر ستوني کېښوده.

بالخاش- اوس هر څه چې زه درته وايم بايد وکړې.
اولجای چې نور يې توان ختم شوی و او پوهيده چې بل انتخاب نه لري، ورو د قهر له لرزې سره، د ايلي مخې ته پر زنګونو کېناست.ايلي چې دې وضعيت ته حيرانه وه يو ګام شاته شوه بالخاش د اولجای لاس پرېښود او امر يې وکړ: شابه بخښنه وغواړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولجاى همغه کار وکړو کوم چې بالخاش غوښتی وو، هغه د ایلي څخه ښښنه وغوښته.
بالخاش- اوس هم راپاسېږه چې دتګ وخت دي.
اولجاى کرار لځایه پاسیده د هغه د سترګو وړاندی یو توره پرده د کرکي او غوسي نیولې وو، دا د ده د مات شوی غرور کینه وه، او په زړه کې د انتقام اور بل و.
بالخاش بې له دې چې د اولجاى له کینې او راتلونکي غچ څخه ووېرېږي، د بریا احساس کاوه هغه نور یوازې یو تښیدونکی زندانی نه و هغه د خپل فکر او ذهنیت یو نوې بڼه موندلې وه.

د هغه ذهن یوازی په یوه موخه ګرځېده: انتقام له مغولانو او غایر خان څخه.
هغه لا دمخه خپل پلان عملي کړی و په جند کې یې د مغولو دوه مهم جاسوسان، قربان ګلدي او عبدالغفور، وژلي وو. دا یوازې د هغه د ستر هدف لومړی ګام و. اوس یې هوډ درلود چې د مغولو د جاسوسي شبکې ریښې وباسي، او بیا د غایر خان سره د خان سلطان په زوره وړل او د ده د مرګ پلان جوړه ولو حساب خلاص کړي،
بالخاش له مرګه وېره نه درلود هغه خپل میړانه هغه وخت چې د غایر خان په زندان کې وو او هغه شکنجه کاوه ترڅو ورڅخه د "چپه نویان" او "سوباتاى" سره د لیدو دلیل بیان کړې او معلومات ورکړی، خپل دلاوری ټولو ته ښکاره کړی وو خو اوس، یوه بله اندېښنه هم موجوده وه ایلي!

ایلي چې د کوټې په یو کونج کې ولاړه وه د بېری له امله یې بدن رېږدېده. هغه مغولان ښه پېژندل هغه پوهېده چې اولجاى او د هغه قوم څنګه انتقام اخلي.
هغه د اولجاى په تیاره څېره کې لوستلاى شو چې دی به خامخا خپل انتقام د بالخاش څخه اخلي. اولجاى چې اوس د یو خاموش طوفان پشان چوپ وو، خو کینه او کرکه یې زړه نیولی وو او د غچ اخیستلو په فکرونو کې ډوب وو.

بالخاش د اولجاى خواته وکتل او ویې ویل: د دې څخه وروسته باید پوه شې چې د یو ښځې سره څنګ چلند وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولجای د هغه خواته وکتل خپل خاموشي ماته کړل او ویې ویل: کله چې د قیچاق دښې ته ورسیدو ستا د دې ټولو سپکاویو ځواب درکوم، زه د چنګیز خان سرتیری یم! او د کم ذات او سپک انسان ځواب په توره ورکوم، که نن ماښام مې لاس توری ته ور نه وړو ستا څخه د وېرې له سببه نه ده، بلکی د هغه ماموریت له سببه ده چې" سوباتای" راکړی دی.

بالخاش وخندل او ویې ویل: دا وړایه که ته یو سلنه هم کامیاب شوی وایی او زه دی رانیولی وایی بیا هم جرئت دی نه درلود چې ما ووژني، ځکه سوباتای چې کوم معلومات غواړی هغه زما سره دی، او هو زما منې دا پیښه یو دم له ذهنه وباسه او د غچ اخیستلو په فکر کې مه اوسیږه خدای خبر کامیاب شی هسی به دی ژوند له لاسه ورکړی وی.
اولجای د کرکي او کیني څخه په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: ستا مرګ به یوازینی سبب وی چې دا پیښه له ذهنه وباسم.
بالخاش هم د هغه پشان وخندل او ویې ویل: شابه روانیږه او نور بیځایه خبری هم مه کوه.

ایلي خاموشي ماته کړه او په داسي غږ چې له وېری لړیده وویل: بالخاش مه ورسره ځه، هغه به تا ووژني.
بالخاش خپل سر وخوځاوه او ویې ویل: تر هغه چې د سوباتای خیمې ته رسېږو، د اولجای لخوا مې فکر ارامه دی او پوهیږم چې کوم حماقت نه کوی، د هغه وروسته هم سوباتای باید پریکړه وکړی.

بیا یې د کوټې له مینځه د اولجای توره راوخیسته او هغه ته یې ورکړه او ویې ویل: واخله توره مې هم درکړه ترڅو بیا ونه وایې بالخاش زما څخه وېرېده او توره یې نه راکوله، دا واخله او پوهه شه زه ستا څخه وېره نلرم.
اولجای- د قبچاق تر دښتي هیڅ پېښه به نه کېږي خو هلته په رسېدو به زه تا د جګړی میدان ته راوبلم او بالاخره زموږ د دواړو څخه به یو له منځه ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش- شاید سوباتای هم همدا نظر ولري، یو سخت او وینه تویونکی جنګ، هڅه وکړه چې داسې توره غوره کړې چې د جګړې تر پایه دې ساتنه وکړای شي.

د دې خبرو سره سم بالخاش په کلک ګامونه د ایلي خواته ورنږدې شو، د هغې سترګو ته یې وکتل او ویې ویل: نه پوهېږم چې له دې سفره به بېرته ژوندی راشم او کنه؟ خو که زما د مرګ خبر یې درته راوړو نو ما هېر کړه، او خپل ژوند وکړه.
ایلي بې اختیاره په ژړا شوه هغې په سختۍ سره ژړل، خپل سر یې د بالخاش پر اوږه کېښود او ویې ویل: خو زه... زه نه غواړم چې ته ووژل شې تا نه باید له اولجای سره دومره سخت چلند کړی وای.

اولجای د یو جنګیالي پشان په غرور وویل: غم مه کوه د بالخاش د وژل کېدو خبر به زه خپل تاته راوړم.
بالخاش د ایلي زنې ته لاس وروړ د هغې سر یې اوچت کړ او د هغې له اوښلنو سترګو سره یې نظر ټکر کړ بیا یې په مسخره خندا سره وویل: هو ګرانې شاید دا د اولجای حق وي چې زما د مرګ خبر درکړي، ته د همدا اوس څخه خپل تر ټولو ښه شراب چمتو کړه، چې کله هغه بریالی راستون شي، نو یو پیاله د بریا وڅښي!
هغه د ایلي مخ ښکل کړ او ترې جلا شو...
اولجای وویل: شپه ډېره تېره ده، باید بیړه وکړو.

بالخاش خپل خنجر پر ملا وتړو او د کوټې د دروازې خوا ته لاړ او بغیر د کوم څه د ویلو څخه د کوټې ووت، ایلي څراغ راواخیست او په منډه د بالخاش پسې ولاړه.
اولجای چې د دوی پسې روان و په کرکجن خندا وویل: دا څراغ به ډېر ژر د بالخاش د قبر پر سر کېږدی او ورته به وژاړې.
بالخاش چې له زینو ښکته کېده وویل: ایلي له همدا اوس نه باید وعده راکړې چې زما جسد به هرسابان ته وړې او د ښار هدیره کې به مې ښخوې، څو ته وکولی شې د قبر پر سر مې دا څراغ بل کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایلي ناڅاپه چیغه کړه: بس کړئ زه دا خبرې نه شم اورېدلای.
ټولو چوپ شول دوی د طویلي تر شا دروازې ته ورسېدل، او ډېر ژر یې خپل اسونه زین کړل بالخاش پر اسب سپور شو، ایلي ته یې وکتل او ویې ویل: ګرانۍ خدای پامان، زما لپاره دعا کاوه.
ایلي د طویلي دروازه پرانیسته او هغوي دواړه له طویلي څخه ووتل، ښار خپل په خاموشي کې ډوب و د اسونو د پښو ټک ټک د شرابخونې شاوخوا چوپتیا مات کړ.
ایلي چې څراغ یې په لاس کې و د طویلي دروازې ته ولاړه وه، او د بالخاش د سیوري پسې یې سترګې اړولې، کله چې د هغه سیوری د تیارې تر شا ورک شو، غوږ یې ونیو یوازې د اسونو قدمونه اورېدل کیدل او څو شیبې وروسته هغه هم ورک شو او کامل چوپتیا خپره شوه.

کله چې د اسونو ږغونه هم ورک شول ایلي د اوښکو ډک سترګې بیرته طویلي ته روانه شوه دروازه یې بنده کړه، او ورو ورو روانه شوه. ټول فکر یې د بالخاش شاوخوا راټول و" آخر اولجای به هغه ووژني" په دې فکر سترګي له اوښکو ډکي شوی، دومره چې نږدې وه له زینو ولوېږي. ځان یې ونیو خو داسې احساس یې کاوه لکه چې د بالخاش بغیر ژوند ورته د جهنم څخه لا زیات سخت شوی. ایلي فکر کاوه چې د بالخاش له تګ سره یې ژوند پای ته رسېدلی او نور هیڅ هیله نه لری. هغې تازه د بالخاش تر څنګ د خوښۍ خوند څښلې وو، خو اوس دا خوښي په غم او ترخو یادونو بدله شوې وه.

کله چې ایلي خپل کوټې ته ننوته، ورو یې د ځان سره وویل: که د بالخاش د مرګ خبر د اولجای له خولې واورم، زه به زهر د هغه په شراب کې واچوم.
هغې څراغ د کټ ترڅنګ کېښود او په ژړا خپل پر بستری پرېوته...

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمر تازه لوېدلی و چې د مغولو د پوځ څارونکي ولیدل چې دوه سپاره له لرې راروان دی، کله چې سوباتای ته دا خبر ورسېد، هغه اټکل وکړ چې دا به اولجای او بالخاش وي! هغه سمدستي دوه سپاره ولېږل چې دوی ته ښه راغلاست ووایي. هوا ورو ورو تیار کیده چې بالاخره اولجای او بالخاش کمپ ته راورسېدل، په داسې حال کې چې دوه سپاره د دوی تر شا روان وو. دوی نېغ په نېغ د سوباتای د خیي لور ته ولاړل. سوباتای له ډېر وخت راهیسې د بالخاش راتګ ته انتظار کاوه. هغه غوښتل دا نوی جاسوس وازمويي، د هغه د کار پایله معلومه کړي، او پرې باور وکړي.

بالخاش او اولجای د خیمي مخې ته له اسونو ښکته شول،د لارې دوړې یې پر شونډو او مخ ناست وه او سترېيا يې د تود لمر وهلي څېرې څخه له ورایه څرګنده وه.بالخاش خپل کالی و څنډل او د خیمي پرده یې پورته کړه او دننه شو. هغه د سوباتای مخې ته سر ټیټ کړ او په قوي غږ یې وویل: سلام سوباتای! د ستر چنګیز خان لوی سرداره.
سوباتای چې دا واورېدل د ویاړ او غرور موسکا یې پر شونډو خپره شوه او ویې ویل:

سلام پر بالخاش د اترار پر غښتلي ځوان! ته کولی شې چې کښېنې.
بالخاش د هغه تر څنګ پر یو کټ چې وراندی څرمنه خوره وه کښېناست. اولجای همغسې ولاړ وو.
سوباتای بالخاش ته وکتل او ویې ویل: زما اټکل ستا په اړه ناسم نه و.
بالخاش ځواب ورکړ: کله چې د اترار د امیر څخه د انتقام اخیستلو خبره منځ کې اوسیږی زه د مغول خان وفادار یم.
سوباتای لږ موسک شو او ویې ویل: عجیبه ده چې تا تر اوسه د غایر خان څخه د غچ اخیستلو فکر نه دی هېر کړی!

بالخاش لږ وخوځېده او ویې ویل: هغه ما ته داسې ضربه راکړې چې یوازې د هغه وژل کولی شي زما درد کم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوباتای پوښتنه وکړه: موږ ته دې څه کړي؟ قربان ګلدی دې ولید؟
بالخاش ځواب ورکړ: هو، جنابه هغه معلومات مې راټول کړل چې تاسې غوښتل.
سوباتای موسک شو: زه پوهېدم چې ته به بریالی شې.
بیا یې اولجای ته وکتل او ویې ویل: موږ یوازې پرېږده.
خو اولجای له ځایه ونه خوځېد، سوباتای په تعجب ورته وکتل او ویې ویل: څه خبره ده؟ غواړې څه ووایې؟

بالخاش اولجای ته د خبرو وار ورنکړو او ویې ویل: زما او اولجای تر منځ په هرسبان کې یو څه تېر شوي، چې یوازې تاسو پرېکړه کولی شې.
اولجای- زه بالخاش ته د یو پر یو جګړې بلنه ورکوم.
سوباتای تندی تروش کړ په تعجب یې دواړو ته وکتل او ویې ویل: ستاسو په خبرو زما سر خلاص نشو!
بالخاش- قربان د اولجای وړاندیز د یو پر یو جګړې لپاره ومنئ، ترڅو هغه له خیمې ووځي او زه خپل معلومات ستاسو سره شریک کړم.
سوباتای اولجای ته وکتل او ویې ویل: د سبا لپاره ځانونه تیار کړئ!

اولجای له خیمې په خندا ووت...

بالخاش هغه معلومات چې د جند ښار، د دېوالونو، سرتیرو او خلکو په اړه یې ترلاسه کړي وو، سوباتای ته بیان کړل. همداراز، د "قربان ګلدي" او "عبدالغفور" د وژل کېدو کیسه یې هم ورته وکړه، خو هغه یې په بل رنګ وړاندې کړه.سوباتای، چې کله د خپلو دوو جاسوسانو د وژل کېدو خبر واورېد، حیران شو او فکر ته لاړ، هغه هېڅکله نشو کولی پر بالخاش شکمن شی، ځکه دلیل د شک یې نه درلود.
بالخاش وویل: که ما لږ غفلت کړی وای، بې شکه زه به هم اوس مړ وای.

سوباتای لا هم چوپ و، بالخاش د جاسوسانو د وژل کېدو کیسه داسې جوړه کړې وه، چې ښکارېده هغوی د جند د حاکم سرتېرو وژلي دي، دا کیسه دومره ښه جوړه شوې وه چې شک پکې نه شو کېدای سوباتای خپل لاس د بالخاش پر اوږه کېښود او ویې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل: ستا موریت بریالی و، زه له تا منندوی یم د هغوي وژل کیدل دومره هم د افسوس ورې نه دی ځکه موږ په جند کې نور کار نه لرو، دا معلومات ما ته مخکې هم را رسېدلي وو، او اوس ستا وفاداري مغول خان ته ثابته شوه. اوس غواړم د اولجای او ستا کیسه واورم؟ تاسو ولې داسي یو بل ته پرېسېدلې واست؟

بالخاش د هرسبان د شرابخانې کیسه ورته بیان کړه، او دا یې هم وویل چې د اولجای سره د یو پر یو جگړې ته راغلی دی، سوباتای ورو خپل سر وخوځاوه او ویې ویل: تا باید پرې ایښي وای چې اولجای ایلي ته ادب ورکړې وای، او خپل زړه یې یخ کړې وای.
بالخاش- خو ما اولجای ته ادب ورکړ.
سوباتای- زموږ ترمنځ داسې دود نشته.
بالخاش- زه اوس باید څه وکړم؟
سوباتای- ته باید له اولجای سره جگړه وکړې هغه یو زړور جنگیالی دی.

بالخاش- د جگړې په پای کې زموږ څخه باید یو مړ شي.
سوباتای- خو زه نه غواړم دا جگړه ومنم.
بالخاش- خو بله چاره نشته، اولجای زما سره کینه اخیستې ده او کېدای شي که تاسو دا ونه منی د شالخوا په نامردی کې می ووهی.
سوباتای- ته د هغه مقابله نشې کولی بالخاش!
بالخاش- معلومه نه ده قربان.
سوباتای- نو ځان چمتو کړه.

بالخاش له ځایه پورته شو سوباتای وویل: هغه خیمې ته لاړ شه چې ستا لپاره ټاکل شوې استراحت وکړه سبا د مرگ یا بریا ورځ ده.
بالخاش- دا مرگ یا بریا زموږ دواړو لپاره ده، حتی تاسو هم پکې برخه لرئ.
سوباتای څه ونه ویل بالخاش له خیمې ووت، یو سرې چې د خیمې ترڅنگ ولاړ و هغه بالخاش یې د هغه خیمي خواته ویوړ کوم چې د هغه لپاره ټاکل شوی وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش د پراخې څرمنې پر سر کښېناست، خپل بوټان يې وايستل کالي له ځان څخه لرې کړه او يوې خواته يې وغورځوله لږ وروسته د هغه لپاره يو څه خواړه راوړل شول.هغه په بشپړه اشتها سره وخوړل بيا يې ځان اوږد وغځاوه خپل خنجر يې د بالښت لاندې کېښود سره له دې چې ډېر ستړی و خو خوب يې سترګو ته نه راتله د سبا خونړۍ جګړې په فکر کې و هغه سبا چې يا به مرګ و يا به بريا...

***

د مغول خان د پوځ په دی کوچني کمپ کې بې‌سارې شور ماشور و،د لمر له ختو سره سم د اولجای او بالخاش د يو پر يو جګړې خبر د هر چا تر غوږه رسېده او هر يو له خپلو خيمو راووتل.د بالخاش نوم ټولو ته نااشنا و، هر چا غوښتل پوه شي چې دا سړی څوک دی؟ له کومه راغلی؟ او څه ډول انسان دی چې دې جګړې ته چمتو شوی؟د اولجای ملګري د هغه خېمې ته ورغلل چې له هغه پوښتنې وکړي چې څه کيسه ده؟ خو اولجای چې خپله د مغولو له پټو جاسوسانو څخه و غلی پاتې شو او .هېڅ يې ونه ويل

د سهار ګرم او نرمه لمرينه روښنايي هر ځای خپره شوې وه، سوباتای له خپلې خيمې راووت او هغه ځای ته لاړ چې د يو پر يو جګړې لپاره ټاکل شوی و.بالخاش لا هم په خپلې خيمې کې و، د باندې تګ‌راتګ ته يې پوره پام و. د جګړې فکر يې له ذهنه نه وت، هغه يوازې د خپلې بريا په اړه سوچ کاوه. د اولجای د ګوزارونو د مخنيوي لپاره يې پلانونه جوړول او يا دا چې خپله څنګه بريد وکړي.

ناڅاپه هغه سړی چې تېره شپه يې دی خېمې ته راوستی و ورننوت او ويې ويل:
سوباتای او قوماندانان درته انتظار باسي ځان چمتو کړه.
بالخاش موسک شو او ويې ويل: زه ډېر وخت مخکې چمتو وم.
بيا د هغه سړي پسې له خيمې راووت، کله چې د کمپ سرتېرو بالخاش وليد، شورماشور جوړ شو هر چا د هغه په اړه خبرې کولې.بالخاش نېغ وړاندې روان و،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګامونه یې درانه او حساب‌شوي وو، بغیر له کوم وېرې روان وو او له ځان سره یې تکراروله: مرینه یا بریا ...

همدا چې سترګې یې پر اولجای ولګېدې ورو یې سر وخوځاوه اولجای خپل کمیس ویستلې وه، د هغه غښتلي بدن د لمر په رڼا کې ځلیده.سوباتای خپل لاسونه پورته کړل او ټولو ته یې د چوپتیا بلنه ورکړه، بیا یې بالخاش او اولجای ځان ته راوغوښتل هغوی هغه ځای ته لاړل چیرته چې سوباتای او د کمپ څو مشران ولاړ وو کله چې نږدې شول ودرېدل.

سوباتای بالخاش ته وکتل او ویې ویل: ستا د بریا هیله پر اولجای ډېره کمزورې ده، زما پر ګومان غوره به دا وی چې ته خپل د تیز او نادوستانه خبرو او کارونو لپاره د اولجای څخه بښنه وغواړې شاید هغه له دی جګړې تیر شي.
بالخاش چې سر یې جګ نیولی و په قاطعیت او کلک هوډ سره وویل: ما هغه د دې لپاره ادب کړ چې د ایلي سره یې سخت چلند وکړ. او اوس چمتو یم چې د خپل عزت او حیثیت دفاع وکړم نه، زه هېڅکله له هغه بښنه نه غوارم.

اولجای په تروش تندی د بالخاس خبرو ته غوږ نیولی و، کله چې د بالخاش خبرې پای ته ورسېدې سوباتای اولجای ته وکتل او ویې ویل: ژر به یوه سخته او خونړۍ جګړه مخ ته ولرې، اولجای..

اولجای چې لا هم یې تندی تریو و، نیم مخ د بالخاش لور ته وګرځېد، بد نظر یې ورته واچوه بیا یې بېرته سوباتای ته وکتل او ویې ویل: زه د مغول خان یو جنګیالی یم او هېڅکله به اجازه ورنکړم چې یو پردی سړی لکه بالخاش پشان چې یو تښتېدلی بندي دی زما سره دغسې سپین سترګې چلند وکړي زه به هغه ووژنم او یوازې همدا به ماته ارامی راکړي ځکه بیا به دا پردی سړی شتون ونه لری چې زه ورته په زړه کې کینه وساتم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوباتای په غوسه شو او په تنده لهجه یې وویل: چوپ شه اولجای! دا سړی بیګانه نه دی دی زموږ له ډلې دی، قسم یادوم که په دې جګړه کې ته ژوندی پاتې شې، د خپلو ناسم خبرو سزا به خامخا وویني، د وسلې انتخاب ستا اختیار دی انتخاب وکړه.

اولجای خپل لاس خپل پر اوږو تیر کړ او ویې ویل: زه غوره ګڼم چې بې وسلې د بالخاش سره مخ شم.یو شېبه غلی شو بیا یې په مردار خندا وویل: ځکه چې زه غواړم هغه په خپلو لاسونو خفه کړم.
سوباتای د بالخاش خواته مخ کړ او ویې پوښتل: ته څه وایې زموږ ملګری؟
بالخاش په قوي لهجه ځواب ورکړ: زه د اولجای د خبرې سره موافق یم.
سوباتای- سمده نو چمتو شئ.

دواړه خپل ځای ته وګرځېدل او یو بل ته مخامخ ودرېدل بالخاش خپل کالې وویستې او یوې غاړې ته یې وغورځولې خپل لاسونه یې سره موښل، سر یې لږ ټیټ کړ خپل لاسونه یې دواړو خواوو ته وغځول او په داسې حال کې چې یې اولجای ته کتل ورو ورو د هغه پر لور لاړ اولجای چې شیطاني بڼه یې اخیستې وه، خپل لاسونه د بالخاش پر لور ونیول له سختې کرکې او نفرت نه یې غاښونه سره کلک کړل.
داسې ښکارېده چې د هغه سترګې له غوسې سور اور اخلي، هغه یوازې په یوه خبره فکر کاوه:"بالخاش به وژنم"هغه هم په هغه متو چې ډېر ورباندي باوری وو.

ټوله کمپ په مرګوني خاموشۍ کې ډوب وه هېچا څه نه ویل ټول سترګې په اولجای او بالخاش خښې وې چې دواړه د یو بل د وژلو فکرونه لرل، ټول د مغولخان د خاورې خلک او مغول ول، یوازې بالخاش د دوي په مینځ کې یو بیګانه و خو سوباتای هغه 'خپل ملګری' بللی و. خاموشۍ داسې درنه و لکه چې وخت درېدلې وی تماشاکوونکي د لمر وهلي خیرو سره د ویرې او اندیښنې احساس کاوه ټولو د اولجای د بریا هیله درلوده او ډاډمن وه چې اولجای به یې ګټي، حتی سوباتای هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش د بریا تمه نه لرله د دوی لپاره اولجای یو نه ماتیدونکی جنگیالی و، د هغه اتلولۍ یې اورېدلې وې او لیدلې وې، خو د بالخاش په اړه په څه نه پوهېدل.

سوباتای چې بالخاش یې تر ټولو ښه پېژانده، فکر کاوه چې هغه به ډېر ژر د اولجای پر وړاندې ماتې وخوري او ژوندی به پاتې نه شي،دواړه یو بل ته ور نږدې شول...
اولجای په کراره وویل: زه به ستا مړی دومره ټینګه ونیسم،ترڅو خپل پر سترګو ستا د مرګ صحنه ووینم.
بالخاش یو کمزوری مسکا وکړه خو هیڅ یې ونه ویل،ناڅاپه د خلکو له منځه یو سړي چغه کړه: اولجای فرصت مه ورکوه مړ یې کړه.

بیا چوپتیا خپره شوه... د دواړو ترمنځ فاصله هره شیبه کم کېدل اوس یوازې دوه ګامه سره لرې ول، او هر یو د برید په فکر کې و.ناڅاپه بالخاش د ځایه وخوځېد او یو ناڅاپي برید یې وکړ. خو همدا چې لاسونه یې د اولجای بدن ته ورسېدل، پوه شو چې سیال یې یو چل کړی لاسونه یې بې واکه ښکته شول،اولجای زهرجن خندا وکړه او برید یې وکړ خو بالخاش یې خوله په یو قوي سوک ووهله اولجای شاته ولوېد او پر ملا په مځکې پرېووت.

د خلکو له منځه چیغې پورته شوې،بالخاش د جګړې له ډګره ووت او د سوباتای خواته لاړ ټولو حیران ورته کتل.
سوباتای په خندېدو ورته وویل: له وړاندې معلومه وه چې ته زموږ د جنګیالي مقابله نشې کولای، خو اوس ناوخته ده بالخاش! تا د جګړې بلنه منلې او میدان ته ښکته شوی یې، هغه به تا ووژني.

بالخاش- دلته یو چل روان دی!
سوباتای خپل تندی تروش کړ او په حیرانتیا یې وویل: د څه چل؟ دا یو پر یو جګړه ده.
په هماغه شېبه کې اولجای د هغوي خوا ته منډه کړل او غوښتل یې چې بالخاش له شا لخوا ناڅاپه راګیر کړې خو سوباتای وړباندی چیغه کړه: هملته خپل ځای کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ودرېږه اولجای.
او بیا خپل د بالخاش مخ ته ودرېد او ورته ویې ویل: خبرې وکړه د څه چل روان دی؟

بالخاش - اولجای خپل بدن غوڅ کړی ترڅو زه پرې لاس وانه چوم، همدا لامل و چې ده د بې وسلې د جګړې کولو وړاندیز وکړو!
سوباتای د دې خبرې په اورېدو قهرجن شو او شاوخوا خلک هم حیران شول.
سوباتای په غوسه وویل: که دروغ دی ویلې اوسیږی بالخاش! زه به خپل پر لاسونو ستا ژبه پرې کړم.
بالخاش- که هغه دا کار نه وای کړی نو ما به هېڅکله د جګړې میدان نه وای پرې ایښی.

سوباتای له خپل ځایه ووت خو ګامونه یې واخیستل او ودرېد او بیا په لوړ غږ یې اولجای ته غږ وکړ: دلته رانږدې شه اولجای.
اولجای احساس وکړ چې چل یې افشا شوی، نو زړه یې ناکراره شو، په وېرېدلی غږ یې وویل: زه په تمه یم ترڅو بالخاش بیرته میدان ته راشی.
سوباتای- خو بالخاش ادعا کوي چې تا خپل بدن غوڅ کړی دی؟ که دا خبره رښتیا وي نو زه به بالخاش ته وسله ورکړم، او ته به اړ یې چې بې وسلې ورسره وجنګېږې.

اولجای بې‌باوره ګام پورته کړ، سوباتای لاس د هغه پر شا او اوږو تېر کړل او ناڅاپه یې یو زورداره سوک د هغه پر سینه وواهه او وویل: اوس له څه شي نه دفاع کوې؟ له شرافت؟ هغه شرافت چې ته یې هیڅ نه لرې بیغیرت!
او په قهر سره بېرته خپلې ځای ته ستون شو او بالخاش ته یې وویل: د وسلې انتخاب ستا په لاس کې دی.

بالخاش توره وغوښته،د سوباتای له کسانو څخه یوه خپل توره بالخاش ته ورکړل سوباتای په لوړ غږ خلکو ته وویل: اولجای غوښتل د چل او فریب په وسیله جګړه وکړې، هغه نور یو وفادار جنګیالی نه دی، مګر که په دې جګړه کې بریالی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اولجای د چل خبره خوله پر خوله ټول خلکو ته ورسېد، سوباتای بالخاش ته وکتل او ویې وویل:د اولجای په اړه فکر مه کوه، موږ به هغه ته وسله ورنه کړو.
بالخاش- نو دا بیا یو پر یو جګړه نشې بلل کېدای، زه غواړم تاسو هغه ته هم توره ورکړی.

سوباتای څو شېبې په حیرت بالخاش ته وکتل بیا یې امر وکړو تر څو یوه توره اولجای ته هم ورکړی شی او یو ځل بیا دواړو یو بل مخامخ شول، اولجای داسې حملې کولې لکه چې غواړي بالخاش ټوټې ټوټې کړی په زړه کې یې یو عجیبه کینه راټوله شوې وه. بالخاش پرته له دې چې د هغه له چټکو او پرله‌پسې بریدونو څخه شا ته شي په بې‌ساري زړورتیا یې حملې څوابولې هغه یو ځانګړی تخنیک کاراوه غوښتل یې چې اولجای د بې‌فایده هڅو نه ستړی کړي، او بیا په یو چټک برید یې پای ته ورسوي.

داسی شیبه راغله چې دواړو خپل تورې پورته نیولې وې او یو بل ته سینه په سینه ولاړ وه هر یو هڅه کوله چې بل شا ته کړي، بالخاش ناڅاپه ځان شا ته کړ،اولجای خپل تعادل له لاسه ورکړ،او په هماغه شېبه بالخاش په زور سره د هغه پر شا یو قوي لغته ووهله،اولجای پر سینه باندی پر ځمکه پرېوت! د خلکو شور ماشور ناڅاپه خاموشي ونیوه هیڅا دا تمه نه‌لرله، سوباتای احساس وکړ چې د بالخاش په اړه یې غلط فکر کړی و،او ښایي مغرور اولجای به ماتې وخوري.

اولجای چې غوسه یې عقل ته لاره نه‌ورکوله په بیړه راپاڅېد، له زمکی پورته شوه او پرته له دې چې حالت ته پام وکړي، برید یې وکړ بالخاش چې له وړاندې ورته متوجه و، د توری څوکه یې د اولجای کیڼ لاس ته ژور زخم ورکړ. وینه د اولجای له لاسه وبهېده او جګړه د وینې رنګ واخیست.دواړو له ستړیا خپل د تندي څخه خولې پاکولې، اولجای په ستمي کولو جګړه کول د هغه د قهر او غوسي ترشا یو بدول پټه اندیښنه حس کېده. هغه تر اوسه خپل سیال دومره قوي نه و ګڼلی، خو اوس یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وېره او سترېا احساسوله. بريدونه يې بې ترتيبه وو. بالخاش هڅه کوله چې هغه په يو سخت بريد راوغورځوي...

ډېر وخت نه و تېر شوی چې دوهم زخم باندی يې د اولجای سينه په وينو ولړله.کله چې بالخاش د خپل سيال سترېيا احساس کړه، نو بريد ته يې زور ورکړ. د اولجای دفاع له ويرې او بې نظمي ډکه وه. داسې ښکارېده چې هغه نور پښواني ځواک نه لري. د تورې حرکت يې ښودله چې سترې شوی او د بالخاش قدرت وېرولی دی.د خلکو له منځه يو سرې چيغه کړه: بالخاش، هغه ووژنه هغه زمور جنګيالی نه دی.

اولجای د بالخاش د پرله‌پسې ګوزارونو له کبله شاته تللو او ناڅاپه بې له دې چې فکر وکړي بريد يې وکړ. دا د هغه وروستی بريد و. بالخاش په کلک ځواک د اولجای وسلواله لاس وواهه، او همدا چې توره يې له لاسه ولوېده، د بالخاش د تورې څوک د اولجای سينه څېرې کړه، اولجای لږ وړاندې او وروسته زنګېد لاسونه يې په سينه کېښودل، وينه يې په شدت روانه وه. توره يې د زړه له لارې تېره شوې وه. سترګې يې پراخې شوې، او د بالخاش په لور يې کتل ناڅاپه پر ځمکه راوغورځېد بې حرکته پاتې شو.

د خلکو د تشويق چيغې ميدان ولړزاوه بالخاش څو شېبې د اولجای پر وينو لړلي مړي ته ودرېد بيا يې توره پر ځمکه وغورځوله، سر يې ښکته کړ او د جګړې له ډګره د خپلې خيمې پر لور روان شو.

- و درېږه بالخاش!
دا د سوباتای غږ و بالخاش ودرېد. سوباتای ځان ور ورساوه لاس يې د هغه پر بربنډ اوږه کېښود او ويې ويل: ته يو ريښتينی جنګيالی او زمور وفادار ملګری يې.
بالخاش چې سر يې ښکته و وويل: خو زه به تل ستاسو په منځ کې يو پردی اوسيږم.
سوباتای خپله توره له ملا خلاصه کړه د هغه لاستي يې د بالخاش لاس ته ورکړه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویې ویل: زه خپله توره د دوستۍ او وفادارۍ د نښې په توګه تاته درکوم! ته له دې وروسته کولی شې ځان زموږ له ډلې وبولې.

بالخاش د سوباتای سترګو ته وکتل او ویې ویل: زه ستاسو په خدمت کې یم.
سوباتای وخندل او ویې ویل: زه پوهیږم زما دوست، ته اوس بیرته خپل خیمې ته لاړ شه او استراحت وکړه.
بالخاش روان شو او له ځانه سره یې وویل: دا لا پیل دی، زه هغه ورځ لیدل غواړم چې تا خپل په وینو ککړ اوسیږی.

هغه د مغولانو د وینو تږی و هغوی یې د خوارزم د خلکو لپاره د خدای غضب بلل، مغولان بې رحمه او وینې زبېښونکي دښمنان وه کله چې خپلې خیمې ته ورسید، هغه توره چې سوباتای ورکړې وه، په یوه کونج کې کېښوده او خپله پر څرمني کټ وغځېد د سترپا له وجې یې د مخ پر پوستکي د خولو دانې راټوکېدلې وې. هغه د یوې خونړۍ جګړې څخه ستړی و، یو داسې جګړه چې ټول یې په حیرت کې اچولی وه، هغه یو مغولی وژلی و، داسی یو مغول چې د دوی دلاور او پهلوان و.

څه موده وروسته یوه مغولې نجلۍ خیمې ته داخله شوه.
بالخاش وپوښتل: څه کار لرې؟
نجلۍ په مسکا سره وویل: سوباتای زه دلته راوستولم ترڅو چې ستا سره اوسم.

بالخاش لږ موسک شو او ویې ویل: نو سوباتای ته زما د بریا په انعام کې راکړې یی؟
نجلۍ د بالخاش تر څنګ کښېناسته هغه نرۍ ټوټه چې ورسره وه، د بالخاش پر مخ کېښوده، څو د هغه خوله پاکه کړي.
بالخاش وپوښتل: ستا نوم څه دی؟
نجلۍ ځواب ورکړ: آدینه ګل.
بالخاش موسک شو: ډېر ښکلی نوم لری.
انجلۍ د بالخاش په خبره خوښي وښوده او ویې ویل: موږ ټول خوښ یو چې تا

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولجای وواژه، هغه یو چلباز انسان وو.
بالخاش وپوښتل: ته څنګه؟ ته خوشحاله یی؟

آدینه ګل سر ښکته کړ، ورو یې د بالخاش مخ ښکل کړ او ویې ویل: دا هم زما څواب.
بالخاش له ځایه پاڅېد، د هغې مخ ته کښېناست او په آدینه ګل یې سترګې خښې کړې او ویې ویل: سوباتای ته د دې کاروانو لپاره را استولی یې؟!
آدینه ګل په خوښۍ ځواب ورکړ: هغه زه د تل لپاره تا ته درکړې یم.
بالخاش- خو زه تا ته اړتیا نه لرم.
آدینه ګل وپوښتل: ولې؟ له ما دی بد راځي؟
بالخاش ځواب ورکړ: نه برعکس زه تا خوښوم ته ډېر ښایسته یې خو زه غواړم تل یوازې واوسم.

آدینه ګل لاس د بالخاش پر بربنډ اوږه کېښود او ویې ویل: موږ باید پرې نږدو چې داسې یو جنګیالی یوازې پاتې شي.
بالخاش موسک شو: ښه نو ته همدلته پاتې شه.
آدینه ګل په خوښۍ له ځایه پورته شوه په بېړه له خیمې ووته او منډه یې کړه، ترڅو دا زېری خپلو ملګرو ته ورسوي بالخاش د سختې سترپیا له امله ژور خوب وکړ.
کله چې آدینه ګل د غرمې ډوډۍ پر وخت راویښ کړ، هغه له زحمت سره خپلې سترګې پرانیستې.

د ادینه ګل عجیب مینه د بالخاش سره پیدا کړې وه، نجلۍ به مړۍ د هغه خولې ته ور اچوله، او له دې چې د بالخاش توجه یې ځان خواته جلب کړې وه، له خوښۍ په ځان نه پوهیده، شپه نیمایي ته رسېدلې وه چې بالخاش د سوباتای خیمې ته ننوت.
د مغول خان جاسوس یوازې ناست و، او بالخاش یې د یوې مهمې موضوع لپاره احضار کړی و. بالخاش د سوباتای له اجازې وروسته د هغه مخې ته کښېناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه د مغول خان د ځیرک سرېي خولې ته ځیر شو، او اټکل یې وکړ چې باید کومه نوې دنده ورته وسپارل شي.

سوباتای عادت درلود چې د شپې کله چې ټول ویده وو خپل کسان خیمې ته راوغواړي او د هغوی ماموریت ورته اعلان کړي.
سوباتای وویل: نن دې ثابته کړه چې یو دلاور او زړور سړی یې.
بالخاش ځواب ورکړ: خو ما خپل بریا ته ډېر امید نه درلود.
سوباتای موسک شو: ټولو ستا جګړه او دلاوری خوښه شوه.
بالخاش- ټول زما ملګري دي.
سوباتای وویل: زه تا د خپلو زړورو کسانو له ډلې شمیرم.
بالخاش وخندل او ویې ویل: هغه انعام چې ما ته دې را لېږلی و ډېر ارزښتناک و.

سوباتای په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: دا زموږ د هېواد یو پخوانی رسم دی موږ یو فاتح جنګیالی ته همداسې قدر ور کو.
بالخاش پوښتنه وکړه: د هر بریا لپاره یې همداسې انعام ورکوی؟
سوباتای ځواب ورکړ: هو که بریا یوازې د یو تکړه سرتېري په نوم ثبت شوې وي.
بالخاش په معنا دار موسکا وویل: که داسې وی نو دا به درته لویه ستونزه جوړه کړي، ځکه یو تجربه کار او زړور سرتېری ته که هر ځل یو شان انعام ورکول شی نو کېدای شي د لوی لښکر بنسټ کېږدي.

سوباتای په لوړ اواز وخندل او ویې ویل: نو ته دا اراده لرې چې داسې یو لښکر جوړ کړې، زموږ پر انعاماتو؟
دواړو څو شیبې په دی خبره وخندل، او بیا سوباتای وویل: زه غواړم یو مهم ماموریت درکړم او فکر کوم...
بالخاش د هغه خبره پرې کړه او ویې ویل: او حتماً دا ماموریت د خوارزم په خاوره کې دی؟
سوباتای وخندل او ویې ویل: هو همداسې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش وپوښتل: چېرته باید لاړ شم؟
سوباتای ځواب ورکړ: اترار ته!

بالخاش لږ سوچ وکړ بیا ویې ویل: دا خطرناک ماموریت دی، کېدای شي په دی ماموریت کې ما لاسه ورکړئ، هلته که یو نفر لا ما وپیژني، نو غایر خان به د ټول ښار دروازې بند کړي، تر څو زه و نه تښتم!
سوباتای ډاډ ورکړ: زه پوره باور لرم، چې هلته به څوک تا و نه پېژنی ته به د یو سوداګر په بڼه اترار ته داخلېږې، له تا سره به پنځوس نور سوداګر هم وي نو هېڅ اندېښنه مه لره، هېڅ خطر به درته نه وي.
بالخاش وپوښتل: زما ماموریت څه دی؟

سوباتای- ته به له یوه بل مامور سره یوځای، له اترار نه د خوارزم پلازمېنې ته ځې.
بالخاش- نو دا واقعاً یو مهم ماموریت دی.
سوباتای موسک شو:له هغه څه هم زیات، چې ته یې فکر کوې.
بالخاش- په پلازمېنه کې به څه کوم؟
سوباتای- هغه مامور چې له تا سره یوځای کیږی، د نقشې ټول جزئیات به درته تشریح کړي.
بالخاش موسک شو او طنز امیز توګه یې وویل: اممم نو له دې معلومېږي چې زه به ډېر وخت له هغه انعام سره تېر نه کړای شم، چې ما ته مو راکړی!؟

سوباتای وخندل او ویې ویل: هر وخت چې بېرته راشې هغه ستا ده.
بالخاش لږ شېبه چپ پاتې شو بیا یې وویل: زه پوهېږم چې د داسې انعام ردول یو ډول سپکاوی ښکاري خو زه نه غواړم د هغې ژوند خراب کړم.
سوباتای ورو سر وخوځاوه او ویې ویل: زه پوهېږم چې هېڅ نجلۍ نشي کولی د خان سلطان ځای ستا په زړه کې ونیسي، خو آدینه ګل باید ضرور ومنی.
په هماغه شېبه کې ناڅاپه د یوې ښځې زوروره او دردوونکی چیغه د کمپ خاموشي او سکون مات کړ، سوباتای او بالخاش یو بل ته وکتل او دواړه له ځایه راپورته شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش- کېدای شي يو چا هغې ته زيان رسولی وي بايد مرسته وکړو.
سوباتای ځواب ورکړ: زه فکر کوم يو بيګانه سړی کمپ ته راننوتی.
بالخاش- اجازه راکړئ، چې زه لاړ شم او هغه ښځه وژغورم.
سوباتای سر وښوراوه: نه ته همدلته پاتې شه دا د ساتونکو دنده ده.
بالخاش- ممکن هغه کس چې هغې ته يې زيان رسولی لا له کمپ څخه تښتېدلی وي؟
سوباتای- هېڅ امکان نلری ساتونکو به هغه ضرور راګير کړی وی.
بالخاش- د هغې چيغې ښودله چې په جدي خطر کې ده، او ډېر خوږه شوی؟
سوباتای په کمزورې موسکا وويل: فکر وکړه چې دا ښځه وژل شوې ده! زما لپاره مهمه دا ده چې قاتل پيدا کړم.

سوباتای د خيمې مخې ساتونکی راوباله او ورته ويې ويل: سمدستي لاړ شه او وګوره چې څه پېښ شوي دی؟
ساتونکی په بيړه له خيمې ووت ډېر وخت نه و تېر شوی، چې د ساتونکو مشر خيمې ته راننوت او د سوباتای نه يې د يو مهم موضوع د ويلو اجازه وغوښته.
سوباتای وويل: نزدې راشه.

ساتونکی وړاندې لاړ، د سوباتای ترڅنګ پر زنګنو شو او د هغه په غوږ کې يې څه وويل بيا ودرېد او ورو ورو له خيمې ووت، د سوباتای د څهری رنګ بدل شو او تندی تروش کړو بالخاش چې هغه ته ځير و اټکل وکړ چې شايد مهم خبر سوباتای ته رسيدلی وی؟
بالخاش وپوښتل: ايا هغه ناپېژاند کس يې راګير کړی؟
سوباتای چې لا هم تندی تروش وو او مخامخ يې کتل ويې ويل: نه تر اوسه نه دي توانېدلي، خو هغه وژل شوې ښځه ...
هغه څو شېبې چپ پاتې شو بيا يې وويل: زه غواړم چې له تا سره يوځای هغه خيمې ته لاړ شم چې هغه ښځه پکې وژل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه له ځایه ودرېدل، بالخاش فکر وکړ چې شاید هغه ښځه د سوباتاي د خوښې ښځه وه چې داسې خفه شو؟ ځکه د هغه د رويې له بدلون څخه له ورياه ښکاره وه چې دا قتل سخت ځورولی دی، سوباتاي څو شېبې ولاړ و بیا له خیمې ووت بالخاش هم ورپسې روان شو. یو ساتونکی چې مشعل یې په لاس کې و د دوی مخکې روان و. د ساتونکو مشر د سوباتاي تر شا قدم په قدم روان و او بالخاش ورسره اوږه په اوږه مخ ته تله د کمپ فضا ګډوډه شوې وه سرتیرې زنګېدلي ولاړ وو او شور ماشور جوړ و، هر چا له یو بل څخه پوښتل: څه پېښ شوي؟

کله چې هغوی د سوباتاي له خیمې یو څه فاصله واخیسته د کمپ قوماندان هم ورسره یوځای شو هغه له سوباتاي وپوښتل: دا وژل شوې ښځه څوک وه؟
سوباتاي ځواب ورکړ: ور به شو چې جسد وګورو، بیا به درته ووایم چې دا د کمپ له ښځو څخه وه که نه؟
ډېر ژر هغوی د بالخاش خیمې ته ورسېدل، یو شمېر ساتونکي او سرتېري، چې له خپلو ځایونو راوتلي وو، د خیمې شاوخوا ولاړ وو بالخاش چې دا حالت ولید حیران شو.

سوباتاي د خیمې مخې ته ودرېد بالخاش ته یې وکتل او ویې ویل: هغه ښځه ستا په خیمه کې وژل شوې ده.
بالخاش، چې لا هم حیران و وویل: ولې زما په خیمه کې؟! هسې نه چې آدینه ګل وژل شوې ده؟
سوباتاي ورو سر وخوځاوه او ویې ویل: هو تا سم اټکل وکړ.
بالخاش چې دا خبره واورېده، سخت اغېزمن شو د سوباتاي له اجازې پرته په بیړه خیمې ته ننوت هلته د آدینه ګل په وینو ککړ جسد ولید چې یو چاقو یې له شا لخوا په زړه وهل شوی وو. د بالخاش قدمونه درانه شول له ځایه یې حرکت نشو کولی... سوباتاي او د کمپ قوماندان هم خیمې ته ننوتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

آدینه ګل د بالخاش د بستر څنګ ته غورځیدلی وه، د هغې وینه د فرش پر غالیو او بستر پاشل شوی وع چاقو لا هم د هغې په شا کې ننښتې وه.بالخاش ژور ساه واخیسته د هغې مړي ته یې کتل او ویې ویل: دا بېچاره نجلۍ چا په دومره بې رحمۍ ووژله؟!

د کمپ قوماندان وویل: کېدای شي قاتل زموږ دښمن وي...

سوباتای په کمزورې موسکا سره، وویل: که قاتل زموږ له دښمنانو څخه وای، نو باید ته او زه یې وژلی وای نه دا بېچاره نجلۍ! زه پوره ډاډه یم چې قاتل زموږ له خپلو کسانو څخه دی باید پلټنه وکړو.

بالخاش چې سخت خواشینی و وویل: تاسو باید هماغه وخت چې د آدینه ګل چیغې مو واورېدې، ما ته اجازه راکړې وای چې مرستی ته یې ورشم، که ما ته مو اجازه راکړی وایی اوس به مې قاتل راګیر کړی وای لرلی!

سوباتای په بې پروایۍ وویل: لا هم ناوخته نه‌دی زما کسان به ډېر ژر قاتل معلوم کړي.

د کمپ قوماندان د مړي شاوخوا وکتل هر څه یې وپلټل بیا یې وویل: پرته له دې چاقو چې د مقتولې په شا کې ننښتې ده بله هېڅ نښه د قاتل  نه‌ده پاتې.

سوباتای پر مړي ورټیټ شو د هغې د شا څخه یې چاقو را وویست، په وینې ککړ چاقو ته یې به ځېر وکتل او ویې ویل: همدا کافي ده، همدا په وینو لړلی چاقو به موږ ته د قاتل نښه راکوی.

بالخاش چې د مړي څنګ ته پر ګونډو ناست و، د آدینه ګل وېښته یې له مخه لرې کړل د هغې پر څېره د سخت درد نښې پرتې وې.هغه چې له غوسې ډک و وویل: قاتل چې هر څوک وی زه به یې خپله سزا ورکوم.

سوباتای په معنادار موسکا وویل: ایا دا ته نه وې چې هغه دی یو څو شیبی مخکی رد کول! او ویل دی واخله خپل ډالۍ؟ تخو اوس باید خوشحاله اوسیږی ځکه نور آدینه ګل نشته چې درسره د محبت خبرې وکړي.

بالخاش چې سخته خواشینی و وویل: منم چې ما هغه نه غوښتل، خو پر مرګ مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم نه وه پیرزو د هر بې‌ګناه کس مرګ ما ته درد راکوي! تاسو ملامت یاست چې دا نجلۍ مو له هغه سرې جدا کړه، چې هغه یې خوښوله، او دلته مو رالېږله. قاتل باید هماغه سړی وي چې د انتقام لپاره راغلی وي.

د کمپ قوماندان وویل: زه هم فکر کوم چې خبره همداسې ده، لکه بالخاش چې وايي.
خو سوباتای په خپله زېږه‌که لهجه وویل: نه! زه فکر نه کوم چې د آدینه ګل وژنه دې یوازې د انتقام لپاره شوې وي باید بله ژوره وجه ولري.
بالخاش چې تیزهوشه او چټک‌فکره سړی و وویل: که زه اشتباه نه یم پوهه شو نو قاتل اصلاً غوښتل چې ما ووژني خو په غلطۍ کې یې دا بې‌ګناه نجلۍ قرباني کړې ده!

سوباتای چې ژور فکر یې کاوه سر وښوراوه او ویې ویل: زه هم همدا ګمان کوم، قاتل د دې لپاره خېمې ته داخل شوی و، چې تا ووژني، هغه ګمان کړی وو چې په بستر کې ته ویده یی؟ خو د غلطۍ څخه یې دا بې‌وسه نجلۍ ووژله، خو زه باید ووایم چې ته یو ډېر زیرک سړی یې، او دا چې دومره ژر دی دی خبری ته فکر لاړو او درک دی کړه زه دی نور هم حیران کړم  زه ډاډه یم چې ته به زما له مهمو او غوره جاسوسانو څخه شې او ستا خدمتونه به د مغول خان له‌پاره ارزښتناک وي.

د کمپ قوماندان چې د بالخاش خبرو ته یې په غور غوږ نیولی و وپوښتل: تا څنګه دا فکر وکړ چې قاتل اصلاً ستا د وژلو نیت درلود؟ په داسې حال کې چې ته هغه نه پېژنې؟
بالخاش په ډاډه لهجه ځواب ورکړ: دا ځکه چې ما په میدان کې 'اولجای' وواژه هغه دلته ډېر دوستان لری داسی حال کې چې ټولو فکر کاوه زه به د هغه په لاس ووژل شم مګر زما بریا ممکن د اولجای دوستانو وسوسه کړی وي چې د هغه انتقام له ما واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوباتای، له لنډې خندا سره وویل: او هغوی ډېر ژر اقدام وکړ د غچ اخیستو.
بیا یې د کمپد قوماندان پر اوږه لاس کېښود او دواړه له خیمي ووتل، بالخاش یو شېبه د آدینه ګل بې‌حرکته جسد ته ځیر شو، بیا یې داسی حال کې چې زړه له خفګان او غوسې ډک و ژوره ساه واخیسته او خیمه یې پرېښود.په ذهن کې یې یوه جګړه روانه وه یو خوا یې د آدینه ګل بې‌ګناه مرګ ځوروه، او بل خوا د قاتل د پیدا کولو ژمنه یې زړهٔ ته اور اچولی و.

هغه د خیمي څخه لری شو د لږ مزل وروسته د کمپ مشر د هغوی څخه جلا شو، یوباتای بالخاش ته وویل: کوم نوی خیمه یې چې ستا لپاره تیاره کړې هلته ورشه، خو پام کوه د آدینه ګل قاتل لا هم نه دی ګیر شوی امکان لری بیا درته په کمین کې ناست وی!؟
بالخاش په غوسه وویل: کاش همداسی ویی او د سهار د رڼا راختو مخکې ورسره ووینم.
سوباتای چې د بالخاش د خبرو له اندازه یې خوند اخیست وی خندل او ویې ویل: زه دا منم چې ته یو دلاور او هوشبار سړی یی، خو زیات غرور هم ښه نه وی، مغولان هغه ډله چې زه هم یو له هغوی یم نه یوازې چټک بلکې انتقام‌غوښتونکي خلک دي.
که ته غواړې ژوندی پاتې شې نو احتیاط وکړه.

بالخاش په آرامه ساه واخیسته بیا یې په ډاډه غږ وویل: زه هیڅکله په خپل ځان مغرور شوی نه یم، حتی هغه مهال چې 'اولجای' مې ووژاه زه مغرور نه وم، ځکه پوهېدم چې دا یوازې د تقدیر یوه لوبه ده که زما برخلیک دا وي چې د آدینه ګل د قاتل په لاس ووژل شم نو هېڅ ځواک به دا تقدیر بدل نشی کړی، او زه له هرې وېرې پرت خپل تقدیر ته هرکلی وایم.

سوباتای چې د بالخاش زړورتیا یې ستایله په ژور فکر کې شو بیا یې وویل: زه تر اوسه له داسې سړي سره نه وم مخ شوی چې ستا په څېر فکر وکړي ته که څه هم مغول نه یې، خو زه تا له خپل د قوم له کسانو څخه حسابوم او هیله مند یم چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتلونکو جګړو په سختو میدانونو کې بریالی شې.اوس هم خپل نوي خیمې ته لاړ شه او ځان ته پام وکړه که له قاتل سره مخ شوې، نو هڅه وکړه چې هغه ژوندی ونیسې دا مهمه ده چې هغه ژوندی راولي ځکه باید له پوښتنو وروسته سزا ورکړل شي.

بالخاش چې د سوباتای خبرې ورته شکمنې ښکاریدی په پوسخند وویل: ژوندی نیول؟ هغه هم د داسې سړی چې زما د وژلو پلان لري او د آدینه ګل د بې‌ګناهۍ پروا یې ونه کړه؟ دا خو یو خطرناک کار دی او شاید هم ناممکن وي؟!
هغه یوه شېبه چوپ شو بیا یې په نیوکه وویل: هسې نه چې ته غواړې زه هم د آدینه ګل په څېر قرباني شم؟

سوباتای په لوړ غږ خندید او ویې ویل: ته زما په ملاتړ کې یې، د ساتونکو مشر ته مې حکم ورکړی چې څو تنه نګهبانان په پټه ستا د خیمې شاوخوا وټاکي که کوم وخت ...
بالخاش د هغه خبرې پرې کړې او ویې ویل: ما یوازې پرېږده، زه ساتونکی ته اړتیا نلرم که قاتل احساس کړي چې څو کسان په کمین کې ورته ناست دي، نو بل پلان جوړوي چې ما داسې له منځه یوسي چې څوک متوجه نشي.
سوباتای په حیرانتیا سره وویل: نو ته غواړې چې یواځې ورسره مخامخ شې؟
بالخاش- هو زما په اړه فکر مه کوئ.
سوباتای- ته یو زړور او جرات لرونکی سړی یې.

بالخاش- خو زه چندان ډیر امید ځانته نه لرم.
سوباتای- ته کولی شې چې خپل خیمې ته لاړ شې.
او بیا د ساتونکو مشر ته وکتل او ویې ویل: بالخاش ته لارښوونه وکړئ.
دوی له یو بل څخه جلا شول، بالخاش د ساتونکو مشر سره هغه خیمې ته لاړ چې د هغه لپاره ټاکل شوې وه. د دېچ خیمې ځای تقریباً د کمپ په پای کې و. هلته چې ورسیدل د ساتونکو مشر پوښتنه وکړه: آیا کوم څه غواړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش وویل: زما لپاره دعا وکړئ.
د ساتونکو مشروویل: ته یو زړور سړی یې

بالخاش- امید لرم چې همداسې وي.
او خپل خیمې ته داخل شو، د ساتونکو مشر د درنو ګامونو غږ چې له هغه ځایه لیرې کیده په څرګنده توګه اوریدل کیده.بالخاش په چوپتیا سره د خیمې یوه تیاره کونج ته تکیه ورکړه او خپل خنجر یې کلک ونیوله، د شپې سړه هوا یې بدن ولړزوه د هغه ذهن د آدینه ګل د وینې توییدو انځور ته تللی و چا دا معصومه نجلۍ وژلې وه؟ ایا دا د انتقام یوه بله لوبه وه؟ که نه یو پټ راز پکې نغښتی و؟

بیرون کمپ کې یو غیرعادي چوپتیا خپره وه،یوازې د باد نرم زمزمه د جنګی اسپو کمزوریحرکات او د ساتونکو ګامونه اوریدل کېدل.بالخاش له ځانه سره وویل: قاتل به حتمي راځي... خو زه باید مخکې له دې چې هغه ما ووژني یوه شم چې ولې یې دا قتل وکړ؟شپه اوږده وه خو هغه خوب ته نه و تیار سترګې یې د خیمې د دروازې پر خوا ټینګې کړې او غوږونه یې د هر ډول مشکوک حرکت په لټه کې ول آیا قاتل به نن شپه راڅرګند شي؟ که نه هغه د بلې مناسبې شېبې انتظار باسي؟

بالخاش د هغه سړي انتظار درلود چې د ده پر ځای یې آدینه ګل وژلی و. تقریباً یې باور درلود چې د سپېدو مخکې قاتل د ده د وژلو لپاره راځي،سترګې یې تیارې ته روړدې شوې وې او ټول حواس یې د خیمې بهر خوا ته وو دومره یې امید نه درلود چې ژوندی پاتې شي، د سوباتای خبرې یې د خطر زنګ پشان په ذهن کې تېرولې: مغولان چې زه هم یو له هغوی یم سخت غچ اخیستونکي او چټک دي،ځان ته پام کوه. کمپ په خاموشي کې ډوب و، خو د بالخاش د خیمې چوپتیا وېرووونکې وه یو سړی د دې لپاره خیمې ته راغلی و چې هغه ووژني خو پر ځای یې یوه بې‌ګناه نجلۍ وژلې وه دا وژنې د هغه ارام اخیستی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان سره وویل: شاید زه غلط شوی اوسیږم او همغه کس چې آدینه ګل یې وژلې،اصلي هدف یې همغه وه؟ خو نه سوباتای هم زما نظر تایید کړو هغه زیرک او هوښیار سړی دی، هېڅکله نه تېروځي..
یوه یا دوه ساعته همداسې تېر شول بالخاش د خیمې په یوه کونج کې ناست و،چوپتیا له وېرې سره یو ځای شوې وه، بالخاش ناڅاپه د پښو ورو غږ محسوس کړ ځان سره یې وویل: خپله دی را روان دی...
پاڅېده او ودرېد د پښو غږ هم ودرېد لږ وروسته بیا یې واورېد داسې ښکارېده چې څوک خیمې ته نږدې کېږي ډېر احتیاط کوي او ښایي لوڅې پښې وهې! غږ ورو ورو واضح کېده داسې ښکارېده چې ناشناخته کس د خیمې تر شا ولاړ دی خو بیا غلی شو.

بالخاش د خپل خنجر لاستي ټینګه ونیوه ټول تمرکز یې د خیمې دروازې ته و کله چې د پښو غږ بیا واورېده ساه یې بنده کړه.ناڅاپه د خیمې د دروازې مخې ته یو سیوری راښکاره شو لومړی یې فکر وکړ چې هسې د ده خیال او وهم دی! خو دا یو سړی و چې ورو ورو دننه کېده، بالخاش په خپل ځای ګنګس ولاړ و سترګې یې په هغه سیوري خښې کړې وه، داسې ښکارېده چې دغه ناشناخته کس هم په لاس کې خنجر لري...

سړی ورو ورو ښکته شو پر ګوتو کېناست او په احتیاط یې لاسونه پر ځمکه کش کړل داسې ښکاره کېده چې د بالخاش د بستر ځای معلوموي! کله چې ډاډه شو چې بستر ته رسېدلی ورو پاڅېد دا هماغه شیبه وه چې غوښتل یې خپله شومه دسیسه عملي کړي، هغه لاس چې خنجر یې نیولی و، پورته کړ او بیا یې په چټکۍ ښکته راووړ د خنجر تېره څوکه هوا څېرې کړه او په بستر کې کېناست خو دقیقا هماغه لحظه بالخاش له شا ځان پرې وغورځاوه د خنجر تېره څنډه یې د هغه تر ستوني لاندې کېښوده او په ګواښ آمیزه لهجه یې وویل: که مقاومت وکړې سر به دې له تنه جلا کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړي له وېرې ژبه وچه شوه حرکت یې ونه کړ.
بالخاش وپوښتل: ته څوک یې؟ نوم دې وایه او خنجر دې د خیمې بلې خواته وغورځوه.
سړي ځواب ور نه کړ بالخاش چې یو لاس یې د هغه تر زنې لاندې و فشار یې ورکړ، د سړي سر یې شا ته کش کړ او ویې ویل: اوس د آدینه ګل د انتقام اخیستو وخت دی! خنجر دې وغورځوه.
سړي لا هم چوپتیا غوره کړې وه،ناڅاپه هغه خپل وسله‌وال لاس پورته کړ او په چټکۍ یې ځان وخوځاوه تر څو بالخاش ناڅاپه راګیر کړی او د خنجر یوه ضربه ورکړي او ځان خلاص کړي، خو بالخاش پرته له دې چې ووېرېږي، سړی په زوره مخکې ووهلو او خپله یې شاته ټوپ کړ.

سړی چې لاس یې پورته کړی و د دې ناڅاپي حرکت له امله تعادل له لاسه ورکړ او پر مخ پر بستر پرېوت او تر هغه مخکې چې پورته شي د بالخاش د بدن دروندوالی یې احساس کړ، بالخاش د هغه اوږده ویښتان له شا ونیول، او په داسې حال کې چې له سختې غوسې لړزېده څو ځله یې د هغه سر پر ځمکه ووهه د سړي غږ د سخت درد له امله د ستوني په منځ کې بند پاتې و...

بالخاش نور خنجر ته اړتیا نه لرله سړي ته یې داسې حالت ورکړی و چې پرته له وسلې هم کولی شو هغه ووژني خپل خنجر یې یوې خوا ته وغورځاوه او د ناشناخته سړي وسله‌وال لاس یې کلک ونیوه پورته یې کړ او ناڅاپه یې په ټول قوت تاو کړ.سړي د سختې درد له امله چیغه وکړه او خنجر یې له لاسه ولوېد.بالخاش د هغه د کالو یخن کلک ونیوه له ځمکې یې راپورته کړ او د خیمې څخه یې بهر کش کړ.سړي سکوت مات کړ او وویل: تا به ضرور وژني ...

د هغه غږ بالخاش ته اشنا ښکاره شو لږ یې فکر وکړ بیا یې په حیرت وویل: بالاخره مې وپېژندلی ته هماغه قا آن یې د اولجای نږدې ملګری کنه؟
قاآن د غوسې او کینې څخه په ډک غږ وویل: زما ملګري به تا ژوندی پرېنږدي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش هغه په زوره وړاندې ووهلو قا آن چې خپل تعادل یې له لاسه ورکړی و څو قدمه لاړ خو ځان یې نشو کنټرولولی او پرمخ پر ځمکه ولوېد.
بالخاش ورو ورو ورنژدې شو.قا آن نور د پورته کېدو وس نه درلود مخ یې له وینې ډک و او سخت درد یې احساساوه.بالخاش په لوړ غږ چیغه کړه: ساتونکو! ساتونکو..
د کمپ خاموشي یو ځل بیا ماته شوه د څو کسانو د پښو ګړندی قدم اخیستل واوریدل شو چې د بالخاش د خیمې پر لور منډې وهي.

قا آن هڅه وکړه چې له ځمکې پورته شي خو بالخاش خپله پښه د هغه پر غاړه کېښوده او ویې ویل: کاشکې مې وژلی وای،خو نه ته باید د ټولو په وړاندې محاکمه شئ.
قا آن چې غږ یې په سختی اوریدل کیده و وویل: ته زموږ دښمن یې او ډېر ژر به ووژل شی.
بالخاش د هغه پر غاړی زور ورکړ او وویل: زه به له سوباتای وغواړم چې اجازه راکړي تا ووژنم زه باید د هغې بې‌ګناه نجلۍ انتقام واخلم.

په دې وخت کې څو ساتونکي راورسېدل یو یې مشعل پورته نیولی و، بالخاش ساتونکو ته مخ کړ او ویې ویل: دا هماغه کس دی چې آدینه ګل یې وژلی،نوم یې قا آن دی.
ساتونکو یو بل ته وکتل او له تعجبه یې دا نوم تکرار کړ:
قا آن؟!
بالخاش خپله پښه د قا آن له غاړې پورته کړه او ساتونکو ته یې وویل: له دی ځای بوزی.

دوه ساتونکي رامخکې شول قا آن یې له ځمکې راپورته کړ د هغه مخ له دوړو او وینو ډک و،په همدې وخت کې د ساتونکو مشر په بیړه ځان راورساوه. کله یې چې قا آن ولید له حیرانۍ یې سترګې پراخې شوې بالخاش د ساتونکو مشر ته وکتل او ویې ویل: دی د سوباتای خیمې ته یوسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ساتونکو مشر په درنښت وويل: ته يو زړور او بهادر سړی يې.
بالخاش موسکی شو او وويل: او تاسې هم زما لپاره دعا کړې وه.
ساتونکو قا آن راښکلو او له هغه ځايه يې بوتلو.

***

.لمر تازه د غرونو له شا راختلی و، او د پراخ قپچاق دښتې ته يې زرين رڼا ورکړې وه
هغه سهار د مغولو په کوچني کمپ کې غيرعادي شورماشور و،هر چا يو له بله پوښتل:"قاتل به څه وخت اعداموي؟"په کمپ کې د انتظار فضا خپره وه.د آدينه ګل قتل هغه هم د بالخاش په خيمه کې ټولو ته حيرانوونکی و.خو د کمپ ډېرو کسانو ته لا معلومه نه وه چې آدينه ګل ولې وژل شوې؟ يوازې د قا آن نوم چې د هغې د قاتل په توګه يادېده د هر چا پر ژبه و، نور نو داسې څوک نه و چې د بالخاش نوم يې نه و اورېدلی هغه چې د اولجای پر وړاندې يې د يو پر يو جګړې په پايله کې اولجای وژلی و

او له ګمنامۍ راوتلی و او د اترار دلاور په توګه مشهور شوی و.په همدې حال کې سوباتای چې د مغول خان يو له دوو سترو جاسوسانو څخه و په خيمه کې قدم واهه د هغه څېره سخته فکر کوونکې او انديښمنه ښکارېده هغه د بالخاش راتګ ته انتظار و څو شېبې وروسته چې بالخاش خيمې ته داخل شو سوباتای ودرېد او ويې ويل: بالاخره دې قاتل وپېژاند؟
بالخاش وويل: قا آن يو احمق سړی دی،د دې لپاره چې ما ووژنې عجيب ببره کوله او همدا ببره هغه راګير کړ.

سوباتای په کمزوې موسکا وويل: که هغه درغلی هم نه وای ما به د غرمې تر مخه پيدا کړی وای،ما له مخکې اټکل کړی و چې قاتل به څوک وي! قا آن د اولجای د تره زوی دی او کله چې ته له هغه سره يو پر يو جګړه کې بريالی شوې، قا آن له تا سره سخت کينه واخيسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش- که هغه دومره ببرہ نه وای کړې، امکان یې درلود چې بریالی شوی وای او زه یې وژلی وای.
سوباتای چې لا هم یې خپل نظر له بالخاش نه و اړولی وویل: نن ټول خلک منتظر دي چې یو ځل بیا ستا زړورتیا ووینې.
بالخاش له حیرانۍ وویل: زړورتیا؟ ستاسو پر مطلب نه پوهېږم؟

سوباتای- زموږ د مغولانو ترمنځ یو رسم دی، یو کس که په دوکه وغواړي د یو چا د وژلو هڅه وکړي خو بریالی نشي، نو دواړه مخامخ سره دروو، ترځو یو له بل سره سینه‌په‌سینه یو پر یو جګړه وکړي.
بالخاش- خو قا آن قاتل دی،هغه آدینه ګل وژلی او باید سزا ووینې، نه دا چې د پهلوانې میدان ته راشی.
سوباتای- یوه بله لاره هم شته.
بالخاش- کوم لاره؟
سوباتای- دا چې ته باید د جلاد وظیفه پر غاړه واخلی او قا آن ته خپله سزا ورکړې، د هغه غاړه پرې کړې، تر څو بیا څوک جرئت ونکړي داسی کار وکړي.

بالخاش چې سخت ناراحته شوی و وویل: نه! زه هېڅکله دا کار نشم کولی، دا سمه ده چې د قا آن پشان کسانو څخه ویره نلرم خو دا نشم کولی چې د جلاد کار وکړم بل څوک ورته پیدا کړئ.
سوباتای په آرامه خو په امرانه لهجه وویل: ته باید له دې دوو لارو یوه انتخاب کړې.
بالخاش- که یو پر یو جګړه کې زه د هغه په لاس ووژل شوم بیا؟
سوباتای ځواب ورکړ: بیا به یې د اس پر شا وتړو او په دښته کې به یې خوشې کړو. ښه دا ده چې تر بلې پېښې مخکې همدا اوس یې سزا ورکړو.

بالخاش چې تندی تروش نیولی وو وویل: له ما مه غواړئ چې ورسره جګړه وکړم یا د جلاد وظیفه پر غاړه واخلم.
سوباتای په کلک وویل: زه درته امر درکوم، ته باید زما اطاعت وکړې بالخاش!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالخاش په قهرجنه لهجه ځواب ورکړ: زه د یوه ناسم امر اطاعت نه کوم،که سزا ورکوئ ورکړه کنه نو په اس یې وتړئ او دښته کې یې پرېږدئ، خو له ما مه غواړئ چې له هغه سره مبارزه وکړم یا د یوه جلاد کار ترسره کړم. دا کار زما له وسه نه دی. قا آن یو قاتل دی هغه یوه بې‌ګناه نجلۍ وژلې او باید سزا ووېني.

سوباتای چې لا هم بالخاش ته کتل د هر څومره زغم او تحمل سره لړ غوسه شو د بالخاش توندې او سپینې خبرو وځوراوه، څهره یې سره شوه، لاس یې پورته کړ او بالخاش ته یې څپېړه ورکړه او بیا په قهر یې ورته وویل: داسې کار مه کوه چې خپل پر لاسونو دی ووژنم! ته د زموږ له سرتېرو یې ته باید زما او یا د چپه نویان امرونه ومنې، هېر دې نه شي چې ته د غایرخان په زندان کې وې، هغه ستا د مرګ فرمان ورکړی و، او زما سرتېرو ته هغه وخت وژغورلی چې جلاد دې د وژلو لپاره چمتو ولاړ وو.

بالخاش د ناڅاپي څپېړې له امله سخت غوسه او بې کنټرول شو، خو ځان یې ونیو احساس یې کاوه که غوسه کنټرول نه کړي، نو یو ناسم عمل به ترې وشي چې پایله به یې د ده مرګ د سوباتای له لاسه وی ...

د دوزخ څخه یو سړی د ناول لومړۍ پړاو پای
لیکوال: امیر عشیري.
ژباړن: خواجه_زي

زموږ د داسي نور ښایسته ناولونو او کتابونو د ویلو لپاره زموږ د ټلګرام چینل ته راشي.
دا هم زموږ د چینل لینک: https://t.me/pashtoonovels0
دا هم زما شخصی ایډی: @shuhab09
او دا هم زموږ د یوتیوب چینل لینک دلته غږیز ناولونه نشر کو..

(c) ketabton.com: The Digital Library

چینل لینک: http://www.youtube.com/@PashtooNovls09

دا هم د مدیر د جمیل آدرس:shuhabkhan795@gmail.com

دا هم د خواجه زي صیب د فسبوک ایډی:

https://www.facebook.com/profile.php?id=61572668542014

یا هم کولې شې سرچ کړې: خواجه_زي صیب. نو ایډی به تاسو ته راشي.

او دا هم د خواجه زی صیب د اکس"ټویټر"پاڼې ایډي:

دا هم ایډی: https://x.com/shuhab09?s=09

انسټاګرام ایډی: https://www.threads.net/@shuhab09



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**